د

# عبدالقادرخان خټک

## دیوان

تحقیق، ترتیب

پروفیسر جهان زیب نیاز

PDFBOOKSFREE.PK

پیش لفظ

پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه خټک

پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

1

د

# عبدالقادر خان خټك

# ديوان

تحقيق، ترتيب

## پروفيسر جهان زيب نياز

پيش لفظ

پروفيسر ډاکټر راج ولي شاه خټك

## پښتو اکېډېمي پېښور يونيورسټي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د دې کتاب ټول حقوق د پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ سره په حق کښې محفوظ دي .

---

د پښتو اکېډمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر ۵۳۶

---

دکتاب نوم ———— د عبدالقادرخان ختک ديوان
تحقيق وترتيب ———— پروفيسر جهان زيب نياز
اشاعت ———— مارچ سنه ۲۰۰۲ء
کتابت ———— لطف الله
پروف ———— قاضي حنيف الله حنيف
چاپونکي ———— ملت ايجوکيشنل پرنټرز لاهور
خورونکي ———— ډائريکټر پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي
بيعه ———— ۱۸۰ روپۍ

د محمد جاويد خليل په اهتمام په ملت ايجوکيشنل پرنټرز لاهور کښې چاپ شو او د پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ نه خور کړے شو .

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# پیش لفظ

عبدالقادرخان ختک د ستر خوشحال خان ختک زوی، عالم صوفي سالک او نابغه روزگار شاعر تېر شوے دے . د خپلې کورنۍ او د خپل عظیم پلار د ادبي روایت پالونکے عبدالقادرخان ختک د خپل انداز او خپل اسلوب منفرد شاعر دے .

د عشق و محبت د مضمون دا ښکلے شاعر هغه هومره چا پېژندلے او نمانځلے نه دے . ځکه څومره چې پکار وو . ددې وجه شاید دا وي چې د خپل دور د دوه وُو لویو او مقبولو شاعرانو ترمنځ پیدا شوے وو . او پښتانه چې سخن فهمي کمه او طرفداري ډېره کوي . د دغه خوئ په بنا د عبدالقادرخان ختک له مقامه څوک په پوره دول خبر نه شول . کنې څومره ښکلي پاک سپېڅلي خیالات چې ده په شعر کښې بیان کړي دي . په کوم کمال ئې بیان کړي دي . د هغې ثاني لټول ګران دي . د نادرو تشبیهاتو د ښکلي زمکو مترنم بحرونو او د علوي خیالاتو شاعر عبدالقادرخان ختک چې د مجازي عشق و محبت او بیا د تصوف د حقیقي عشق د کیفیاتو مشاهداتو او ادراکاتو بیان څومره په خوږ او دلنشین انداز کښې کړے دے . د دغه کمالِ فن د پښتو د ډېرو کمو شاعرانو نصیب شوے دے . د علمي فني او ادبي اسلوب د لوړ معیار دیوان ئې د کمالِ فن ظامن دے . خو شرط د لوستو دے او بیا د پوهېدو او پوهولو هم دے . ځکه چرې په دې سیمه غېرجانبدار تنقیدي شعور عام شي . نو دا خبره په یقین سره کېدے شي چې عبدالقادرخان ختک به د خوشحال خان ختک او د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



رحمٰن تر مقامه ورسولے شي.

دا صوفي سالک عالم او نادر شاعر او نثرنګار په کال ۱۰۶۳ھ کښې پيدا شوے دے. دخوشحال خان په زامنو کښې شايد په لسم نمبر راځي.

که هر څو خپل پلار يې تعريف هم کړے دے. مينه يې هم ورسره کړې ده. او علمي او ادبي تربيت يې هم ورکړے دے. ولې بيا هم عبدالقادرخان خټک دوخت او زماني او قسمت ددغه فيصلي نه ګيله من ښکاري. شايد دا ارمان يې هم کړے دو. چې دريغه دے دخوشحال بابا په مشرانو زامنو کښې وے. دخپل پلار سره دزبردستي ميني له مخه يې دهغه په علمي جد وجهد او تحريک کښې فعاله برخه لرلې ده. خو په طبيعت او مزاج درويش صفت وو. نو دخپل تره فقيرجميل بېګ سره هم ډېر نزدې پاتې شوے دے. که هر څو په طريقت کښې دنقشبنديه سلسلې پيروکار وو او دخپل روحاني تربيت استاد يې شيخ سعدي لاهوريؒ يادېږي. ولې دژوند زيات برخه يا آخري برخه يې دخپل سالک تره فقير جميل بېګ سره تېره کړې ښکاري. دخانداني کشالو جنګ جګړو نه کناره کش شوے وو. ولې زماني معاف کړے نه ښکاري. او شايد ځکه سره ددومره لوي ادبي مرتبې يې تر اوسه مزار قدري معلوم نه کړے شو. دا ددغه خاندان دخوشحال بابا نه روستو دبې اتفاقۍ او سياسي اغراضو دهوس او حرص نتيجه ښکاري. ګني دا شاعر خو داسې نه وو. چې روضه پرې نه وے جوړه شوې.

عبدالقادرخان خټک يو ښتونے عالم فاضل شاعر وو. دپښتو ژبې کوم خدمت چې يې پخپل وخت کښې کړے دے هغه دخوشحال بابا نه پس دعلمي معيار په بنياد دپښتو دپاره يوه لويه کارنامه ده. شايد چې په پښتو کښې يې نوريکل هم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ډېر کړي وي - ولې کوم اثار چې یې موندلي شوي دي - په هغو کښې یو د اشعارو دیوان دے - چې بېش بها فني شعري خزانه ده - د حدیقهٔ ختک په نوم هم دغه دیوان مشهور شوے دے .

د دیوان نه سیوا یې ګلدسته د سعدي" د ګلستان انتخابي ترجمه ده - په لوستو خلقو کښې ستائیلے شوے کتاب دے . نصیحت نامه یې مثنوي ده - څلوېښت حدیثونه یې په پښتو ترجمه کړي دي - د یوسف زلیخا مثنوي یې د مولانا جامي نه په پښتو مثنوي ترجمه کړې ده - او هم یې د قصیده برده ترجمه کړې ده - د پښتو ژبې او ادب سره د مینې او صدق دا دومره لوئے کار یې د ستر مقام د ثبوت دپاره کافي دے . ؎

سرې سرې اوښکې په کړوان عبد القادره
دا مې یار ته د یا قوتو مهماني ده

عبد القادر خان ختک چې په کوم کیفیت کښې د الاندېنې اشعار ویلي وو - خو زمانه که هر څو هغه له خاطره غورځول وغواړي - د خپلو اشعارو په بنیاد به مدام بیا بیا راښکاره کیږي - ځکه یوه ورځ خو به یې اولس د حقیقي مقام نه خبر شي - عبد القادر خان ختک وائي - ؎

د صبا په حال غوټۍ د نوبهار زده
دخزان وهلي وائي صبا نشته
سترګه ور به څهٔ باور ورباندې وکړي
که رانده ناري وهي چې رڼا نشته

دا نابغه شاعر د ۱۱۲۵ھ (۱۷۱۳ء) خواوشا وفات شوے دے .

د عبد القادر خان دیوان چې افغانستان او پاکستان کښې د مختلفو پوهانو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لهٔ نوا وخته پهٔ وخت شائع شوے دے . ولې د دېرې مودې راسې بیا نایاب شوے وو . نو پښتو اکېډېمۍ د پښتو نوستونکیو د پاره دوباره ترتیب کړو چې شائع شي او تر پښتنو ورورسي .

پښتو اکېډېمۍ پهٔ دې لړکښې د لوئے استاذ د پښتو ژبې عالم پروفېسر جهانزیب نیاز خدمات د دې دیوان د مرتب کولو د پاره ترلاسه کړل . پروفېسر جهانزیب نیاز پهٔ خپل زیار د دې ترتیب او تدوین اوکړو . زهٔ پهٔ دې زیار د هغوئي مننه کوَم او ورسره دا وضاحت هم ضروري گڼم چې دا دیوان په هغه وخت کښې کتابت شوے وو . کله چې نوې املا رائج کړے شوې نهٔ وه . نو ځکه د دې پهٔ وخت د راولستو د پاره دا هم پهٔ هغه زړه املا کښې ورانډې کولے شي . چې یو د وخت پهٔ تقاضا ضروري وه او بل د مالي اخراجاتو سر دوباره مسئله وه . نو زما یقین دے چې لوستونکي به پهٔ دې فیصله خاطر نهٔ درنوي . د متن نه سوا نور اضافي لیکونه پهٔ نوې املا کښې وکړے شول .

زهٔ د دې اهم دیوان د چاپ کولو د پاره د پېښور یونیورسټۍ د وائس چانسلر پروفیسر ډاکټر ذوالفقار گیلاني ممنون یم چې د یونیورسټۍ پهٔ مالي مرسته دا کتاب د شائع کېدو جوګه شو او هم د مالي امورو د بندوبست پهٔ لړ کښې د پېښور یونیورسټۍ د ټرېژرار ډائرېکټر فنانس ډاکټر ثناء الله شکریه اداکوَم . او ورسره د یونیورسټۍ د ډپټي ټرېژرار زاهد ګل ډېره ډېره مننه کوَم چې د مالي وسائلو کارئې اسان کړو .

زهٔ د دې دیوان د اشاعت پهٔ سلسله کښې د خپلو ملګرو ښاغلي محمد جاوید خلیل صاحب ، قاضي حنیف الله حَنیف او د ښاغلي لطف الله شکریه هم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اداکوؤم . چې ددې کتاب په تیارې کښې ئې زیار او محنت کړے دے. د کتاب د ښکلي ګټ اپ طباعتي معیار او په وخت د شائع کولو د پاره د خپل ګران ملګري ښاغلي عنایت الله ګران ممنون یم چې د پښتو اکېډمۍ د طباعت کار هر کله په مینه او پښتنه جذبه کوي .

پروفسر ډاکټر راج ولي شاه خټک
ډائرېکټر پښتو اکېډمي
پېښور یونیورسټي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم

# هنداره

د عبدالقادرخان خټک دیوان په وړومبي ځل په کال ۱۳۱۷ شمس
کښې د ښاغلي عبدالحي حبیبي په تدوین او تصحیح له قندهاره چاپ شو.
په دوئم ځل د ښاغلي همیش خلیل په ترتیب او تدوین د کال ۱۱۹ه
دیوې قلمي نسخې او قندهار چاپي نسخې د مطالعې او مقابلې په نتیجه
کښې چې د عبدالقادر خان خټک کوم دیوان مرتب کړو، له "دارالتصنیف"
پېښوره نه شائع کړو. دغه اخرالذکر مقابلتاً د اول ذکر دیوان نه ترډېره
حده بشپړ دے.

په کال ۱۹۶۹ء کښې ښاغلي سید انوارالحق هم د څو قلمي نسخو او ذکر
شوے قندهار د چاپي نسخې سره د مقابلې نه پس د "حدیقهٔ خټک" په
نامه د عبدالقادرخان دیوان د "یونیورسټي بک اېجنسي" پېښور له خواشائع
کړو. دا خبره د تعجب وړه ده چې موصوف پخپله مقدمه کښې د پېښور
د چاپي نسخې څه و د سره ذکر نه دے کړے. حالانکه دا د "حدیقهٔ خټک"
نه دوه کاله وړاندې چاپ شوے دے.

د عبدالقادرخان د دیوان دا اوسنے او دریمه چاپي نسخه ما د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


پېښور چاپ د ذکر شوي چاپي نسخې او پښتو اکېډيمۍ ديوې خطي نسخې سره د مقابلې نه پس تياره کړه - ددې نسخې بنياد هم د پېښور چاپي نسخه ده. البته د دواړو ترمنځه واضحه فرق مې په حاشيه کښې په ګوته کړو. د پښتو اکېډيمۍ ذکر شوې نسخه په کال ۱۲۷۵ھ کښې ليکلې شوې ده - په چې په ق - ۵۳۵ نمبر د پښتو اکېډيمۍ په قلمي نسخو کښې محفوظه ده -

جهان زېب نياز

مخففات :

(۱) (پ) - د پېښور چاپي نسخه
(۲) (خ) - د پښتو اکېډيمۍ خطي نسخه
(۳) (ق) د قندهار چاپي نسخه

---

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# مقدمه

عبدالقادرخان دخوشحال خان ختک زوی دے - د کال ۱۰۶۳ھ
د ذي الحجه پهٔ پنځویشتم تاریخ (مطابق نومبر ۱۶۵۳ء) پهٔ خیل کلي اکوړه ختک
کښي پیدا شو - ددهٔ د پیدائش تاریخ د ابجدو پهٔ حساب هم ددهٔ له
نامي "عبدالقادرخان" تحفه راووځي - عبدالقادرخان پرته دیو شاعر
ادیب، او عالمه یو ناموسپاهي هم وو - چي دخیل پلار له تربیته ئي بشهٔ
فائده او برخه موندلي وه - پهٔ عربي او فارسي ژبو ئي بنهٔ عبور لرو - او
طالبانو ته ئي پهٔ دغو دواړو ژبو کښي درس هم ورکولو - دخوشحال خان
ختک دورچي د پښتون ملت د شاندار علمي، ادبي، تصنيفي او تاليفي دور وو -
عبدالقادرخان ختک هم پکښي خپل شاندار رول لوبولے دے - عبدالقادرخان
د قلم سره سره د توري هم ښهٔ مړنے وو - د نوښار پهٔ قلا دحملي پهٔ
وخت ئي ډیوي زبردستي مړاني مظاهره کړي وه - معروف مستشرق میجر
راورټي خو ددغي فتحي سهره هم د عبدالقادرخان پهٔ سر تړلي ده - پهٔ خپل
کتاب "سیلکشن فرام دي پوئټري آف دي افغانز" کښي لیکي -

"هم داهغه شاعر وو چاچي پهٔ قلا حمله وکړه او د مسلسلو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



درې کېنتو د خونړي جنګ نه پس يې فتح وکړه -"

د پورته ذکر شوي جنګ نه علاوه د کنبت په جنګ کښې هم عبدالقادرخان خټک د خپل مټ يوه زبردسته مظاهره کړې وه - دغه جنګ چې په کال سنه ۱۰۸۶ هـ کښې شوے وو - او وقتي طور خټکو پکښې ماته کړې وه - ولې خټک چې په کوم جوش خروش او جذبه جنګيدلي وو - دهغې په حقله خوشحال خان خټک وائي . ے

بنه ځوانان چې د کنبت په ميدان ومړل
دهر ځوان په زړه کښې ننګ افغاني وه

او بيا هم په دغه ذکر شوي جنګ کښې د عبدالقادرخان د مړانې او بهادرئ په ضمن کښې وائي -

د غليم سره په اس غاړه غړئ شو
د عبدل د مړنتوب بخره کافي ده

د خوشحال خان لۀ دغه شعره معلوميږي چې هم په دغه جنګ کښې د عبدالقادرخان مقابله د خپل يو حريف ځنګه دې حد ته رسيدلې وه - چې د اُس د پاسه يې هم د مقابلې په دوران کښې د يو بل سره غاړه غړئ زور ازمائي کړې وه - چې عبدالقادرخان پکښې ژوبل شوے هم وو -

عبدالقادرخان د خپل اهليت او قابليت په وجه د خپل پلار د توجه لاندې وو - او دهغهٔ په تعليم او تربيت کښې يې لوئ لاس وو - خوشحال خان زمونږ دغه شاعر سره د خپل زړهٔ د قرب اظهار او دُعا په دغو الفاظو کوي - ع

بنهٔ زوئ د بابا دے تل دې ژوي په جهان

ے مقصد عبدالقادرخان دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او شاید د خوشحال خان هم له دغه شعره هجرت را اوړي هم دا استنباط کړے وي چې وئیل ئې -

" عبدالقادر خان د خپل پلار د شفقتونو نسبتاً زیات حقدار دے"

"د پټه خزانه" مولف محمد هوتک لیکي -

" د خوشحال بابا تر مرګ پس عبدالقادر خان په ۱۱۱۳ھ کابل کښې لیده لے شوے وو - چې د خټکو د قوم له خوا کابل ته راغلے او د کاروانونو د تړېدلو خبرې ئې د بنګش په خوا کولې - عبدالقادر خان غښتلے او کړندے خان وو - د خټکو خانان ئې تابع وو - "

اګر که د پورته اقتباس له مخه د عبدالقادر خان کابل ته د تللو تائید خپله د هغه دا رباعي هم کوي - ؎

د خپله بخته وچا ته زار کړو
د چرخ ناسازي وچا ته شمار کړو
ړک دے له بنګلیو د کابل ښهر
هومره ثوک نشته چې یو ترې یاد کړو

پاتې شوه دا خبره چې "د خټکو خانان ئې تابع وو." د پټې خزانې د دغه جملې نه دا سې معلومیږي چې په کال ۱۱۱۳ھ عبدالقادر خان د خپلې قبیلې مشر وو چې وروستو د حالاتو بدلېدلو سره په څه وجوهاتو په کور کلي پرېښودلو مجبور شو - خو دا مجبوري د مشرۍ او خانۍ د لانجو نه سوا آخر بله څه کېدے شي ؟ په قول د هجرت راوړې -

" د خپل ورارۀ افضل خان د وړاندې سر تیټول د عبدالقادر خان

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


دپاره ګواښه وه . او دهغهٔ جمله ورونه دعبدالقادرخان
پهٔ سردار جوړولو کښې دهغهٔ سره وو - ولې دا هر څهٔ
بې فائدې ثابت شول - پهٔ موروثي بنا د قبيلې متفقه فيصله
دافضل خان پهٔ حق کښې وه - نتيجه دا شوه چې افضل خان
دهغه وخت ددستور مطابق ددغو مشکله بس يو قابل عمل
حل دا وګڼلو چې د ټولو مخالفو عناصرو نه ګان نجات بيا موي.
نو عبدالقادرخان، دهغهٔ لس ورونه او دهغو متعدد زامن
ئې پهٔ يوه ورځ قتل او يوه کنده کښې ښخ کړل - او دغه شان
د سردارۍ د سردردۍ نه ئې نجات بيا موند ."

دعبدالقادرخان د تاريخ وفات، ژوند داخري حالاتو او کفن دفن
دځائے ځائېږي په تعلقه صحيح طور لا څهٔ هيڅ نهٔ شي ويئيلے - البته د لاندې
درج شعر له مخه ئې ژوند تر کال ۱۱۲۵ھ يقيني دے . ؎

دوه شپيتهٔ کاله دي لاړ عمر پهٔ لهو
عبادت دي پهٔ عادت نيکي پهٔ سهو

د پيدائش د کال ۱۰۶۳ھ سره چې ۶۲ جمع کړے شي - نو د شاعر ژوند تر کال ۱۱۲۵ھ
پورې يقيني کړي - ضروري نهٔ ده چې د ذکر شوي شعر د وئيلو نه سمد ستي
وفات شوے وي - نو ځکه امکان لري چې د کال ۱۱۲۵ھ نه وروستو هم څهٔ موده
ژوندے پاتے شوے وي .

عبدالقادرخان دخپل تره فقير جميل بېګ لور نکاح کړې وه - د هغهٔ اولاد
پهٔ قادرخېلو ياديږي - عبدالقادرخان پهٔ خپل ټبر قادرخېلو کښې پهٔ "خليفه صاحب"
شهرت لري - ددې وجه دا کېدے شي چې هغهٔ دخپل تره او سخر نه څهٔ روحاني

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



فیض حاصل کړے وي .

فقیر جمیل بېګ خپله هم دحضرت شیخ رحمکار رحمة الله علیه مرید اوخلیفه ووچې وروستو بیا ددنیا جاه وحشمت ته يې شا کړه . ریاضت وعبادت اوفقرو درویشۍ ته يې مخه کړه .

دعبدالقادر د شاعرانه عظمت پخپله دهغهٔ څنوهمعصرو او بیا وروستو کومو شاعرانو چې د عبدالقادرخان ستائنه کړې ده . هغوکښې پیرمحمد کاکړ اشرف خان هجري ، قاسم علي افریدے اوقاضي میراحمد شاه رضواني پېش پېش دي .

## تصنیفات ، تالیفات اوترجمې :-

(۱) داشعارو دیوان

(۲) ادم درخانۍ - چې د شاعر وروږ صدرخان خټک هم لیکلې ده

(۳) یوسف زلیخا ، پښتو منظومه ترجمه

(۴) حدیقهٔ خټک

(۵) ګلدسته (پښتو کښې دګلستانِ سعدي منظومه ترجمه)

(۶) نصیحت نامه

(۷) چِل حدیث

میجر راورټي لیکي

"چې دعبدالقادرخان موجوده خاندان دهغهٔ شپېتو پورې تصنیفات بیا نوي - خونومونه يې اوس چاته نهٔ دي یاد - سیوایٔ دهغویو څو نه چې پهٔ معمو اوچیستانونو وغیره مشتمل دي .

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## شاعري :-

عبدالقادرخان ختټک د نظم د مختلفو اصنافو لکه غزل، قصيدۀ، رباعيؔ قطعه مثنوي، ترکيب بند، ترجيع بند، مربع او مخمس يوه ښهٔ ذخيره پرېښې ده. دهغهٔ په کلام کښې دعشقيه، اخلاقي او صوفيانه مضامينو او افکارو نه علاوۀ په معاشره انتقاد او د قدرتي مناظرو عکاسي هم موجوده ده، جدّت، حسنِ بيان د خيال ندرت، تشبيهو او سوزوګداز سره سره شوخي هم د عبدالقادرخان د کلام خصوصيات دي. په دغه وجه دهغهٔ شاعري يوه جامع او متنوعه شاعري ده. په خپل کلام کښې د شاعرانه خوبو او عظمت د احساس لـهٔ مخه وائي. ـه

د سخن خوبي همه لرم موجوده
زهٔ عبدالقادر محتاج د سخندان يم

ولې سره د ذکر شوو خاصيتونو دهغهٔ د کلام زياته برخه په غزلياتو مشتمله ده. ځکه نو هغه د پښتو په عالي ادب کښې بنيادي طور يو غزلګو شاعر دے. دهغهٔ د غزل په ژبه د رحمٰن بابا اثر ډېر واضح دے. او هم د غرو وجه ده چې لکه د رحمٰن بابا دهغهٔ شاعري ساده، سليسه او روانه ده چې په ډېره سادګۍ او روانۍ خپل جذبات بې ساخته او په يو موثر ډول بيانوي. ددغو خوبيو لهٔ کبله د عبدالقادرخان غزل زمونږ په لرغوني ادب کښې د رحمٰن بابا نه پس يو ښکاره او جوت مقام لري. چې د ډېرو لفظي او معنوي خوبيو حامل دے. او دا ځکه چې هغهٔ نهٔ صرف انساني مقاصد او ادبي مطالب د غزل د پردې لاندې راوستل. بلکې د خپلو محسوساتو مصوّري ئې هم د غزل په شکل پېش کړه. د عبدالقادرخان غزلې د خپلو مخصوصو رواياتو له مخه په پښتو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



غزل کښې په يو داسې مقام ليدلے شي . چې باوجود خپله نظيره، بې نظيره هم ښکاري . د موزونيت، اسلوبِ بيان، موضوع او غزل د دستور او روایاتو د پابندۍ له اعتباره په پښتو غزل کښې د سهل الممتنع په امثالو کښې ځانله ديو مثال درجه هم لري . دا حقيقت شاعر خپله هم محسوس کړے وو. چې اظهارئې داسې کوي . ؎

هـر غزل مې مبرّا دے له تکليفه
په ساده پښتو ويل شيرين کـلام يم

حُسن و عشق يو داسې پائنده او تابنده سپرلے دے چې د دنيا د هر شاعر په کلام کښې په څه ناڅه رنګ محسوسيږي - خو چرته شوخ او چرته تت. ولې د وجود نه ئې انکار نۀ شي کېدے - عشق چې د حصولِ حُسن ديو مسلسل ناتمام جد و جهد دويم نوم دے - دا دومره قوي جذبه ده چې عاشق له مرګ هم ناآشنا کړي او يو جاودان ژوند ورکړي - ؎

هرگز نه ميرد آنکه دلش زنده شد به عشق
ثبت است بر جريده عالم دوام ما

عشق په صوفيانه ادب کښې هم وي - او دغه قسمه ادب د قومونو د روحاني او ذهني ورتې د ودې سبب ګرځي - چونکې انساني ژوند کښې عشق يو مرکزي حيثيت لري - او بيا په تېره تېره چې صوفيانه ادب کښې کومه معنۍ بښندې پرته د هغې زموږ مقصد د عبدالقادر خان خټک په شاعرۍ کښې د هغۀ د جذباتي عشق نه مستفيد کېدل دي - ځکه چې د شاعريۀ کلام کښې د عشقيه احساساتو اظهار مقابلتاً زيات دے - چې پکښې د حُسن و عشق، سوز و ګداز، هجر و وصال داستانونه په يو اثرناکه دول

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بیان شوي دي - دغه ضمن کښې عبدالقادرخان دحُسن حقیقت په لاندینو الفاظو بیانوي - ؎

حُسن یو اثر دے چې په مخکښې دچا وُشي
نهٔ چې کړه وړه بنهٔ لري هغه صاحب جمال دے

او بیا د محبت حقیقت هم داسې بنائي - ؎

محبت دې چې دچا په زړهٔ محکم شهٔ
هم هغه په حقیقت کښې شا صنم شهٔ

بیا هم دا دغه اثر نه او حقیقت نه پس شاعر دخپلې تجربې په رڼا کښې عشق دکالهمو مشکلاتو ابتدا کړې ده چې وضاحت ئې په دغه دول کوي - ؎

عشق دکل بلاؤ سر دے، خدائے دې څوک پرې اخته نهٔ کا
هملې دغم لښکر دے، خدائے دې څوک پرې اخته نهٔ کا
لهٔ وطنه سرے ورک کا، و عالم وته ئې سپک کا
دا همه ددهٔ اثر دے، خدائے دې څوک پرې اخته نهٔ کا
سوزنده لکه اتش دے، تر اتشه لا سرکش دے
په ظاهر کهٔ منوّر دے، خدائے دې څوک پرې اخته نهٔ کا
چې عاشق عبدالقادر شو حال ئې کل وته ظاهر شو
دا ویئیل کا ترې خبر دے، خدائے دې څوک پرې اخته نهٔ کا

دعشق و محبت لار دکوم خیابان روښن نه بلکې دالار همېشه دا غزو نه ډکه وي - خنده وخار او منزل ته ډېر مشکلات لري - عن چې ددغې لار اکثر مسافر دا هیو بنکار شي - مجنون وو که فرهاد، آدم خان وو که

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



فتح خان، مؤمن وو او کهٔ دے - د خپل منزل د حصول پهٔ ارمان نامراده لاړل - ولې باوجود لهٔ دغه انجامه عشق یوه داسې جذبه ده، یو داسې اور دے چې یو ځل د ذړهٔ پهٔ کور بل شي نو د صورت په خاورو د پټېدو سره باوجود د دغهٔ ربنا د صورت لهٔ فانوسه خپل چاپېرچل روښانه او منور کړے وي - هم دغه حقیقت عبدالقادرخان داسې بیان کړے دے - ؎

پهٔ کوکل کښې مې ذرهٔ نهٔ دے کهٔ باور کړې
د صورت پهٔ خاورو پټ دے سکور د عشق

او بیا د عشق د کارنامو انجام داسې پهٔ گوته کوي - ؎

سر و مال مې شو تالا پهٔ تور د عشق
لا مې نهٔ دے لاړله سره شور د عشق
څو دیار د قامت خیال یې مستي نهٔ شي
پهٔ نور څه به نشي هسک نسکور د عشق

د حقیقي عشق منزل ته رسېدل د مجازي عشق پهٔ لاره کیږي- بیا پهٔ نورو الفاظو به دا اووایو چې مجاز د حقیقت وړومبۍ پوړۍ ده- د مجاز پهٔ لار حقیقت ته د رسېدلو د سفر تدریجي نتیجه داوي چې د عشق د لارې دا مسافر څومره څومره حقیقت ته نزدې کیږي دومره دومره لهٔ مجازه بهرته کیږي - مجازي مینه کښې د خواهشاتو غلبه وي - او ددې پهٔ وجه مینه کښې د عاشق ناپختگي وي - دغه اوموالے یا ناپختگي شاعر خپل ځانته پهٔ مخاطبه کښې پهٔ دې رنګ ښودلے دے - ؎

لا د عشق او مې لرې عبدالقادره!
چې دیار د جفا زار کوې یا نخولې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


سه

اُوم کباب د اور په تاؤ ژړا فریاد کا
که د عشق لۀ اوره اه وکړم، لا خام یم

سه

رقص لۀ خامئ کاندي د اندړدیک پرمنځ کښې
یا تو لۀ صوفی شي حاله رقص چې پخیږي

ولې په عشقِ حقیقي کښې مینه دکمال انتها ته رسي - اوڅۀ وخت چې دا کمال ته ورسي - عاشق کامل شي - هم ددغه شان کامل عاشق بنئینه عبدالقادرخان داسې کوي - سه

ونوموز عاشق بلبل دے شوریُ دېر مینه ئې لږه
که مثال دکامل غواړې وپتنګ ته تند اره کړه

سه

د عشق لۀ اوره تښتي عاشق نۀ دے
دخپل ځان په سولو شي دپتنګ سوبه

په حقیقي مینه کښې دکاملیت نه پس عاشق په خپل محبوب کښې فنا شي۔ دهغۀ په خیال اوخوب کښې د محبوب نه سوا بل هیڅ نۀ وي - هرخوا او هرځین کښې خپل جانان ویني - ساز وي که رقص، ستوري وي که سپوږمۍ دسپرلي رنګونه وي که وږمې ، دا باسین ساز وي که د مارغانو نغمې، عاشق دا هرڅۀ دخپل حقیقي محبوب مختلفي اداګاني ګڼي - که جلوت وي او که خلوت هغه دخپل اشنا همکلام وي - حقیقي مینه یوه مقدسه جذبه ده چې عاشق په جذب کښې مجذوب او سلوک کښې سالک کړي - عن چې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ؔ

من تو شدم تو من شدی     من تن شدم تو جان شدی
تاکس نگوید بعد ازیں     من دیگرم    تو دیگری

هغه کیفیت پیدا کړي - عبدالقادرخان د عشق هم دغه کیفیت داسې بیان کړے دے - ؔ

زۀ او تۀ په محبت کښې نۀ ځائیږي
زۀ او تۀ له مینځه وو تے یکتا شوے

دا قرب او اتصال او وحدت ضروري نۀ ده چې جسماني وي - روحاني او قلبي کیفیت هم یو شي - د صورت د پردې پهٔ بڼه کېدلو د قرب دا حالت د شاعر دلاندینو شعرونو نه ښۀ واضح کیږي - ؔ

ؔ یار لۀ مانه لا وما وته نزدې دے
کۀ ترمیان حجاب پاره پاره د "ما" شوي

ؔ د "یم" وئیل پۀ طریقت کښې کافري ده
د یم یم پۀ قافیه راورل پښېمان یم

ؔ دخودۍ باد چې وُباسي لۀ سره
دحباب نامه یې لاړه شي دریاب شي
د دوئي خبرې مۀ کوه مطربه
پۀ نغمه کښې یو یو وایه نۀ دودو

جهانزیب نیاز

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


بسم الله الرحمن الرحیم

# مقدمه۔ عبدالقادر خان خټک

چه څوک په مزکه یا په آسمان دی | واړه په حمد د پاک سُبحان دی
نقصان په عوبږ و ګڼې د سامعانو دے | آشیا واړه په حمد د سُبحان دی

پس د خدائے تعالےٰ له حمد جل جَلاله او د رسول له درود صلی الله علیه وسلم۔
اے عزیزه! وپوهیږه چه بهترین د طاعتونو او سر د نعمتونو حق شناسی یعنے اقرار کول په خله چه خدائے یو دے، شریک ئے نشته او محمد رسول (صلی الله علیه وسلم) د دهٔ دے۔ او تصدیق یعنے دلوره د زړهٔ دے۔ بیت ؎

قربان دِ ترنا مه شم محمدٌ ه پیغمبره
چه ئے ستا محبت نهٔ وی د هغو چار دهٔ ابتره
ځار دِ تر صدّیقؓ شم صدقه دِ تر عمرؓ شم
فدا شم تر عثمانؓ، بلهاری شم تر حیدرؓه

ډ واړو اصحابو دوستی دهٔ د رسول دوستی۔ د رسول دوستی دخدائے دوستی دهٔ۔ هرچه دخدائے دوستان دی۔ په دواړه جهانه په امان دی۔ پس له ایمانه تر واړهٔ طاعتونو بهتر لمونځ دے۔ بویه چه په بنهٔ وخت ئے وکړے۔ لمونځ په ترتیب ادا کوه۔ سبک کوم؟ چه لمونځ ئے سبک وی۔ یعنے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



رکوع، سجود نهٔ بیلوی - پهٔ مسجد نهٔ حاضرېږی - اَمّا امامتی مهٔ کوه - او مؤذني کوه دروند بار دے د مخلصانو کار دے - پس سعي په بنهٔ خصلت کوه - دانسان او دحیوان تفاوت په خوئ دے - خویونه کم آزاری دۀ - څو توانیږے په لاس، پهٔ ژبه څوک آزار مهٔ کړه - ؎

دچا مهٔ اَخله آزار عبدالقادره | تر دا نشته دے بدکار عبدالقادره
هرچه ویره دمظلوم د آه نهٔ کا | عاقبت شی هغه خوار عبدالقادره
چه لاس نهٔ نیسی له ظلمه وراندِ ورستو | په ظالم شی گرفتار عبدالقادره
څوک چه خوری په ظلم مال دیتیمانو | ډکوی کیږه په نار عبدالقادره

هر چاته په بنهٔ نظر گوره - هر چه په ځان نهٔ پسندے په بل مهٔ پسنده، که بنهٔ کړے بنهٔ به مومے - که بد کړے بد - دنورو بار وړه - خپل بار په چا مهٔ وړه - له چا سوال مهٔ کوه - د بل مهٔ ردهٔ وَه چه مهٔ بشکنځهٔ شے چه ونهٔ بشکنځے ؎

خپل استاد ے خدائے قبر منوّر کا
همیشه به ئے داپند وایه و ماته

په مقراض که دِ څوک دواړه شونډے پریکا
ځلی ځلی بشکنځل مهٔ کوه وَچاته

ډیر ورکړه لږ گټه - لږ ورکړه په عذر زیات کړه - لږ خوره، ډیر بخوره - دچا مهٔ خوره - په نورو نورَوه - په هلکانو رحمت کوه - د پیرانو حُرمت کوه - د عالمانو عزت کوه - دفقیرانو خدمت کوه - په هر کار کښے، په تلهٔ په ناسته، په گفتار، په خوراک تقدیم دمشر کړه ، مشر وروړ لکه پلار گڼړهٔ دپلار آشنایان لکه ترونه - دچا عیبونه مهٔ شماره - پرده پوش وُسه - رباعی ؎

اے چه عیبونه ذبل اکثر وینے
خپل ځان تر نورو خلقو بهتر وینے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

سر د همه وُ عیبو نو داد ے
چه د بل عیب د ځان هُنر و ینے

غیبت له چا مهٔ کوه - غیبت کوئ منع کوه - په ځان بد گمان اوسه - په بل نیک گمان - دروغ مه وایه، سړے پرے سپک شي - وعده خلاف او سوګند خور مهٔ شه - بے اعتباره به شے - چغلي د چا مهٔ کوه - د چغل خوے غلیم اُوسه - د بل لږ احسان ډیر گڼړه، خپل ډیر لږ - ډیر آوره، لږ وایه بنهٔ وایه - چه څوک دِ وپوښتی هاله وایه - د لږ ے نیکئ د بل پرے تلافي کړه - په ډیر بد لږ مکافات، بلکه عفوه بهتر تر انتقام ده - خپله نیکي د بل بدي مهٔ یادوه - ورکړه په منت مهٔ جبطه کوه - سخاوت په مثال څهٔ دے، میوه داره شجر - چه منّت ورځنه مل کړے ویخ ئے سکڼړي په آره - کامل سخي هغه دے چه ترورکونے په خوښتو مین وي - چه څوک دِ وبولي ورشه - کنه قرار په وقار کښے ناست وُسه - د علماء مجلس لازم گڼړه - ډیر علم لږ عمل کوه - خو د علم په ډیر عمل کړه کا ؎

هر عمل بے علمه څهٔ دے، د خدائے قهر د خدائے هیځ
لږ عمل له علم ډیر دے، ډیر عمل بے علمه هیځ

د مشائخ په دیدن ورِ درومه - ناستے ورسره کوه په ادب - د اولیاء په کار انکار مهٔ کړه - په نعمت شاکر وُسه - په محنت صابر - نیک وید واړه له خدایه گڼړه - مور په قناعت شه - قناعت گنج دے - چه دے نهٔ فاني کیږي - راضي په قسمت شه - چه همیشه خوښ وسے ؎

پیس ے چه حل ئے واړه اشکال وُسه
په دواړه کوته خُرّم خوشحال وُسه

دا نصیحت ئے راته همیش وایه
چه خوښ له خدایا په هر احوال وُسه

حرص د دنیا مهٔ کوه - حرص محطي ده چه نهٔ تیریږي - حسد له چا سره مهٔ کوه - نفس دوزخ دے - حسد په زړهٔ کښے د بے حسدو اور دے - ترے بویه حذر - بے خود وي، چه له مقبول سره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دشمنی کا - هغه سرے دِ په شمار د وُرور دے ۔ کبر مهٔ کوه چه خوار نهٔ شے - تواضع کوه چه عزیز شے - متکبر مهٔ شه - متواضع وُسه - آزار مهٔ اخله - د هر چا نافع اُوسه - سر دهمه وُ پندونو دارے له خپله خدایا همیشه خاشع وُسه - حلیم شه زخمونے چه دروند شے - ډیرے مسخرے مهٔ کوه - بے وقار به شے - ددنیا محبت مهٔ کوه - حُب سر دبدیو دے - سخاوت کوه چه د هر چا محبوب شے - بُخل مهٔ کوهٔ چه د عالم مبغوض نهٔ شے - علم د علما نو هم ستا نفس دے - له شر ئے ایمن مهٔ شه - له شیطان څخه احتیاط کوه - له شیطانه اُنس مهٔ کوه یعنے آنس له بدانو - په دښمن باور مهٔ کوه، په دوستانو بدگمانی - چه رُو برو دِ صفت کا هغه بد خواه وُگڼړه - خود نمائے خودستائے مه شه - آزمائیلے بیامهٔ آزمیه - په ناآزمائیلی کار مهٔ سپاره - له حکومت لرے وُسه، اگرچه که یو ساعت وی - په هر کار کښے مصلحت کړه - احمق کوم؟ چه ځان هوښیار گڼړی ؎

سرے که هر څو له عقله پُر وی
چه مشورت نهٔ کا په ځان مغرور وی
هم دغه عقل دده کمر شی
څخه به پریوزی درست په چورچور وی

کار ونه په خدائے تعالے وسپاره - ډیر مهٔ خانده - کشاده روی او مُتبسم وُسه - چه زړهٔ دِ سخت نهٔ شی او هر څوک دریانده میئن شی - همیش محزون وُسه - دُنیا کلبه د احزان ده - غافل به پکښے الله وهکین وی - خوشحالی علامت د حماقت ده - له گناهه بیرته وسه چه زړهٔ دِ تور نهٔ شی توروالے د زړهٔ نښانی د کفر ده - د دُنیا مینه سر د وارو بدلو ده - د دُنیا دارو ناستے زهر قاتل وُگڼړه. خپل لږ ډیر گڼړه - د بل ډیر لږ - په علم دین کښے تر ځان بهتر گوره - په دنیا په دولت کښے تر ځان کهتر - راز وچا ته مهٔ وایه - د چا راز دار مهٔ شه - چرے راز په ئے فاش کړے - د راز ساتل گران دی - نیک خواه د خلقو وُسه - که په لاس وی که په ژبه، که په زړهٔ - بهتر د سړیو نافع دے - بد مُضر - مشغول د الله تعالے په ذکر وُسه - د خدائے عافیت غواړه - مرگ ډیر یادوه - ددنیا محنت به

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


دربانده آسان شی ـ د آخرت طالب به شے ـ مړهٔ عزیزان دوستان مهٔ هیروه ـ دهغوی چهره تصور کړه ـ چه ژوندی څهٔ رنګ وو ـ اوس په قبرونو کښے څهٔ رنګ پراتهٔ دی ـ قرآن دائم لوله چه د زړهٔ پیین والے د قرآن په تلاوت او د مرګ په یادوُل کیږی ـ تنهائی عادت کړه ـ قرآن انیس لره چه په قبر کښے د مونس وی ، په قیامت شفیع ، په جنت کښے رفیق و هر صبا یٰسٓ لوله چه ځنکدن دربانده آسان شی ـ هر نماز پیشین اِنّا فَتَحْنَا لوله چه کشائش د دین د دُنیا د کار ونو وُشی ـ هر نماز دیګر سوره عَمَّ لوله چه د دنیا محنت دربانده آسان شی ـ هر نماز شام اِذَا وَقَعَتِ لوله چه نهٔ خواربے په دواړه جهانه آسوده وے ـ هر نماز خفتن تَبَارَکَ الَّذِی لوله چه له عذابه د قبر خلاص شے ـ خیر الکلام ما قَلَّ وَدَلَّ ـ وَالسَّلَام مَعَ الْاِکْرَام ـ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بسم الله الرحمن الرحيم

## (۱)

ساقي پاڅه پياله راکړه پاڼړے بيد کا    دبهار د را تللو باغ ونته نويد کا
ستا په ميو کښے نشه د يکرنګئ ده    چه تر فهمه ے يکرنګ سيه سفيد کا
درقيب خاطر به ويلي نکه يخ.شي    که يار مخ راته ښکاره لکه خورشيد کا
سيه چشمو ځخه بوئ د وفا نشته    له دے يابه به څوک څه ورته اميد کا
چه په عشق سره ژوندي وي هغه نه مري    خدائے تواينرې که زما عمر جاويد کا
ذره ئے درست له مانه يوو رلائے ګوره    چه لاځو سحر د مونه مکر وشيد کا

داځل دے عبد القادر ځني سودمند شو
چه په پاپه بنائسته وُ ا عتميد کا

## (۲)

داخويونه که دانا سړے اختيار کا    په دُنيا په دين به جوړ پرے کاروبار کا
عبادت دحق په صدق په اخلاص کا    تل له چله نفسه جنګ کوي کار زار کا
په فقراؤ سخاوت کا بے منته    په حاجت کښے استغنا له دنيادار کا
وَدوستانو ته تل پند نصيحت وائي    له دُښمن سره په حلم ژيست روزګار کا
له تمامو خلقو ژيست په انصاف کاندي    په رښتيا ويل حاصل خپل اعتبار کا
شفقت، مهرباني کا په خوارانو    د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا
جاهلانو سره ژيست په خاموشئ کا    که هر څو په بد ويل ئے زړه آزار کا

هميشه عبد القادر غوښه آزار وُړي
چه نه څوک آزاروي نه له چا زار کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳)

چه ئې ستا خوږې خبرې ذره صاف نهٔ کا — د طهور شراب هغو وته لاف نهٔ کا
خدائ ئې پخپله ستا صفت دې بیان کړې — نشته شې چه مدحه ستا د اوصاف نهٔ کا
چه ئې ستا په شریعت قدم ثابت کړهٔ — له صراطه د هغه سرې خاف نهٔ کا
چه خلاف د له سنت کا ځائې ئې اوس دې — کهٔ له فرض اوله واجبو خلاف نهٔ کا
خدائې به څپل ګنهګاری عفوه ستا په روئ کا — ولې ستا ګنهګاران به معاف سته کا

په طواف ئې مفتخر عبدالقادر کړه
څوارشی څوک چه تر روضه ئې طواف نهٔ کا

## (۴)

څوک چه مینه په دنیا لا په عقبی کا — نهٔ پوهیږی سراسر واړه خطا کا
کهٔ د وصل له لذته ئې خبر شی — د بهشت و نعمتونو ته به شا کا
د زاهد حیله د حور او د قصور ده — عاشقان ئې د ودیدن ته تمنا کا
چه اعلی وی په اعلی به ئې نظر وی — چه ادنی وی همګی چارې ادنی کا
د خزان ډوک ئې لیدلې دې په سترګو — چه بلبله په ګلزار راشی غوغا کا
چه ئې شا په شا په کټ کښې ناستې نهٔ شی — د فلک ئې په هیواد جُبله جُدا کا
چه صبا به له مجلسه جُدا کیږی — شمع ځکه درسته شپه د سوز ژړا کا
چه د وصل په دولت وی سره جمع — زمانه یې ئې جدا په واویلا کا

هر چه یار کا هم هغه ددهٔ غلیم شی
څهٔ به نور عبدالقادر یاری له چا کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۵)

خدائے به زرپریشان یاران سره یوځائے کا — بد خواهان به سروهی هم به هائے هائے کا
په جهان کښے نوے نوے بازی کیږی — لا یوه تمامه نه، بله برپا[1] ئے کا
د بهار د ګلو ګشت کوے نه شم — خپلے وښکے راته مزکه ګل ولائے کا
تل به وار د رقیب جوړ رابانډِ نه وی — زمونږ وار به هم پرے سازشی که ئے خدائے کا
دا دُنیا راته ښکاره قمار خانه شوه — هر څو ډیر که وګټی آخر ئے بائے کا
ښندګی[2] په پیری نه ده په ښنه خوئ ده — بُوم به کله په وزرو ځان همائے کا

زخمی شوے ئے هر لور عبد القادره!
څوک اوه اوه څنی آه آه کا څنی وائے وائے کا

## (۶)

که هر څو ورباندِ غاوُ رقیب غماز کا — عاشق کله غوږ ږدیو په آواز کا
په[3] جهان چه بدمزه اوګنده بوئیں دے — زمانه ئے ململ پوشه سکه پیاز کا
نازنه مخ بویه نازک، لطیف تر ګله — هر مخ کله هومره مخ لری چه ناز کا
هر چه نه نیسی نظر له ښکلیه مخه — بویه دا چه ځان غمونو وته ساز کا
باد را والوت مخالف ناخدائے بیهوش شو — ګوره سر به په کوم لوری دا جهاز کا
چه ئے نه دمیوے سود نه ئے د سیوری — دا فلک ئے لکه سروه سرفراز کا

له بے نیازه بے نیازی عبد القادره!
همیش غواړه چه له غیرو د بے نیاز کا

---

[1] لا یوه تمامه نه وی بل برپا ئے کا } خ
[2] بزرګی په پیری . . . . . . . . . } خ
[3] په جهان کښے چه بدخوی وګنده بوی وی (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٧)

هر کوړ ډېره نادانی بوړا بلبل کا — چه خزان وړ لیسے شته مینه په گل کا
دا چراغ به بل تر کومه وی په باد کښے — یوه ورځ به ئے صرصر د فنا گل کا
په صبا ئے په زښتئ بدل ښائست شی — شب چراغ چه په شپه هومره تجمل کا
خفی شِرک کله جلی وړ څرگند یږی — عارفان کله نظر په جُز په کُل کا
په شبنم سره د گل غوږئ غوړیږی — د بخیل غوږه لا سخته نم د مُل کا
نندارچیانو به ئے شرح د مخ وکړه — تحیّر ورته آواز د لَاتَقُل کا

ستا قلم عبد القادره مشک افشان شو
چه ډېر ډېر صفت د زلفو د کاکل کا

## (٨)

په خزان کښے که نظر په گلو وُکا — ښائسته به پخپل حُسن زړهٔ ښهٔ نه کا
د جهاُن ورکول تل په عاریت دی — عاشقان به تعلق پرے پوړے څهٔ کا
د فلک آسیا په ړود زما د سترگو — چه دیار په فراق دړولی گرځیده کا
یو ساعت ئے خوشحالی اندوه ئے عمر — آشنائی دِ هیڅوک نهٔ کاندی که ښهٔ کا
چه په اصل بوټے تریخ وی خوږ به نهٔ شی — د اوبو په ځائے که توئے شهد اوړهٔ کا
پل ئے ځکه په جهان کښے موندهٔ نهٔ شی — عاشق تلهٔ دیار په لوری په لیمهٔ کا
بُوئیں د مشکو د عنبر په جهان خورشی — مشاطهٔ ئے چه خوارهٔ د سر ویښتهٔ کا

له غمونو ځکه خلاص عبد القادر شو
چه پخپله بخره خوښ شو حرص نهٔ کا

---

ۓ دُدنیا ورکول کل په عاریت دی — عاقلان به تعلق ورپوړے څهٔ کا (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٩)

کهٔ د خوبرو په دُعا فرښتے آمین کا
زړ په جمع پریشان رب العالمین کا

د وِصال په دولت ناسته غافل مهٔ شه
جدائی وَ واصلانو ته کمین کا

ترق به وُچوی له غمونو که نومید شی
د ښادیو په اُمید ښادی غمګین کا

د خندا طالبه! تل په ورشه ژاړه
چه وُژاړی خندا هسله یاسمین کا

د قصاب له چړے خوف د لاغر نشته
په دَمه کښے تل پښتنه د سمین کا

قُوت نو هومره چه قوّت ځنی حاصل شی
که په تړوک وی داوړ بشوکهٔ غنمین کا

جهان څهٔ چه جهانونه به ګډ وړ شی
کهٔ د تللیو حال ښکاره ورته زمین کا

د خوبرو زړهٔ داړو په دا عبدالقادر کا
چه د خوبرو په دعا فرښتے آمین کا

## (١٠)

عشق د کُل بلاؤ سر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا
همګی د غم ښکر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

له وطنه سر بے ورک کا وعالم وته ئے سپک کا
داهمه د دهٔ اثر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

پائمال[١] مال و منال کا بدے ئے رنګ بدے ئے احوال کا
خوار کا تا کهٔ د توانګر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

نهٔ سڑے[٢] ترے نه رغیږی چه داړو کا لا خوږیږی
تر ناسوړ ئے رنځ بدتر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

هم تیرهٔ دے هم تاریک دے تر ویښته نه لا باریک دے
ګویا جسر د سقر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

سوزنده لکه آتش دے تر اتشه لا سرکش دے
په ظاهر که منور دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

چه عاشق عبدالقادر شو حال ئے کُل وته ظاهر شو
دا وسیل کا، ترے خبر دے خدائے دِ ثوک پرے اخته نهٔ کا

---

[١] پائمال ئے مال منال کا ...... [٢] نهٔ مری نهٔ ترے رغیږی .... } خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱)

هر عالم چه تن پرست شی کامرانی کا — دے به څرنګه د دین نګهباني کا
چه له خدایا ویره کا عالم هغه دے — که د تخت د پاسه ناست وی سلطانی کا
موافق چه ئے عمل له علمه نه وی — تر جاهل به عالم زیاته پښیمانی کا
د عالم فساد، فساد د درست عالم دے — شیطان کله هومره ډیره ویرانی کا
د هغه عالم صحبت لکه دارو دے — چه پیسه ور کړے خوږونه انسانی کا
اول علم بیا عمل دریم اخلاص دے — دا درے خویه مرد عالم ربانی کا
چه بے علمه شیخی کا مریدان نیسی — په مرید کاره واره شیطانی کا
نمونځ روژه به ئے ځائے بانډ تاوان شی — چه په حکم ئے د نفس نفسانی کا
بل ته وائی دنیا پریږده بیوفا ده — دے ئے سعی شپه او ورځ په ودانی کا
نصیحت کا چه غیبت تر زنا سخت دے — په وئیل د غیبتونو ځان زانی کا

په عمل د ګیلان سپی ورځنی بنده دی
په خله ځان عبدالقادر ګیلانی کا

## (۱۲)

دلربا که رانښکاره ښکلے جمال کا — له خاطره ئے به محوه غیر خیال کا
کفایت به عاشقی کښے نه ځائیږی — محبت بنده زاده د بادشاه سیال کا
د وصال په وخت خبره لوئے حجاب شی — عشق عاشق کړے ګویا کړے ئے لال کا
په بو رجل ئے د کال غم را باندِ تیر شو — انتظار یوه ګړی په سری کال کا
که ظاهر له نوره خلقه مشغولا کړم — زړه مے تل د یار له غمه اشتغال کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پیسن ویښته دبدنامئ په وسمه تور کا — چه آرزو د صفا دویو د وصال کا
زړه او یار په صورت دوه په معنی یو یو — ثوک چه دے خوشحالوی ما به خوشحال کا
زمکه تخت آسمان ئے تاج ستوری گوهر شی — چه په سر ئے دا د مینے همائے بال کا
د دوران له انقلابه لا بقا شی — اعتماد به دا ناڅه په دا اقبال کا

دګور مړه به په ژړا په ناړ وګړ شی
که ښکاره عبدالقادر ورته احوال کا

## (١٣)

نشته په جهان کښې ثوک په داقد و بالا — څه عجیب صورت دے تبارک وتعالی
هیڅ سودا ونشوه څنی تش لاسونه لاړم — ډیر دی په دا ښهر کښې لائق د خریدلا
کله به څیل یار وته یلے د نعم وکرم — که تل به ئے جواب کوو په سوال کښې لم یلا
هر چه دا خواهش کا چه په کرم په ښکلیو مینه — بویه چه یو ځل د ناموس مینه کا تالا
ډیر په شیوه دړوے خدائے د ژغوړله نظره — دیات ترنوړ وکښلیو خیال دماغ دے د تالا
واړه ښائسته که لکه ګل دیوه باغ دی — لا زما دلبره یکښې شان لری والا

داڅه ویل نه دی چه عبدالقادر ئے وائی
پیسلی دے د نظم په تار دی لؤلؤ لالا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۴)

چه دنیا ورته ښکاره شوه بې وفا
و دنیا ته به مخ نه کا بې قفا

په اصحابو به پرېوانه وه بې حده
په کفارو به وه خوږ که ښه وي دا

چې يې مخ وي د دنیا و تولو ته
خپل پردي ورځني تل وي شا پشا

دښمني یې ده بهتره تر یاری سې
په یاری کښې یار خراب کاندي یوځا

د واړه لاس یې د خپل یار په وینو سره دی
نادانانو ته ښکارېږي په حنا

که له چاسره یاري کاندي ترسره
له غه پسه باڼه ته هم شه شیدا

د سلیمان تخت چې په باد تله آخر بادشه
په قارون[1] په ژوندون وشوه تماشا

په سکندر او په دارا یې وکړې چارې
په شداد او په نمرود یې وکړې لا

د هغو[2] چې طمع نه وه چې به خوار شو
په دنیا کښې هسې هست وو بې پروا

په ژوندون وو خوار و زار حیران پرېشان شول
امته دار دي د تکبره سبا بېګا

چې له کبره یې سم نه ویل و چا ته
اوس کړې خبرې اروي له هر چا

چې وینتو یې تاب ورکړې وو سنبل ته
د سنبلو په دود ځائے یې شه صحرا

چې به خوا پخوا پراته وو له مهرویو
اوس پراته له تورو خاورو خوا پخوا

حال یې درست عبدالقادر وته ښکاره شو
ځکه هسې مذمت کا له دنیا

---

[1] د قارون ....
[2] د هغو چه طمع نه وه چه د خوار شو
په دنیا کښې هسې مست وو بې پروا } خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۵)

چه یې خپله خلهٔ بیان د خپل هنر کا — د خپښې[۱] په دود هر گوهر به چر کا

خپل گوهر لکه صدف ساتلے بویه — زمانه کهٔ ئې پارهٔ پارهٔ ځیګر کا

امتحان د مرد نامرد په حادثه شي — اور نیکي بدي ظاهره د اګر کا

عاقبت به ویښه وژاړي چه خاندي — د بیبنې قلقل بناد منو ته خبر کا

دُون همت لکه خس بیا پریوځي په زمکه — کهٔ ګرد باد ئې د دولت په فلک بر کا

چه فنا خپله هستي کا په سرهٔ اور کښې — شمع هله نور له نورهٔ مُنوّر کا

چه مِنّت ورسره مل وي تر دامن دے — کهٔ به شونډے د حیات په اوبو تر کا

د بوریا نخښې په تن د مسکینانو — لا بنائست تر منقش جامو د زر کا

په دے بزم کښې چه مئے د مُراد وڅښي — په آخر د ناکامئ ئې پیاله ور کا

د دُنیا خوښي کهٔ واړهٔ ورته کیږدے — درو غژن دي کهٔ پرے غم د آشنا ور کا

چه په وخت د تلو راتلو کا چغارونه — د هوا د یاران رایاد زانړے اکثر کا

د غمژنو په کوڅه مهٔ ځه خوشحاله — صاف ساعت به دِ د عیش مُکدر کا

ته لا هسے یاد یې عبدالقادره!
دَم په دَم د عمر باد غونې ګزر کا

---

۱ د چنړے په دود هرګوره بده چر کا (غ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶)

طول اَمل چه په دُنیا عیش و انند کا　　په اهار کښې داوړو په طمع بند کا
لږ راحت به ئې په ډیر محنت بدل شی　　چه مرګ مخ ورته د نس په دود څرګند کا
کیږدن په تهله تهله خاندی پښادړ و می　　په معنیٰ کښې پخپل ځان پورې ریشخند کا
څو د عشق په تیغ واړه شم عزیزه م　　قیمت زیات واخلی ګنې چه ئې بند بند کا
نیک خواهان دېبد ویلو صرفه نهٔ کا　　نیک بختان بویه چه غوږ د دوئ په پند کا

رخصت مهٔ اخله په غلا راځنی دړ ومه
کله څوک دځان ورژلو کار پسند کا

## (۱۷)

چه ئې ولیده بشر ستا　　کمترین غلام شو نمر ستا
ګُل له شرمه خولې پرین دی　　چه په مخ شی برابر ستا
د بادشاه په بادشاهی ئې　　خندا کاندی قلندر ستا
ګُل، شبنم، صبا، بلبلې　　ثنا وائی هر سحر ستا
تر عنبرو په ما ښې دی　　د پلهٔ خاورې سمبر ستا
خود له خوده ښائسته ئې　　حاجت نشته د زیور ستا
د هر شی تسبیح به اَروې　　که غوږونه نهٔ دی کر ستا
یار په هر لوری جلوه کا　　خو بینا نهٔ دی بصر ستا
میاشت او وریځ د مخ نقاب کړه　　چه په مخ شوه برابر ستا

تل دا خواست عبدالقادر کا
چه کهٔ خاورې شی دَدَر ستا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸)

کبنلی مخ ئې میاشت خجله کړه نمر هم لا — قد ئې سروه کړه سرکوزه عرعر هم لا
سروبانو ئې قیمت د لعلو کم کړه — پیستو غابنو ئې بې آب کړ ګوهر هم لا
چه تنها ئې همیشه په سر اخلم — د عشق بار مې ګردون خم کړ کمر هم لا
نهٔ یواځې په صورت جدا ئې خوار کړم — په دا اور مې ننه سوزی ځیګر هم لا
چه نکهت د یار د زلفو نسیم راوړ — مشک خوشبوی په هغه بوی شول عنبر هم لا
په نمانځه کښې د یار ورځې رایه یاد شوې — د زړهٔ آه مې محراب وسوهٔ منبر هم لا

څو دِ زړهٔ عبد القادر سره جفا کړه
ستا جفا به وړی په سر په بصر هم لا

## (۱۹)

کهٔ ګذر د یار په کوڅې وکړې صبا — وُوایه زمونږ پیغام په دلربا
څو قطرې زمونږ په یاد په مزکه توې کا — چه په بزم د عشرت اخلی صهبا
ستا د زلفو بوئي نسیم په چمن راوړ — له مستئ شو د غنچو قمیص قبا
په ژړا مې د بنړو خارونه توې شول — په لیمهٔ مې قدم بږده بې محابا
لکه ګل په جوش تر نوړ وګلو ښهٔ شي — ښهٔ خصلت زیاتوی حسن د خوبا
نصیحت په عاشقانو اثر نهٔ کا — نهٔ د پیر نهٔ د اُستاد نهٔ د بابا
تل تر تله به ژوندی وی لکه خضر — کهٔ په خلهٔ ورکا دلبره لام وبا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه مې یار له غېږې ځي د مرګ ساعت وي      دریغه مهٔ وې دِ وصال د شپې صبا
تر سایه یې د جنت خوبنې یې موسم      د خپل یار قامت و ماته شو طوبیٰ
له دې ملکه په عزت واته بهتر دی      ساکنان یې حرمت نهٔ کا د غربا
کهٔ رښتینې حُب لرې عبدالقادره!
بې دیداره به دې درومي محبوبا

## (۲۰)

پهٔ تهمت کښې کهٔ خپل یار موندلې ما      د عالم تهمت په سر منلې ما
دیر به نهٔ وو هجران کړان کهٔ یې له غمه      په وصال کښې همیشه ژړلې ما
ما به تل لکه بورا په ګل سینه مښته      کهٔ پکښې د وفا بوئی موندلې ما
چه بې سواله ورکړه کا منت په ځان ئې بد وي      سخاوت دې د عفو پسند لې ما
حریص ځکه هسې دې په در ځاروځي      چه دې دې له خپله در ریټلې ما

ابدي ژوندون حاصل عبدالقادر کړهٔ
د غمزې په تیغ چه دې وژلې ما

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱)

دا دُعا مې مُستجابه کړې مجیبَ — چه وصال مې بیا روزی شي له حبیبَ
ستا له فکره خالي نۀ یم، خالي مهٔ شم — اې تر فکر زما زړهٔ وَ ته قریبَ
د عشق لار د لیونتوب په زور اخست شي — په قوّت د عقل وړ نهٔ شي لبیبَ
لاس په لاس د مرادو ونو و ور کا — چه په ما باندې وار راشي واۓ شیبَ
هم تر ما پورې سرکوزې هم یار رَد کړې — مخ د توړ په دواړه لوري شهٔ رقیبَ
ستا په قدر نا آشنا ځله پوهیږی — د حُرمت اُمید له چا کوي غریبَ
په قسمت دې د پتنګ داور لمبې کړې — تهٔ ورځه په ګلو کرځه عندلیبَ
بې نصیبه به د هیڅ په لاس کښېنو زی — بیهوده څهٔ له حرص کړې بې نصیبه
چه په سترګو دې پردې د حسد پریوځي — امتیاز د یوسف نهٔ کاندی له ذئبَ
چه دې کاندی وهر چا ته بدبنګاریږی — د ځوانئ کاروته نهٔ بنائي له شیبَ

د بدذات سره یاری عبدالقادره!
په معنیٰ کښې دښمنی ده له نجیبَ

## (۲۲)

بیا په مخ وُنیو دِلربا ئې نقاب — اِفتح یا مُفتح الاَبواب
ګل شګفته شو په هر لور د بهار — اَلصَّبُوحُ اَلصَّبُوحُ یا اَحْبَاب
دیز ساقي مې باقي در جام — رابه بانګ دَف وني چنګ ورباب
چه تا قدم په خاوړ وکښېښو فلک — قَالَ یالَیتَ رَبِّ کُنتُ تراب
چه جُدا شوې مئین راشي بکښ — سَبَبِي یا مُسَبِّبُ الاَسباب
اوړ مې قبول دې جدائي دِ نهٔ وی — هجر محبُوب راسُ کُلِّ عذاب
ذَلَّ من طَمَعُ ، عَزَّ من قَنِعَ — حُکه قانع شده اُولُو الالبَاب

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بے خدایا ویرہ شِرک خفی است — وَهُوَ الْقَاهِرُ وَ هُوَ الْوَهَّاب
ربه عمل مے دے همه د بدئی — تُبْ عَلَيَّ فَاِنَّكَ التَّوَّاب
ته رحیمی و کریمی و غفور — زهٔ که هر څو نهٔ ځم براهِ صواب

عبدالقادر چه دا غزل کړهٔ بیان
څوک به ئے کاندی په پښتو کښے جواب؟

## (۲۳)

که هر څو به ورځ و شپه کاندی طلب — ور به نهٔ شی تر مطلوبه بے ادب
تر بے سینٔ په قرآن کهٔ نظر وکړے — د ادب صفت دِ کړے پکښے رَب
ادب څهٔ دے، نیک و بد کښل له خدایه — مستقیم په شریعت په روز و شب
سببونه حجابونه شول د وراندے — مُسَبَّب نشی لیدهٔ په دا سبب
چه له شنے ونے نه سرے لمبے پیدا کا — که له سرو لمبو بهار کا څهٔ عجب
دواړه لب به ئے هغه عاشقان ښکل کا — چه له یاره سرو مال نهٔ لری لب
[2]ساقی څهٔ خو تر بنا ئے اوبهٔ راکړه — لوټ غمونو کړی لما د زړهٔ طرب
چه اثرِ د بیخودی ترے پیدا کیږی — تل برجنه وسه ونه د عنب
[3]له خوږو مے دواړه شونډے صبا نښتے — چه مے وزبیښل په خوب کښے دیار لب

زړهٔ پیاله عبدالقادره ویته مے کړه
د آشنا په یاد ئے نوشه لبالب

---

[1] گلزار - (خ)

[2] ساقی څهٔ خو طربنا له پیاله را کا

[3] له خوږو مے ځله دواړه شونډے نښتے ـ چه مے وښکل په خوب کښے دیار لب
(خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۴)

که خبر شې د رندانو له مشربه | نو به تېر شې له خلوې واړه مذهبه
څوک دِ طمع د ادب له مانه نه کا | څهٔ غرض د لېونیو له ادبه
د اهمه سبب زما د بدبختۍ دے | چه د اهسے آزرده شې بے سببه
چه تا رخهٔ وِیُل دِ هومره ډېر خواږه دي | د خوږو به دِ څهٔ خوږ وي شکر لبه
په هجران کښې ناقرار په وصال سوزی | د عاشق دِ څهٔ نصیب کړ زما ربه
چه لقب ئې د سړي[1] راباندې کېښنو | زیارتګاه شوم د فوښتو له دے لقبه
د نمر وصل موندهٔ ستا په دلالت[2] شي | لا به کله طلوع کړېږي زما کوکبه
ترنده هله څهٔ حاصل کاندی چه کرځي | یو زمان قرار مهٔ کړه له طلبه

یو ساعت د آشنا غم عبدالقادره!
بهتر دے د تمام عمر له طربه

## (۲۵)

حاصل کړه مقصد ونه د دُنیا له هره بابه | آخر به په ارمان ورځې ځې سینه کبابه
د اخرابه هیڅ امیر وزیر ودانه نهٔ کړه | سعی د هغې ودانۍ کړه خانه خرابه
د ډېرو[3] تړو وُچاوُدے زهرے په ډېر طلب کښې | ترنده ماته نشوه د هیچا له دے شرابه
د سرو نیښتهٔ دِ پېښ شو پېښ دِ نشو د زړهٔ توري | نمر په تندی راغلے، ته لا ویښ نهٔ ئې له خوابه

---

۱ چه لقب ئې د خېل سړي راباندې کېښنو.
۲ ولایت .
۳ وُچاوُده زاړه د ډېرو تړو په طلب کښې

خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کاږی دی نهٔ زړونه چه نرمی[1] ورځنه نهٔ وی — ګیټی دی نهٔ سترګے چه بے نمه وی بے آب
حرام دی کهٔ حلال دی خو دِ بویه چه اموال دی — هیڅ وِیره[2] دِ نهٔ شی له عذابه له حِسابَ
مست د دُنیا کله بے اَجله هوښیا ریږی — مستی د دُنیا بده ده تر بنګ و تر شرابَ
خاوړے چِل وجود کړه څو لا نهٔ ئے خاوړ شوے — زد کړه که دِ نهٔ زده دا خصلت د بوترابَ

پروت عبدالقادر دے د غفلت په توره شپه کښے
کله به راخیژے د توفیق بنګلی آفتابَ

## (۲۶)

درسته شپه ژړا فریاد سترګے بے خوبَ — وارِه[3] دا کاږونه ستا دی مُنتوبَ
چه مے نو له سترګو نهٔ ځی زړهٔ مے چوی — مهٔ کړه خدائے تعٰلیٰ د زخمی زخم بے زهُوبَ
ډک خُمونه تشوم د عشق له میُو — لا تشنه سینه مے هیڅ نهٔ ده خړوبَ
و منصوړ ته د دار سر بو رحل دیار شهٔ — عاشقان دِ نهٔ کا ډار د دار له چوبَ
چه د عشق له اوره تښتی عاشق نهٔ دے — د خپل ځان په سوځلو شی د پتنګ سوبَ
نا زپروړ دِ خبر دار له قدره نهٔ دے — خو هم ما لره راځه د عشق آشوبَ

چه له درده ځان ساقی دوا ته زغلی
له هغو عبدالقادر توبَ توبَ

---

۱ ....... چه نرمی ورځنی نشته
۲ هیڅ دِ ویره نشی له حساب لعذابَ
۳ دا همه کاږونه ستا دی مُن توبَ
} خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۷)

هیڅ له کبره نظر نهٔ کاندی وخوارتَ — بنا لُسته په معنی زړه دړه وی زړدارتَ
نوش روئی له خوشخوئی سره زیب کا — ؤوایه هغه دلبر دِل آزارتَ
خط د خپلے پریشانئ ئے پکښے لو لسم — چه نظر وکړم دکښلیو وعذارتَ
په اُمیدئے د وصال سکه خلیل څَم — په خندا په خوشحالئ په هوس نارتَ
ما په خوب کښے میاشت لیدهٔ په گریوانهٔ کښے — مُعبّر وے یارِ په درئیشی کنارتَ
چه په نیشت د دُنیا خوښی په شته د نگیروی — د هغهٔ فقیری بنائی اِعتبارتَ
د اڅو ورځے غنیمت د گل دیدن دے — وے نهٔ راځی بلبل ونو بهارتَ
چه ئے تللم په خندا خندا دیدن ته — اوس ئے دړ ومم په ژړا ژړا مزارتَ

لک او کروړ که پسے خرڅ عبدالقادر کا
هم تیر عمر به رانهٔ شی په بیا رتَ

## (۲۸)

په یوه نظر چه وکړی ساقی ماته — هغه دم مے صد ساله توبه شی ماتَ
د فراق لمبو مے تنه لړمون وَسوهٔ — آرزوئی مے شی هرکوره ستا وماُ تَ
عاشقی مے مادر زاد خوئی وخصلت دے — دا خصلت مے خدائے ورک مهٔ کړه تر ماتَ

---

ا ماء په عربئ کښے اوبو ته وائی ـ یعنے لړمون مے وسوهٔ ـ اوس مے خواهش دے چه شونډے د چه شاعرانئے عام طور آب حیات سره تشبیهه ورکوی) راکړے چه سوے لړمون مے یخ او آسوده شی ـ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



روح په مثل د آدمؑ قالب حوّا دے　　فرزندان ئے څوک شول پلار ته څوک امات[1]
چه عیسیٰؑ د تعلق له باره خلاص شو　　د تجرید په پرونو ورغے سمات
عاقبت به مجاز واړه حقیقت شی　　اشارت دے جو فروش گندم نمات
پکښے بند په دواړو پښو عبدالقادر شو[2]
خلاص دِ نشی ستا د مینے له حمات

## (۲۹)

ما چه فهم وکړو د دور په بر بست　　شکست ئے په درستیٔ کښے د درستی ئے په شکست
هیڅوک هوښیار نشته د دُنیا په خرابات کښے　　څوک ستی په مے کا څوک دیار په شونډو مست
سَل حُله پیاله د صافو ورکړه ترے به واوری[3]　　هر چه ئے پیاله د دُرد نصیب وی په الست
پاڅی ستا په ناسته غم اندوه ، لمانه لاله![4]　　جګی جګی تل کړه دا برخاست او دا نشست
څهٔ نسبت د مینے چه فرښته به ئے په سپی کا　　خاندی و رقیب ته یار همه زما په قست
هر چه معنوی فقر ئے بیاموندهٔ له حقه　　لا په محبت د ذرهٔ په نیست لری تر هست
بوئے هلک به واړه آخر تا سته وُجاروزی
ځان کهٔ لکه مزکه کړے عبدالقادره پست

---

[1] فرزندان شول څوک پلار ته څوک ماماتَ
[2] پکښے بند عبدالقادر په دواړو پښو شو
[3] سل پیاله د صافو ورکړه تر به نو یښی
[4] پاڅی غم اندوه زماله دِله ستا په ناسته

خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۰)

څو[1] بدل په عبادت نهٔ کړے عادت — بیا به نهٔ مومے لذت د عبادت

چه سبب ئے د دوزخ زما کښتن دے — بیا به نهٔ مومم دا هسے شهادت

په ننګریزو د نازنینے دلیلیٰ سرے دی — هوسئی د ړوی د مجنون په عیادت

سیادت به د طاوس نه د هما ئے وو — کهٔ موندهٔ شوے په چورئ ئے سیادت

د استاد په سعی کله د کاموی — چه مفطور وی هغه څوک په بلادت

چه هیڅوک ئے نهٔ پښتنه نهٔ ماتم کا — هغه مرګ د لے هورے دے سعادت

## (۳۱)

نمر وَته نهٔ ګورم، ګورم زهٔ وخپل نګارتَ — ګل ته نظر نهٔ کړم، نظر کړم هغه رخسارتَ

لرے لمامهٔ ځله، چه[2] مے ځی ارواح له تنه — ومرم کهٔ و نهٔ مرم، کهٔ یو دم شے لما بیارتَ

باغ وَته مے بولی، نهٔ مے بولی دیار کوٹے ته — کوٹے ته به ئے دړومم، نهٔ به دړومم وګلزارتَ

دیر خلق مے وُلید وے نهٔ لید ستا په څیر یو — چین ماچین ته لاړم، نهٔ چه چین ماچین تا تارتَ

وُ به پوی له غمه زنهار، وُ وایه مهٔ وایه — راغے خیر، راغے طبیب وخپل بیمارتَ

نور به یاری نهٔ کړم، کړم په غم اخته یارانو — هیڅ ئے را پریښنول، غم ئے پریښنو وماخوارتَ

دا لښه چه راشی، تللے ځان عبدالقادر ته
هر څو تللے ځان کهٔ تن ته نهٔ راځی په بیارتَ

---

[1] څو چه زړهٔ په عبادت نهٔ کړے عادت
[2] چه ارواح مے ځی له تنه
} خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۳۲)

په ازل ئې چه د بد وه دے سرشت — خواه نا خواه به هغه کا کارونه زشت

په[1] هر چا بانده شوه چله لاړ آسانه — ځوک په لور د کعبې ځي ځوک د کنشت

په خندا په هوس تله شي دوزخ ته — په ژړا، په غم په لوري د بهشت

بنه وینا په وخت د لګو پاخه دهقان وې — "هر کس بد رود آخر هر آن چه کشت"

زاهدان چه بهشت غواړي و عارف ته — دوئي غلیدلي هغکان دي د دربشت

پریشانی[2] پرے همیشه تا ثیر کوینه — زما ستا د زلفو یو دے سرنوشت

دمقصود په لوري ځه عبدالقادره!
که په ره د نقشبند ځې که د چشت

---

خ { ۱ په هر چا بانده آسانه چله لاړ شی
۲ پریشانی همیشه ده زمونږ برخه }

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۳)

ځکه واړوی دِ لبس زما وَلورت — نوُر به شا کړم د فانی دُنیا وکورت
همیشه د جدائی په دریاب ډوب یم — د دیدن په طمع سر کړم کله پورت
د زړهٔ زور د صورت توان مې هسې کم شو — چه فریاد د کمزورئ نهٔ کړم په زورت
غمخوارهٔ[1] به زما څرنګ غمخواری کا — چه احوال د عشق وایهٔ نهٔ شی غمخورت
لاله زار به همه واره قبرستان شی — کهٔ دیار د مینې داغ یوسم وګورت
تورې زلفې د ځې په تاؤ تاویږی — ویښتهٔ تاؤ شی چه نږدې ئې کا وَ اورت[2]
خدٌ[3] د چا دے چه ئې لاس په رخسارهٔ بدی — کله کته څوک وروړې شی وس رهٔ سکورت
چه دریم تر رنجو تورې بې رنجو وی — په حیرت یم ستا د تورو سترګو تورت

چه منکر ته یار ستا ئې عبدالقادره!
په معنیٰ د نمر صفت کوې وکورت

---

۱ غمخواران
۲ چه نږدې کاند واورته
۳ خد د چا دے چه ئې لاس په رخسار کیږدی.

خ

# (۴۳)

بیا مې نوې مینه ورغله ودل ته — ګویا سرې لمبې مې پرېوتې ګوګل ته

چه دا هسې رنګ په سرو لمبو کښې وسي — بخېل زړه پورې حیران یم ستا وربل ته

ستر ګې سرې لا سونه سره جامې ګلګون — ګویا[۱] بیا درومي د چا وقتلول ته

کوم کم بخت سړی پښېمان کړې چه را نغلې — تا و یل چه زړه به در یشم بور جل ته

چا چه یو حله لیدلې هغه مخ دې — سترګې وخوړې که به وګوري وبل ته

دراتلو زیرې د باد په چمن وکړو[۲] — سترګې وختې د ګلو ستا لیدل ته

داوړو په ژړا لا ګلونه واشي — کله ګوري بنا ګسته د چا ژړل ته

لا خندا یې درسته کړې نه وي خورشي — څه فائده ده د لاله و غوړېدل ته

چه و مخ وته یې ګورم نندارې ته — هرګز نه پرېږدي د سترګو و حمل ته

مګر ګل[۳] به همیشه په باغ کښې وسي — چه په خواره سترګه ګل ګوري بلبل ته

دې زړه تار یې د زلفینو وما را کړه — چه یې کښېنېږدم د کفن ورغول[۴] ته

وایه[۵] وایه د بیان عبدالقادره!

دواړه غوږه مې نیولي ستا ویل ته

---

۱ ګوره بیا را غې د چا وقتلول ته — ۲ راوړو

۳ لکه ګل به همیشه وي په دا باغ کښې

چه په خواره سترګه ګوري و بلبل ته

} خ

۴ انډول. (پ)

۵ بیا بیا وایه دا غزل عبدالقادره (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۵)

بَل کړه د اخلاص په غوړ چراغ د عبادت
موم د عصیان ویلی کړه په اوړ د ندامت

ستر ګے کړه اوړه باران د وښکیو ځنی وړه
ګنده دِ میوه کا مندی نهال د محبت

هسے رنګه وَمره چه خپل ځان له خلقو خلاص کړے
نهٔ وی چه سبب شی د خلاصی ئے ستا رحلت

غم د نوړو واخله په چا مهٔ بده د خپل غمونه
یا تو به دِ نوم شی په جهان د فتوت

تخم ئے یو ځل د کینئ په خاوړه پټ کړه
هله به زرغون شی د لوټئ ئے زراعت

خوش پخپله بخره شه حسد له هیچا مهٔ کړه
هر چا ته رسیږی خپله بخره خپل قسمت

موړ به هر ګز نشی د حرص د قحطئ وږے
هیڅکله به وږے نشی موړے د قناعت

ناست په اور کښے بنهٔ ئے نهٔ د بدو په مجلس کښے
اور د صورت سوزی، سوزی دین د بد خصلت

سوزی د حسد په اوږ وجود د حاسدانو
خوښ ګرځی محسود له دغه اوږه فراغت

ستا تدبیر دوزخ دے، جنت کا رسپارل تقدیر ته
خلاص شه له دوزخه ځان داخل کړه په جنت

یا خه ساقی را کړه، پیاله د میو پوره
یار، د سین کنار، وخت د بهار دے غنیمت

ستا پیاله چه وڅښم ویل کړم له خط و خاله
ښهٔ غزل انشا کړم د دلبرو په صفت

یار ے باده خورشو، څرنګ نهٔ ځنی انکار کړم
شرط دے د یارئ زموږ په دین موافقت

ستا په تلهٔ ے باغ د سعادت پژمرده کیږی
وګرځه د رحمت نسیمه! بیا مراجعت

هر چه له چا اروے غوږ کا نړهٔ کړه ترے تیریږه
مهٔ کوه عبدالقادره چا سره حجت

---

ۓ مقصود (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۶)

خیالے مینے لیونے کړم و عالم ته
چه قلم د جدائی زما واهه شو
چه په مخ د تورے زلفے راخورے کړے
چه به وُد دَوِی اتلس زره قاسه
هر امت چه د رسول محبت نه کا
طبیبان دِ غم زما د دوا نه کا

زهٔ له چا مانړے کوم وایم قلم ته
په ژړا مے ستر کے سرے کړے وشبنم ته
دا د غرهٔ آهو به پریباسے وَسم ته
هغه ورځ به مخلوق کوری ستاوَفم ته
سرنګون به یاره دړومی جهنم ته
تاویشتلے هوس نهٔ کا و ملهم ته

زهٔ قادره بے آتشه په اور وسوم
لږ د دب دیاره ووایه صنم ته

## (۳۷)

نن ئے بیا کښیښو په سر باندِ دستار کج
مخ ئے[1] به چیرے راته سم کړی په یارئ کښے
فلک[2] تا غوندے دیر سم کړه ته پسے ئے
دانا وران کاروته ساز په دانائ کا
په راستئ کښے چه مونده رستګاری شی
هر چه سم ځی په روزګار کښے غم ئے نشته
سروے! هیڅ په پستو ونولوئ مهٔ کړه

نکه مست هاتی په لار کوی رفتار کج
کهٔ همیش به ئے لری راته نسګار کج
له غروره به تل ځودرومے په لار کج
په تعجیل سره نادان کاندی سم کار کج
سکه زنهار! وچاته مهٔ وایه ګفتار کج
همیش غشی مومی تاؤ د استکار کج
ستا به هم کاندهٔ قامت کاندی روزګار کج

کهٔ فلک ورسره کج شی غم ئے نشته
مهٔ کړه خدائے عبدالقادر سره خیل یار کج

---

[1] مخ به کله یارئ کښے راته سم کړے [2] فلک تا غوندے دیر سم کړهٔ ته ورو پسے ئے ؟ خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۸)

چې ئې سپئ کړۀ د دنیا له ځانه ځځ — هم هغه کاندی ځان خلاص دَ دیوله اخ

چې وئیل د عرفان کا اثر ئې نۀ وی — ابلیسک دے ځنی تښته په فر سخ

په خفیه ذکر ئې زر مړۀ خفه کړه — کۀ شیطان دِ په خاطر کا منګل ښخ

د فراق لمبو وهلیه! رانژدے شه — چې سینه دِ کړم په مل د سینے یخ

ستا دیدن رمق راپا تو دے پرے پا تم — جګی جګی یاره نا ست وسه را ځخ

د توبے دریاب ئې تاوته پیدا کړۀ

بیین کړه ځان عبدالقادره له دے سخ

## (۳۹)

کۀ د نورو توانګری په سیم و زر دَ — د عاشق دہ په بیین زړۀ په چهره زر دَ

لکه تن ئے د سرو اوبو حظ مومی — مشتاق لاموی لذت دیار له درد

په بیین ځئ دِ وینښتۀ نۀ دی تو رلوګی دی — چې وتلی دی زما له آهِ سر دَ

چې د تورے ځئ ئې سور کړه په میدان کښے — هم هغه سرخروئی یوسی له نبر دَ

بل ګناه ئې بے مړدئ ئې نۀ ښکاریږی — چې نامرد سرے کینه کاندی له مرده

که په شاه بانډے په کیش په سمور تیرشو — ګدائے هم په کند کښے روغ ووت له برد

په نامردو مشک عنبر نوے فلکه — آلوده لرے د مرد څهره له ګرد

خپل نصیب کړۀ په تا خار عبدالقادره

یار کۀ مخ ګوښ زیات لری تر ورد

---

۱ چې سینه دِ په سینه بانډے کړم یخه { خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۴۰)

نا آشنا تر آشنا بنهٔ ئے نن او ګاندَ | له دے پیسه زړهٔ له چا سره مهٔ خاندَ

که ئے لوټے د زړهٔ په وینو لکه ګل کړے | هم هغه به په زړهٔ درکا لښته تاندَ

چه تر سرئے ځان لوګے کړے قربانیږے | د جفا په اور دِ سوزی لکه سپاندَ

خپل پردی ته ځائے د طمع پاتو نهٔ شو | خدائے دِ نهٔ کا څوک بخیل چار درماندَ

د عزت[1] تر خوته ځان ینوے نهٔ شے | په خوږو لپے دِ مچ عوندِ ګزاندَ

بے اجله به ئے خلاص له درده نهٔ شے | د بدخوئ سیارهٔ[2] په چا مشه اړاندَ

دستم په بنکر دِ خوبن عبدالقادر کړهٔ

په ظاهر صورت سرے په خوئ ئے داندَ

---

[1] کهٔ "عزت" "غزلت" شی بنه به وی ۔ (حبیبی)

[2] سایه (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (الم)

زۀ دِ تل وینم وزان د سحر باد َ
په مقدم دِ شي سینه د غمژن بناد َ

چه ئې لاس د دلاسے په تندی کیږدے
قراری د بیمار وشي له فریاد َ

نۀ تنها[1] فیض نثار کړے په گلونو
لا خاروُنه اُمیدوار دی ستا له داد َ

په بنۀ بُوئیس د باغ گلونه معطر کړے
په نفس کړے د غنچے غوټۍ[2] کشاد َ

ستا په راغله د باغ وُنے زرریزی کا
سروه تۀ د بار له باره کړے آزاد َ

پرورش د بهره مند و بوټو وکړے
بے بهرۓ بُوټي وکاږے له بُنیاد َ

چه ترمینځ د قاصدانو لاړے بندشي
پیغام یار ته دیار راوړے له هیواد َ

ویعقوب ته دِ خبر د یوسف[3] راوړِ
نامراد دِ هم آغوش کړ له مراد

دوصال په زیری هسک عبدالقادر کړه
پریښتلے دے معراج له اَده باد

---

[1] په تنها فیض نثار کړه په گلونو
لا خاروُنه بیرون دی ستا له داده (خ)

[2] غوټه (پ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۴۲)

صباحت د ولایت نمک له منده — ددے دوا روئے سازشوے زما جند

دکوثر د اوبو آب دِ مخ لرینه — د مشتاقو حُنی نهٔ ماتیږی تند

په دا دوه[1] حرفه ادا مسلمانی ده — هر چه نهٔ پسند ے ځان بیا مهٔ پسند

هر پیوند ے د ذلّت قطعیت کاندی — بادشاهی تر تا قربان د عزت کند

چه ے اوس په تولو لونهٔ مرینږے — هم دا خپل دولت به وکا پتا شند

د زاهد له صومعے عبدالقادره!
وُو ځله مراد دخپل خاطر غواړه له رند

## (۴۳)

اے په زنے ناشپاتیٔ په شونډو قند — په قامت تر سروے وُنے لا بلندِ

نوشخرامه ګل اندامه عنبر[2] مو ے — نودنماے خودستاے خود پسندِ

کهٔ زاهد دے کهٔ عابد ترے نه خلاصیږی — خلق دِ کړے په تورو زلفو بندِ

منوّر دِ کړ عالم د مخ له نوره — لکه نمر په تمامی عالم خرګندِ

ستا په تش نظر[3] ے رنځ دزړهٔ ورکیږی — یو ځل وُګوره وما ته ستر ګے بوندِ

په هجران به دِ ترکوے خوار و زار ریم — په وصال ے بهره مند کړه بهره سندِ

هر قدم په فهم ږده عبدالقادره!
د عشق لار کوږے کوږے ده کندِ کندِ

---

[1] حروف (خ)
[2] عمبر بوئ (خ)
[3] کاتهٔ (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۴۴)

چه مې وليده د يار سره اغيار ګډ　　په فرياد شوم په ژړا شوم په چيغار ګډ

آئينه د زړه صفا له خاکسارئ شي　　هم په دا له توره خاوره شه خاکسار ګډ

عندليب د زړه له تاوه نارې وکړې　　چه ئې وليده له ګله سره خار ګډ

هر يو ګل مې په زړه خار غوندې ښخيږي　　چه بې تا شم کله کله په ګلزار ګډ

ستا په زلفو کښې مې زړه هر ګوره پريشان شو　　مسلمان د نه کا خدائے په هندوبار ګډ

نادانی نادان هميش لري په عيش کښې　　هوښياري د غم په سينه کاندي هوښيار ګډ

چه آخر ځني واته په ډير ارمان دی
نه به شي عبدالقادر په دا بهار ګډ

## (۴۵)

مزين ئے کا يو څو په افسر سر　　بيائے مات کا د دروان غضنفر

اورنګزيب په څه خلاصے ورځني موي　　دا مزرے دارا شکن دے سکندر در

ځکه نوم ئے د ذهب ورباندے کښيښو　　چه د باد غوندې هر دم کا ګذر زر

ن په څوله توره وخاوره سره پروت دے　　چه ئے ډک وو هميشه په دلبر بر

برابه مے آشنا وليده په خوب کښې　　په ژړا مے کړه په ونکيو لبستر تر

که په اصل واره يو دي په دا څه شو　　په قيمت سره سم نه دے ګوهر هر

په معنی کښې بشر نه دے پړانګ ليوه دے　　چه د ده له لاسه مومي بشر شر

هر سړے په خپل مقدار خريداري کا　　ځنې اس ځنې تټو ځنې خر خر

په بنګنځل ئے سرفراز عبدالقادر کړه
د ژوندون له باغه خوره د سمنبر بر

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۴۶)

کهٔ ډېر څو لعل آبداري لري دلبر / نهٔ شو هيڅکله پرې يخ د چا ځيګر

د هغو شهلا نرګسو له فراقه / هميشه مې تر نرګسو څي ګوهر

ډېر يو ګل يې د ښائست د باغ منظور دے / ولې لائې په سمن لري نظر

راشه وګوره زما زيبا صنم ته / که به ګورې په يو ځائې شمس و قمر

سروې سر د خجالت په مزکه کښېښو / چه سر ښکته کړ په بستان د يار عرعر

د ژوندون چينه يادېږي په تياره کښې / ما له خدائے تعالیٰ راکړه چينه تر څنګ د نمر

چه سنبل يې باد پرېشان په نسترن کا / په غروب شي د عاشق د بخت اختر

چه غنچه يې شګفته په تبسم شي / له ګوهر وې جهان شي منوّر

کهٔ له ډېره رشکه وچوي حد يې څهٔ دے / چه له ملا سره يې مو وهي کمر

که يې نوش عبدالقادر د شکر مے کا
پرې به شي د مرګ تلخي شهد و شکر

★★★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۴۷)

بړ بړ راڅشه زما دسترکو تورَ — خدائے مه کړه دزړهٔ مینه له تانورَ

زما ستاله مینې ډیرعالم خبر شهٔ — څه به ویره کړے له شرمه له پیغورَ

عاشقان له تهمتونو نهٔ خلاصیږی — همیشه بانډِ غوغا وی لوړ ډَلورَ

سپے کهٔ هر څو غپا ډیره کړه مزری ته — زمرے هیڅ نهٔ کا پروا ددهٔ له شورَ

کهٔ بڅمن ویَل دِ نهٔ کیږی ډَماته — کله کله راته کړه خبره سپورَ

چه رقیب وته بنګنځل کوی زهٔ سوزم — جګی جګی بے لمانه بل مهٔ زورَ

زور قوّت دزوړ وړو دزړهٔ کم کړے — یوه څهٔ بده بلائے دعشق زورَ

مستغنی ئے دجهان له بادشاهئی کړم — دهمائے ترسیوری بهٔ دهٔ ستا سیورَ

څو دِ تورے سترګے تورے خاورے نهٔ دی

تل پرے مخ عبد القادره دیاره ګوره

---

ے نوجن (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مخ په هر لوري جلوه کوي دیار — اَبْصِرُوْ اَبْصِرُوْ اُولُو الْاَبْصَار¹
بے محابا راکړه کښیږه قدم — لَیْسَ فِی الدَّارِ غَیْرُنَا دَیَّار²
په بد صحبت دِښتی زوے شُهٔ خراب — اِتَّقُوْا مِنْ مَجَالِسِ الْاَشْرَار³
په ورکول دسر وصال مونده شی — اَبْشِرُوْا یَا مَعَاشِرَ التُّجَّار⁴
طعن و پېغور وما ته مه کړه شیخه! — انا عاصی وَرَبُّنَا غَفَّار⁵
که رقیب ډوینے له یاره سره — قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ لَیْلٍ وَّنَهَار⁶
دجواب څوک دے چه آواز وکاندی — لِمَنِ الْمُلْکُ⁷ وَاحِدِ الْقَهَّار

رب بنهٔ یار عبدالقادر ته ورکړهٔ
وَقِنَا رَبَّنَا⁸ عَذَابَ النَّار

---

۱ وګورئ وګورئ اے خاوندانو دعقل .
۲ نشته په کور کښے بغیر زمونږ نه دکور خلق -
۳ ځان وساتئ دمجلسه دبدانو -
۴ زیرے وکړئ اے تولیه دسوداګرو -
۵ زهٔ ګنهګار یم او خدائے تعالے زمونږ بخښونکے دے -
۶ ووایه پناه غواړم دخپل رب سره شپه او ورځ
۷ چا لره دے بادشاهت ؟ یو خاوند دغلبے سره -
۸ وساتے مونږ څښتنه دبد عذاب داور نه -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۴۹)

نهٔ به ستا د حُسن تل وی هسې دوړ — نهٔ به زړهٔ وی د عاشق مدام په څور

چه دا وړه بقا نهٔ لري ښیرینۍ — بېهوده هومره ستم کړے هومره جور

زړهٔ دِ سخت دے په سختئ تر سخته کاڼړي — کهٔ درست تن دَ مصفا دے تر بلور

بے جوهره ښائست نهٔ لري هیڅ قدر — د شاهانو په لاس باز کښیني نهٔ میور

چه په بد نظر، نظر وُکړے او به ئُ شرم — څهٔ حاجت دے په ما خوار دا هومره زور

مخ له یاره جار یستل خندل رقیب سته — واه واه واه عجب یاری ده عجب طور

هسې یار عبدالقادر په بخره بیا مُوند
چه صورت ئې د سري خصلت د بور

## (۵۰)

اے چه د ښائست په باغ کښې گل لرے بېشماره — هیڅ به دِ کم نشي یو څو گل ورځنی ماره

شونډې ئې مهرې زلفې ښاماره ترے چاړ وتلي — بویه سربازان چه مهره اخلي له ښاماره

زما او ستا تر مینځه "زما" "ستا" ویناؤ بویه — نهٔ شي په یارئ کښې یه همارا ده تمهارا

سخت دے د نیمگړ یو طبیبانو ناز تر مرگه — مرگ ته غاړه کښیښږده داړو مه کوه بیماره

پاس په بام ولاړه د غمزې ناوک په گوت کښې
زړهٔ به دِ زخمي کا، په دا لاره مهٔ ځه یاره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۱)

زړهٔ مې هرګوړ وو له هجرانه افګار
شکر حق را که باز آمد بیار

سروه سرکوز له انفعاله کاندی
چون خرامد بسوئے باغ نګار

څوک به لاله د یار د مخ کا مخې
آن سیه دل کُجا و آن رُخسار

په موافق د محبت شي عتاب
مشو از جورِ یارِ خود آزار

متحیر ئې په لیدو د جمال
همه خوبان چون صورت دیوار

نو اتصال دِ د عاشق شي نصیب
خواه در باغ و خواه بر سرِ دار

باغ و شاهد بنهٔ بنهٔ یاران موجود
خیز ساقي شراب ناب بیار

ګوره بیا کله رانشي هغه وخت
که نهم لب به لب شکر بار

نور د زړهٔ مراد عبدالقادره پرېږده
کبریایي مراد دِل این بار

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۲)

یار هغه چه ګهې مهر کا ګاه قهر
کله کله نوشدارو شي کله زهر

ګاه باران شي د ژړوندون اوبهٔ کا توئے
ګهې اور شي لُوګیه کا تمام ښهر

که دا هسې یار موندهٔ شي په طلب ګښې
سستي مهٔ کړه هم ئې پټ غواړه هم جهر

شپه او ورځ آه و فریاد سوز و ګداز کړه
له هجرانه روان کړه د سترګو نهر

و عاشق ته د یار غم هر ګوره ارزان دے
که موندهٔ شي په تمام هوس د دهر

ګوره څوک عالم به ورک څوک به خراب کا
لور په لور د فتنو سین ؤ واهۀ لهر

د زړهٔ باز به د هاله د فکر ښکار کا
که بیدار وي په وروستي په وړومبي پهر

که هر څو عاقل هښیار، خولیونے شي
چه په خوب ګښې ور ښکاره شي پري چهر

په ارمان په حسرت لاړل له جهانه
کهٔ پرویز وو کهٔ دارا که منو چهر

د زوال ویره کوه عبدالقادره
په لویئ ئے غلط مهٔ شه د سپهر

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۳)

چه ئې زړۀ زما سوړے د عشق په تير کړ
تر هغه سوری مې مخ د آشنا ځير کړ

ستا د مخ آفتاب پرے وخوت پرې رڼا شوه
چه ئې ستا په تورو زلفو کښې شبګير کړ

له هوسه په خندا خندا پېښا ولاړ
سخندانو چه ګل ستا د مخ نظير کړ

چه مې زړۀ د يار په وصل کښې خوشحال وو
يو په سله تر هغه هجران زهير کړ

له دے اوره سوزان اور د بېلتانۀ دے
ځکه ځان هند وے سولو وته خير کړ

په سپين مخ بانډې ئې خط دے چه ښکاريږي
که ئې شونډو وته ميږيو جوړ بهير کړ

نامراد چه مراد پرېږدۀ په مراد شۀ
بې خبر ئې بې خبرئ په حال خبير کړ

بې محنته راحت نشته په دنيا کښې
خوشحال نصيب د چا چه ئې دلګير کړ

له هجرانه به څۀ داړ عبدالقادر کا
چه ئې خيال د يار د مخ په زړۀ تصوير کړ

---

۱ دغه اوږدے نه پس دوه نور شعرونه "پ" ته لري۔ د "ق" نه مو شامل کړۀ ۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۵۴)

سر دِ بیا هجرانه ډېر عالم په غم کړ
کور په کوړ دِ په دے ملک نوے ماتم کړ

چه څوک له مے تول کړے په خوارئ وو
هغه عیش دِ په غم بدل په دم کړ

له پیچونی دِ د غم سوارهٔ ښکاره شول
د هوس لښکر دِ درست درهم برهم کړ

تورلوګی د آه له هره ځایه خیژی
دنړا ورځ دِ په عالم باندِ تورتم کړ

لکه تا کړه د اُمید غنچه سر تویه
خزان کله په ګلونو دا ستم کړ

بلبلان ئے له فراقه په ناره وشول
له دے غمه دِ د سروے ګردن خم کړ

سن ذرسل دجدائی څوارلس دپاسه
دا غزل مے په بیاض باندِ رقم کړ

نور به څهٔ عبدالقادر له چا خندا کا
تا سن کال د آشنائی ئے قدر کم کړ

★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۵)

راته څهٔ وائې چه "وایه زړهٔ دِ چیا یوړ؟"
بې تا څوک دی ما لیدلی وایه "ما یوړ؟"

په ژړا ژړا مې زړهٔ له کښلیو خلاص وو — په خندا خندا ئې نن را څخه بیا یوړ
چه د عشق جمال جلوه وکړه عالم ته — ترمُقرِ ئې د منکیر خاطر پخوا یوړ
دلبرئ ته په ښکاره د رحم زاهده! — بیا به وائې چه ئې زړهٔ زما په غلا یوړ
شیرین ځان شیرینې ځار ترخیل مئین کړه — په دا کاړ ئې کوئې له کښلیو د وفا یوړ
له اجله ئې هورې خلاصې وُنشهٔ — ځان ادریس له مرګه پاس کهٔ په سما یوړ
د باد وړیو څوک پوښتنه کا چه څهٔ شو — بیا په بخت په لاس کښېسوزی چه هوا یوړ
چه دُنیا ئې پخپل ځان باندې تنوړ کړه — و فلک وته ئې ځکه مسیحا یوړ

په بوسه مې ئې خاطر چیرې ښهٔ نهٔ کړهٔ
د ارمان عبدالقادر به ما په خوار یوړ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۶)

خوښېږ نهٔ دی وګړی له دے رازَ
ګنی بیل حقیقت نهٔ دے له مجازَ

عارفان چه له خو یه څان خالی کا
تسبیح اَروی د شپیلیه له آوازَ

کهٔ په عشق کښې نسب شرط د محبت وے
د محمود مینه به نهٔ وه له آیازَ

امتیاز ئے ترمینځ حسن راپیدا کا
ګنی فرق د بدخویئی نشی له نازَ

چه ئے ونغښته لمن له خاره وخسه
سروه وُنه شوه په باغ کښې سرفرازَ

چه آغاز د چارے ښهٔ انجام ئے ښهٔ شی
دانا څکه تل په بیم دے له آغازَ

زهٔ په دا وخیل میَن ته پیشکش نیازوړم
چه کے د هیڅ څیز نهٔ لری بے نیازَ

ستا به ساز بے سوزه هیڅ سرود نشی
اے زما دِله تمام له سوز وسازَ

سین خُونی باد مخالف شپه توره تمه
ګوره څرته به شے سر زما جهازَ

وَلوړه، تنده، رنځ، زحمت، نورخواری ئے
همګی واړه آسانه دی تر آزَ

چه خپل یار عبدالقادر ته په نیت ښهٔ وی
نور ئے کومه اندیښنه ده له غمازَ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۵۷)

تهٔ وې درومه خپل هوا کوه هـوس
ترهغه چه دېخوا کړهٔ یو په لس

له ازله غم زما د زړهٔ نصیب د ے
چه خلاصے مےځنی نهٔ شي یو نفس

ګُله! تا دِ خدا ئے تازه لري په باغ کښے
اور په بخره د اغزیو وی دَ خَس

ما ژوندون د محبت له اوره بیا مُوند
ځکه سوزم په اختیار لکه ققنس

چه خپل زړهٔ راکښي حٔي بیوے ئے نهٔ شم
ستا په زړهٔ به څرنګ مومم دسترس

ساقي زهٔ د صافو میو لائق نهٔ یم
هزار شکر که داد وکړے یو بکس

په سرو شونډو ئے تورخال د چه ښکاریږي
کهٔ دا نښتے دے په شونډو کښتے مګس

کهٔ وصال عبد القادره دیار غوا ړے
یو قدم په دُنیا کښیږ ده بل په نس

---

ـه هزار شکر کهٔ داد وکړے د بیکس (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۵۸)

خيال ئې چه په زړۀ کښې د رخسار ساتم هميش
نه په کوګل کښې ګويا نار ساتم هميش

بحر په کشتۍ کښې نۀ ځائيږي سين د ووبنکيو
څو به ئې په سترګو کښې ايسار ساتم هميش

ستا چه خوشحالي کيږي زما په خواريدلو
پس له دې به ځان تر دې خوار وخوار ساتم هميش

عيش منغض شي په ورتلۀ زما د خلقو
ځکه له عالمه ځان کنار ساتم هميش

ډير راباندې خوږ دے په بل چاپے پرزو نشي
پټ نه په زړۀ کښې ستا آزار ساتم هميش

نخښه[1] په هجران کښې ستا له لاسه داغ لرم
ګل غوندې تازه د داغ بهار ساتم هميش

خوښ ئې په آواز يم چه فرياد عبدالقادر کا
ځکه ئې د اهسې شان افګار ساتم هميش

---

[1] نخښه په هجران کښې ستا له غم داغ لرم (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۵۹)

چه صادر شو ستا له لوري په ما خوار خط
له خاطره مې اندوه کړ تار په تار خط

معطر له خوشبوئي اهل مجلس شو
چه مې واکړه لفافه د عنبر بار خط

په تحقیق چه نیم دین ورله یو سي
له هیواده چه یار وکاندي په یار خط

سبزه نه ده چه په مزکه زرغونه شوه
دا دخپلو راتلو راستوه بهار خط

حسن خط د ویزارۍ ومخ ته ورکړ
چه ښکاره شو په عذار و د نګار خط

هیڅ زنګي به ئې په هیڅ رومي ونه کا
لکه کاندي په سپین مخ بانډي تاتار خط

ستا د شونډو مهره څوک واخلي د لبره
چه ترې پرېوت چاپېره لکه تورمار خط

د بنا گوښ آفتاب ئې پټ شولی نه شي
چه ئې پاسیده په مخ لکه غبار خط

د ده کبر ستا اندوه ئې له زړه کم کړ
منت کړه عبدالقادره پتا بار خط

*

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٦٠)

کهٔ هر څو نصیحت ښه وائے واعظ
بهتر دے چه ما ته نهٔ وائے واعظ

عاشقان په عشق کښے کله نور څهٔ اروی — وګړو ته وعظ څهٔ وائے واعظ
نصیحت ولیونی ته لیونتوب دے — کهٔ پاخهٔ وائے اومهٔ وائے واعظ
په خاطر باندے سخت تر کا نړی لګی — پند که نرم تر اوبهٔ وائے واعظ
لا ترما په زړهٔ کښے ته باندے مئین ئے — مذمت د عشق په خلهٔ وائے واعظ
په خلوت کښے په خلاف د واړو کار کړے — هر چه ته په ممبر ووائے واعظ
ستا ویل دا باندے څکه اثر نهٔ کا — چه ته نهٔ کړے هر چه ته وائے واعظ

ترګنده ری دی لا ترخهٔ عبد القادر ته
کهٔ هر څو ور ته خوارهٔ وائے واعظ

★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (٧١)

بې ما څوک زما له یاره مومي حظ
رانده کله له ګلزاره مومي حظ

دیار مخ دے منوّر خدائے له نوره
کافر کله له دیداره مومي حظ

فقیرانو ته ښکاریږي سرے سروسته
دُنیادار کهٔ له دیناره مومي حظ

طالبان د دُنیا سپي، دُنیا مرداره
سپي هر کله په مردارهٔ مومي حظ

نس مکس ریاضت اور ورځنۍ تښتي
زړهٔ پتنګ، پتنګ له ناره مومي حظ

په مجنون د هلکانو کاڼي ګل دي
څوئے وولي، هومره واره مومي حظ

د آزار قدر د نورو څخه نشته
عاشقان دِ له آزاره مومي حظ

خاص الخاص عبدالقادره پرے پوهیږي
عام به څهٔ ستا له اشعاره مومي حظ

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۶۲)

که په کوړ کښې دولت ډېر لري طامع
تر حساب تر شماره تېر لري طامع

خپل ډېر لږ د بل لږ ډېر ورته ښکاريږي
د بل یاد لري خپل هېر لري طامع

د حرص په زنځير سپي غوندې ځبنکاوه شي
زور قوّت که زیات تر شیر لري طامع

بیا یې نهٔ موند هیڅ لذت له خپله عمره
خوب ژوندون په ځان ګنهیر لري طامع

کهٔ ګنجونه د قارون ورته موجود شي
ګمان مهٔ کړه چه زړهٔ سیر لري طامع

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۶۳)

یو حل بیا هغه نګار ولیده ے دریغ
آهو چشم ګل رخسار ولیده ے دریغ

چه قرار ورځنی لاړ له دیره غمه — بیا هغه خاطر قرار ولیده ے دریغ
د سپرلی ګلونه وایه باغ او راغ شوے — د بلبلو پرے چیغار ولیده ے دریغ
په خندا خندا راتلے تنړیٔ شلیدۀ[1] ے — له مستئ ئے خوردستار ولیده ے دریغ
چه له دیره کبره سم نۀ ځی په لار ے — هغه تُرک لج رفتار ولیده ے دریغ
چه په تله ئے نور زماله سترګو یووړ — بناګسته نور الابصار ولیده ے دریغ
د دورئ ئے اندیښنے له مینځه لاړے — یار له یار سره کنار ولیده ے دریغ
په عاشق باندے ئے مهر رنګا رنګ کړے — ترنظر ئے رقیب خوار ولیده ے دریغ
چه په هجر کښے ئے حلق زما تریخ کړ — په دوه شونډو شکر بار ولیده ے دریغ
پاس په زړه ئے باندے میشت د غم بنګرۀ[2] — دا بنګرے تار په تار ولیده ے دریغ

دا آرزو عبدالقادر لری په زړۀ کښے
چه ترمرګ یو وا ځل یار ولیده ے دریغ

---

[1] تنړیٔ پرانسته (ق)

[2] په وصال ے تار پتار (ق)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۶۴)

چه آخر به څنی دره ومی سینه داغ
بیهوده باغبان نازیږی په دا باغ

چه داخل دی د دُنیا په خرابات کښې
په وار وار به واړه څښی د مرګ ایاغ

تش ساتل دده نصیب نور به ئې یوسی
په دُنیا دنیادار و لے کا دماغ

د بلبلو غونډے ګشت په ګلو نهٔ کا
په مُردار به پاندے ناست وی لکه زاغ

په طلب ئې بادشاه ګرځی ګدائې بیاموند
که آرام که آسائش دے که فراغ

په لحد کښې به د شمع رڼا نهٔ وی
مګر یو سے درسره د آه چراغ

سرے سرے وښکے د مجنون دی څڅیدلی
غوړیدلی لاله ګل نهٔ دی په راغ

د نیستئ په لاره څه عبدالقادره
ګوندے بیاموے دیار د دره سراغ

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۶۵)

دروغژن وعده خلاف ۔ نهٔ دِ کاد مردئ لاف
شاهدی لی د دروغو ۔ په خپل ځان باندے خلاف
نهٔ یو درنګ دیار په کوڅے کښے ۔ نهٔ سل کاله اعتکاف
دکعبے تر طوافونو ۔ بنهٔ دے لا د زړهٔ طواف
زړهٔ په مثل آئینه دے ۔ تن په مثل د غلاف
هاله مخ پکښے لیدهٔ شی ۔ چه ئے مخ لری تل صاف
آسمان خونه دفقیر دهٔ ۔ نالئ مزکه نمر لحاف
قوت ئے خپل خونِ ځیګر وی ۔ منت نهٔ وړی د اجلاف
رګ ئے تار تن ئے رباب دے ۔ صُوړ[1] ئے تل دیار اوصاف
تل انصاف ورکوی بل ته ۔ له چا نهٔ غواړی انصاف
صلح[2] کُل دے له عالمه ۔ له خپل نفسه ئے مصاف
چه په بنهٔ خصلت شریف وی ۔ هم هغه ګڼړه اشراف
په نسب چه خوئے ئے بد[3] وی ۔ نسب کله دے معاف
یو یو ناف دے چه نافه شی ۔ نافه کله شی هر ناف
ستا قسمت عبدالقادره! ۔ نون پیوند نهٔ وه له کاف
هاله وشه حرص مهٔ کره ۔ کهٔ مومن ئے په حاقاف

---

[1] صوت [2] صلح کل وی [3] بدشی {رخ}

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۶۶)

چه قانع په یوه څاځکي شي صدف
قیمتي ګوهر ځي په هر طرف

کهٔ عزت غواړې قانع پخپل قسمت شه
ورکړه لا که بزرګي غواړے شرف
بند ول د دنیا بند د جهنم دے
آزاده ؤ ځکه کښېښوله په کف
دُنیا خلق ے وُلیدهٔ په سترګو
یوځے جمع په حرص لا، بل تلف
چه ژوندون همیشه نشته په دا ځهٔ شو
په حشمت کهٔ سلیمان شے یا آصف
د سړي ځوبښت په علم په حکمت شي
د چارپایو ځریدل وی په علف
کهٔ ځوانمردے بل آزار مهٔ کړه په ګلو
ځان د بنو د بدو تیر ته کړه هدف

تل له خدایه ترس کوه عبدالقادره!
حق خائف ته دی ویلي لا تخف[1]

---

1. مهٔ ویریږه - خوف مهٔ کوه -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۶۷)

سرو مال مې شو تالا په تور د عشق — لاړ نه دی لاړ له سره شور د عشق
بهانې د عاشقانو په پېغور دي — ما منلې په تندي پېغور د عشق
د اياز تلی محمود کښېښول په ستر کو — نندارې کړه ګوره زور و شور د عشق
څو د يار د قامت خيال ئې مستي نه شي — په نور څه به نه شي هسک نسکور د عشق
له اوله ئې د شمع لرمون وسوه — له غمه پسه پتنګ وسوه اور د عشق
په ګوګل کښې مې زړه نه دی که باور کړې — د صورت په خاوړ وپټ دی سکور د عشق
پياده پښې ابلې ته د يار په لوری — د مجنون غوندې به نه وی سور د عشق

که داځل د عشقه خلاص عبد القادر شي
نوم به وانخلي په ژبه نور د عشق

## (۶۸)

له صادقه مخالف وي منافق — منافق له منافقه موافق
ليونې و بيدردانو ته ښکاريږي — د عاشق قدر په چاوي ؟ په عاشق
د عذرا عزار ئې عقل څېنې يووړ — که مجنون شو عزر عشق وو د وامق
شکر نن ئې د سپي نوم راباندې کښېښو — که هر څو د دې نافې نه ؤم لائق
فوقيت په پاس ناستي نه حاصلېږي — کله خس په ملغلرو وي فائق
چې به ستا له دره ځم د سر په ويره — آه به چېرې ځان نوم بدم د ابق

که طالب ئې د وصال عبد القادره!
اول لرې کړه له دِله علائق

---

ئې ستني (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (٦٩)

خدائے دِ راوله زما یاره ملوک
بے تا خلاص نهٔ یم یوځم له درده ډوک

د زخمی زخم ئے ورځ په ورځ خوږیږی[1] — ستا شیتئ وه شیتئ عین د پړ انګ نوک
محبت ئے هسے رنګ په یوه رنګ کا — چه هیڅ فرق د مالک نشی له ملوک[2]
پریوتلی ئے ورځئ تحت الثرئ ته — ترآسمانه[3] ده بلنده د زړهٔ کوک
خدائے دِ[4] لاس دهغه لنده دواړه پریکا — چه شیدا بلبل ئے وویشت په منبوک
دکشمشو په لذت به څهٔ پوهیږی — چه ئے خلهٔ وی عادت شوے له املوک
چه ئے نهٔ وی حال احوال د سالکانو — څهٔ فائده چه قیل وقال کا له سلوک
نکه څوک چه په ویشتل دګلو خوښ شی — هسے خوښ شی مشتاقان دیار له څوک

چه بیدرده خبردار له درده نهٔ شی
په زوړ[5] مهٔ کوه عبدالقادره! کوک

---

۱ زیاتیږی ۔
۲ مملوک ۔
۳ ترآسمانه ده بلند د زړونو څوک ۔
۴ خدائے دِ پریکا دواړه لاس دهغه لیندی ۔
۵ مکړه نور عبدالقادره هسے کوک ۔

بی ، خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# (۷۰)

چه په سترګو چراغ ووینی پتنګ — څو وُنهٔ مری له ژوندونه وی په تنګ
د وصال په طمع زړ ترسره تیر شي — بے جانانه ورته کال ښکارېږی د رنګ
غواصان چه غواصی کا په دریاب کښے — یا سر بائیلی یا ګوهر راوړی په چنګ
نام و ننګ به صدقه د یار ترسرکا — هر عاشق چه څهٔ حیا لری څهٔ ننګ
صبغه یار بے رنګه ډیر لری رنګونه — عاشقانو ته جلوه کا په رنګ رنګ[1]
له یوهٔ غمه لاخلاص نهٔ وی بل راوړی — نن مے زړهٔ کاوهٔ له سترګو سره جنګ
په دنیا کښے اولیاوُ ځان مخفی کړ — په لنډی[2] کښے کله ځائے شی د نهنګ
په اړخونوئے لک شوی غشی بنهٔ دی — نهٔ چه کښینی بدکاران د چا ترڅنګ
د بزرګانو په مدد که چیرے تیر شے — غاښی سخت لری د وړاندے ټټو لنګ
د یار یاد لکه صیقل زړهٔ پرے صفا کا — آئینے د د خاطر وُنیوهٔ زنګ
شاه ګدائے په اجل واړه برابر شی — چه له تنه ځان د تلووُکا آهنګ
چه آخر احوال د واړو سره یو وی — څهٔ ناستے په تور و خاوړ وڅهٔ اورنګ
ډیرئے تا غوندے ځار کړی ترخپل سر دی — دا دُنیا لکه مچوغنه تهٔ ئے سنګ
څهٔ ئے پاتو شی دوروستو څه به غم کا — فراغت په وخت د کوچ درو می ملنګ
شهسواران عبدالقادره ترتا تیر شول — تهٔ هم اوس کړه پسے ټینګ دیا بُو تنګ

---

[1] رنګ په رنګ [2] په چینه کښے (خ) لنډے یعنے هغه دریاب چه دا کوړی په خوا کښے بهیږی ۔ او نوښهر سره د نوښهر په سیند بللے شی ۔ چه د خیر آباد په مقام دا باسین سره یو ځائے شی ۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۱)

تهٔ که څیله ښېره نهٔ لرے بدرنګَ
آئینه په کوم ګناه وَهے له سنګَ

چه صبائے د بنالُست بازار خوړین ی
شمع ولے دُوپوشی کا له پتنګَ

د بلبلو اوازونو د ګُل حُسن
مستغنی کړم نوبهار له راګه رنګَ

بیا طالع راسره صلح کا پوهیږم
یو زمان چه راسره نهٔ وی بے جنګَ

څهٔ ئے رشک په سیوری کړم چه ورسره وی
تروبه ښوکورم اغیار د یار له څنګَ

غنیمت ګڼړه دادَم، راځینی مهٔ ځه
ګوره اوس به چرخ څهٔ پیښ کاله درنګَ

لاس کچکول، مُصلا مزکه درته بس دی
کهٔ کچکول، مُصلا نهٔ لرے ملنګَ

لیونے یونے وائی لیونی ته
لیونی د دُنیا خُونه نهٔ کړه ړنګَ

شپه تاریکه لار باریکه په کمر کښے
فهم کړه عبدالقادره له ګړنګَ

---

۱ څه ئے رشک په سیوری کړم چه ورسره وی { خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۲)

سحر دا آواز ے غوږ یوست له بلبل
ستا خندا په ژړا کښېښتلم گل

ترمستئ یې لا لذت د خمار دیر د ے — ستا د سترګو مستی بهه د ه تر مُل
بناُسته د زمانے دینا پرست وی — په کوڅه کښے یې پل مهٔ کښیږ د ه بے پُول
په چغلئ ے ستا په یار مینه زیا تیږی — خو د زړهٔ هومره چُغلی کوه چغل
ساقی ے چه راکوے په قهقهه خاندهٔ — ز د کړه دا د صُراحی یې له قلقل
دلید ونیو په نظر کښے تفاوت وی — اوکه نهٔ وی جُز جدا نهٔ دے له کل
په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شی — جمعیت موی خاطر له توکل
چه ستا مخ وته حاضر وی کل به کوری — د هغهٔ سترکے دِ خدائے نهٔ کا بے کل
د مجلس روښنائی ته یے، ته دِ ناست یے — کوم نقصان دے که سبا کړه دیوه کل

دا دُنیا په مثال پُل د آخرت د ے
تیر شه زر عبدالقادره له دے پُل

---

ا ستا خندا ے ژړوی بنا ُسته گل
خ { 
۲ اوکهٔ نهٔ وی جدا نهٔ دے جُز له کل

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۷۳)

هیڅ خبر نهٔ دے له حاله له احواله — غم ښادی موږ سره له ځله خیال
د محنت په تصوّر ملال غمژن شی — د راحت په فکر[1] مست کړځی خوشحال
بندیوان په بند بندی په خوب کښې وینی — چه بادشاه دولت یم بے زوال
تفرج کوم په باغ او په بوستان کښې — هم بالینه ے دلبر پری مثال
بادشاه[2] پاس په تخت ودهٔ وینی په خوب کښې — چه بندی یم په زندان کښې په خوکال
وږے تږے خوارخسته په بند کښې پروت یم — کم قوّته، بے جڅته ، بے مجال[3]
هغه خوښ په هغه خوب کښې دادلګیر وی — دویښوالی حال ئے هیر بے قیل وقال
دا غافل عالم همه په خوب ودهٔ دے — په قیامت به شی واقف له خپله حال
دا دُنیا په معنیٰ شپه آخرت ورځ دے — نیک او بد به جُداجُدا بیل شی بے اشکال
د نسب د قبیلے پرسش به نهٔ وی — هر سړے به پوښتیدهٔ شی له اعمال
چه عمل ئے د نیکئ وی خوښ به وُسی — د بدکار خلاصی به نهٔ وی له نکال
عارفانو ځکه هسے ورته شا کړه — چه هوس د دُنیا نهٔ دے بے زوال[4]
له هغې ښادئ چه زړ له شړی[5] دړ و می — په سل زړ بخرے غم ښهٔ دے زما لال

دُنیا مینه په زړهٔ کښې لوئے جنجال دے
خلاص کړه ځان عبدالقادره له جنجال

---

[1] فکرت ۔ (خ) [2] بادشاه پاس په تخت وُده به خوب کښې وینی (خ)
[3] بے زوال [4] بے وبال [5] دړځنی } خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۴)

په ګلونو آواز وړو کوه بلبل
پریشانیږی ستا له شوره له غلغل

عقل هوش عزیز ته هر څه پرښندل شی
ته یو څرنګه دیر ګران یې د مل مل

خدایې دې نه کړه چرڅوخ به دې په پښنو شی
قدم وړو بږده د رابیلو په ګل ګل

د مطرب ته مینا وائی وایه وایه
دا معنیٰ یې پیدا کیږی له قلقل

صدقه دې تا ترسی عبدالقادر شه
څه قدرت لری چه وائی له دلدل

## (۷۵)

دریغه دریغه یو ځل ولیدے یار خپل
چه بنکاره یې کړے ودې وته اسرار خپل

نشته څوک چه دلاسے کا د غمزو نو
څوک به څه وبل یوه ته وائی زار خپل

سرے سرے وښکے له مخه په لمن ځی
دیار غمه راشه ګوره لاله زار خپل

چه پرے غم غلطوم د درے یې محرم دی
یو قلم، دویم کتاب دریم اشعار خپل

له خزانه به څه ویره څه به داره کا
چا چه توے کړ تر خزان په خوا بهار خپل

په هر لوری چه یې بیائی پسے درومم
ما په لاس د عشق ورکړے دے مهار خپل

که څوک نوم د بباسی بږدی په ما بنائی
چه یې وران نه کړ په یار پسے روزګار خپل

---

ئ چه یې پرے نښنو (غ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ځو دِ زړۀ هومره ستم کوه دلبره　　　ما بخښلي دي و تاوته آزار خيل
له غليمه دِ نۀ غم نۀ دِ وسواس کا[1]　　　هر چه وُسپارې و خدائے ته کار و بار خپل
مُستعد ئے په ليدو نۀ ئے غافله!　　　دلبر کله در ښکاري له چا ديدار خپل
کُل اندوه به پسې شا عبد القادر کا
محامخ کۀ ورته وړې ننګار خپل

**(۷۶)**

په دُنيا کښې کمال نشته بے زوال　　　د زوال اندوه کوه صاحب کمال
د هجران له غمه ترېخ لکه بيلتون وو　　　ما هرګز لذت بيا نۀ موند له وصال
نمر له تا نه منور شو، د اله نمره　　　ځوک به ميا شت کا ستا له مخه سره سيال
ستا په تللو ے ارواح درومي له تنه　　　يو زمان راځني مۀ ځه ديار خيال
چه په هجر ئے روند نۀ شوم په وصال کښې　　　يار ته غېږ نۀ شم کړے له انفعال
هغه چا چه ايښے داغ زما په زړۀ وو　　　هم هغۀ وربانده ے کښېښوله دَسمال
که ګذر زما ديار په کوځه وُکړے　　　د اپيغام پرے بانده وُوايه شمال
زۀ کۀ يو ساعت بے تا نه يم بے غمه　　　تا دِ خدائے هميشه خوښ لري خوشال
ډير مېَن په ډير اَرمان په و بابيل شوۀ　　　خدائے دِ رامۀ وله بيا د غواص کال
ترهر حرف ئے بوئ د مشکو د عنبر ځي
چه ثنا عبد القادر کا ستا له خال
۱۰۹۷ھ

---

[1] له غليمه دِ نۀ ويره نۀ وسواس کا (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۷۷)

تربنا تو لا خوا بدهٔ دی ستا ترخهٔ وئیل
ډیر د پیس تر دُعا بهه دی ستا د خُلے بنیس ے بنکنځُل

د واعظ په نصیحت مے مینه لا په یار زیاتیږی
سرے لمبے دی نهٔ ډیوه ده چه به مړیږی په پُو کل

گوره اوس به ئے تر درنگه د عاشق په وینو سرهٔ کا
په دا ځهٔ شوکه ئے ٔن د خیال نمری وانغوستل

کله گل دے درابلو چه دا مسے پسین ځلیږی
دا ئے وچوُ لے بنکاریږی تر پریشان پریشان وربل

په لمن کښے ئے گلونه د بهار له سیله راوړهٔ
په تارونو ئے زما د زړهٔ هارونه وپیئل

نهٔ یوا ځے زما راز و بنکو یا رنگ د مخ رُسوا کړه
آه مے لا د زړهٔ رازونه و عالم ته بنکاره ول

په زیری کښے به ئے سر عبد القادر ورته پیشکش کا
کهٔ څوک مسے زیرے راوړی چه ئن یار د رسته زول[1]

---

[1] زورل (رخ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۸)

ښهٔ شول چه ښهٔ نهٔ شول هرچه بد دی له ازلهٔ
بد به ستا و بدو ته بد واۀ ګـــــمـ ـزل

هر چه په نسبت زما وما وته ترخهٔ دی
بل وته هغه ترخهٔ خوانهٔ دی ترعسل

کفر کهٔ ایمان دے وعارف وته یکسان دے
وارو که پو هیږے دا ویـنـا زما مجمل

ستا فعل هرګز نهٔ دے خالی له حکمتونو
تهٔ هغه حکیم ئے چه دِ کار دے بے خلل

واړه موجودات ستا په هستیٔ باندے دلیل دی
هم دِ په توحید باندے ترماشی ترجمل

هر څهٔ ته چه ګوری ستا جمال به پکښے وینی
تا ئے چه په ذرهٔ د معرفت ډیوه کړه بل

هر څهٔ ته نزدے ئے په قدرت تر هر څه خیر ه
ذات او په صفات کښے له همه خیرونو بیل

تا ته رسیدل دِ تا په فضل و عنایت شی
کله رسیدلی دی څوک تاوته په څل

کله سیلاب آوری د خځلو په بندونو
ستا تقدیر دریاب زما تدبیر لکه خځل

هر چه په آخر له هغه کاره پښیمانیږے
مهٔ کړه هغه کار عبدالقادره له اول

---

۱؎ چرا کارے کند عاقل که باز آید پشیمانی ۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (٧٩)

چه دا هسې ځي له باغه په شتاب ګل
په بستر د راحت ځکه نهٔ کا خواب ګل

د نسیم د تېز ګامئ نه معلومیږي
چه په بړ دي قدم د تللو په رکاب ګل

چه زلفینې په عذارو خم په خم کا
تر هر زخم لاندې ئې واشي د آفتاب ګل

پسې شا ئې لړو ډېر د خوبئ لاف وو
دو بروکړ ستا رخسارو لاجواب ګل

چه ښکاره ورته پېښ مخ لکه خورشید کا
هغه دم ورته پېشکش کا د مخ آب ګل

نوره وېټ د سینې داغ لاله ښکاره کړه
ګڼې کوم د دې باغ نهٔ دې دِل کباب ګل

ګنډې عطر ئې کابنکلي په ځان پوره
هم په دا اُمید ځان وسوهٔ د ګلاب ګل

د دېړون وېره کوه عبدالقادره!
ورځ په ورځ پژمرده کیږي د شباب ګل

## (٨٠)

که غمونه د دې خپل زړګي ښکاره کړم
لوئې هلک به همه واړه په ښاره کړم

داخل هسې هجران نه دی په ما کړی
چه به[١] نورے آشنائی دوباره کړم

د حسرت د اور بخرې را ښکاریږی
چه د شاه د تاج لعلونه نظاره کړم

چه پاره پاره زما د زړه پشان دے
تسلی د زړه به ګل د هزاره کړم

که وصال موسم دیار به بے ننګئ کېنے
نام وننګ به همه واړه آواره کړم

لکه غم د بختورو له خاطره
قسمت هسې له بنا دیو کناره کړم

که صبا دیار له کویه نکهت راوړی
ګریوان به لکه ګل هسې پاره کړم

ساز[٢] ناساز د عالم اورم غوږ کاڼه کړم
محبت عبدالقادره ! بیچاره کړم

---

١ چه به نوره آشنائی .....
٢ ساز ناساز د کسی ناکسی اورم څان کوڼ کړم } (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۸۱)

چه څوک بد راسره کړه ورسره ښه یم
هم په دا د ښو د بدو تور لیمه یم

له هغو مے څه اندوه چه په خوئ اوروی
په ځل خوی کښے نرم[1] سرد ګله اوبه یم

چه وما ته زما عیب پیشکش راوړی
دده هسے یار له خدایه په غوښته یم

فرښتے د غم زما د عصیان نه کا
که مفسد یم که ظالم یم بیا دده یم

نور زما دے، نار زما د نور و څه دی
د تنک غونډے که خیر د ځان په سوه یم

په ابروے مخ پیرزه شی چه نفاق کا
آئینه غونډے مخ پیښ په زړه تورنه یم

چرے نه وی چه به بل مخ وته ګوری[2]
په هجران کښے خوښ د سترګو په واته یم

له نور چا کله ګیله عبدالقادر کړم
زه خوار کړے ځلو سترګو یم ځل زړه یم

---

[1] نرم سرد تر اوبه یم
[2] چرے نه چه وبل مخ وته وګوری (غ)

# (۸۲)

درپسے مے خیژی دَم
لما مهٔ درومه یو دَم

زهٔ مُرده تهٔ مے عیسیٰ ئے — ژوندے کیږم ستا په دَم
دهجران غمونو خوښ کړم — تر وَجوده په عدم
چه دارو مے هرګز نهٔ شی — بَد زحمت دے د نرم
ښهٔ آدم تر فرښتو بهه دے — تر دد بد دے بد آدم
دبیدارو په نصیب شو — ښهٔ دولت د صبح دم

خاوړے شه عبدالقادره!
کهٔ پرے کیږدی یار قدم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

# (۸۳)

که هر څو د بېلتانهٔ له غمه وائیم
خپل ژوندون مې د دروغژن کاندی چه پایم

وڅوسئ[1] په بنکر برات شوې دیار وصله — بې هوده ږ د دیدن په تمنا یم
په قد خم په تن ضعیف کوښه نیولې — په مثال لکه آبرو د دِلربا یم
لوئ هلک مې واړه پوځېله بنا شنه — ستا په مینه لکه میاشت انګشت نما یم
د بله[2] خاوړې مې په قدر تر عنبر دی — هم په دا چه ستا د پښو خاکِ پا یم
چه حریف دخوشحالیه بېوفا دی — له اندوه سره دائم رفیق په دا یم
دخوښئ ئې نامحرم دِ نه رادړومی — ن شپه زهٔ دیار له غمه خواښوایم
چه ئې واخسته پرده د ګل له مخه — منت بار داحسانونو د سبا یم
توري سترګې توري زلفې ئې بلا دی — اخته کړې زهٔ هم تا په دا بلا یم
هیڅ تشبیه تمثیل ئې نشته په جهان کښې — نهٔ پوهېږم[3] چه یار څرنګه وُستایم

ستا په حسن سوګند خورم پخپله مینه
تر ځان زهٔ عبدالقادر مئین په تا یم

---

[1] دا شعر د "خ" نسخه کښې د غه غزل سره په حاشیه لیک دے .

[2] د بله خاورې مې د عنبر په بیعه دړومی .

[3] نهٔ پوهېږم یاره څرنګ دِ وستایم -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۸۸)

یار مے تلۀ د باغ په لور کاندی پوهیږم
ګل به حسن ځینی پور کاندی پوهیږم

دصبا اثر ئے شته دے په قدم کښے — نغښتے ګل به د باغ خور کاندی پوهیږم
چه په دا حسن جمال له کوره ووځی — ډیر[1] به ویران وړپسے کور کاندی پوهیږم
چه تور مخی رقیبان ئے خواؤشا ګرځی — د یار زړۀ به لما تور کاندی پوهیږم
چه رقیب ئے مخ ته ګوری زۀ هم ګورم — دا کتل مے به شوکور کاندی پوهیږم
مشاطه شانه په لاس ورلره راغله — د وربل دوړ به ئے خور کاندی پوهیږم
شمع ځکه درسته شپه ژاړی له غمه — چه صبا به مجلس خور کاندی پوهیږم
هر چه غوړوی د دُنیا په بنیرا زیو — زمانه به هغه سپور کاندی پوهیږم

کله زړۀ عبدالقادر په رضا ورکړ
بناسُته به زړونو زور کاندی پوهیږم

---

۱ ډیر به کور ور پسے خور کاندی پوهیږم
۲ دغه اَو دے پس دا دواړه شعر وته د "خ" نه رانقل کړے شول. } خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۸۵)

کله زهٔ د بېګانه عالمه زار کړم
زهٔ هم خپل آشنا له خپله لاسه خوار کړم

دومره چا خبرې ورم دده له مخه
په عالم کښې ئې بې قدره بې وقار کړم

چه په غسل د خپلو وینو سرخرو کیږم
څهٔ منت به د دونانو د دینار کړم

چه په وازه خوله مونده شي مه ئې وینم
کهٔ صدف غوندې حاصل دُرِ شهوار کړم

که بنادي ئې د جهان واړه زما شي
زهٔ به واړه د خپل یار له غمه ځار کړم

خاربندي مې د بڼو کړه تو مې چاپېره
ګوندې خیال د یار په سترګو کښې الیار کړم

چېرې رنګ په لږ دېر ګرم باد نوریږي
څهٔ امید به د ژوندون په نوبهار کړم

پیوند ګیله د هیڅوک له ما نهٔ کا
محبت له خپله ځانه هم ویزار کړم

چه مې تل عبدالقادر په در کښې پروت دې
عاقبت به ئې له سپیو سره شمار کړم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۸۶)

چه[1] مې شاکړه وبنا دیو وته بنا د شوم
چه د زړۀ مراد مې پرېښی په مراد شوم

اوس له غمه نۀ کړم غم بې غمه کړه څم
راضی مند چه د ازل د ویش په داد شوم

چه مې طمع د دُنیا ورځینې پرېښکړه
هغه کس که کیکاوس زۀ کیقباد شوم

ځان بازید بولی کاړ ونه دیزید کا
له شیخانو ځکه زۀ بې اعتماد شوم

خدائے مې بیا پکښې بندی مۀ کړه تر مرګه
احتیاج عظیم زندان وو، ترې آزاد شوم

همه[2] ئې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو
دیرمیېن په ورو وستی ضرب د فرهاد شوم

باډې[3] بوئیں عبدالقادره ! سحر راوړ
شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم

---

۱ اوس مې شاکړه .

۲ هم مې ځان له غمه خلاص کړهم نیک نام شوم
دیرمیان په وروستی ضرب د استاد شوم

۳ باد مې بوی عبدالقادر په سحر راوړ

خ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۸۷)

مخ دې لکه نمر دې ورته څېر کتلې نه شم
څکه دې د مد دې تر عهده وتلې نه شم

زړه مې دې غلبيل کړ د هجران په ناوکيو — راز پکښې د يار د محبت ساتلې نه شم
اوس مې په معنو کښې بند دى مېن د سترګو کسي — کسې به د خلقو په وېل ويستلې نه شم
زړه دې د زنخ په چاه کښې بند لکه يوسف شوم — بې دې د زلفينو په رسن ختلې نه شم
بند دې د حواس په پنجره زړه عبدالقادر کړم
زړه مې پرواز غواړي وې الوتلې نه شم

## (۸۸)

له دې پسه به وګل هوس ته شا کړم
نو يک لخته به غمونه د آشنا کړم

پخپل يار پسې به زړه شم ليونيه — د دنيا ودانه خونه به تالا کړم
چې به مرګ سره له چانه جدا کېږي — به ژوندون به ئې له ځانه زړه جدا کړم
نه[1] به مخ په آئينه بيا برابر کړم — نه به توره اوربل په بر مخ سره صفا کړم

[1] نور به مخ په آئينه برابر نه کړم (خ) د خوشحال خان هم داسې يو غزل شته چې مطلع ئې دا ده
نور به مخ په آئينه برابر نه کړم ـ نه به دواړه سترګې توري په رانجه کړم (کليات خوشحال ص ۲۱۰)
د "پ" چاپي نسخه صرف وروميې اته شعر ونه لري ـ باقي کې ې د "خ" د نسخې نه پوره کړو ـ

نهٔ به څنړے په فليل سره کړم غوړے — نهٔ به نوره خوشبوئي ځان لګيا کړم
نهٔ به سترګے په رانجهٔ کړم نهٔ به پان خورم — نهٔ به مُهر اويزان په اوربل بيا کړم
شرمنده به په ماتم کښے بنفشه کړم — په ماتم کښے به نهٔ دے غونډے خندا کړم
دواړه سترګے مے ډکے شی په خاوړو — د نرګس په دود کهٔ سترګے باغ ته وا کړم
لاس و پښے مے دخپل غم په وينو سرهٔ شه — کهٔ به نور به لاس او پښو پورے حنا کړم
اُوبدئ طوق حيل مے ځيل کړهٔ خدائے يغاړه — که ئے بے ياره يغاړه دواړه بيا کړم
خال مے داغ شهٔ کهٔ په وُچولی بيا کينږدم — سرمے پريوزه کهٔ به بيا په سرسړکا کړم
ګلګون نمری مے لمبے شه چه بړے سوزم — که ئے واغوندم، هوس کړم يا هوا کړم
هتوړی مے شه وَبنے کهٔ ئے په لاس کړم — څولئے مے شه پائے زيب که ئے په پا کړم
که مے يار په مرګ بد رنګ کړهٔ تورو خاورو — په ژوندون به بتر تر خاوړو لا کړم
ستی تينت وکهٔ له غمه څکه سوزی — زهٔ به ځان په غم تر عمره مبتلا کړم
راته وايه دا بيان عبدالقادره — چه دخوږ خاطر دمه په وئيل ستا کړم

بيا بيا وايه دا غزل عبدالقادره!
دغمژن خاطر دمه څهٔ خو په دا کړم

**(۸۹)**

په هر څهٔ کښے نندارهٔ دهغه مخ کړم — څکه نور عالم غمونه کا زهٔ سنخ کړم
له اندوهه مے لړمون شو پُر په وينو — د بلغم په ځائے مے وينے ځی چه اَخ کړم
نفس شيطان ليونے سپے را پسے شوے — مګر ستا توفيق رفيق شی چه ئے چخ کړم
خوکړمی د محبت لرم په زړهٔ کښے — نور له واړو غيرو چاړو ئے سوړ سنخ کړم
په دا راز عبدالقادره څوک پوهيږی — چه بنکنځل درته کوم درباندے مخ کړم

ــــــــــــــــــــ

لہ سوړ سنخ يو ځائے استعماليږی - په معنی د يخ پخ - بالکل يخ (همیش خليل)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۹۰)

محبت چه د مجنون په نامه یاد کړم
له غمه پسه ئې دیار په وصل ښاد کړم

خاص بنده خطاب ئې هاله وما راکړ — چه د دوه کونو له بنده ئې آزاد کړم
آئینه له بدګوهره کاږی نه شی — بیهوده وتیره دِلو ته ارشاد کړم
چه مې ورکړه په مثقال په خروار اخلی — زه به څرنګ خوشحالی په هسې داد کړم
دګنهیر له بوټی کله څوک خواږه خوری — دَ وفا اُمید به څه له بد نهاد کړم
ګندې بخت مې د دلبر د زلفو منځ کا — که فلک ټکړې ټکړې لکه شمشاد کړم
تا خوږ کړې یم هم ته به مې دارو کړې — بې لتا به و نور چا وته فریاد کړم
چه سحر سحر راځی دیار له لوری — د غمژن خاطر دمه په هغه باد کړم

خیل مراد مې د مراد تر منځ حجاب شو
نو به ترک عبدالقادره خیل مراد کړم

---

۱ له غمه (رغ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۹۱)

زهٔ دِ تل وینم د خوب خاطر مرهم
بے تا یو زمان خلاص نهٔ یم له الم

په راتله دِ لکه گل شگفته کیږم
بر بر راشه آشنا سبا قدم

د عیسیٰ په دم به مړ سړے ژوندے شو
مړ زړهٔ بیا مومی ژوندون دِ تاله دم

د مهجور تر زندګیه مرګ بهتر دے
که ستئ ئے ستی کیږی نهٔ ده کرم

لکه وار د بنا دئ ځی د غم هم دړومی
په محنت کښے زړهٔ هرګز مه شه درهم

د یار غم په معنیٰ غم نهٔ دے بنا دی دا
ما دِ نهٔ کاندی خدائے خلاص د یار له غم

د دُنیا دولت په مثل لکه باد دے
کله مخ کا کله شټ کاندی له دهم

نهٔ خوښی کړم د احمق سړی له مدحے
نهٔ مے زړهٔ سومی اندوه د دهٔ له ذم

د زلفینو تر حلقو د عذار وینم
که نسرین دِ دے په زلفو کښے صنم

مګر خدائے تعالیٰ عبدالقادر چه په پیغور به
د زړهٔ مینه کا له خپله یاره کم

---

۱ د زلفینو تر حلقو دِ مخ ښکاریږی (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۹۲)

چه نیو لے ئے د مینے په تالان یم
ځکه هسے رنګ بهتر تر درست جهان یم

عاقبت به د یوسف غوندے عزیز شم
چه بندی د یار په چاه زنخدان یم

د خپل یار سروسامان واړه زما دی
غم[1] ئے کوم دے که بے سرو بے سامان یم

چه پرتوئے د ینهٔ مخ راباندے وشو
لکه لعل قیمتی د بدخشان یم

د حریرو په کاغذ د سرخی میم دے
کهٔ ئے خلهٔ ده ؟ وتحقیق ته ئے حیران یم

ستا له لاسه ګل داغونه راته بهو دی
مستغنی له تماشے د ګلستان یم

خدائے مے خپل بانړهٔ د دوو سترګو نشتر کړه
که[2] بے تا د بل و مخ ته نګران یم

کهٔ د مزکے غوندے کوز په تواضع یم
په همت تر واړو پاس لکه آسمان یم

د عوامو تر نظر سکه ګدائے شوم
وخاصانو وته شاه د کن فکان یم

نا آشنا د نا آشنا په قدر څهٔ زده
کهٔ ونور خلقو ته سپک و یار ته ګران یم

نادانی تر ناپوهئ ئے راته ښهٔ شوه
نهٔ پوهیږم چه هښیار یم کهٔ نادان یم

یم وئیل په طریقت کښے مشرکی ده
د یم یم په قافیه راوړل پښیمان یم

د سخن خوبی همه لرم موجوده
زهٔ عبدالقادر محتاج د سخندان یم

---

[1] په دا څه شو کهٔ بے سرو بے سامان یم
[2] که بے تا به وئیل مخ ته نګران یم
} (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۹۳)

داګمان له دله ووباسه همدمَ
چه بې تا به سترګې ووچې کړم له نمَ

په ژړا ژړا مې لوند دسر بالښت شي | چه مې وښکې موج وهي د زړه له یَمَ
په دا حال مې که ګذر په چمن وشي | مستغني به کړم ګلونه له شبنمَ
که په ورځې زیست روزګار کوم له خلقه | درسته شپه مې سریکار وي ستا له غمَ
چه ښکاره په ډیر وګړي کښې ځان سېزي | راښکاره شوه دستي اندیښنه کمَ
زړګی او پلې مې خالي نه دی ستا له درده | ډیرهار غونډې خندا کړم له عالمَ
لکه کانړې هر ذره له اوره ډک دې | هسې سرتر پایه ډک یم له المَ
لا یو داغ مې د زړه روغ نه وي بل کښېږي دي | آه فریاد د جدائی نه له ستمَ

خلاص به نه شې په ژوندون عبدالقادره!
اندیښنه نه شوه د تا له عمره سمَ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۹۴)

چه مېن په پرۍ وَشه جانانه یم
ځکه سر لکه مجنون په ویرانه یم

نهٔ خپلوی له چا کوم نهٔ مې څوک خپل دی
په عالم کښې له عالمه بېګانه یم

ظاهر بین مې په ظاهر صورت غلط شو
په باطن په خاوړو پټه خزانه یم

ځان مې پاسه د باد شاه د سر په تاج دے
پرېوتلے په ډېران کښې دُر دانه یم

د دے بزم د مجلس ګرمي په ما ده
هم ساقي یم، هم شراب، هم پیمانه یم

په سینه د خپل مقصود په لور شور یم
په مثال د وزر سوی پیمانه یم

خرابات دِ خدائے و دان لری تر ډېره
په وئیل د دهٔ له فیضه رِندانه یم

بے نائی کله آواز خیژی له نیه
واړه عشق ئے وَیَوی زهٔ بهانه یم

په ژوندون عبد القادره کوړ ویران کا
ډېر په دا خصلت مېن د دیوانه یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۹۵)

چه تل هسې په هوس په بېغمی یم
اقرار شوے د خپل عقل په کمی یم

آدمیت کهٔ په سیرت وو لما لاړ شو
آدمیت کهٔ په صورت دے آدمی یم

کهٔ په فضل ئے کاړ وسپاړے غم نشته
کهٔ په عدل ئے سپاړے جهنمی یم

د هجران په لمبو سوے یم فریاد کړم
ما معذور لرے عالمه الـمی یم

اهرمن چه لاس ورووړی کټے ئے سوزی
بادشاه شوے زهٔ د فقر په غمی یم

د معنو په ملک فارسی عربی نشته
کوم نقصان کهٔ عرب نهٔ یم عجمی یم

کله زهٔ عبدالقادر د شعر لاف کړم
مرثیے د تللو وایم ماتمی یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۹۶)

محبت زما بادشاه زهٔ ئے غلام یم
سرفرازے په خدمت په صبح وشام یم

په یوه کاته ئے سل شرفه موسم
ځکه هسې تر هر چا بلند مقام یم

چه په بوټي ئے د مستئ ځرخ څرخیږی
امیدوار ستا ساقی د هغه جام یم

یوه ورځ به مې په حال ترحم وشی
په امید د صافو میو دُرد آشام یم

ترکول د خپل خواهش کمال د عشق دے
رضامند د عاشقئ په کام ناکام یم

اوم کباب د اور په تاؤ ترا فریاد کړم
کهٔ د عشق له اوره آه وکړم لاخام یم

چه شفیع مې د ګناه خیر الانام دے
غم مې نشته کهٔ هر څو شرالانام یم

هر غزل مې مبرّا دے له تکلیفه
په ساده پښتو ویل شیرین کلام یم

د روغژن ورته خپل ځان نیولے نهٔ شی
په رښتیا عبدالقادر تیرهٔ صمصام یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۹۷)

په خاطر کښې هومره سوز لرم که آه کړم
اور به پورې په خرمن د مهرو ماه کړم

عشق خلعت د غلامۍ د شاهۍ راکړ ——— له اوله ئې بنده آخر ئې شاه کړم
ومې نوړ ئې لکه نمر د مخ حجاب شو ——— ښکلی مخ ته ئې نظر په کوم نګاه کړم
هیڅ عجب په باد کښې بېبول د جهان نهٔ دی ——— چه نظر پخپل وجود پخپله ساه کړم

هدایت به زما څرنګه څوک کاندی
چه په سمه لار کښې خپل دلیل ګمراه کړم

## (۹۸)

تا چه زلفې په سپین مخ کړې خم په خم
په خاطر باندې مې بیابان دې غم په غم

عاقبت عاشق معشوق، معشوق عاشق شي ——— بنهٔ چه زهٔ او تهٔ په عشق شو سم په سم
په معنیٰ کښې سخاوت نهٔ دې امساک دې ——— هر چه ورکړه ډېر په ډېر کا کم په کم
لکه حُسن د دلبرې روز افزون دې ——— هسې عشق زما زیاتیږي دَم په دَم
کهٔ دِ زړهٔ دې چه د زړهٔ غنچه دِ وا شي ——— وَرو وَرو له دوارو سترګو نم په نم
په هر ځائې باندې چه ښیښم لا لهٔ زار شي ——— چه مې[1] ډېر له سترګو درومي دَم په دَم
زما دَم دیار له دمه وابسته دې ——— چاودې[2] داچه تازهٔ نشي دَم په دَم
هم په ویر هم په سرود عبد القادره! ——— کوړ په کوړ د عشق نارې دي چَم په چَم

---

خ { [1] هسې ډېر له سترګو درومي نم په نم
[2] چاودې داچه تازه نشي دم په دم }

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۹۹)

چه منظور دیار صفا جبین لرم
ذره په دا له نیک او بده بیین لرم

کام ناکام زما په طبع برابر شو
په ترخو سره تل کام شیرین لرم

د حسد له خویه هسې رنګه خلاص یم
عار راځي چه له شیطانه کین لرم

په ویل وچولی غم یوسم له غمژنو
که هر څو نه خاطر حزین لرم

په ظاهر و ظاهر بین وته مقیم یم
په باطن براق د تللو زین لرم

دردیزی کرم په صفت دیار د لعلو
کلام ځکه هسې رنګ رنګین لرم

نسترن د باغ زما په سترګو خار دے
چه په کور دیار د مخ نسرین لرم

په خیال خیال په شیوه چې په سترګو سته
تل په دا دعا آمین آمین لرم

که په بخت عبدالقادر نازیرم بنا ئې
چه د تا غوندے یار نازنین لرم

---

ء سقیم (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۰)

چه له حاله د وګړي خبردار شوم
له همه وُ په زړهٔ بیارته په وار وار شوم

ورځ په ورځ مې له جهانه زړهٔ سړېږي
په دریاب کښې له دریابه همکنار شوم

چه پخوا عمر به ما پرې افتخار کړ
په هغو وارو کارونو شرمسار شوم

ځان مې خلاص کړ د دلبرو له نازو نو
بس کړه دیر ئې د نازو نو خیدار شوم

په تندی ئې لاس څکوم له شفقته
اوس مې ښکلی لکه زوئې زهٔ لکه پلار شوم

معنوی ښائسته غوارم که ئې مومم
صورتي د زړهٔ زحمت ووترې وېزار شوم

چه بې غمه نشته څوک عبدالقادره!
ښهٔ چه زهٔ په غم د مینې ګرفتار شوم

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# (۱۰۱)

عجب خوش په خوب ووده ووم د آدم
نۀ مې غم وو د ښادئ نۀ د غم

یا وحوش وې یا طیور یا بل اشیا وې
کاش که زۀ نۀ وې پیدا بنی آدم

یا مې مرګ د هلکوالي وې چه خلاص وې
ووې نۀ لیدې دا هومره ډیر الم

نۀ اول شوم، نۀ دویم شوم، نۀ دریم شوم
څلورم بویه د حق فضل وکرم

چه مخلوق ئې کړ آدم له ما وطنه
روح ئې کړ له خپله روحه پکښې دم

له اوله ئې مسجود د فرښتو کړ
په تکریم د کرّمنا[1] شو مکرم

وجنت ته ئې روان په ډیر اعزاز کړ
پرې پریوان ئې کړ انواع نعم

بیا[2] شیطان ئې وسوسه وروسته زړۀ ته
په وئیل ئې د حوا وخوړ غنم

د جنت جامې ئې والوت له تنه
بې بهاسه شو بربنډ په هغه دم

له جنته ئې بېرون په درد اودوک کړ
د عطی آدم نِدا شوه په عالم

دۀ د زړۀ له سوزه دا نارې وهله
هم ئې دا نارې د زخم شوې مرهم

چه نسبت ئې کرم وتاوته ویرنم
نو هم ما وکړ ځان باندې ستم

څۀ شیطان، څۀ سو، څه زړۀ، څه زمونږ فعل
وې نۀ شي زور ور ورته وئیل سم

هیڅ حجت له زور ور و سره نۀ شي
کرم ئې ته عبدالقادره! یار تا کرم

---

[1] وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ الآیه یعنی مونږ عزت ورکړو بنی آدم ته۔

[2] بیا شیطان وسوسه وروسته وزړۀ ته (غ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۲)

نهٔ پوهېږم چه په وېښ یم، که خواب وینم
چه دا هسې رنګ کاروونه عجاب وینم

پلار و زوی وته خبرې په نرمۍ کا
زوی و پلار وته په قهر و عتاب وینم

په اُمید د مال و ملک چه ورمیراث شي
د مور پلار له مرګه زوی کامیاب وینم

چه مقصود یې تر مینځ وُوځي غلمان شي
محبت په خپل مقصود د احباب وینم

واړ ګونه چارې په دم کښې لیدې شي
محتسب کره شیشه د شراب وینم

په ښې لاس پیاله د مېو مئې نوشي کا
په کیڼ لاس کښې یې د فقهې کتاب وینم

کهٔ قاضي دې که مفتي کهٔ خطیب دې
د همه وُ کره چنګ و رباب وینم

تولا تېرا طمع حسنی یو وړه
عالمان د کافرانو په باب وینم

کهٔ ښوا فضل په علم په تقویٰ وو
اوس یې فضل د دُنیا په اسباب وینم

د دوزخ په لور کهٔ تلهٔ په معصیت شي
تر کافر د مسلم تلهٔ په شتاب وینم

ښې خوږې صافې اوبهٔ په کور کښې نهٔ څښني
تشنګان روان په لور د شراب وینم

که پخوا حاکم شبان خلق رمه وو۔
په دا دور یې لېوهٔ یا قصاب وینم

لور په لور یې کړې د ظلم لمبې بلې
پکښې زړونه د مظلومو کباب وینم

هیڅ مې نهٔ زده چه انجام به یې په څهٔ شي
په بدیو کښې د خلقو جواب وینم

شکر شکر چه لا دَر د توبې وا دې
د مشرق په لور ختل د آفتاب وینم

سامعان یې آمنّا و صدّقنا کا
ستا ګفتار عبدالقادره! صواب وینم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۱۰۳۱)

څۀ شو کۀ ظاهر لب خندان لرم
زړۀ د جدائی په اور بریان لرم

تور لوګې د ځلې وښکې دستر ګو سره — دواړه په دا حال بانده ګواهان لرم
سیم و زر مې زړۀ د مخ غنی یم پرې — لعل او دُر د یار لب و دندان لرم
زړۀ مې د دلبرې د جانان دے ځان — زۀ خوله جهانه زړل وجان لرم
لِن قهر چه وکړې هم او بۀ شم ترې — ګله زۀ ناتوان د قهر توان لرم
څو پکښې پراتۀ دی د یوسف غونډې — ډک له کښلیو چاه د زنخدان لرم
هومره پرتې نۀ دی چه ئې وشمارم — ستا ګیلې په زړۀ چندان چندان لرم

کیست که این حلقه بدر منیر سند
خوار خټک یم سر په دا آستان لرم

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۰۴)

شکر شکر چه نهٔ خان یم نهٔ امیر یم
نهٔ بادشاه د ولایت نهٔ ئے وزیر یم

نهٔ قاضی یم نهٔ مفتی نهٔ محتسب یم
چه د بډیو د رشوت په زړ وکیر یم

نهٔ مشرف نهٔ کروړی نهٔ ئے فوجدار یم
نهٔ عمال د چا د ملک او د جاګیر یم

نه دعوی د ملایئ نهٔ د شیخئ کړم
نهٔ وئیل کړم چه صوفی صافی ضمیر یم

نهٔ بنګی نهٔ شرابی نهٔ قمار باز یم
نهٔ تړلی کړم نهٔ رهزن نهٔ غل کاسیر یم

توانګری د زړهٔ لرم دُنیا ئے نشته
سرمایه زکواة ئے نهٔ ووځی فقیر یم

قلندر یم په ساده سینه جامه کښتے
نهٔ په فکر د دِرم او د نانځیر یم

په ظاهر خندا هوس کوم له خلقه
په باطن کښے ګرفتار د ځان په وير یم

قناعت صبر هر ځائے راته ګلزار کا
ګویا ناست لا په کابل لا په کشمیر یم

لږ دیدن د کښلیو کړم بنهٔ آواز آروم
خدائے ئے وبخښه اقرار بخپل تقصیر یم

کهٔ کرم را باندے کا جنت ئے ځائے دے
کهٔ حساب راسره کا اهل سعیر یم

خوشحالی ئے په دیدن د کښلیو کیږی
چه ئے نهٔ وینم یوځم په زهیر یم

په آواز ئے د زړهٔ برهار ګلزار شی
مئین ځکه د رباب په بم او زیر یم

په هر ځائے چه قدم ایښے بنا ئسته وی
مینه دار په هغو خاوړو ترعبیر یم

خدائے د روغ عبدالقادر ته ځني مهٔ کړه
چه زخمی د خیل مئین د عشق په تیر یم

---

لے عامل (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (١٠٥)

مهر زما د خپل صنم مهٔ شه زما له عُمره سم
مهٔ شه زما له عمره سم مهر زما د خپل صنم

غواړه کړځه عرب عجم نښته زما د یار نشان
نښته زما د یار نشان غواړه کړځه عرب عجم

واړه په ما د یار ستم شهد و شکر نبات لګی
شهد و شکر نبات لګی واړه په ما د یار ستم

مژده په یاسمن قدم خرخ دِ په کښېلیو پښو مهٔ شه
خرخ دِ په کښېلیو پښو مهٔ شه مژده په یاسمن قدم

زلفې په مخ کړه خم په خم کښېنه و ماته مخ په مخ
کښېنه و ماته مخ په مخ زلفې په مخ کړه خم په خم

عمر ګزر کا دم په دم لویه ولجه دے دا زمان
لویه ولجه دے دا زمان عمر ګزر کا دم په دم

وُکړه په خوار ختک کرم شمارے په کُشته کانو کړه
شمارے په کشته کانو کړه په خوار ختک کرم

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۶)

پرېمن دې چه ژاړم شپه او ورځ لکه باران
ګل غوندے زېړن کا په وار وار کښېنلي ياران

سنه دی پوهيدلی چه آخر به خاوړے کېږی — ځان په ژوندانه کا تورے خاوړے خاکساران
تاچه[۱] پخپل عمر شپه د درد ليدلے نه دے — ځکه دِ خنداشی چه فرياد کا افګاران
مرګ ئے رغيدن دے د داړو زيرمه ئے مه کړه — خوښ په بيمارئ دی ستا د سترګو بيماران
په[۲] شکر د عزت چه ئے عزيز پخپل دولت کړو — مه شړه له دره په ذِلّت سره خواران
وخت دے که څه کړکړے بيا به واٹے وار به تېروی — تل به هسے نه وی ستا د عمر باکاران
کله پخپل ځان بانده پېرنړ و دسرې بد وی — څوک شوله ازله نيکوکار څوک بدکاران
هر چه يار ئے نه وی پخپل کور لکه غريب وی — ناست پخپل وطن کښے مسافر وی نيستګاران

هيڅ ملامت نه دے که فرياد د عبدالقادر کا
هر[۳] اندے وی په زړه د يار د زلفو بنا ماران

---

۱ تاچه پخپل عمر هرګز درد ليدلے نه دے (خ)

۲ دا شعر د "ب" په چاپي نسخه کښے نشته - د "خ" نه مو رانقل کړو .

۳ ټکيا ئے دی په زړه د يار د زلفو تورماران (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۰۷)

هیڅ عاشق به ترې بیا نهٔ موي امان
عشق پیغوړ دی سره دواړه توامان

چه به ستا په نصیحت ویارته شاکرم
له زړهٔ لرې کړه ناصحه دا بیان

چه د ښکلیو له دیدنه ماړهٔ نهٔ شو
هر چا وړے دے وګوړ ته دا ارمان

ښائسته د مزکے مخ دے په خوبانو
کهٔ په ستوړو حسن زیات دے د آسمان

نن ئے وے چه "صبا راشه خلهٔ به درکړم"
مددګار شے بخته! بیا مهٔ شه پښیمان

کهٔ به وخکوے لمن زما له لاسو
په قیامت زما لاسو نه ستا دامان

تیر وی تیر راتلونی نهٔ وی لا راغلي
عاقلانو ته دُنیا شوه دُ ارمان[۱]

د سامان د سرانجام فکر ئے نهٔ وی
نهٔ سامان د بے سامانو دے سامان

دیار درد عبدالقادر د هغو دے
چه هرګز ئے فکر نهٔ وی د درمان

---

۱ عاقلانو ته دنیا شوه دا زمان (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۸)

ښائسته چه په خندا کاندي د ندان سپين
توېږي له ښېښے خلے دُر و مرجان سپين

تر سپين مخ پورے تورے لکه لونګ شي
که هر څو را مېل چامېل دي د بوستان سپين

کهٔ د زلفو په سیاهۍ جهان تیاره کا
په جبین لکه سبا کا بیا جهان سپين

ملاحت ئے وو په مخ کښے ستا له مخه
که هر څو په مخ یوسف وو د کنعان سپين

په جمال به ئے دیار سترګے بینا شي
که یعقوب غوندے کاکسي په هجران سپين

سفیدي نهٔ شي د زړهٔ په سینه ډېره
په سپین والي به د نمر یو نشي ځان سپين

تور بوړا دے په کمل ناست عبد القادره!
که ئے ایښے دے تور خال په زنخدان سپين

---

له دا شعر د "پ" په چاپي نسخه کښے نشته - د "خ" نه
مو رانقل کړو -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۹)

شکر شکر بیا یو ځائے شول حبیبان
دو سیاه شول په دامینځ کښې رقیبان

ساقي دریغ د پیالې نهٔ کا له ځیا نه — ترې محروم شول خود په خود بے نصیبان

په منبر باندے به سرے ملے شي بیا — که یو راز د عشق بیان کا خطیبان

چه په زړګي مے ګټے ږدی نے سوزی — زما رنځ به څرنګ موی طبیبان

نن باغبان د باغ ګلونه واړه تول کړهٔ — د زړهٔ سود به په څهٔ کا عندلیبان

لیبیان د دُنیا واړه لیونی دی — لیونیو ته ښکاریږی لبیبان

د ډوبدون جهاز به غرق د فناسین کا — کهٔ په ځان نے نوح نبي شی کشتي بان

دُنیا په ودانئ عبث مشغول کړے — عمارت په سرائے کښې نهٔ کا غریبان

دسوارئ زیرمه کوه عبدالقادره!
په هر لوری دښمن دی کا رقیبان

✯

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۰)

نمر سپوږمۍ مزکه آسمان
ځائے په ځائے په ځان حیران

اوبهٔ سروهی په کانړ یو ــــ شپه او ورځ کاندی افغان
ړمون سوے د آتش دے ــــ باد هم ګرځی سرګردان
چه نشان ئے موندهٔ نهٔ شی ــــ څوک به مومی بے نشان

## (۱۱۱)

نهٔ پوهیږم مخ ئے ګل دے یا لاله دے یا سمن
یا ځل شوی په یو ځائے ګل لاله دی نسترن

دائے خُلهٔ ده که غنچه ده، کهٔ میم کښلے په سرخۍ دے ــــ دائے سترګے کهٔ نرګس دی که هوسۍ دی د ختن
دائے زلفے که سُنبل دی که ښامار په چند ئے زورند ــــ دا هلال دے که لیندهٔ ده کهٔ آبرو د سیمین تن
دائے شونډے دی کهٔ لعل یا یاقوت دی که مرجان دی ــــ سیب دے دا کهٔ ناشپاتۍ ده، د بخت ستورے کهٔ د تن
داونښته دی کهٔ ئے ملا ده، که زما د خاطر فکر ــــ دائے قد کهٔ صنوبر دے، کهٔ چنار سرو ده چمن
داشراب دی په پیاله کښے، که باده د څښکو وینے ــــ دا کباب په اور ورتیږی، که د زړهٔ مے شی سوختن
دا ثنا شی د ګوهرو کهٔ د مشکو د عنبرو
کهٔ صفت عبدالقادر کا د ځل یار نازک بدن

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۱۲)

دنیادار په سپیو بولی یا په خرو
ته پرے وے هومره مینه کوے ترو

عاشقان دیار په مخ په شونډو مست وی	مستغنی دی دجهان له سپینو سرو
زما یار په خوب وُده دے چه ویښ نشی	په پیاله کښے ساقی مے تویوه وړو
عام عالم ورته بے بال وپر ښکاریږی	لامکان ته عاشق ځی دعشق په پرو
توکّل زما په خدائے نهٔ په طاعت دے	شیخه! تا زده، ستا طاعت زده، ستا اسرو
په شامت ددے سریو یاران پریږده	شکر داچه اور ته ووری له اورو
بے عمله به هیڅ بنهٔ په چا وُ نهٔ شی	نهٔ په وړو وړو، په پلړ ونونهٔ په ترو
چه دخدائے په یاد مشغول سړے هغه دے	دا غافل خلق حساب دے په خرو مرو

نصیحت وائی همیش عبدالقادرؒ
مردکان کهٔ څوک منی ، له ادیرو

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۳)

غره مه شه د دولت په بام ختو
هر زمان ئے ویره کړه له پرېوتو

ډېرئے هسک کړل بیائے وویشتل په مزکه
هسکول د چرخ په نیت دی د ویشتو

له اوله پیدا پر د محبت کړه
که آسمان ته قصد لرے د الوتو

چه ئے مینه د بنه مخ په زړه کښے نه وی
د مغو مخونه نه دی د کتو

مائے ځان د ده له سپیو سره مل کړه
یوه ورځ ئے راته ونه وے چه تو

چه رند ے نه شوے دیار په جدائی کښے
خوښ یم اوس د دوارو وسترګو په وتو

تونګری په قناعت شی، نه په زرو
سفیدی بویه د زړه، نه د ویښتو

خان[۱] خوږه کړه تر فارسئی عبدالقادره
که پخوا وه ترخه ژبه د پښتو

---

۱ مطلب خوشحال خان خټک دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۴)

داچمن به تل زیبا نهٔ وی په ګلو
نهٔ به تل باندے غوغا وی د بلبلو

نهٔ به تل سروے سرسبزه وی په باغ کښے
نهٔ به تل چنار زر ویش کا په منګلو

نهٔ به تل آبشار دا ښے په فریاد وی
نهٔ به تل د باد نڅا وی په سُنبلو

نهٔ به تل نارے سُورے وی د مستانو
نهٔ به تل ښے په جوش وی خُم د مُلو

نهٔ به تل عبدالقادر موشګافی کا
نهٔ به تل جهان خوشبو وی په کاکلو

## (۱۱۵)

چاموندلے دے نارے وهی هُوهُو
څوک طالب ځنی پوښتنه کا کُو کُو؟

عرشیان ئے پرسش کا له فرشیانو
فرشیان پسے هم ګرځی په سُوسُو

ددویئی خبرے مه کوه مطربه
په نغمه کښے یو یو وایه نهٔ دُو دُو

چه راغلے له عدمه دے وجود ته
آواز یو تر بل کوی چه به ځُو ځو

دځوانئ شاهین یاغی شو رابه نهٔ شی
که فریاد عبدالقادر کاندی تُو تُو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۱۶)

ستالیانو بازار سوړ کړ د شکرو
هم د غابښو قیمت کم د مرغلرو

نهٔ په زوړ په لاس کښېوزی، نهٔ په زړو
خدائے دِ نهٔ کا څوک مېن په زوړ ورو

مارخوړلی په فریاد پورے خندا کا
دهٔ لا درد لیدلے نهٔ دے د ښښرو

تولول، کښېنول د زړو ښځے کاندی
ورکول بازل ئے خوی خصلت د زړو

چه ژوندون ئے وابسته په سړو لمبو دے
عاشقان دی په معنیٰ دسمندرو

مخ ئے گنج دے دواړه زلفے ئے ماروته
سربازان به گنج اخلی د اژدرو

چه له یاره سره واصل توانګر هغه دے
خدایا! شمار عبدالقادر کړه له تونګرو

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۱۷)

هم له بدو سره ښهٔ کړه هم له ښو
د ښو بدو له غمونو شه په څښو

خاکساري لره کول دي د خودۍ سړے — نهٔ چه کیږي خاکساري په خاوړو مینو
په جهان چه زلزله د حوادث شته — تر قصرونو جونګړې ښې دي د وښو
د خیمو میخونه وکاږه فرّاشه — فریاد ونه درته کا جرس د کښو
مرګ له تنده، په مذهب زما بهتر دے — نهٔ ژوندون د دون همت په اوبو څښو
خرخښے د سر له سره ژوندون را کا — زهٔ قربان شم یاره ستا تر خر خښو
کشکې زهٔ د وږدو زلفو تار وے — چه همیش مے اېښے سر وے ستا په پښو
هسے رنګ توبرے مات دے په خاطر کښې — چه عاجز ے طبیبان شول له وکښو

د خپل زړهٔ په تخته کښه عبدالقادره!
په کاغذ د عشق ویل نهٔ دي د کښو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۸)

راته څۀ وائې چه "وایه زړهٔ دِ چیا یوړ"
بې تا څوک دی مالیدلی وایه "تا" یوړ

په ژړا ژړا مې زړهٔ له کښلیو خلاص وو
په خندا خندا ئې نن راڅخه بیا یوړ

چه د عشق جمال جلوه وکړه عالم ته
تر مقرې د منکر خاطر پخوا یوړ

دلبرئ ته په ښکاره د رحم زاهده!
بیا به وائې چه ئې زړهٔ زما په غلا یوړ

شیرین ځان شیرینې ځار تر خپل مئین کړو
په دا کار ئې کوئې له کښلیو د وفا یوړ

له اجله ئې هورې خلاصې وُ نه شو
ځان ادریس له مزکې پاس کهٔ په سما یوړ

د باد وُړیو څوک پو ښتنه کا چه څهٔ شو
بیا به بخت په لاس کښېوزی چه هوا یوړ

چه دُنیا ئې پخپل ځان باندې تنوړ کړه
و فلک وته ئې ځکه مسیحا یوړ

په بوسه مې ئې خاطر چرې ښهٔ نهٔ کړ
دا ارمان عبدالقادر لما پخوا یوړ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۹)

مهٔ شه خوښ د بادشاهئ په تخت ختلو
همیشه ئے غم کوه د پریوتلو

هغه لیندے ورته ناست، لیندهٔ ځکوے — چه هاتی ئے سروتیر ځی له ویشتلو
هر دنیا پردے به سکوں دِتا په ځان شی — داچه اوس ئے خوښی کړے په اخستلو
چه ئے اوس کړے په مظلومو ردے ردے — غافل مهٔ شه د دیوسترګو دُوتلو
چه پیشه ئے همیشه دِل آزاری وی — دهغو مخونه نهٔ دی د کتلو
ځکه تل کړے په زردوزو جامو کبر — چه غافل ئے د کفن له اغوستلو
داجل د ستورِ و تاخت ناګهانی دے — په هیڅ کور ئے نهٔ خلاصیږے لهٔ نتلو
چه د باز وزر دِ جورِ وو ښکار دِ نهٔ کړ — د کور پرنهٔ وی قوّت د الوتلو

هغه زړهٔ عبدالقادرهٔ چه مړده وی
په کوکل د ننه نهٔ دے د ساتلو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۲۰)

راشه گوره ننداره د فاسقانو
دَم وهی د خدائے د خاصو عاشقانو

خپل کردار ئے شاهدی لی په دروغو — کهٔ په خلهٔ کاندی وئیل د صادقانو
په کردار اهل شمال ورځنی عار کا — په گفتار کښے سبقت کا تر سابقانو
دعصیان بیمار رمق لری په تن کښے — الغیاث د دیو دخوځنو، حاذقانو
چه گناه په خندا کا ژړا ئے نهٔ وی — دا خصلت دے د همه منافقانو
په لیدو به دِ لا کله مشرف شی — اشتیاق شو هر کور ډیر د شایقانو

مرگ ئے سل ځله بهتر له حاضرانو
دے بنده عبدالقادر له آبقانو

## (۱۲۱)

ترے قربان شه سل بنا دئ د بنا د منو
رَبه! مهٔ وړه خپل غمونه له غمژنو

هر آشنا چه زړهٔ را یاد کا زما مرگ دے — زهٔ فراق ځکه پاره کړم د مئینو
د بیدردو ته دعا کړم که دردمند شی — خدائے درد را بنکاره مهٔ کړه د درمنو
په وار وار به باغ خالی شی له گلونو — نن بلبلو دا آواز کا وو په ونو
بدان واړه د بدانو صحبت بد کړل — ډیر پمن دی پمن شوی له پمنو
ډیر گردونه دی سوارهٔ ځنی بنکاره شی — د خوارئ ئے نظر مهٔ کړه په گردمنو

ومعنو ته فهم کړه عبدالقادره!
چه نظر کړے د جهان په اُوبو پلنو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۲۲)

بارے شکر چه دهر څهٔ نن فراغ یو
مخامخ له یاره ناست په لاس ایاغ یو

که مو عمر د چمن له ګلو کم دے — د لاله غونډے سرخرو د زړهٔ په داغ یو
خزانه د قناعت راته حاصل ده — تر شاهانو لا په کبر په دِماغ یو
تعلق لکه نسیم ورپورے نهٔ کړو — ننداره لره راغلی ددے باغ یو
نن زمونږ جونګړئ ډیاره په مخ رڼا ده — مستغنی له روښنائی نے د چراغ یو

کهٔ ظاهر مے خلق ګڼړ وینی له خلقه
په باطن عبدالقادره! سره په داغ یو

## (۱۲۳)

مهٔ دِ وینم بیا سی په سترګو تورو
زهٔ په تابانده مئین یم، تهٔ په نورو

هیڅ حرمت ئے لکه حق دے پڅائے نهٔ کړے — میلمه شوے وو یوسف په کور د کورو
په بنهٔ خوئ به څهٔ پروا کړم له بدخویو — قیمت کم نهٔ شو دُر په اوبو شورو

---

نن زما جونګړئ رڼا دیار په مخ ده (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۲۴)

چه آخر ځنی شلوهٔ شی په ارمان زړهٔ
څوک به څهٔ لره ترړی په دا جهان زړهٔ

ددے باغ له ګلو بوټیں دوفا نهٔ ځی
بړ[1] ناحق بائیلی په دویو بلبلان زړهٔ

چه په خیال دیار دزلفو پریشان دے
جمع مهٔ شه تل ے وسه پریشان زړهٔ

سخت بے رحمه بے پروا لکه چه ستا دے
په جهان کښے به بل نهٔ وی په دا شان زړهٔ

په هر ځائے چه ئے دلبره هم هورے وی
په کوګل کښے ساقی کله بیدلان زړهٔ

خدایا! څهٔ دِ په نادان کښلی میٔن کرم
چه بے جرمه بدوی په هر زمان زړهٔ

قرب[2] اوبعد، وصل هجر ورته یو شی
چه ئے بیا موندهٔ مکان په لامکان زړهٔ

د دوزخ آتش ے سل ځله قبول دے
خدائے ے مهٔ کړه د هجران په اوربریان زړهٔ

بنګ شراب، سرود کوه عبدالقادره
خو یو مهٔ کړه آزرده د مسلمان زړهٔ

---

۱ بر ناحق په دی بائیلی دا بلبلان زړهٔ
۲ قرب وبعد وصال هجران به ورته یوشی
(خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۱۲۵)

چې په کښلیو مُبتلا شي لکه زۀ
همیشه په واویلا شي لکه زۀ

سرګشته حیران پریشان ګونه بد رنګه
خوار خسته تر مجنون لا شي لکه زۀ

دهر چا ناسازې وړي په تورو د مېنې
خانمان به ئې تالا شي لکه زۀ

نۀ به آه کا نۀ به فریاد نۀ به ژړا کا
ګل روزګار به ئې په غلا شي لکه زۀ

محبت به ئې پرې نږدی ومانړی ته
بې ریباره به پخلا شي لکه زۀ

لا به شي تر دا بد تر عبد القادره!
چې اخته په دا بلا شي لکه زۀ

## (۱۲۶)

هاچې بائیلو د دلبرو په وړ بل زړۀ
پریشانی ئې کړه په بخره تل دخپل زړۀ

کۀ یو ځل دیار د زلفو په تار بند شي
خلاص ئې مۀ کړه خدایا! بند مې لره تل زړۀ

په جفا به د زړۀ بد شي که ئې ورکرم
ترخپل زړۀ پورې تۀ قیاس وکړه دبل زړۀ

په شړلو مګس نۀ درومي له قند و
ستا له شونډو به لاړ نشي په شړل زړۀ

چې صورت د ښو یارانو ورې لیده شي
په وجود کښې ځکه غوړ کړۀ کتل زړۀ

کۀ دولت دے کۀ حشمت پکار ئې نۀ دی
په جهان کښې خو هم کښلي وپسندل زړۀ

لکه باد د سبا نغښتې غنچه واکا
شګفته شي د دلبرو په لیدل زړۀ

ورته تیر عبد القادر تر سرو مال دے
کۀ خوښېږي د دلبرو په نتل زړۀ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (١٢٧)

تهٔ ورده ومه اوس خپل ځان لره خپل کار کړه
چه دِ زړهٔ بانده بنهٔ کېږی هغه یار کړه

مونږ مارهٔ شو ستاله نازه ستاله خیاله
له دے پسه بل په دا ناز خریدار کړه

په باطن لکه اغزے په صورت ګل دے
دا سزا زما چه مینه مے په خار کړه

چه خبر دِ په وار وار شوم له احواله
منفعله دِ لولیه د بازار کړه

په وعده په سوګند هیڅ پروادار نهٔ ئے
په دروغ دروغ ویلو افتخار کړه

عاقبت به ئے پیالے د ندامت څښی
آشنائی چه له نادان سره هوښیار کړه

بے اختیاره زړهٔ دِ کښینیو په لوړ دروی
مابه مینه په تا کله اختیار کړه

که وفا غواړے یاری کا له اصله
زړهٔ چه مینه په بدذات کوی ځان خوار کړه

چه په طمع آشنائی کا یا له ویرے
د هغو له آشنائی نے ځان ویزار کړه

کهٔ په ځړوی لکه ګل چه بے وفا وی
هغه یار عبدالقادره ترسپی ځار کړه

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۲۸)

وینځه کهٔ اصیله وي کهٔ توره وي کهٔ سپینه
کېنلې شي له حورو چه پرې ورشي د زړهٔ مینه

شهد که نابات دي، که څهٔ شته شیریني نوره
مینه ده که کوړې چه تر هر څهٔ ده شیرینه

خیال ئې د زلفینو که مار ورباندې پروت وي
نهٔ پرېږدي و زړهٔ ته بله مینه چه ورځینه

سل زخمه کهٔ وخوري، ترې به یو څاڅکې پرې نهٔ ځي
هسې رنګه وُچه د صورت کا مینه وینه

خوب به ئې بدل په بیداري خوښي به غم شي
هر چه ئې په زړهٔ کښې د دلبرو مینه وینه

یار په سواد نهٔ دے که د زړهٔ مینه پیدا کړے
مینه هسې څیز ده چه نزدې لرې کوینه

څهٔ عبدالقادره! په خُلهٔ مینه مینه وائې
ځو دِ لا وُجاړه نهٔ ده مینه نهٔ ده مینه

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۲۹)

چه د ځیله آشنا ښهٔ لری ګیله
له نور چا نه به په څهٔ لری ګیله

نه عارف دچا په ښو شکر کړ زړ دے
نهٔ په بدو د دښنه لری ګیله
انګوری ترخهٔ شراب ورلره ښوییه
میخواران له ګبینهٔ لری ګیله
چه بے تاثے غروم دبل و مخ ته
په دا خوی لما لیمهٔ لری ګیله
هیڅ ایسار ئے پکښے نه وکړ ترے پریوت
له ناوکه مے ئے زړهٔ لری ګیله
چه جار و مے ستا در وخاوره نهٔ کړه
دیر زما لما بانړهٔ لری ګیله
بد و بد ته ښهٔ ښکارېږی ښهٔ و ښهٔ ته
ښهٔ له بده، بد له ښهٔ لری ګیله

ښهٔ که سرے ترے قربان عبدالقادر کړی
بیا ترو وے یار له دهٔ لری ګیله

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۳۰)

جګي جګي آواره زما تقصير کړه
عنايت مهر په ما پر روئ د پېښ کړه

هر ستم زما قبول شرط دِ نهٔ وي
ما داخل د خپلو سپيو په زنځير کړه

ګرد غُبار د ما نړي لرے کړه له دِله
لکه وو تر هغه زيات صفا ضمير کړه

د غمزے په تير دِ ډير عالم زخمي دے
مونږ هم بارے سرفراز په يوهٔ تير کړه

داکوم مهر کوم انصاف کومه ياري ده
په وېلو د دشمن مئين زهير کړه

د وصال عمر د برق غوندے زر تير شي
يار چه اوس در ته حاضر دے ښهٔ ئے څير کړه

يار ته وے عبد القادر چه "زهٔ دستګير يم"
وے ئے "شکر! خدائے دِ لا تر دا دستګير کړه"

## (۱۳۱)

چه ئے رنګ په رنګ د کينليو د رخسار شهٔ
په ګلونو کښے ګلاب ځکه آبدار شهٔ

چه تشبيه ئے ستا له قد له سره وشوه
سربلند په نورو ونو کښے چنار شهٔ

که طالع د عاشقانو تور نهٔ وے
تور ورېل ئے په مخ ولے تارپتار شهٔ

په عاشق به ئے هميش جور و ستم کړي
ښهٔ چه تير د بنائسته د بنائست وار شهٔ

چه له عمره ئے بر نور وګړے وخوري
هم هغه له خپله عمره برخوردار شهٔ

هيڅ منت د بل ديبار په ما بار نهٔ دے
عشق زما او د معشوق ترمينځ ديبار شهٔ

اوس دِ ځان و غم ته ساز عبد القادر کا
چه د درست جهان بدخوئ ور دده يار شهٔ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۳۲)

خوش له وصله نهٔ شوم د هجران له غمه زهٔ
نهٔ کړم په ګل مینه د خزان له غمه زهٔ

خلق راته وائي چه زحمت دِ لا دوا دے
لا مِنهٔ چه دے خلاص شوم د درمان له غمه زهٔ

سر دے په جهان کښے د همه واړو بنا د یو
نهٔ دِ شم بیغمه د خوبان لهٔ غمه زهٔ

زهٔ چه د خپل یار په کوڅے کښے کښیناستم مقیم شوم
کښیناستم بیغمه د جانان لهٔ غمه زهٔ

اوس به له دے پسه د خپل ځان په غم اخته شم
ډیر په زړهٔ زهیر شوم د جهان لهٔ غمه زهٔ

غم دے له ازله په نصیب د عاشقانو
ځکه نهٔ خلاصیږم یو زمان لهٔ غمه زهٔ

ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق وُو دے
رشک به کړم په وښکیو د یاران له غمه زهٔ

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۳۳)

که خبرے شے له خوږ خاطره ستهٔ
شپه او ورځ به په ناروشے لکه زهٔ

څو تاؤنه باندے تیر شی چه پښین نی
د پښو په حال خبر نهٔ دی او مهٔ

که د سوے چرے زړهٔ د عشق په اور وی
ستا به هله زړهٔ په سوؤ باندے سوهٔ

شاعران ئے له لذته خبر نهٔ دی
چه نسبت ئے کا له شونډو ګبینهٔ

عام عالم له حقیقته خبر نهٔ شول
د تقلید خندا کوی لکه کانړهٔ

د دنیا په تلهٔ راتلهٔ پروا دار نهٔ یم
غم ښادی مے شی د یار په تلهٔ راتلهٔ

ښهٔ دیدن لکه آواز د روح خوراک دے
ځکه میڅوک مړهٔ نهٔ شول په لیدهٔ

ښائسته د میچا نهٔ دی د چیل زړهٔ دی
هغه خوار شی چه وکښلیږ ورکا زړهٔ

خلهٔ چینه ده د حیات مځے ئے آتش دے
چا وے دا چه یوځائے نهٔ دی اور او یهٔ

کوړه یا د کوم کمبخت سړی په خُلهٔ شو
سل ښکنځل راته کوی چه غواړم خلهٔ

تل ترے خواست عبدالقادر کا دیاری ئے
یار هرګز ورته ؤنهٔ وایهٔ چه ښهٔ

## (۱۳۴)

ساقي هسې پياله را کړه رندانه
چه په څښل ئې لايعقل شم ديوانه

سړ زړه له خلقه تښتم وصحرا ته د مجنون غوندې چل ځائې کړم ويرانه
دمقصود ميوه هله ورځنې وُخوري چه په خاوړو کښې ځان نيست کاندي دانه
چه پکښې دبناګُښته وُ د مخ خيال دې دې زما خاطر دچين نګار خانه
له غيرته مې خاطر پاره پاره شي چه ئې ګُټې په ويښتو ومې شانه
دبهار په وخت محتاج دمطرب نهٔ يم راته بس ده د بلبلو ترانه
هره شپه هنګامه کرمه کړم په کوټې کښې ګُندې راشي بناګُښته په دا بهانه
چه هوائې وبائيللو ته دسرشي غواص غواړي په صدف کښې دُر دانه

سر به سل ځله ترې ځار عبدالقادر کا
که دسر په ښندل مومې جانانه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

(۱۳۵)

چه راوړے ئے له اصله دے له خدايه
بوټي به څرنګ ځي له منګو راته وايه

د ښيښے قلقل سرود دے د مستانو
مستغني له دُف او چنګه دي له نايه

نور عالم وته صفت کوه د حورو
مُلا ما وته نور بے يار مه ستايه

نو هم تا ته ښکاره نه دي پرده پوشه
دا زما عيبونه نورو ته مه نمايه

چرے نه عزيز ذليل، ذليل عزيز کا
په ناهلو سيورے مه کوه هُمايه

په افطار کښے ئے د زړ روژو ثواب دے
يار چه نيسي درته مټے روژه پرے کشايه

مرګ ئے سل ځله بهتر دے تر ژوند وته
په [1] هجران کښے د عاشق مه بيوه خدايه

چه ديار په ديدن موړ عبدالقادر شي
که ئے بيا ئے له دُنيا هاله ئے بيايه

---

[1] په هجران کښے عاشق مه پايوے خدايه (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۳۶)

مخ لکه [۱]آفتاب و خپل میږن ته ځلوه
زړونه د غمازو لکه موم پرے ویلوه

ستا ترخهٔ ویُل به ما خوږ نهٔ لګی ترقندو
بے له ما مشتاقه ئے به بل مهٔ څکوه

ګوری و آسمان ته هیڅ نظر نهٔ کا ویښو ته
ډیر به کبر دړوی خدائے ئے مهٔ درغلوه

ډیرے کښلے جونه مالیدلی دی به ستړګو
ړوند د شمله کهٔ تا غوندے به حسن بلوه

زور د غابښو مهٔ کړه مخ ئے صاف تر آئینے دے
زخم به پرے وشی به وږو وږوئے کښلوه

عمرے به کم شی کهٔ ئے تار د زلفو کم شی
فهم کړه اے ډمے! ږ منځ پرے وړو وړو چلوه

لاړ تر منځه بند شو هیڅ ادراک دور تلو نشته
اوس دیار په لور قاصد د وښکیو زغلوه

ګل دے د مقصود د باغ کهٔ زړهٔ د چه غوړیږی
تل سحر سحر شبنم د وښکیو تلوه

زړهٔ ئے چرے نهٔ وی رقیبان له تانه تورکا
یو زمان له ځانه خپل دلبر مهٔ بیلوه

دا غزل جواب دخان د هغه غزل کیږی
"خدائے [۲]له خپله یاره نه هیڅ یار مهٔ بیلوه"

پرے به دهٔ چه تنګ غوندے پرے وسوزی ځان خلاص کا
څراغ د مخ ښکاره عبدالقادر ته بیلوه

---

۱ ګوره دیار مخ ته بیا لیمهٔ پرے ولوه
زړونه د بدرنګو رقیبانو ویلوه

دا د خوشحال خټک د هغه غزل مطلع ده چه عبدالقادرخان پرے دا غزل وئیلے دے .

۲ زهٔ د بیلتانهٔ په حال خبر نهٔ وم خبر شوم
خدائے له خپله یاره نه هیڅ یار مهٔ بیلوه (خوشحال خان خټک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۱۳۷)

چې پیدا دے هر محنت په دا دنیا څهٔ
په جهان تر بیلتا نهٔ نشته بلا څهٔ

هغه دَم چه دواړه میُن جُله بیلیږی
کهٔ باور کړے نو ربه سخت نهٔ وی تر دا څهٔ

یو زمان تنها له خلقه راته کښینه
چه ئے ؤوایم ، لرم ورته پخوا څهٔ

چه دا هسے ئی خبرے په نا خوال کړے
چابد خواه درته وئیلی دی لما څهٔ؟

هیڅ باور ئے په وعده بانډے ؤمهٔ کړه
بناسُته څهٔ ، په وعده بانډے وفا څهٔ

بیهوده دکلو پاتړے خورے نهٔ دی
په رموز ورته وئیلی دی سبا څهٔ

د رقیب خبرے مهٔ کوه وَماته
څهٔ غرض زما په دهٔ ، ودهٔ په ما څهٔ

سردرلهٔ عبد القادر ترتا ئے ځار کړ
خدائے دِ نهٔ کا چه به دریغ لری لتا څهٔ

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۳۸)

کهٔ خانی کهٔ ملکی که سلطانی دہ
کهٔ ګورې بېهوده سرګردانی دہ

مرګ ژوندون بےکښلیو واړہ مساوی دے
بنا نسته وُ ته پکار زندګانی دہ

په نصیب زما د زړهٔ دیار د زلفو
له ازله بخره شوے پریشانی دہ

له مستئ مے شیشه پریوته له لاسه
ساقی! قهر راته مهٔ کوه ځوانی دہ

د هوښیارو په غلطئ قهر عتاب شی
معذرت د نادانانو نادانی دہ

یا به سوزی د چا ځونه یا به خون کړی
چه اغوستے ئے جامه ارغوانی دہ

د عشق بوټی به ئے د ګور له خاوړو دړومی
د هر چا چه د خپل یار مینه جانی دہ

خرابات لره به ځم له صومعے نه
چه پکښے د دوارو کونو امانی دہ

ترنګین د قناعت لاندے جهان دے
که دا کښته کړے په ګټه سلیمانی دہ

سرے سرے وښکے دِ په مخ عبدالقادره!
وخپل یار ته دیاقوتو مهمانی دہ

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۳۹)

چه په زړه کښې ئې پرته وی د سر مینه — بیا به نهٔ موی هرګز د دلبر مینه
چه تلخی د بیلتون شته وبه ئې نهٔ کړم — کهٔ خوږه ده لا تر شهد و شکر مینه
لکه زر تر خاص وعامه پوره زر وی — هر سړے چه کاندی ډیره په زر مینه
ماته بوئیں د ځپل آشنا د زلفو بس دے — کهٔ نور خلق کا په مشک وعنبر مینه
په لباس د کهد ایئ لکه بادشاه دے — په هر چا باندے چه وکا اثر مینه
تورے خاورے ئې سند شی اورنګ پریښ دی — شاهجهان د زمانے کا نفر مینه
د دُنیا میں همیش په زړهٔ رنځور وی — ځکه نهٔ کا په دُنیا قلندر مینه
د پیغور ناوکی هیڅ اثر پرے نهٔ کا — عاشقان لری په مخکښې سپر مینه

نور تمام له عیبه ډک عبد القادر دے
یو لری په ځپل وجود کښې هنر مینه

## (۱۴۰)

نن په رازوانۍ رازدار لما سره
بویه داچه غیر نهٔ وی را سره

په بوستان کښې غوټۍ ځکه هسے واښوه — چه پرے راغے د تا بوئیں سبا سره
بادشاهانو سره غم د درست جهان دے — دیوے ډوډۍ ئې غم ګدا سره
لږ اوره کاندی د نمر روښنائی کمه — بد دے نهٔ شی یو زمان له چا سره
صرافان به ئې زما په مخ واوځی — دا زما عمل روپۍ دی را سره

بناسته کله د چا سره وفا کا
چه به کا عبد القادره تا سره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۴۱)

یا مجنون شوم خوی ے نور شۀ یا ستا عشق راباندے زوړ شۀ
یا ستا عشق راباندے زور شۀ یا مجنون شوم خوی ے نوړ شۀ

غم هاله زما په کوړ شۀ چه په تا باندے مئین شوم
چه په تا باندے مئین شوم غم هاله زما په کور شۀ

بیا دخیال په سمند سور شۀ څو وکړی به پائمال کا
څو وکړی به پائمال کا بیا دخیال په سمند سور شۀ

راښکاره دِ زوړ وشوړ شۀ اوس به څۀ لما خلاصیږے
اوس به څۀ لما خلاصیږے راښکاره دِ زوړ وشوړ شۀ

په معنیٰ ژوندی په گور شۀ چه دیدن د کښلیو نۀ کا
چه دیدن د کښلیو نۀ کا په معنیٰ ژوندی په گور شۀ

دګلونو ے زړۀ تور شۀ پکښے بوئیں دوفا نشته
پکښے بوئیں دوفا نشته دګلونو ے زړۀ تور شۀ

عندلیب ولے په شور شۀ په وصال کښے نارے نۀ شي
په وصال کښے نارے نۀ شي عندلیب ولے په شور شۀ

درست صورت ے لکه اور شۀ زنهار مۀ بلوسه راباندے
زنهار مۀ بلوسه راباندے درست صورت ے لکه اور شۀ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


په درياب کښې کله شورشۀ چه په اصل ګوهر خوږ وو
چه په اصل ګوهر خوږ وو په درياب کښې کله شوړ شۀ

خيال ديار د وړوکو نورشۀ پرې ريبي د ذرۀ وُ دے
پرې ريبي د ذرۀ وُ دے خيال ديار د وړوکو نور شۀ

چه وړبل ئې په مخ خورشۀ دنړا ورځ را بانده شپه شوه
دنړا ورځ را بانده شپه شوه چه وربل ئې په مخ خورشۀ

دهغو چه وُلي سپورشۀ څۀ ئې مۀ ګنړه چه هيڅ دی
څۀ ئې مۀ ګنړه چه هيڅ دی دهغو چه وُلي سپورشۀ

چه نظرئې په بل لورشۀ خوارشوے اوس عبدالقادره
خوارشوے اوس عبدالقادره چه نظرئې په بل لور شۀ

★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۴۲)

چه د ہجرو ویش په ورځ د میثاق شهٔ
د چا وصل په نصیب د چا فراق شهٔ

د آشنا له لوریه خط راالره راغے — بیا مے اوس په زړهٔ تازه د اشتیاق شهٔ
خدایا! نور دیار بیلتون رانسکاره مهٔ کړے — د زړګی قوّت مے کم طاقت مے طاق شهٔ
هر محنت چه ئے په عشق کښے وو ځکولے — هم هغه سبب د قُرب د عشاق شهٔ
د لیده و لذت ئے څو دے نهٔ پوهیږم — چه په یاد مے ئے دا هسے خوږ مذاق شهٔ
چه دنیٰ په نغښته دړه د مې زړهٔ آزار کا — و دوزخ وَ ته تیار شی هغه عاق شهٔ
د عقبیٰ د ناوے عقد ځکه ګران دے — چه ئے مهر هم د دے ناوے طلاق شهٔ

ځان او زړهٔ عبدالقادر درلهٔ، یار یوړهٔ
نور حساب به ځنے څهٔ غواړے بے باق شهٔ

★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۴۳)

له همه واړه عالمه صلح کُل شه
وَبنو بد و خوشبوئ ورکوه گُل شه

تعلق په تېرېدونی هوس مهٔ کړه      په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه
دُنيا جسر آخرت ده ياده شوے      دسيلئ غونډے زرتېرېه دغه پل شه
دسبب توانګری عين نيستی ده      توانګر په خزانو دتوکُل شه
اضطراب به دِخلاص نهٔ کا له قضا نه      مستقل ورته په صبر وتحمل شه
هُمان دعشق په اور لوګے لکه سپند کا      هم په دا بوا نه ځار ترېنهٔ کاکل شه
په تاخير کښے آفتونه پيدا کېږی      معطل مهٔ کړه ساقی په داد رِسُل شه
سترګے مهٔ وُچوه يو زمان له نمه      تل په زړهٔ تروتازه لکه سُنبل شه

خوشحال نيت عبدالقادر ه يار ته سم کړه
بے پرواه د بدګويئ د چغل شه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۴۴)

محبت دِ چه د چا په زړهٔ محکم شهٔ
هم ځغد په حقیقت کښے ستا صنم شهٔ

په دالاره تلهٔ په سترګو پهٔ ندی شی
څکه پا تو د ناقص ځنی قدم شهٔ

چه هر دَم ئے پریکوی د عمر وُنه
په مثال لکه آره د سړی دَم شهٔ

کښکے ما مِهر د یارلید لے نهٔ وے
په هجران کښے ئے سر مهر راته غم شهٔ

چه ژوند ئے پرے کړیدم د آشنا درد وو
اوس پوهیږم وُیه مرم چه درد مے کم شهٔ

کږ وراست پخپل ځائے وار ه زیبائی کا
د دلبر وروځے کږے قامت ئے سم شهٔ

چائے شمار نهٔ کړے حلقے د تورو زلفو
په فکرت ئے ډیر وګړے پسے خَمْ شهٔ

چه په هجر کښے ئے وُنهٔ مری لا پائی
په تحقیق عبدالقادر تر یاره کرم شهٔ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۴۵)

څو د عشق په اور دِ نهٔ دهٔ ویلے وازده
کهٔ دعویٰ د عاشقئ ئې وکړې تا زده

ته به څرنګ په داهومړ شتاب درومې — چه دا لار د ځړه زو او دیکتا زده
نا امیدې هیڅوک نهٔ درومي له دره — په مرڅائ ئې د کرم دروازه بازده
د طاؤس وزر طاؤس لره بلا شي — بنا د ونئ په قفس کړې خپل آواز ده
هُنر مند د خپل هُنر په لومه بند شي — دلیري د باز بلا په ځان د باز ده
لوئ وُنې سیلئ پرېباسي، نهٔ بوټي — عاقبت سرنګوني د سرفراز ده
د غماز وینا وارؤه مهٔ اروه — چه وینا ئې دوست ګداز دُښمن نواز ده

سرساته په مذهب د عاشقانو
له آشنا عبدالقادره! لا جواز ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۴۶)

خدایه مهٔ کړې د هیچا په کور کښې غوټه
زړ چه غوټه شي یا کانړے شي یا لوټه

که په رنګ د ختکې ئې په داغهٔ شو — چه مزه د ختکې نهٔ لري پچوټه
ساقي ډکه پیاله را د هغو میئو — چه ئې څښونے شي بیخود له یوه کوټه
چه سودا کا بے دکبنلیو له بنهٔ مخه — عاقبت به د هغو سودا شي تروټه
حال د واړو په وار وار راته معلوم شو — مهٔ دِ وینم په خُله سپه په زړهٔ جهوټه
ماتے ماتے زلفې بیا په مخه راغله — چهوړه خلق یې هم ما را توبه تهوټه
تر هغو زلمیو ځار عبدالقادر شه
چه دُنیا ئې کړه د ځان د وړاندے لوټه

## (۱۴۷)

چه د لے هوړے د مرد پرده پوشي ده — خاموشي ده، خاموشي ده، خاموشي ده
په سبا به حقیقت درته معلوم شي — چه نن شپه دِ تاله چا هم آغوشي ده
په کوشش چه نهٔ زیاتیږي ځائې بخرے — شکه بهتره وَسرې ته کم کوشي ده
کله لب په لب د یار کله په جام بردي — هسے رنګ د نیک بختانو مئے نوشي ده
په قیامت به له قیامته خبر نهٔ شي — چه ئې ستا له ستر ګو شوے مدهوشي ده
چه ئې یاد په هر ساعت په هر ساه ئې — له هغوته و لے ستا فراموشي ده؟
تر ناقصه هوښیار ئې عبدالقادر ته
په سل زر مرتبے بهه بے هوشي ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۴۸)

داوینا ئے د بیمار خاطر شافی دہ
یوہ زرہ لرہ یوہ مینہ کافی دہ

پہ ازل ئے زما دُرد د نورو صاف کڑہ
لہ ساقی سرہ زما سینہ صافی دہ

دہر کل احسان ئے داغ پہ خاطر ایښے
د ځوانمرد سینہ داغ داغ پہ تلافی دہ

چہ لہ نورو د انصاف طمع لرینہ
پہ مذہب زما ھم دا بے انصافی دہ

سخندان بہ ئے پہ کومہ خُلہ بیان کا
ستا دَ خُلے تشبیہ راوڑہ موشگافی دہ

ابلہان بہ ئے باور پہ آشنایئی کا
دہر چا چہ پہ وعدہ کښے خلافی دہ

د زر نفتو پہ وُدو بہ څہ پوهیږی
چہ پیشہ ئے ھمیشہ کرباس بافی دہ

هیڅ پیغور د عصیان مہ کوہ وَ ما تہ
ترگناہ ے د دوست زیاتہ معافی دہ

مرد ئے مہ گنړہ چہ لافے بے کروے کا
مرد کردہ بے لافو کا، ښځہ لافی دہ

د خپل ځان د یارہ نیم دِرم اسراف دے
چہ پہ بل خوُنہ ښندے بے اسرافی دہ

خوښ دا عبدالقادر تہ بیا بیا وایہ
یوہ زرہ لرہ یوہ مینہ کافی دہ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۴۹)

چه ژوندون د دې جهان جاودان نشته | په هر حال کښې چه ګذران شي ارمان نشته

نوم ئې ځکه د جهان په جهان کښېښو | چهنده د بې قرارۍ ئې زمان نشته

چه هغه له زیانه خلاص تمامي سود شو | چه په زړه ئې غم د سود او د زیان نشته

دهر خان چه نه دوړې وي نه ئې تورې | بنه ئې جواب ئې دربان وُکا چه خان نشته

که حاسد ئې په زوال د نعمت ګرځي | څه ئې کیږي ترې ئې ویره چندان نشته

په ژړا که تورې د سترګو سپین کړم بنائي | د یارانو نخښې ویمم یاران نشته

ځان هاله عبدالقادره چه جانان وي
په صورت بانې ځان بار چه جانان نشته

## (۱۵۰)

د مردانو هغه شته چه د تا نشته | وا په مځ چه زمانشته د چا نشته

سترګو ربه څه باور پرې باندې کاندې | که ړانده نارې وهي چه رڼا نشته

د سبا په حال غنچې د نوبهار زده | د خزان وهلی وائي سبا نشته

د دنیا زامن په خوئ د خپلې موردي | بیوفا دي پکښې بوئیں د وفا نشته

په منکر باندې لیوه په ما یوسف ئې | په دوه کونه د مخ د لتا نشته

ستا په بوئیں چه هلکي ړانده بیناشول | ستا له بوئیه بې یعقوب په آشنا نشته

واني خار وخس جار وکړه چه زړه درشم | خاروخس خو به هم زړه یم بې ما نشته

هر سحر سترګې د ګل په وښکیو پړ وي | په دا باغ کښې بې ژړلو خندا نشته

هیڅ اندوه د ځائې ځائیږي ورسره نه وي | درست جهان د مغو ځائې چه ئې جا نشته

که طلب د کیمیا کړې کند ئې بیا موې
په دا وخت عبدالقادره رښتیا نشته

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۵۱)

د همه بدیو سر بد آزاری دہ
هومره جور ظلم مهٔ کوه زاری ده

چه په بدو نیکی کاندی مردهغه دے / په نیکئ چه نیکی کاندی خرخاری ده
تا په سترګو زما خوب له سترګو یوړو / بیا وئیل کړے چه د څهٔ دِ بیداری ده
ساقی هومره شراب راچه تمام مست شم / ترنیمګړے مستئ بهٔ هوښیاری ده
یو زمان ے به له ځانه یار بیل نهٔ کړی / ولے څهٔ کړم لاس ے نهٔ رسی خواری ده
قراری آرام دِ کا چه په زړهٔ دوغ وی / په نصیب د خوبدو زړو ناقراری ده
هره شپه راسره مل وی په هجران کښے / ستا تر خیال پورے زما شرمساری ده
چه ے نه موی پرهیز کاندی له کښلیو / را معلومه د زاهد پرهیزګاری ده
په ساتل دخوبدو زړو نهٔ پوهیږی / د زړهٔ څوړ د نادان کښلی یاری ده

خدائے دِ روغ عبدالقادر ورحـئی نهٔ کا
چه ے ستا له سترګو شوے بیماری ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (١٥٢)

كه تر اخځه دي هم شراب د قهر نغره
ظلم جور په چا مه کړه ځيګر وړه

باز چه وينے د ځيګر خوري مرګ ئے زړه وي
له ديو وينو ځان ساته زما ځيګره

هيڅ حاجت د بند زندان ورلره نشته
بند زندان دے دد انا د خټے خيره

د دوران د حادثو غشي ئے نه خوري
هر حليم چه وا غوندي د حلم زغره

چه د زړه تر کمر پريوځي ديزمرين شي
خدائے د پره نه باسي څوک له دے کمره

که سړي په اصل يو دي فرق ئے ډير دے
يو په يو وي، يو په سله، يو په زره

مرغلرے سل اخستے په دينار شي
هم په سل دينار اخست شي مرغلره

كه بادشاه كه امراء ځان به ئے سيال کړے
چه اميد نه کړے له چا عبدالقادره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# (۱۵۳)

زړهٔ مدام راته وئیل کوی چه ژاړه
په ژړا ژړا بیل شوی مئین غواړه

په طلب ئې د دنیا و دانی پرېن ده
لیونیو غونډې ګرځه په اوجاړه

مُصلے د بې ننګئ ورپسې ننګ کړه
د ناموس بچاوڼه تهٔ کړه وې ئې نغاړه

یاد زما د سترګو تورې ګرځید مه
په هجران مې ئې له سترګو دنړا لاړه

بنا لُسته کهٔ د کشمیر کهٔ د بل ملک وی
تر یوهٔ بانړهٔ قربان شه دیار، واړه

د ملک زنځیر دِ نور نیسی په لاس کښې
ما ینولی دی دیار زلفینې دواړه

په خوارئ موندې شی کام له سنګین لانو
په محنت سره سرهٔ زر خیژی له کاړه

کهٔ رضا دِ ده زما په سرلوځی کښې
په خندا خندا راځه په لکه غاړه

تل دیار په سترګو مست عبدالقادر دے
کهٔ نور مست دی له شرابه یا له تاړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۵۴)

په لاره تلمه په مخه راغله یوه دلبره پری رخساره
د نمر په شانې، لا ترې روښانه په کښلي مخ وه هغه نګاره

په قامت سروه په تلو تېزروه آبرو کمانه ناوک مژګانه
په سترګو بازه خونریزته سازه په ویښتو لیله په مخ نهاره

غاړه بلنده خاطرپسنده عنبرین مویه یاسمین بویه
په شونډو لعله په زړه الماسه په سپینو غاښو دُر شهواره

په زنې سیبه بې له آسیبه په ملا ترخیلو ویښتو نریه
شیرین کلامه نازک اندامه ولول ئې زلفې لاله عذاره

بې میو مسته خلهٔ نیست وهسته ډکه له نازه خالی له نیازه
سر ترقدمه ثابته دوغه له هره عیبه پاکه ویزاره

مخ ئې څرګند وو نظر پرې بند وو د مخ شغلې ئې د مخ حجاب وې
په خیال تلله نظر ئې نهٔ کړه کړ وچاته له کبره عاره

له ما غائبه لکه بریښنا شوه په منګله لاړه کهٔ په سما شوه
هیڅ نهٔ پوهیږم چه چرته دا شوه راته وُوایه اې خبرداره

اوس څهٔ چاره کړم چه ئې بیا مومم اې زما پُر روشن ضمیره!
چه چرته دُړ و م په چرته ئې غواړم هدایت وکړه د خدائې دپاره

هوس ئې یو وُړ غم ئې راپرېښو داغ ئې بیا نو ې راباندې کښېښو
مقصود ئې دا دې عبدالقادره اوس پېښې کړه سینه افګاره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

# (١٥٥)

دریغه نور غمونه لږے شوے له دِ له
پکښې غم دخپل آشنا وے تل تر تله

شبنم وَصل دګل بیا مونږ چه خاموش شو
ترے محروسه شوه چه شور کاندی بلبله

بنهٔ چه ژبه دِ قلم شوه په مجلس کښې
شمع! تا چه دخپل سوز قیصه وئیله

عاشق هیڅ نهٔ وو خبر دعشق له سوزه
دالمبه پرے معشوق ته ولګوله

دفانوس په پرده څراغ کله پټیږی
کهٔ ئے مخ په پلویټ وو مالیدله

کهٔ په زړهٔ مے دیار یادو میشته وکړه
دیار خیاله! ته مے پاس په سترګو مله

په ماتم دپروانه چه ځان ئے وسوهٔ
شمع اور په تندی بل کړی ژړیدله

کهٔ په مخ ئے خط ښکاره شهٔ په دا څهٔ شو
په جوهر آئینه کله چا غندله

درسته شپه دِ په ناره وعبد القادر کړی
ته بے غمه په پالنګ باندے خمله

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۵۶)

په خاطر د هومره نهٔ دی الموته
چه ئې وشمیرم وچا وته نمونه

چه نور مینے کا په ښکلیو زهٔ ئې کوډم
درست لړمون مے له پسخا که شو کړمونه

محبت موافقت دے چه واقع شی
نهٔ په سحر په افسون دے په دمونه

چه دِ غم د بیلتانهٔ زمونږ نصیب کړه
مګر نهٔ وو په جهان کښے نور غمونه؟

نوے میاشت به ئې نعلونه، ستوری میخ کړم
که نازک د یار سمن لری سومونه

کهٔ د درد دِ په بے قدرو قدر نشته
ستا دردونه به په سترګو مونږ زغمونه

چه پامال د ننداریو زړونه نهٔ شی
په ورو ورو بږده په نڅا کښے قدمونه

هومره اور د رکښے بلیږی ایرے نهٔ شوے
بلا سخت ئې د عاشق نه لړمونه

چه طالع د سړی نهٔ وی څهٔ پکار، کهٔ
څوک افزون لری لښکر تړی بارونه

ځینه شراب د محبت عبدالقادره!
خو لا ستا د خاورو جوړ نهٔ دی جامونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۵۷)

راشه چه راشي ښادي زما په خونه
مه درومه چه نه دروي زما په زړه سېځونه

نه ګورې که وګورې احوال به دې معلوم شي / ځي چه ځي په مخ زما درو وښکيو ورخونه
مه خانده چه نه خاندي پما پورې اغيار سره / مه کړه په ما مهر کړه که دار کوې له خونه
نه وينم چه نه وينم دلبر جهان په سترګو / مه ليدې چه نه ليدې هرګز کېنلي مخونه
کښينوي چه کښيني ګرد غبار د غم له دِله
شي چه نشي دا په بيدلانو شواخونه

## (۱۵۸)

مونږ ته برناحق عالم وائي پندونه
په چل عقل هر سړی کا انندونه

د نور چا په مونږ څه کار چه امتناع کا / که ديار په مينه سرو مال ښندونه
محبت لکه درياب په زړه راوخوت / د درياب په مخ کښې څوک تړي بندونه
د پيوند په پريکولو فقيري شي / نه په دا چه جُله کېږدي پيوندونه
بې اختياره ورکا وَ ځ شي زړه وکښليو / نه دا کار په مصلحت شي په پندونه
بهائم په خوراک ښخوند کا ، د سړيو / د خبرو په معنو بويه ښخوندونه

چه ژوبه شي ستا بيان عبدالقادره!
په رنګ ترې پيدا کېږي نور خوندونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۵۹)

ناز پروره چه ښکاره کا هاروونه
په سینه ئې د ګل وشي پرهارونه

ته به وائې په ګلابو شبنم پریوت
چه له قهره ئې خولې شي رخسارونه

که یو ځل چرې غلط شم توبه وې مې
په ورځ سل غلطۍ کړي نه ئې شمارونه

ما به تل دیار تلې کښېښول په سترګو
که مې نه درلې بانړه نکه خاروته

په لیدل د بنائسته غزل انشا کړم
عندلیب په ګلو کاندي چیغارونه

د بیانو جړئ هم ورځنه ښته دے
که ئې دواړه تورې نه ښځې دي مارونه

په هیڅ ځائې بانده ئې کتې ایسنوې نشي
دغه دوه سترګې دلا دي کمارونه

داغې وار د ستا دستلو عبدالقادره!
په وار وار یارانو تیر کړه ځل وارونه

## (۱۶۰)

که د نه ده د خپل مخ خیره چرې کینه
آئینه زما د زړه نه ده زنګینه

چه وتور وته نزدې شي هغه تور شي
په ستنه راځني ګرځه تکه سپینه

چه ئې زړه د محبت په لمبو وسوه
د دوزخ له اوره ځه پروا لرینه

توره شپه به په عاشق بانده سپوږمۍ کا
که یلو له مخه واخلی ماه جبینه

وار په وار مې له زړه واړه مینې لاړې
بې له ښکلیو چه هرګز ځنې نه ځینه

د بلبلو له آوازه ئې اثر دے
دا غنچه چه خپل ګریوان پاره کوینه

غیر حق مینې همه واړه حجاب دي
مه کړه نور عبدالقادره په ځه مینه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# (۱۶۱)

ننداره ولاړه راځئ چه پسے ځونه
په اختر به زلمی جونه کا سیلونه

تهٔ به وائې مخ ئې ګل د پېغمبر دے
چه ئې ډمه په مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د ګلو ګرځی
زلمی ګل په دستار بندی په وربل جونه

ځنی دواړه زلفې ډکې کا په ګلو
څوک په غاړه کا د سرو ګلو هارونه

سره او زېړ نمری اغوستی ګلرخانو
تهٔ به وائې سرو ونیول ګلونه

چه ګلونه تولوی سندرے وائی
شرمنده کا د بلبلو آوازونه

درست صحرا په خوشبوئی شی خوشبو کا
په هغه مزکه چه کیږدی قدمونه

په خندا خندا تری دستے د ګلو
استوی وخپل خپل یار ته پیشکشونه

چه له سیله راروانې شی وګوره
ګل لمن، بلبل ئې نیسی استینونه

چه له هسے ننداره و نه ځان وباسے
شیخه! ورک شه ستا بے وخته خلوتونه

کهٔ دین د بناسته ویکښے نهٔ وے
چا به څهٔ کړهٔ استهٔ واړه جنتونه

کهٔ آواز دے کهٔ دین د روح خوراک دے
نفسانی دی بانده نهٔ کا غرضونه

تېرشو واره عبدالقادره رابه نهٔ شی
کهٔ ژړا کړے کهٔ فریاد کړے که آهونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶۲)

ډېرے ولیدل په سترګو ګوړ باغونه
د فلک په ګردشونو شول راغونه

نمر سپوږمۍ ئې پلیته په لاس نیولے
په وار وار ږدی په سینو باندے داغونه

ډک جامونه د حسرت د ندامت څښی
چه ئې تل نوشل د مېو ایاغونه

د لحد تیارهٔ په شمع د انصاف ځی
پکار نهٔ دی په هاتیانو چراغونه

فراغت ساقی و لجه دے پیاله راوړه
جهان نهٔ پرېږدی تل چاته فراغونه

هغه باغ چه تل ماویٰ وو د طوطیانو
اوس ئې ګوره چه پرے ګشت کاندی زاغونه

څښه شراب د محبت عبدالقادره!
څو لا ستا د خاوړو نهٔ دی ساز جامونه

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶۳)

اے زما خاطره ترک هوا هوس کړه
دعقبیٰ د تلو سامان په هر نفس کړه

د دنیا له خوانه هیڅوک ماړه نهٔ شول
په دے خوان د دیرځهٔ و خوړل نور بس کړه

مقدم د تل په دین د دنیا کار وو
اوس د دین کارونه وړاندے دُنیا پس کړه

ملامت په خپل ځان کړه په هیچا مهٔ کړه
تا پخپله وے مینه په ناکس کړه

د عسس ویره هغه کړه چه پردی خوری
خپل خورو به کله ویره د عسس کړه

خس ته هم په خوار و سترګو نظر مهٔ کړه
ما په سترګو لیده، سترګه ړندهٔ خس کړه

چه دوزخ دوزخ یا دین یٔ دوزخ نس دے
و دوزخ وته روان وګړے نس کړه

چه ئے ماوته پیغور کاوهٔ د مینے
هغو لا دربانده مینه یو په لس کړه

قافله د عشق منزل ته پوښیده تله
برهنه و خاصو عامو ته جرس کړه

ځوانمرد ے پوښتیدهٔ له ځوانمردی ئے
وے ئے "عفوه په هنګام د دسترس کړه"

کهٔ لائق عبدالقادر د صافونهٔ دے
څو قطرے ورعنایت دخم بکس کړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۶۴)

عارضي کاروونه هيڅ دي تعلق ورپورې مه کړه
چه جوهر درته حاصل شي هميشه طلب هغهٔ کړه

جوهر څهٔ دے، دِ تافرق، عرض څهٔ، چه به له ده وي
داوينا تمام سلوک دے، که دنه زده لما زده کړه

دخواهش له کوڅے ووځه، داکوڅه ده هم کوړ تنګه
ترک دخواست وسيع صحرا دے، په دغه صحرا ميشته کړه

حقيقت روشن آفتاب دے، په ليدهٔ ئے ستر ګے بريښي
د مجاز رانجهٔ کړه پورے، پرے روښن دواړه ليمهٔ کړه

چه دِ مخ د دِلبر يادشي، په ثنا صفت د ګل شه
د زلفينو له فراقه په سُنبل د زړهٔ دمه کړه

شونډه غابښ ئے چه دِ يادشي په مثال دلعلو دُړو
دخپل زړهٔ وينو ته ګوره، خپلے ونبکے ورسره کړه

خپل صورت چنګ ورباب کړه پرے تار ونه وښکے څاڅه
حرف وصوت دخُلے پرېږده، پرے دمينے زمزمه کړه

نوآموز عاشق بلبل دے، شورئے ډير او ميسه لږ ه
کهٔ مثال د کامل غواړے وښنګ ته ننداره کړه

سکه کاڼے ډک له اوړه هيڅ اثر ئے ليده نهٔ شي
هسے رنګ عبد القادر ه! پښه ته دعشق لمبه کړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶۵)

نن په خوا راغله ماه رُویه ، سمنبره ، سُنبل مُویه
سمنبره ، سُنبل مویه نن په خوا راغله مُهرویه

وے ئے " مۀ ے حۀ له کُویه ، چه ذلیل بے قدره نۀ شے"
چه ذلیل بے قدره نۀ شے ، وے ئے مۀ ے حۀ له کُویه

که له ما دے عاشق بویه ، بے لما به بل تهٔ گوری
بے له ما به بل نۀ گوری ، که لما دے عاشق بویه

دعشق چار ھر گوره لویه ، سربازان دی چه ئے اخلی
سربازان دی چه ئے اخلی ، دعشق چار ھر گوره لویه

صفت شی دگُل له بُویه ، دسری له بنۀ خصلته
دسری له بنۀ خصلته ، صفت شی دگُل له بویه

دریغه دریغه بده خویه ، تهٔ یو خرنگ بد غلیم ئے
تهٔ یو خرنگ بد غلیم ئے ، دریغه دریغه بده خُویه

دتُوبے له شست وشُویه ، مکدر خاطر صفا کره
مکدر خاطر صفا کره ، دتوبے له شست وشویه

سحر غن وُخوت له جُوبه ، لاړ و بیرته به رانۀ شو
لاړ و بیرته به رانۀ شو ، سحر غن وُخوت له جُویه

څۀ حاصل له گفتگویه ، عمل کړه عبدالقادره!
عمل کړه عبدالقادره! څۀ حاصل له جُستجویه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۴۶)

چه همت دِ دتپوس دے ځان باز مهٔ کړه
ځان په رَسم دجانبانو جانبـاز مهٔ کړه

په محتاجو ته محتاج وی ډیرخسیس دے — بےنیازو بل هیڅ ته نیاز مهٔ کړه
اسبابونه دناز راوړه هله ناز کړه — ستا چه هیڅ اسباب دناز نشته نا زمهٔ کړه
امتیاز ددوست دښمن وبله ګران دے — بے له خپله دِله هیڅوک همراز مهٔ کړه
د اتمام سعی کوه چه کار شروع کړے — یا هرګز اول دچارے اغاز مهٔ کړه
دخبرو په لذت که خبر دار ئے — بیهوده بیرون له شونډو آواز مهٔ کړه
کهٔ دِ لوستے دلا ترکنو آیت دے[1] — سکه هرګز د ظالمانو اعزاز مهٔ کړه
تولّا و تبرّا د ایمان ښانګ دی — چه دِ داښا نکونه نشته پرواز مهٔ کړه

په لیمهٔ به ستا جفا عبدالقادر وړی
په شړل ئے په مراد دغماز مهٔ کړه

---

[1] وترکنوٓا اِلَی الّذِیْنَ ظَلَمُوْا فتمسّکُمُ النَّارُ وَمَا لَکُمْ مِنْ دُوْنِ اللّٰہِ مِن اولیاءَ ثُمّ لاتُنصرونَ ہ اومیلان مهٔ کوئ په طرف دهغو کسانو چه ظلم ئے کړے دے۔ پس وُ به خکئ تاسو اور۔ اونشته دے تاسو لره سیوا د خدائے پاک نه هیڅ دوست۔ پس له هغې نه به تاسو مدد اونهٔ کړے شی۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۶۷)

په فراق چه مے روان دسترګو جوَے شه
لړ مے پاتو وآشنا وته آبرو ئے شه

بنهٔ چه باد وته پابوس دګل حاصل شو
په طلب ئے بنکته پورته تګ وپوئے شه

په خبرو معنیٰ ګله ادا کیږی
خبر ځکه په حیرت له ګفتګو ئے شه

مرتبه دهر چا څهٔ؟ چه ئے معنیٰ وی
جسم ګل، غرض ئے رنګ، معنیٰ ئے بوئے شه

په تمثیل ئے چه دیار د قامت راوړه
په همه وُنو کښے سر دسرِو لوئے شه

دکریم له خوانه مزکه نیصب موی
په ساقی ملامت نشته کهٔ جام توئے شه

چه دعشق لافے وهی عبدالقادره!
محبت کښے له زړدئ آلوده روئے شه

## (۱۶۸)

کهٔ په لعل اودُړو نوردولت مندان دی
لعل ودُر، زما دیارلب ودندان دی

دهمت سرکوزی نهٔ کا وَبادشاه ته
په جامه دګدائیی سربلنداان دی

دساقی دپیالے قدر زاهد څهٔ زده
چه په کوټ ئے سرومال بښندی رِندان دی

چه په حال دفراق ژنو نهٔ نرمیږی
هغه زړونه زړونه کله دی سندان دی

واڼی څولرے په زړهٔ زما داغونه
ترحساب ترشماره تیر چندان چندان دی

کهٔ ساقی دپیالے دور پیاګردان کا
په مجلس کښے یوڅو پاتو هوشمندان دی

چه دِطمع له چاشی عبدالقادره!
تهٔ بنده شوے هغه ستا خداوندان دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۶۹)

چہ ترغونږ ے د جرس نارے فریـــاد شی
ستاد عشق پہ بیابان ورک راتہ پہ یاد شی

یو پہ سلہ بہ ئے غم د زړهٔ نصیب شی ٭ هر نادان چہ د فلک پہ ورکړه بناد شی
تر شیرینے دی دا کینلے لا شیں سینے ٭ و لے خوک دے چہ پہ عشق لکہ فرهاد شی
چہ پہ راغلہ مړاوی گل د باغ تازه کا ٭ پہ تاثیر بہ د صبا کلہ هر باد شی
نور چہ بوس وکنار کاندی عیب ئے نهٔ وی ٭ زهٔ چہ تش کاتهٔ کوم زما اهداد شی
هر سړے چہ کینی کالوئ مـــومی ٭ هم پہ دا خادم مخدوم، شاگرد اُستاد شی
چہ پرے نهٔ لگی وشیل دنیک خواهانو ٭ عاقبت د غلیمانو پـــہ مراد شی
پہ همہ وُ مریدانو پیر شفیق وی ٭ تربیت ئے موافق پہ استعداد شی
چہ اساس ئے د ژوندون دے پہ باد ایښے ٭ پرے بہ څهٔ د عاقلانو اعتماد شی

و منصور غونډے پہ دار عبدالقادر شہ
کهٔ بے عشقہ بل گناه وربانډے زیبا د شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۷۰)

کہ بنیرے کا کہ بنکنځلے هر چه وائی
هیڅ مهٔ وایه بنائسته دی باندے بنائی

دبهار په وخت هم داوایه مطربه چه په کبنبلیو مینه نهٔ بنائی نهٔ پائی
حلقے ئے انتظاردی وویدن سته گوره ځ به دلبرکوم یوهٔ ته نمائی
هر مارغهٔ دے چمن پخپله ژبه ستا ثنا کا ستا صفت کاندی تاستائی

په دُنیا به مینه څهٔ عبدالقادر کا
چه آخر ئے خواه ناخواه ورځنی بیائی

## (۱۷۱)

چه پیداوی له یوے قطرے منی
ورته نهٔ بنائی چه کا کبر منی

چه خلقت ئے دصورت له خاورو شوے په هر حال دِ خاکساری کا کهٔ منی
دخزانه به نهٔ گل د صحرا خلاص شی نهٔ به پاتو شی کهلونه چمنی
په نازک بدن ئے خت دململ ځرخی زما یار ته جامے بویه سمنی
تنگه خلهٔ ئے بنائسته حلقه دکمے دواړه لب ئے نگینے دی یمنی
تهٔ چه هسے زعفرانی جامے اغوندے زر به کړے دیار خهره کور کمتی

ستاجهاد ته ئے هم ستا نفس پیدا کړه
که ئے کړے عبدالقادر ه دُښمنی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۷۲)

ستا سترګو وژلے به تر درنګه اوس ښخيږي
راشه زړۀ پرے يخ کاکۀ په داد زړۀ يخيږي

رقص له خامخا کاندي دانه د ديګ په ميان کښے
يا تو له صوفي شي هله رقص چه پخيږي

ستا تر سر ځاريږي ستا په سر زما سوګند دے
بل مطلب ئے نشته څرخ چه مے رنګ څرخيږي

خوب ئے بانده نشي لټ په لټ وبله اوري
ګل د نفا لئے ئے په نازک بدن څرخيږي

ولے به د مزے نۀ شي ګل عبدالقادره!
تل چه تر ګلونو ښائسته پکښے ښخيږي

## (۱۷۳)

د خبيث په ښۀ صحبت خبث په خو ځي
د ماهي بدبوئي کله په اوبو ځي

له اصلي بده به لاړه بدي نۀ شي
کۀ د ښو په ښۀ ديدن په ورځو شپو ځي

لا ئې سيه لا بازي ښکاريږي بد سته
د کامل د نصيحت اثر په ښو ځي

د مزريو په لوئے ښکار بانده نظر وي
شلانړو مږکو لره ترو يا پيشو ځي

هر چه شوي په ازل هغه به کيږي
عبث عمر په عبثو انديښنو ځي

څۀ نظر به کا دلبر په افتاده وُ
چه دا مے بد دماغ په کرشمو ځي

په ليمو به ستا په لوړ عبدالقادر ځي
کۀ يارانو لره نور عالم په ښو ځي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# (۱۷۸)

چه سحر دیار له لوریه شمال راشی
دا بیمار خاطر خهٔ خو په حال راشی

اوس خو وار د وصل تیر شو هجران راغے
یا نصیب چه بیا نوبت د وصال راشی

ذرهٔ مے د وب شی په بنیتد هٔ ئے هر کز نشم
چه د یار دیار له لوریه ملال راشی

نور شغلونه به دِ ووحی له خاطره
کهٔ په زړهٔ کښے دِ دکښیو اشغال راشی

د دیدن د ووډو تړو طاقت کم شو
لا به کله وړومبئ ورځ د شوال راشی

د خپل یار د وصالته امید وار شم
چه صورت د یوسف ما ته په فال راشی

په هجران کښے خوار و زار عبدالقادر شهٔ
بیا به کله په شیوه په خیال راشی

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۷۵)

د ژوندون په ئے څه حال حلاوت سته وی
هر سړے چه په دُنیا بے یاره ژوی

ما دِ خدائے په دُنیا نهٔ لری بے یاره
له دُنیا تر یار ښخوا دِ زما تلهٔ وی

چه یو غم د ابانه ئے تېرشی وایم خلاص شوم
نور غمونه داپیدا شی نوی نوی

یو مجنون سوے او لوے د عشق نهٔ وو
مینے ډیر کړل تر مجنونه سوی لوی

څهٔ حاجت چه ئے پوښته کړیٔے له حاله
خود بنکاره دی د هجران په لمبو سوی

چه پکښے نهٔ مهر مینه، نهٔ اخلاص وی
تر ودانه لاوران ښهٔ دی هغه ژوی

محرم نشته چه خپل حال ورته بیان کړم
نا محرم ته وایهٔ نشی زړهٔ مے چوی

سل فتنے په بیداری کا رابیدار ے
بخت مے ویښ وی چه په غیږ کښے ویدهٔ وی

په نوڑ څهٔ عبدالقادره نهٔ رغیږے
په هجران کښے دیار یاد د زړهٔ وی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۷۶)

ستا چهره لره خدائے تعؐ تل ارغواني
کهٔ د غم څهره ے ده زعفراني

سر په لاس ور پسے دی وم نهٔ قبلیږی — نصیب مهٔ شه دچا دا سرګرداني
مے نوشی تمامه شپه کاندی د نورو — په سبائے په ماوی سرګرداني
څو څوګرانے مے آسانے په زبان کا — زهٔ به څرنګ پریږدم عشق په آساني
اشارت ئے د دنیا تالاکول دی — چه صوفی په رقص کا دست افشاني
چه لاړ نهٔ شے په غفلت بیا به ارمان کړې — هر نفس کړه د خپل نفس نګهباني
چه په مخ ئے کاږوانو نه دخطرا غلهٔ — اوس به وشی د شکرو ارزاني
له دُعا ئے اوس هم نهٔ یم فارغ شوے — کهٔ دکښنیلو په خدمت لاړه ځواني

ورته عرض سلام د خوار عبد القادر کړه
چه په کوُ ئے بادهٔ ګزر کړے دَ فلاني

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۷۷)

په طلب ئې چه دتنده وچ شی کُومی
غم د دنۀ کا دحیات اوبۀ به مُومی

دطلب مُصلے دېرو لیسے ننګ کړے
ګوره کوم به د دلبرو شونډه چُومی

چه تلخی ئې دهجران کړه پُخان تیره
هم هغه به ئې د وصل پیاله شُومی

ځښنه ځښنوه شراب ساقی بیا به ارمان کړه
عندلیب ناره وهی چه بهار دُروی

معشوقه وژلی مړه نۀ دی ژوندی دی
په دا تشنه نامه څۀ شوکۀ مړهٔ نۀ وی

جدا شوه چه له یار عبد القادر دے
په هیڅ رنګ ئې اوبۀ نۀ دروی تر کُومی

## (۱۷۸)

دقیامت په ورځ به سیک پاسی ستلی
په صبا به دروند پاسی چه دروند خملی

تنها هیڅوک کورستان لره لاړ نۀ دی
خپل عمل غاړه غړی ورسره زغلی

چه هسترګه باندے وا دبیست شوے
دعالم ودان هے وُلیدل نتلی

نادانان به ئې باوړ په ودانئ کا
چه په طمع دسیلاب داوبو ملی

دُدُنیا کاروندضد دآخرت دی
ددنیا قبول به دین کښے دی رتلی

نۀ صحت موی نۀ مری هسے تا وینی
چه په زړهٔ وی دحسد منګوړ پیچلی

چه نظر په بنو بدو باندے وکړه
وے ئې "وشره په وُره هغه بللی"

دقیامت له جوکه داره عبد القادره
نۀ کا چا چه خپل بنۀ بد دے تللی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶۹)

کہ بنګل ګل دِ پہ بید ردو تراخۂ لګی
ماتہ کړه، پہ ما ترشهدو خوانۂ لګی

مشتاقان د تیغ پہ آب سره سیراب کړه
تر ژوندون ئے بنے پہ تن ی اوبۂ لګی

سترګے پټے زړهٔ بیدار لکہ غُنچہ شہ
د دولت نسیم د ویښو پہ زړهٔ لګی

سنګدلان ئے لہ ناوکہ بے بهره دی
پہ مشتاقو ترګلونو پاستۂ لګی

چہ ئے داغ زما د زړهٔ د داغ پښتان دے
پہ لالہ ئے خټۂ خوچڼهٔ خولیمۂ لګی

د ښږو اغزی ئے لرے پہ ژړا کړهٔ
چہ دیار پہ قدمونو تیرهٔ لګی

یو ساعت عبدالقادر ختی خلاص نۂ دے
هر زمان د عشق ښکرے پہ دهٔ لګی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۰)

بُونیں ئې نۀ ځي له خبرو د بهي
چه تشبیه دیار د زنې کا بهي

لاس مې ورونیسه په لاس کښې، لاس دِ مات شه
چه پرې او نۀ شي زخمونه دېهي

د دُنیا څرلبنت اماس دے ودانا ته
و نا پوه ورته ښکاریږي فربهي

مشتاقان کله تمیز د نیک او بد کا
کۀ صاف نشته ساقي را مټې تهي

په اُمید د خپل مخدوم دستا رئ
واقع کیږي له خادمه کوتهي

امتیا زئې له پیښو له خاوړو نۀ شي
چه ئې نۀ پریښودلي ګرد په یک تهي

که ئې ډوب کا په دریاب کښې تش به وُوځي
چه ګړې ئې له ازله شوتهي

هغه یار چه آسمان نۀ شهٔ اختلے
په کوم زور به ئې عبد القادر رسهي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۸۱)

خدائے دے نۂ کړه یو زمان حُسنې خالي
ستا اندوه دے سبب د خوشحالي
کۂ له خياله خالي هيڅ بناشته نۂ دي — ولے تا غوندے به بل نۂ وي خيالي
چه بے ځايه آواز کا په انجمن کښے — درباب غوندے به موي گوشمالي
د سړي لکه همت هسے ئے فکر — د عالي سړي فکرونه وي عالي
سل جنجاله سل فتنے راسره وُکا — بيا به ما پاندے نوم کيښږدي جنجالي
جان ومال تر جاني يارﮦ صدقه شه
نۂ يو دے نۂ سل زر لکه کروړ پالي

## (۱۸۲)

ساقي! مے بويه چه وي پر تکالي
خواه پياله وي مرصع خواه سفالي
علامت د يار د ډيرے مينے درد دے — روغ دِ نۂ کا له دردمنده سيالي
مُقدم په ډکيدل خالي کيدل دي — ډک هغه شي چه له زړۀ کا ځان خالي
په يو ځل په هل وهل کا مزکه سازه — د اُميد تخم هغه کړي مالي
آشنائي کول اسان دي پيتے گران دے — يو يو مرد د آشنائي پت پالي
عاقبت به ته هم راشے زما ځائے ته — کۂ په مزکه يمه پروت ته به نهالي
شپه او ورځ عبدالقادر په جدائي کښے
دواړه سترگے کړے اورۀ پشکالي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۸۳)

که ګلاب لکه باران وربان دے وُوری
د ګلابو بُونیں به لا پرنښی له اُورښی

صباحت ئے د یوسف عیش منظور وو
ځکه پیښن شو د یعقوب د سترګو توری

هر یو ګل په خواست ترے ورهٔ ځان ئے خوشبو کړ
چه صبا خوشبوئی راوړهٔ ستا له لوری

مهٔ کړه خدائے چه د وفا خویونه نور کړم
که هر څو ئے یار جفا کړه تل ئے زوری

کهٔ زاهد دے کهٔ عابد کهٔ شیخ مُلا دے
همګی د خپل مقصود په لوری خوری

پاس د داړی په سر منصور دے دروغ نهٔ دی
چه عاشق شی بیا به سر له عشقه ژغوری؟

پس شا دِ سوکند ونه خوری وَسر ته
هم هغه چه مخامخ دِ په سر لوری

قراضے د زړو څهٔ لرهٔ په مخزن دے
په وجود د نمر نُماے نهٔ کاندی ستوری

ترژوندونه بنهٔ دے مرګ عبدالقادر ته
چه ئے یار رقیب ته خاندی دے ئے ګوری

---

ئے تجنیس دے یعنی بولان چه یو وابنهٔ دے (حبیبی)
وُرے چه یو قسم ساګ دے او تخم ئے په اچار کښے هم
استعمالیږی.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۹)

نورعالم خیل خوب کا، رنځوران اخته په نول وي
مزکه تودې کوم ده؟ چه او ربل ورباندې تل وي

برنا حقه سترګې د رنځو په بار درنې کا
کله د هوسیو سترګې تورې په کجل وي

بل مراد ئې نشته په دنیا کښې بې له دې نه
خاورې د غه ملک شوې چه مجنون ئې ایښې پل وي

هرچه اول شوي په آخر به هغه کېږي
ځوک به ئې اول کا چه پس شوي په اول وي

کله به لا دروې لما اې د سحر خوبه
خوب ښځه نه کا چه په مخکښې ئې منزل وي

فکر لیونی د سبا نه کا څکه خوش وي
غم د هرسړي په اندازه د طول امل وي

هرچه محبت لري د یار د تورو زلفو
تل به ئې په زړه کښې فکر تونه مطول وي

ما په زړه ویشتلیه! فریاد ونه کړه په زوره
ستا سوې نارې په ما شیرینې تر عسل دي

څه وائې وما ته؟ ما ته لار ده خطرناکه
هیڅ پروا مې نشته که د خیال لار سړه مل وي

تل که آه فریاد عبدالقادر کاندي ګرم نه دې
بیل له فراغته همیشه د یاره بیل وي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۵)

دجهانه هسې رنګ دی بیاړان تللی
ته به وائې چه هرګز نه وو راغلی

نښانی ئې په جهان کښې مونده نشی
هسې ورک شول دجهان سوارهٔ نتلی

دبرېښنا غونې بښکاره شول بیا فنا شول
په ځیرځیر موورته هیڅ نه وو کتلی

نه موسترګې په لیدو سره مړې کړې
نه مو ووږ په ډکه خلهٔ وېله خندلی

نه موزړونه ځله تش کړل په خبرو
نه موبیت رازونه وو ځله بښیلی

چه ناګاهه هجران مخ ورته ښکاره کړو
له مونږ بېل شول په ارمان سینه داغلی

له احواله ئې خبر نه یم چه څهٔ شول
څوک په بیا رته ځنی نهٔ دی جاروتلی

که خاکونو ته ئې ورشم نارې وکړم
په جواب ئې راته هیڅ نهٔ دی وئیلی

یا له مونږه مرور شول جواب نهٔ کا
یا ئې چا په خلهٔ مهرونه دی وهلی

کهٔ ئې وغوارم خبر له خبر داړو
دوئ پرې هم لکه مونږ نهٔ دی پوهیدلی

کهٔ قبرونه ورانوم پکښې ئې غوارم
مابې خاوړو پکښې هیڅ نهٔ دی لیدلی

نهٔ پوهیږم چه له کومه لوریه راغلهٔ
بیائې دی وکوم مکان له سره بیولی

اې یوه خدایا! زروران دډنیا سرائې کړه
چه آشنا عالم ترې ځی ناآشنا ملی

چه هردم جرس دکوچ ورته غږیږی
فراغت عبدالقادر څرنګ خملی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۶)

بیا مې شي زاړهٔ زخمونه په زړهٔ نوي
چې دیار په بورجل راپیښم یار نوي

حال کهٔ وایم وعالم ته منصور یې م ~ کهٔ یې پټ ساتم په زړهٔ کښې زړهٔ مې چوي
دعالم له ویرې آه و کښلې نهٔ شم ~ په کوګل کښې مې دننه وچ شول لوي
په صحبت یې نارضا په درد بې صبره ~ د دې هسې رنګ زحمت داړو به څهٔ وي؟
فرهاد غر په عشق کښې کند نهٔ صورت کښم ~ و منصف ته به زمانیاتي تر دهٔ وي
دهٔ کهٔ یار ته وَله جوړه د شودو کړه ~ تل روان د وینو رود زما د زړهٔ وي
چرې نهٔ وي رنګ یې هیر کړم په هجران کښې ~ په وصال کښې به مې څیر یار ته کاتهٔ وي
ستا د سترګو خیال پرې ووړي ځکه ژاړم ~ نرګس تل تروتازه وي چه اوبهٔ وي
په پرښبول به دجهان له غمه خلاص شې ~ خلاصیدل د غابني له درده په وکښهٔ وي

وُبه وینې دیار مخ عبد القادره!
کهٔ دِ تل ور پسې دواړه لیمهٔ سرهٔ وي

## (۱۸۷)

که فلک لکه آسیا دا نه ئے سر شي
عارف نهٔ دے چه ئے زړهٔ پکښے لړ بر شي

کهٔ آسمان د ممسک مزکه نشتر شي
وابسته ئے مخلوقات د بحر و بر شي

په زړ کاله ئے ژوند ون د گمان مهٔ کړه
چه پکښے د توکل خښتن مضطر شي

خاوړے زړ چه ورته یو بښي له غه پسه
په کاسهٔ ئے کانړي بوټي واړه زر شي

که اصلي فقیر د سیوړے په سر وُ کا
هست و نیست به د ده واړه برابر شي

چه خپل ځان د تلي خاوړے د گدائے کړه
د پلهٔ خاوړے ئے په قدر تر عنبر شي

چه خپل ځان تر چراغ ځار کا بیا و سوزي
کوم ملخ به د پتنگ تر ځایه ور شي

د زاهد مشرب جدا د رند جُدا دے
له ماهي به کله کار د سمندر شي

هله لاف د مینے کا عبد القادره!
چه ترخهٔ دې یار په تا شهد و شکر شي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۸۸)

ماچه لب د شکرلبو دی څیښلی
لا مے اوس له خولے و لیے څڅله نښلی

ستا د سترګو په خیال هسے رنګه مست یم — لکه چا وی صد ساله باده نوشلی
که له سترګو دِ روان شی سیند د وښکیو — وړان به نشی چه ئے ستا په جبین کښلی
د عاشق د صورت خاوړے د یار مینه — په ازل ئے دواړه دی سره اخښلی
له توبری سره مے ځان ځی چه وکښی شی — ځکه ما د یار توبری نهٔ دی وکښلی
شکایت د بناګسته وَ د خوی مهٔ کړه — تر وفا د بل جفا ښهٔ ده د کښلی
کهٔ بد رنګ مخ پټوی بارے یو رُخ دے — بناګسته دِ هرګز نهٔ وی مخ پوشلی
یو دلدار چه دلداری کا بیا مے نهٔ موند — په طلب مے دی ملکونه پسے منبلی

چه مئین شوے غم زغمه عبدالقادره
په غمونو عاشقان دی همیش کښینلی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۹)

کهٔ ښکاره شي د درویشانو عزت ستاسي
ګدایان به شي شاهان په عزت ستاسي

د دُنیا نوبت، نوبت په نوبت دړومي — همیشه دے بے زواله نوبت ستاسي
څهٔ شون کهٔ مو څوک نهٔ پرېږدي وُدَر ته — خبردار دي ډېر په قدر و قیمت ستاسي
صبا ورځ چه اجتماع د خلائق وي — په هر ځا به شي ظاهر منزلت ستاسي
هم هغه به د نجات په لوُر روان کا — چه پرے شي مهرباني عنایت ستاسي
غم اندوه بهٔ په نصیب د دنیا دار و — فراغت د زړهٔ خوښي په قسمت ستاسي
ستاسي هومره ډېر حُرمت پخپل صاحب دے — چه به نور شي په عزت په حرمت ستاسي
په نصیب به د هغو شي چه نیک بخت وي — د دوؤ کونو سعادت دے خدمت ستاسي
د راحت اُمید کوئ اهل محنتو! — خدائے به نهٔ کاندي ضائع مشقت ستاسي

مددګار د ګنهګار عبدالقادر شئ
ګنده بیا مومي خلاصے په همت ستاسي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۹۰)

چه په ذرهٔ باندې ئې وا د عرفان باب شي
داجهان به ئې تر فهمه یو سراب شي

د وحدت دریاب به وینې ښکته پورته
خپل وجود به ور ښکاره لکه حباب شي

د خودئ ئې باد چه وُباسي له سره
د حباب نامه ئې لاړه شي دریاب شي

څو وجود د ذرې شته هومره ذره ده
خو چه محوه خپل وجود کاندې آفتاب شي

د هستئ ئې نوم هاله ورباندې ښائي
آمیخته چه له محیط سره سیلاب شي

دعنص دچار دیواله چه را ووځي
آروېدهٔ لیدهٔ ئې واړه بې حجاب شي

د هر لورې ته چه مخ کا نمونځ ئې کیږي
چه قبله ئې دیار مخ ورو ئې محراب شي

په خپل د سترګو ځي تر شرقه غربه
تر نظر د عارفانو تلهٔ شتاب شي

خپل په هله دیار شئ عبدالقادره!
کهٔ په تا باندې ئې یو مهر عتاب شي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۹۱)

نهٔ په باغ نهٔ په بوستان په ګلزار ګرځي
خراب ذړهٔ مې هم ځورې دې چه یار ګرځي

دوارهٔ سترګې ئې شاهین دي قهر وُ بې
سور د ناز په اَس د زړونو په ښکار ګرځي

په مقدم ئې د صحرا خار ونه ګُل شي
چه په سیل زما د یار د بهار ګرځي

کهٔ پروت د رقیب وار وو نن زما دې
د آسمان د ژرندې دوردې په وار ګرځي

کهٔ رنځور شې خود به درشي طبیب کورته
طبیبان په طلب تل د بیمار ګرځي

دښرو په ناوکو ئې ذړهٔ خوږ بیړنی
عاشق ځکه آهومن ناقرار ګرځي

دهوسئ غونډې خېل خوب په میرتون کا
د اجل ښکاری په نیت د ګذار ګرځي

ما دولت دګدایانو له دربیا موند
کهٔ نور خلق د بادشاه په دربار ګرځي

په وصال به آسوده عبد القادر کړې
کهٔ عیش به دې په هجر کښې خوار ګرځي؟

# (۱۹۲)

لوئے لوئے غرونه دِ پہ واوړو ستل ودان وی
چه رودونه ئے پہ مزکه را پریشان وی

پہ ژړو مژکو مهٔ ووره یارانه
ښے اوبهٔ کاندی ترخے بُوئیں ئے روان وی

پہ چمن کښے بد بُوئیں گل شگفته مهٔ شه
زاغان ورشی بلبلان ترے گریزان وی

پہ هغه چمن ورځه د سحر باده!
چه نسیم ئے پہ هر چا عنبر افشان وی

چه پہ راغلهٔ ئے د باغ گلونه واشی
همیشه دِ هغه باد پہ ملک وزان وی

د تنگ مشرب پیدا کړه پہ معاش کښے
د هر چا چراغ چه بل وی پرے شادان وی

مبارک هغه بنده چه آخر بین وی
کُل محنت راحت ودهٔ وته یکسان وی

پہ رموز دِ ډیرخهٔ وویٔل پہ لږ کښے
پرے به پوه عبدالقادره سخندان وی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۹۳)

چه له مخه یې آفتاب ماهتاب درخشان دی
په جهان کښې څوک زما دیار په شان دی؟

جمعیت یې د خاطر په لیده ستا شي
په دا طمع درته جمع څو پریشان دی

چه یې څوک په کوڅه تیر شي لیونے شي
شیخه! مه ځه په دا لار پری وشان دی

نه یواځې دواړه زلفې زړه داکاږي
د کاکل وینښته یې لا خاطر کشان دی

د راحت ښیښې به تښې عاقبت کا
هغه څوک چه د محنت جرعه چشان دی

چه په تش کاسه یې مس د وجود زر شي
درویشان دی درویشان دی درویشان دی

له آفته به د لے ځورے خلاص نه وي
چه بدګوے، آزار رسان، بداندیشان دی

خودپرست دیار له وصله بیګا نه وي
له خودئ یې بیګانه دده خویشان دی

آفرین عبدالقادر په ګفتار ستا
چه له شعره د عشق دُر افشان دی

---

ترشکرو نه دی کم عبدالقادره
ترنباتو که خوږه وسیلی خان دی
(قندهار چاپ نسخه)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۹۸)

بیائے نیت دجنجال وشو چه نور کښلی راته شماری
یار که تل هسے جفا کا ما به مرګ وته وسپاری

بل که هر څو ښنا لسته وی خدائے دِ نهٔ کا چه ئے ګورم
تریوهٔ بانړهٔ دکښلی دجهان شهٔ واری واری

ستا چه ميئنځ کی آشنا نشته فراغت کړځه هوس کا
په هر چا چه آشنائی د جدایئی محمل کماری

د دنیا په باغ کښے ځائے دهمیشه استوګنے نشته
عاقبت به له دے باغه طوطیان ووځی په چیغاری

دبلبلو دطوطیانو په ګلونو سیل کیږی
په ګند ګیٔ ئے په مرداره تل قارغان ګرځی مرداری

هر چه بنهٔ ئے له ازله په فطرت کښے ایښی نهٔ دی
چه به بدکارونه نهٔ کا نو ربه څهٔ کاندی بدکاری

هر سړے په موافق دخپل همت نظر لرینه
په ورو چارو هیڅکله نظر نهٔ کاندی لوئے چاری

که غمزے د دلبرانو تیرے توره دی خوخ کړی
هم ورځی په تیږو توږو بے پروا بے اختیاری

زړهٔ دهیچا زینهار عبدالقادره آزار مهٔ کړه
چه په دین او په دنیا به آخر خوارشی دِل آزاری

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۹۵)

که د عشق په تورے کاڼی په سر ووری
زۀ به وایم واړه دُر و گوهر ووری
په چوک بانگ محل ئے داد بوسے وکړ — مړنے پشکال تل په سحر ووری
په تاثیرئے د قدم خاورے خوشبو دی — که په کوئے باندے ئے مشک و عنبر ووری
سرے سرے وښکے ے له سترگو وینے تۀ دی — دا زما د زړۀ له اوره شرر ووری
د رحمت سزاوار زۀ چه گنهگار یم — باران بویه چه په تړی شجر ووری
د ظالم د سر د تاج لعلونه نۀ دی — په تندی ئے له دوزخه اخگر ووری
د حاسد جفا زغمه عبدالقادره!
تل د غم کاڼی په سر د ثمر ووری

## (۱۹۶)

کۀ هر څو بنا اُستۀ ډیر وو د وکړی
مونږ ته غوره کړے، نور، نورۀ غوره کړی
تۀ هم هسے دِل آزاره جفا کار شوے — چه تل ستا له لاسه ناست وو په زړۀ سټری
آزاری کۀ چرے کړے بے زاری مۀ کړه — اوس یُو مونږ او تۀ په خلقو کښے نوموړی
چه په لږ جور دا هومره ډیر ماڼے کړے — ستا له حاله ے هیڅ نۀ دی چا ته سپړی
څوک چه نن کاندۀ وفا له یاره غواړی — ډیر ابله دی چه د شگو پیری غړی
آشنائی د دین کوه عبدالقادره!
د دنیا آشنایان واړه دی نیمگړی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۹۷)

کوره بیا زما تر خنګ لا کله کښینی
چه په ناسته ئې غم له دِله کښینی

چه خندا کا په فریاد د فراق ژړنو
کښتګی دے په اور کښے تل تر تله کښینی

بوی بویه د ګل بویه په چمن کښے
چه په ښاخ به ئے شیدا بلبله کښینی

همه واره ستا د مخ ثنا صفت کا
په هر ځائے چه کښنلی یو تر بله کښینی

له ادبه درته نهٔ وایم چه مهٔ ځه
بناګسته پخپله ځی پخپله کښینی

هوډیالے دے چه ئے کښینوم ولاړ شی
چه په وخت د نماستی وایم، ځمله! کښینی

لهٔ وصاله دِ محروم عبدالقادر شهٔ
کهٔ بے تائے بله مینه په زړهٔ کښینی

## (۱۹۸)

داځهٔ خوئ دے بناګسته وُ عادت ستا سی
چه همیش وی له عاشقه شدت ستا سی

سر و مال ښندل زینت د عاشقانو
عنایت، مهر، نمنځنه زینت ستا سی

نتیجه ئے نور ځه هیڅ نهٔ وی بے سوزه
په معنی کښے لکه اور دے قربت ستا سی

چه ښنګ عوندے ځان وسوزی ایره شی
هم هغوته مُیسّر دے وصلت ستا سی

د حرفونو لوبنے تنګ معنی ئے ډیر دے
په بیان نهٔ اداکیږی صفت ستا سی

ګل ځهٔ، خار و خس به هم واړه خوشبو شی
کهٔ نسیم په سحر راوړی نکهت ستا سی

چه شاعرئے له ځهٔ ځنې سره تشبیه کا
هومره نهٔ دے نزاکت لطافت ستا سی

ترحم ئے په احوال ځهٔ خوبائیده دی
چه ولاړ دی شپه او ورځ په خدمت ستا سی

کله توان عبدالقادر لری د شعر
ویوی ئے هومره ډیر محبت ستا سی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (١٩٩)

حقیقت د عشق په خلهٔ ویئیلے نهٔ شی
دغه اور بے دِله نور سهلے نشی

هسے د روند ورځے بار په ما ضعیف کړ
چه آسمان ورته خپل ځان نیولے نشی

درسته شپه نارے وهم د یار له درده
همسایه مے په شپه خوب کولے نشی

د زړهٔ مست لره د زلفو زنځیر بویه
په وسپرین زنځیر دا مست تړلے نشی

په دا باغ کښے د ګلو نه شګفته شول
بلبنے یو د یار په رنګ لیدلے نشی

ما د یار د مخ په باغ کښے دی لیدلی
چا وے دا چه تور نرګس موندے نشی

په هر دم عبدالقادر هسے پیالے څښی
چه یو ګوټ بے کائنات زغملے نشی

## (۲۰۰)

په فراق کښې د ګلونو په ګلزار ځي
د بلبل تر خلهٔ به تل نارې چيغار ځي

د وداع په وخت ګرم نهٔ يم کهٔ فرياد کړم — روح له تنه آسان نهٔ درومي دشوار ځي
په فراق د يار د سرو شونډو مې رنګو — سرې سرې وُښکې مې له سترګو په رخسار ځي
په دوو سترګو مې تيارهٔ شوه نهٔ پوهيږم — چه مې دوند د سترګو وُشهٔ کهٔ نګار ځي
حال له ډېره غريوه هيڅ ويلې نهٔ شم — خو هم هسې ډکه خوا له ياره ياره ځي
په ورو ورو د جدائۍ مرګ ته نږدې کړم — لکه ساه چه له صورته په وار وار ځي
د عشق اور د سوختګانو په زړهٔ سکې — په سوخته ترنوړو څهٔ زر شرر نار ځي
پوخ اُستاد بويه چه زلفې د يار نيسي — د ناقص ياړو دَم کله په تور مار ځي
چه سرکوز په تواضع درومي په لارې — تهٔ به وائې سروه وُنه په رفتار ځي
هيڅ په بيارته نظر نهٔ کا پسې درومي — دا د عمر آشنا څهٔ بيګانه وار ځي

ستا د آه لوخړې دي عبدالقادره!
لړې نهٔ دي چه په غرهٔ د کړهٔ[1] مار ځي

---

[1] مردان تحصيل کښې د کالوخان نوے کلی پخوا کښې د يو غر نوم۔
چه ديکه يوسف قبر دے ورباندے۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰۱)

داځۀ اوړ دے نۀ پوهیږم چه په زړهٔ زما بلیږی
د سیلاب له کومه راغے چه تر سترګو ے چلیږی

نن زما د زړهٔ په ښهر کښے ناره دی نۀ پوهیږم
چه ے دوح له تنه درومی کهٔ آشنا لما بیلیږی

څهٔ پښتنه کړے لسانه چه د زړهٔ احوال دِ څهٔ دے
په مثال لکه ماهی دے چه په تیلو کښے تلیږی

د بندهٔ څخ صفت ئے هیڅ لکه حق دے ادا نۀ کړ
واصفان ئے همه واړه د هغه غوندے للیږی

ګُکه هسے رنګ بے قدره صبا وړ په وړ جاروزی
چه په کوڅے د دلبر راشی ترے ګرز کاندی تیریږی

فریاد ونه کړه بلبله! وینے ژاړه څو بیتا شی
د آهار سیلئی راغلے د ګل پاڼرے به تلیږی

د آسمان چه په تندی د پیاسه ګرځی لکه ژرنده
د دانو په ځائے سرونه شیه او ورځ پکښے دلیږی

نۀ یوا ځے زړهٔ اوتهٔ د جدائی په تیغ زخمی یو
په هر لوری عبدالقادرهٔ! پرهار ژلی دی ګلیږی

د غم شپه دِ په صبا بدله شوه عبدالقادره!
چه جبین ئے لکه نمر ترتور وربل درته ځلیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰۲)

پښتانهٔ کوتاه اندیش دی — سود غلیم ته، زیان دخویش دی
نوشداړو پکښې نایاب دی — واړه زهر، واړه نیش دی
حریصان، طامع، سترګ وړدی — په بدخوئ نمک دړویش دی
مدکان ئے آدم کش دی — کفرکشی کا چه درویش دی
پیر مرشد ئے جهالت دی — نهٔ په دین دی، نهٔ په کیش دی

## (۲۰۳)

که هرڅوئے دډنیا دولت ډیریږی
څهٔ په کاړ چه بقا نهٔ لری تیریږی

بادشاهی داورنګزیب وآزا ده سته — چه تل نهٔ وی په خسڼړی نهٔ پیریږی
چه یودَم ے له خاطره جُدا نهٔ وو — دَم په دَم ے اوس هغه یاران هیریږی
عجب واړ دکودکئ بیا د ځوانئ وو — په پیرئ ے اوس دا دواړه ارمانیږی
تللے عمر هرګز نهٔ راځی په بیا رته — که د اوښکو په ځائے تل وینے بهیږی
هر عاشق چه ویره کاندی له پیغوړه — تر هغهٔ دِ ډیر غمونه چاپیریږی
دګردش ناوک ے هسے ځان لک دی — چه ئۓ زخم په دارو هم نهٔ رغیږی
وناهلو ته وفا د یاړ جفا شی — چه په لږ تغیر له یاره نهٔ سیریږی
بوالهوس دِ د وصال ته طمع نهٔ کا — چه په عشق کښے به په سرو مال ویریږی
کهٔ هغه واروو، کهٔ دا عبدالقادره! — ننداره کوه چه څرنګه تیریږی

سرلوئ دعاشق ده عبدالقادره!
چه د یار په غم کښے شپه او ورځ ژیړیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰۴)

داجل راتلهٔ سری ته نغښتهٔ دی ‌ ‌ ‌ ‌ ناګهانه بېلېدل د روح او تن دی

ګندے وی چه سره بیا به یوه ځائے شو ‌ ‌ ‌ ‌ په هغو زمونږ سلام چه په وطن دی

په صبا به ئے باد کوره چیرته یوسی ‌ ‌ ‌ ‌ دا ګلونه چه نن ورځ په شګفتن دی

دا خندا ژړاے خوئ د لیونی دے ‌ ‌ ‌ ‌ چه هوښیار دی همیشه په ګریستن دی

هر ګدائے چه آزاده وی ترے قربان شه ‌ ‌ ‌ ‌ بادشاهان د روم د هند کهٔ د ختن دی

ماتول د بت آسان دی، مردان کوم دی ‌ ‌ ‌ ‌ چه مشغول د خپل وجود په شکستن دی

نن نسیم عبدالقادر ته سحر ووے
بوئ ئے اخله دا ګلونه په رفتن دی

## (۲۰۵)

چو زلف عنبرین را پیچ وخم کردی کرم کردی ‌ ‌ ‌ ‌ دلم را از سر نو بند غم کردی کرم کردی

چو بکشودی نقاب از رخ نمودی عارض زیبا ‌ ‌ ‌ ‌ شب اندوه مارا صبح دم کردی کرم کردی

بحمد الله چون قتلم رابدیگر کس نهٔ فرمودی ‌ ‌ ‌ ‌ سوم را چون بدست خود قلم کردی کرم کردی

بروئے عاشقان زار عمرت درفزون بادا ‌ ‌ ‌ ‌ جفاها گفتی وجور وستم کردی کرم کردی

سراسر محنت وغم بود درملک وجود ما ‌ ‌ ‌ ‌ چو بازم ساکن ملک عدم کردی کرم کردی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۲۰۶)

تهٔ چه زلفے په رخسارو خوروے　　درېو هېږم جهان خور ما خوروے

چه دِ واغوستے دخیال جامے کلکو نے　　خپل مېّن په سرو لمبو نسکوړ وے

زړکے! سر زما دیار په قدم کېږده　　کهٔ خوښي ئے له رفتاره پوره وے

هغه مخ چه دوصال په غوړو غوړوی　　دهجران په تاؤ ئے ولے سپوره وے

کهٔ دعشق په توره ووژنے راضی یم　　زما عشق دسر په وېره نوره وے

پیسې غابنونه په خندا رالره راشه　　کهٔ به مخ درقیبانو توره وے

بس دے یو دآشنا غم عبدالقادر ته
نور غمونه باندے څهٔ تنډوره وے

## (۲۰۷)

پلنے بربنړے سر بربنړ گرېوان پاره وے
په طلب ئے په ملکونو آواره وے

په ستنه شوے ددُنیا له کاروباره　　ناکنړلے، ناشمېرلے، هیڅ کاره وے

له دے عقله هیڅ فائده حاصله نهٔ شوه　　لا یعقل دیونیو په شماره وے

دآشنا دِغم په سین کښے چے شنا کړے　　دجهان دِ موسونو کناره وے

دعالم په نېک وبد غرض نهٔ وے　　بے جوابه بے حجته بے چاره وے

په هر ځائے چه کښېنې دی عبدالقادره!
په حیرت ئے دجهال په ننداره وے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰۸)

کهٔ خبر شې په لذّت د ویرانئ
اور به پورې کړې پخپله ودانئ

ستا په تله مې غم اندوه نیب د زړهٔ شو — دریغه دریغه را به نهٔ شې نادانئ
جمعیت مې د خاطر په دین ستا شي — بې تا خلاص نهٔ یم یو دم له پریشانئ
ناکامي ورځنۍ بنهٔ ده په څو رنګه — چه مې ولیدې د هرچا کامرانئ
غور تیره کا آئینه غبار یې صافه — د مخ آب زیاتوي ګرد د دهقانئ
عاقبت به دینادار له دنیا دړ ومي — تش لاسونه زړونه ډک د پښیمانئ
په هزاره دشوارئ کښېوزي په لاس کښې — راشه ګوره څرنګ څې په آسانئ
چه په عقل غوبانهٔ شپانهٔ ترې بنهٔ دي — په دا دور هم هغه کاندي خانئ

دانا خان پوهه کېږي عبدالقادره
تهٔ چه ځانته دانا وایې نادانئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰۹)

پہ وار وار ئے پہ هرچا وکړے بازئے
دجهان پہ ورکړه هیڅوک مۀ نازئے

پہ آخر بہ ئے لتاسو غلیمان وړی
پہ خپل لاس ئے پہ خپلوانو وبازئے

د اخلاص اُمید هیچا تہ پاتو نۀ شو
آشنائی دہ اوس همہ مهمازئے

بے هوده گیلہ مندی کا لہ آسمانہ
جهان ډوب کړے دغمازو غمازئے

سرفرازئے سرنګون دړومی پہ ښکتہ
رابنکاره شوے ددُنیا سرفرازئے

پہ معنیٰ کښے مرګ ئے نشتہ تل ژوندون دے
دهغو چہ پاتو شی نیک آوازئے

ګوره څرنګ نازبردار دخاص وعام شول
چہ ئے تل کول کبرونہ طنازئے

لہ اولہ بلبل باز وے اوس باز باز شوے
عمر لاړ عبدالقادره پہ بازئے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۰)

ما د مینے خوئ له ځایه دے راوړے
تهمت اوس را باندے وائی روغ وګړے

په هغه نفس که ؤ وخپژی راضی یم — چه مے بے دیار دیادو سره نغړے
مُرده دِ له، له سینے نه زړهٔ بیرون کا — یو ساعت په کور کښے نهٔ پریږدی خوک مړے
بنهٔ چه راز مے وخپل یار وته بنکاره شو — نهٔ اغیار ته چه هر چا وته ئے سپړے
ستا د رحم ترسیلابه پورے څهٔ دے — دا زما ګناه مثال لکه خسړے
په ماتړی بے هغه هم راتخه یووړ — چه را پاتو وو د صبر چړے پړے
جمعیت چه له دُنیا په دُنیا غواړی — هغه غړی په معنیٰ د شکو پړے
په حرص به ئے نهٔ لږ نهٔ به ئے زیات کا — خپل قسمت ئے دے هر چا لره ورکړے
په خاکونو به ئے وا ګلِ صد برګ شی — چا چه زړهٔ پاره پاره وګورته وړے

که درست عمر دیار غم عبدالقادر کا
خدائے دِ نهٔ کا چه به شی ورځنی سترے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۱)

دهمه بنادیو سر د یار الم دے
چه فریاد ورځنی کاندی هغه کرم دے

تو د زړهٔ هومره ستم کوه دلبره!
پهٔ تندی مو قبول کړے ستا ستم دے

شکسته پهٔ شکسته باندے عزیز وی
ځکه زړهٔ ے ستا و زلفو وته خم دے

نګو ستا د مخ نمر وخیژی د نړا شی
ګنړه درست جهان پهٔ ما باندے تورتم دے

د بنادئ امید دلرے کا له دِلـه
چه پهٔ تا باندے مئین شهٔ تل ئے غم دے

آئینه چه ستا د مخ کوری سکندر شی
چه پهٔ لاس کښے جام د میو لری جم دے

عاقبت به مخ تورن لکه قلم شی
هر سرے چه دوه ژبان لکه قلم دے

تر آیذائے لا پخوا سزا د کړو ده
پهٔ معنیٰ کښے ظالم مار دے یا لړم دے

منت بار د یار د خیال عبدالقادر دے
چه همیش ورسره مل پهٔ غرهٔ پهٔ سم دے

---

ے اقتلو الموذی قبل الایذاء (حدیث شریف)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۲)

نهٔ یواځے دلاله په سینه کے دے
په دا باغ کښے چه بے کے ډے هغه کے دے

چه په تخت د قناعت د پاسه کښیناست
کمینه بنده د دهٔ کاؤس او کے دے

هر چه وخورے هغه شا شی نور به پرېږدے
دا دُنیا د مهمانئ ئے بنا ئے کے دے

په صورت ئے پرهرونه زړهٔ سورے کا
د هجران په لاس کښے هسے ناوکے دے

چه بدخوئ درکښے پیدا شی زړهٔ ورک کړه
بوټے وخیژی له مزکے شوتنکے دے

په ورکړوئے مهٔ شه خوښ بیا ئے اخلی
دا جهان ترمدک لا په خوی سپکے دے

کُندِستا په فضل خلاص عبدالقادر شی
په طاقت کښے خو هرګوره تپکے دے

---

ﻪ په دے بیت کښے ورومبے کے ~~عربی~~ دے یعنی داغ - آخرنے کے یعنے ټوک - په دویم بیت کښے کے د پخوانی بادشاه نوم دے - (حبیبی)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۳)

کهٔ د درست جهان بادشاه شې په هوا ځې — عاقبت به له جهانه بې نوا ځې
کهٔ حشمت دِ د سکندر تر حشم ډېر شی — خالی لاس به ځې بیا دروې یواځې
چه پتا بانده مېن ورته دِ شا کړه — له علم سره دا هسې خوا په خوا ځې
د غفلت پنبه را وباسه له غوږو — چه کڼو غوندې کوڼ نهٔ دروې شنوا ځې
ستا په دا خندا خندا شی د هوښیارو — چه آخر په ډېر ژړا په ډېر زګېروا ځې
کهٔ خاطر د تعلق له باره خلاص کړې — د رحلت په وخت به هاله بې پروا ځې
په عزت په حرمت راغلې و دنیا ته — په بدخوئ ترې شرمنده خجل رسوا ځې

څو قاصد لا د طلب راغلے نهٔ دے
بهتر دے عبدالقادره چه پخوا ځې

## (۲۱۴)

د هغو چه اور بل شوے په کوګل دے — د زړهٔ سودے د آهونو په وکبنل دے
ډېر مېن ئے جُله بیل کړهٔ نهٔ صبر یږی — بیلتون هسې رنګ لا خیر په بیلول دے
زړهٔ مې د جدائۍ په اور سوزیږی — کهٔ په زړهٔ کښې مې د یار محبت بل دے
څوک زما تر یاره بنهٔ دی په خلقت کښې — کهٔ جفا راسره کاندی بخت مې خپل دے
تر و په څو به ئے خلاصے له مینے کیږی — په ازل چه اور نیب زما د دِل دے
له یوهٔ چراغه دروی بل چراغ سته — پروانه وته مثال ځکه حاصل دے

څهٔ باور ئے په یارئ عبدالقادره
چه چاپېر تر هر ګل لکه بلبل دے

## (۲۱۵)

دریغه بیا په ګلو ګشت وکړې صبا شوې چه په باغ کښې رنګارنګ ګلونه واشوې
د شبنم پیالې ئې نوشې لبالب کړې له مستئ ئې د هر ګل قمیص قبا شوې
تور بورا ترې هر ګل قربانیدې د بلبلو په هر لور باندې غوغا شوې
مخامخ له یاره کښېناستې یو ځله د هجران غمونه واړه پسې شا شوې
که په کانړی د هجران میده شوم څه شو دِځنا په دود خو وصل ستاله پا شوې
مایه ځان لکه پتنګ ترې صدقه کړ که چراغ ئې د جمال راته نُما شوې
یار له مانه لا وما وسته نزدې دې که تر میان حجاب پاره پاره زما شوې
"زه" او "ته" په محبت کښې نه ځائیږی "زه" او "ته" له میانه ووتې یکتا شوې

خو دې پرېږده نور راځه عبدالقادره
که دِ ذره دې چه زه ستا شوې ته زما شوې

## (۲۱۶)

په وښیل د کوم بې رحمه ځیګر ور ځې چه دا هسې ډېر پېس را کښلې بیا زر ځې
د عاشق د سترګو نمر نه حجابیږی ولې هسې شان مخ نغښتې په میزر ځې
د بزرګئ ئې په مقام په هله کښېنې که د ورکړه د مړانې په وزر ځې
د هوسیو سترګې تورې د باز سرې دی خونریزی تر تورو سترګو، لا زر ځې
در پوهیږم چه په سل مصلې ننګ کړې چه دوږخې وته ډېر ډېره قلندر ځې

تصدیع مه کړه کشته کاره وته په سر ځې
که په وژله د بیدل عبدالقادر ځې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۷)

دیوه په غولی ویر د بل سرود دے | چرته غم چرته ښادی د دُنیا دود دے
په نور څه ئے صحت نه کیږی له درده | په هجران کښے د یار یاد د خاطر سود دے
په ډیروالی ئے لا غم په سړی ډیر شی | بیهوده دی په دُنیا پسے مبنود دے
رنګینه شعرے مه کړه خبرے | دا دوان زما د زړه د وینو رود دے

چرے نه چه خالی لاس ورځئ ووځے
خرید کړه عبدالقادرَ! بازار تود دے

## (۲۱۸)

ځئ[۱] په بیدے بیدیا وُنوے ژړے | د صحرا د وُنو پانړے پټ خوړے
چه له دوړه د ښتن وړتلے بل لورته | لکه سپے په کانړو لوټو ئے شړے
د جهان په خوږو هیڅ غرض مه وے | ګل ترخه ے د خوږو غونډے نغړے
د حرص د سپی غاښ مات په قناعت شوے | په زنځیر ئے بیا د صبر وتړے
عاقبت به هر بادشاه په ایرو پریوځی | که مَلنګ وی په سپیرو ایرو لړے
په ما نوم د بادشاهئ مه وے پورے | خوشامدے مه کړے چا، تل ئے زیرے
هر ظالم به د دوزخ په اور کښے وینے | لکه سپے په زنځیرونو ختکړے

هر کاره به بهادرشاه چیرے خبر کا
حال عبدالقادره مه وایه سپړے

---

۱ د خوشحال خان خټک د یو غزل مطلع دا ده:—

سر په بیدے بیدیا وُنوے ژړے | په صحرا د وُنو پانړے پټ خوړے

عبدالقادر خان خټک د خپل هم دغه غزل مطلع وړاندے په یو ترجیع بند کښے هم استعمال کړے ده۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۹)

ته څۀ هسې بې نظيره دلبر نۀ يې　　چه ښکاره په درست جهان لکه نمر نۀ يې
په هر کلي په محلت خبرې ستا شي　　هسې نه چه په عالم کښې سمر نۀ يې
په پياله چه شونډې کيږدې نو عسل شي　　بيا به وائې چه په شونډو شکر نۀ يې
د سپوږمۍ ښائست په ستورو نۀ زياتيږي　　حاجتمند د لعلو دُرو گوهر نۀ يې
آسمانونه مې د آه په لوګي تور شول　　ته لا هيڅ زما له سوزه خبر نۀ يې
که دِ زړۀ دې چه توانګر شې طمع پريکړه　　څو دِ طمع چا ته شته توانګر نۀ يې
پوړه، کچکول، شړۍ خو ډير متاع دي　　څو دِ ستن په کند چه شته قلندر نۀ يې
په جهان دِ ځکه بُوئيږ د خوبئ نۀ ځې　　چه بيدار لکه غنچه په سحر نۀ يې

ښۀ غزل درته ښکاره عبدالقادر کړ
له معنوئ لذت واخله کۀ کر نۀ يې

## (۲۲۰)

هر عاشق چه طمع کاندي د وفا ئې　　تر وفا دِ لا خوښيږي تر جفا ئې
په ريښتيا زما د مخ عاشق هغه دے　　چه د مخ ئې نندارۀ کا تر قفا ئې
دا د خيال شاطر ئې ډير ملال رادړومي　　گوره بيا په کوم ديار بند شو آشنا ئې
ستا زحمت د محبت دے طبيب ووئې　　بې ديدنه به روغ نۀ شې په دوا ئې
د ښامار د خلې مهره وکښل محال دي　　ستا په تورو زلفو بند شوه مدعا ئې
د آشنا د آشنائي قدر ئې نۀ دړ　　کۀ په اور د بيلتانۀ سوزم سزا ئې
ستا د کوڅې پوښتنه کاندي نۀ ئې مومي　　ځکه هسې سرگردان گرځي صبا ئې

زما وصل د هغو عبدالقادره
چه خپل سر شندي د وصل په بها ئې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۲۲۱)

صدقه شمه ساقی ستا تر پیالے
چه دِ خلاص کړم د جهان له کښالے

چه ډیر ډیر د جدائی له غمه ژاړم
په رخسار و کښے مے سازے شوے نالے

په یاری کښے په حاله صادق بالۀ شے
که تر مرګه د یاری پت ؤ پالے

یار هغه چه په محنت کښے یاری ؤ کا
ډیر یاران دی په ساعت د نوالے

محبت د عاشقانو عظیم کوټ دے
پروانۀ کا د پیغوړ له اتهالے

ساحران ئے د چشمانو دین ایمان ؤړی
سحر کړی کۀ زړونه وړی د ښنګالے

په ښکاره نارے وهه عبدالقادره!
په خاطر کښے به څو غم د عشق ګالے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۲)

مخ دِ کله نمر دے، ترنسبت ئے نمر مثال دے
څوک به هسے وائی، چه نمر ستا د مخ مثال دے

هائے خدائے دپاره یو دم مهٔ دې وهه لمانه
یو زمان بیلتون دِ بیا خوار بیلتون دکال دے

سخت وی په سړی باندے نزدے هجران ترلرے
یا رچه لیدهٔ نشی تر دکنه تیر دیوال دے

خلاص ئے له یوهٔ جنجاله نهٔ وُم بل را واخلی
هر زمان لما سره په سل رنګه جنجال دے

وائی چه وبال دے چه نظره وبنهٔ مخ ته
ما په دوارو سترګو قبول کړے دا وبال دے

حُسن یو اثر دے چه په مخکښے د چا وُ شی
نهٔ چه کړهٔ ورهٔ بنهٔ لری هغه صاحب جمال دے

دم کهٔ مے همدم دے هیڅ بکار زما را نغے
لېچه دلاسه مے د خاطر کا دیار خیال دے

څهٔ برکت ناک دے د عشق خُم ورته حیران یم
څو خلق پرے مست شهٔ دے لاهسے مالامال دے

هر چه سوخته کان دی په خاطر به ئے تکیږی
اور مے د سینے چه سر وهلے تر مقال دے

زرهٔ لری تو اسکر عبدالقادر تر بادشاهانو
څهٔ شوکهٔ په کور کښے دُنیا نهٔ لری کنګال دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۳)

نن په درست جهان کښے غوړه یار زما دے
په دیدن ئے سربښندنه کار زما دے

د خزان ویره ئے نشته تل تازه وی ‌ ‌ کښلے مخ ئے همیشه بهار زما دے
په وار وار نوړو پیالے د مئو نوش کړے ‌ ‌ ساقی اوس ئے وما راکړه وار زما دے
وُئے مهٔ شلوے زما له غاړے خدایا! ‌ ‌ د خپل یار د زلفو تار زنّار زما دے
د مرچا په ګردن پروت د مینے بار دے ‌ ‌ تر همه وارو چه دروند دے بار زما دے
چه یو دَم مے له خاطره نهٔ بیلیږی ‌ ‌ لا دِ تا نه دِ تا غم غمخوار زما دے
درسته شپه ئے عشق بازی کوم له درده ‌ ‌ په دا خهٔ شو کهٔ جدا انګار زما دے
کهٔ دسته د ګلو راکا هم به خار شی ‌ ‌ په ازل چه نصیب شوے خار زما دے
بنا شته لکه ګلونه د سپرلی دی ‌ ‌ پرے همیش لکه بلبل چیغار زما دے
عاشقان به د پتنګ غوندے پرے سوزی ‌ ‌ په معنیٰ کښے سرے لمبے اشعار زما دے

کهٔ کرم را باندے کا عبد القادر یم
غم ئے نشته کهٔ حساب کا زار زما دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۴)

کاه په خانقاه کښې، کاه مقیم په میخانه یئ
هیڅ درنهٔ پوهیږم چه عاقل که دیوانه یئ

کله له هندو له مسلمان سره خپلوي کړې
کله له همه واړه عالمه بیګانه یئ

ته که لیونی د آهو چشمو مینې نه کړې
ولې شپه او ورځ لکه غرڅه په ویرانه یئ

واقي راته "وایه چه د جان که د جانان یم"
ځار شم ستا ترسترګو هم د جان هم جانانه یئ

شونډې د یاقوت دي دُرګوهر د سپین غاښونه
سرتر پایه د دست د بادشاهانو خزانه یئ

څوک د له لیدو، څوک له خبرو مراد موندي
څوک د له وصاله، د همه خلقو ستانه یئ

باغ د ښخته پکار دې، خو د مخ لکه ګلزار دی
یارلره راغلې د ګلونو په بهانه یئ

لږ به ستا له مینې په رموز درته ووایم
مینې په آروید و که د مجنون په افسانه یئ

مئې د دخیل یار د شونډو خبلی دی پوهیږم
ځکه په ویل عبدالقادره! مستانه یئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۵)

بیهوده د چا په چا باندے هائے هائے دے
په چپل ځان کهٔ ژړا کا د ژړا ځائے دے

گذشته عمر همه په لهو ستیر شهٔ
آئنده کهٔ په داشان ځي زما وائے دے

کهٔ دِ جاه کهٔ دِ دولت کهٔ زویه وُرونړه
زړهٔ پرے مهٔ تړله عاقله تش نمائے دے

محبت د مولا کړه، مولا باقي دے
په فاني چه محبت کاندي کج رائے دے

ن سحر صبا بلبل ته نصیحت کړ
هغه گل وړ پسے غواړه چه دیرپائے دے

د هوا په اَس سوارهٔ، په فهم د ړومه
په دا لار به هاتي نښلي هسے لائے دے

لاف د خدائے د بندگئ کړه، محکوم نوړو
د هر چا چه حکم وُړے هغه دِ خدائے دے

کهٔ ئے شپږ اقلیمه وي چه اُووم غواړي
وهغهٔ ته بادشاه مهٔ وایه گدائے دے

د همائے د سیوري څهٔ پرواه لریته
چه قانع په خپل قسمت شهٔ خود همائے دے

د هغهٔ شاهسوار پسے وُړه عبد القادره!
چه د اَس ئے د افلاک د پاسه پائے دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۶)

محبت په کښلیو کا تمام وګړے
چا دا اور دے بنکاره کړے څنو نغړے

ثمره ئے خواه مجاز خواه حقیقت دے
په انسان کښے دے کړلے د عشق زړے

زما داغ عارضی نۀ دے چه به ورک شی
د لاله غوندے م داغ ځائی داوړے

ګل ګریوان په نغمه څیری د بلبل کړه
نسیم نۀ دے ګریبان د غنچے سپړے

رابه وُوځی عاقبت د غم له چاه
چه نیولے ئے په لاس د مینے پړے

نۀ دے مړ چه واخلی، ورکا، مرد معنه دے
چه کښې پخپلو غړیو پوخ کا غړے

چه ثوک نۀ کاندی آزار، له چا نۀ اخلی
تر کسریٰ تر حاتم ځان مغۀ تیر کړے

که سفله څښتن د جاه شو، په دا څۀ شو
په معنیٰ بربوکی پورته کړۀ خسنړے

زۀ خټک د یار په غم تازه تازه یم
غوریه خیل رحمان که شو ورځنے ستړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۲۲۷)

یار راحتی لاړ شو، دمه کړم په ګفتګو ے
ګل د ګلاب تیر شی بوئیں اخست شی له اوبو ے

نمر وَته نظر کړم چه مے یاو د آشنا مخ شی
نوے میاشت ته ګورم چه را یاد ئے شی آبرو ے

پاسی مے په تندی کیږدہ قدم د چینے ګُله
سپین نازک په مثل تهٔ زما د یار د رُو ے

یارانے د یار د کوڅے یارانے له خـدہ
اے د صبا بادہ تهٔ چه مسے رنګ خوشبو ے

شنړہ وُنه مشے، چه فائدہ ترے موندہ نشی
وُنه شه باردارہ د څِل یار په لمن تو ے

غم انډولا په بخرہ د هغو چه عاشقان دی
خوښ ګرځه زاهدہ چه له عشقه ئے بخشو ے

نهٔ بنائی وسپوته د انسان خبرے بزرګے
تهٔ چه له رقیب سره مدام په ګفتګو ے

وارو ه بله نشته داوینا وایم څرګـنـدہ
یا به ئے خلهٔ کښل کړم یا به وینے کړم پرتو ے

زړګے دِ خجل کړے تر یانهٔ پورے ګُل وارہ
تهٔ چه په انګنړ کښے په خرام په تګ وبو ے

ستادہ دبل نهٔ دہ زما خلهٔ عبد القادرہ!
ولے ئے دا مسے د حرص په جُله ژو ے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۸)

وائیم وائیم چه چانهٔ وے بیا به واے — تل د ښو عمل کوه، عمل به بیا ئے

کهٔ یې ډیر مښود دولت د دُنیا قبول کړے — واړه سعی د ضائع ده چه نهٔ پائے

د نعمت ګټل آسان ساتل ئے ګران دی — فهم وُکړه، چه ګټلی نهٔ کړے بائے

ځان غبار کړه د هغهٔ صبا دُ لاړ ے — چه ګذر په کوڅه کا د دلربا ئے

دواړه پښے زما په خوږو سترګو کیږده — د بیمار و سترګو ځے دی ستا پائے

ستا په مینه باور څهٔ د عبدالقادر کا
چه میخوک در نه پوهیږی چه د چا ئے؟

## (۲۲۹)

چه حجاب ترمینځ زما، زما دُرب دے — اول زهٔ، دویم عالم، دریم سبب دے

ترشیطان چه لا غلیم زمونږ دُدین دے — اول نفس، دویم شیطان، دریم غضب دے

چه سرے پرے دوست دښمن وته عزیز شی — اول حلم، دویم جُود، دریم ادب دے

دادرے درده خدایا واخلے له درد منده — اول غوږ، دویم لیمهٔ، دریم سروب دے

چه دادرے ځیزونه پریږدی مُراد موی — اول نام، دویم آرام، دریم طرب دے

ودانی د کائنات ده په درے ځیزه — اول من، دویم غنم، دریم عنب دے

چه مطلوب ته رسوی عبدالقادره!
اول صدق، دویم شکیب، دریم طلب دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۳۰)

نن ے بیا تر بادشاهانو زیات دِماغ دے — چه ساقی راته ولاړ په لاس اياغ دے

چه ئے داغ د غلامئ راباندے کښیښی — افتخار ے په دوه کونه په دا داغ دے

دنړاۍ ئے نهٔ په نس، نهٔ په سیوري مئ شی — د عاشق د غم دَخُونے، غم چراغ دے

د اُمید گلونه زړه پژمرده کیږی — چه دائم تروتازه دے، دیاس باغ دے

د تشویش په تلهٔ ئے لا تشویش زیاتیږی — فراغت ے د خاطر په نهٔ فراغ دے

ښهٔ په ښهٔ باندے مئین وی، بد په بد و — طلبگار د بازو باز، د زاغو زاغ دے

چه دخلے وعدے کوے عبدالقادر ته
د اوښل دِ په رښتیا دی، که دِ لاغ دے

## (۲۳۱)

چه دا هسے هوښیاری کړے مجنون نهٔ ئے — لا په مخ دیناستهٔ مفتون نهٔ ئے

بیا به نهٔ موے وصال د الف قدو — چه په مینه کښے ئے خم لکه نون نهٔ ئے

ستا په سترگو ے سوگند دے چه یاره — چه یو دَم ے له خاطره بیرون نهٔ ئے

د رقیب وئیل اثر درباندے وکړ — مهربانه نن پښتان دیرون نهٔ ئے

عاشق شوے په چا نهٔ ئے معلومیږی — چه په غم د عاشقانو محزون نهٔ ئے

په جذبه ے د عشق وځکوے ځان ته — ماموند ے په تعویذ په افسون نهٔ ئے

تو سختی د زړهٔ لرے عبدالقادره!
هومره تاؤ د عشق نهٔ غمه ځئ ستون نهٔ ئے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٢٣٢)

محبت په تور او سپین راغلے نهٔ دے — په اصیل او په کمین راغلے نهٔ دے
صد ساله مومن کافر، کافر مومن کا — په مذهب په کیش په دین راغلے نهٔ دے
عشق عطا ده ازلي چه په چا وشي — په ارشاد او په تلقین راغلے نهٔ دے
بے هوده په عشق کښے سوال کوي د صبر — د دے خواست هرګز آمین راغلے نهٔ دے
په راتلهٔ ئے بنائسته د مزے مخ شهٔ — په دا شان څوک په زمین راغلے نهٔ دے
په دکان د عطار هومره خلق پنډ وي — څو په زلفو عنبرین راغلے نهٔ دے

نهٔ تنها عبدالقادر لتا زړهٔ خوږین وړي
څوک لتا نه په زړهٔ خوږین راغلے نهٔ دے

## (٢٣٣)

نهٔ پوهیږم چه په څهٔ دِ زړهٔ آزار دے — چه دا هسے خپل پردے له ما نه زار دے
زهٔ دِ ډېره جفا وړم د ربانه سپک شوم — ګنړه کوم سړے لما نه وفادار دے
وے ئے "زن به آزمائش کوم د نورو" — بنهٔ حاضر جواب ئے کړ "بنده تیار دے"
له پتنګه محبت د شمعے ډېر دے — چه اول ئے په زړهٔ بل د مینے نار دے
په رښتیا وئیل دلګیر په دروغ خوښ وي — همیشه د منافق سړي دا کار دے
مومن څکه مقام نهٔ کا ترے تیریږي — دنیا پل د آخرت دارالقرار دے
ننداره ئے د جهان د چمن وکړه — په هر دم په چا خزان په چا بهار دے

هیڅ پرواه نهٔ کړم له چا عبدالقادره!
په ښکاره نارے وهم فلانے ئے یار دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۲۳۹)

څه په سیل د باغ لاړ نهٔ ئے چه ژړا شے
چه یے ووینے له ورایه په خندا شے

زهٔ له شوقه استقبال ته وړروان شم
ته لما غاړه غړیه خوا په خوا شے

رنګارنګ د باغ میوے ګلونه راوړے
ماجرا د تلو راتلو وائے ګویا شے

کهٔ په زړهٔ بانده ے غم واندوه پروت وی
په نفس ئے تار په تار کړے غم زُبا شے

زهٔ د درسته شپه خیرخیر و مخ ته ګورم
ته ناظر و خپلو پښو ته له حیا شے

چه خوب درشی سر زما په زنګون کیږدے
د غنچے غوندے ودهٔ په غیږ زما شے

زهٔ د مخ ته نظر کړم په ربړ ژارم
چه آخر په یوه ورځ لما جُدا شے

زما وښکے په رخسار د تا پریوځی
ویښ له خوبه لکه ګل په شبنم بیا شے

په رومال ے سترګے وُچے کړے داړ را کړے
زهٔ فریاد کړم ته زما په دلاسا شے

ټینګوے ژړا زما د زړهٔ د پاره
چه غریو ذوړ دربانده ے وکا په ژړا شے

زهٔ ترتا اول مرګ غواړم، ته له ما نه
زهٔ وتا ته، ته وما ته په دُعا شے

اے زما مینه لاړے هسے ملک ته
لا عجب دے کهٔ په خوب کښے را نما شے

مګر فضل د خدائے وی عبدالقادره!
چه له یاره مشرف په وصال بیا شے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۳۵)

لکه زهٔ په یار مفتون یم، بل به نهٔ وي مفتون هسې — لکه زهٔ پسې محزون یم بل به نهٔ وي محزون هسې

پرون غیبن په غیبن له یاره ننن ترمنځ لرې ملکونه — دا انصاف د زمانې دے، چه نن هسې پرون هسې

په قیامت به هم په هوش، د الفت لیونی نهٔ شي — چه به روغ شم بې دید نه زمانهٔ دے جنون هسې

خط په مخ د دلبر راغې، شور د زړهٔ په ښهر کړه شهٔ — چه د حُسن بادشاه لیږي دے د خط د مضمون هسې

آئینه د چل زنګون وُما ته جام جهان نما شوه — ځکه سر لوم تل ایښے د فکرت په زنګون هسې

په کاته د سترګو زړهٔ وړي په خبره ځني صبر — د جهان په مخ به نهٔ وي سحر هسې افسون هسې

د دُنیا په غلیمیٔ کښے عیسیٰ وُخوت و آسمان ته — په دوستیٔ کښے ئے لاځي تحت الثریٰ ته قارون هسې

د ژوندون فائده داده چه لیده کوي د کښلیو — چه ئے دا فائده نهٔ وي مرګ بهتر ژوندون هسې

دا غزل په پښتو ژبه چه بیان عبدالقادر کړ

د رو غژن یم که بے خانه واڼي بل یو پښتون هسې

---

لکه زهٔ په یار مئین یم بل به نهٔ وي مئین هسې

لکه زهٔ پسې غمژن یم بل به نهٔ وي غمژن هسې (خوشحال)

عبدالقادر خان د خوشحال خان د غزل قافیه بدله کړه او ځنو د عبدالقادر خان همعصرو او ځنو د هغهٔ نه وروستو اوو اتو شاعرانو پرے طبع ازمائي وکړه۔ لکه صدر خان، محمدي صاحبزاده، معزالله خان مومند، عثمان، اودل، اشرف او ځنو وغیره۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۲۳۶)

اے چہ پہ قد سروہ پہ بنہ مخ گلزارہ ئے
تۂ پہ دا بنائست دکوم نیک بخت نگارہ ئے

سرۂ نمری اغوستی، ولول زلفے سترگے تورے
خیں دِ وی چہ بیا دچا پہ تاخت تیارہ ئے

هیڅوک دِ مخے دبنائست نشتہ پہ جهان کښے
هئ توبہ لتا چہ تۂ دیرو یارہ ئے

تل دِ دوارہ شونډے پہ نوشل دوینو سرے دی
زړۂ پہ چا نۂ سوزے تۂ یوځۂ خونخوارہ ئے

حسن دے کۂ خیال دے، کۂ دماغ کۂ مکین ونہ
تۂ پہ داخویونو پہ عالم اوخارہ ئے

نۂ ے پہ بل کینلی نظر کرے، نۂ پہ گل دے
بیا پہ کوم گناہ داسے شان آزارہ ئے

څرنگ بہ باور عبدالقادر ستا پہ یارئ کا
یو ساعت ئے یارہ، بیا پہ بل ویزارہ ئے

## (۲۳۷)

کہ پہ حسن نۂ وی دا بنیکلے ملوکے
تروے ولے عورے شوے ملوکے

دعاشق ترزړۂ ئے وو بیتے منگوے
دوارہ سترگے ئے شاهین باڑہ ئے نوکے

دهجران لہ دردہ هیچ سرے خلاص نۂ دے
توک پہ وړو وړو آشنا زاری څوک پہ کوکے

دفراق پہ لمبو زړۂ سورے سورے شو
چہ بنکارہ ئے کرے ویښتو ترزنے څوکے

چہ ئے ونہ میانہ زمونږ دِلبر دہ
ونور خلقو وتہ پریښے لنډے بوکے

عاقبت بہ خپلہ بریرہ کری کسکرہ
چہ پہ لوری دآسمان غورځوی توکے

پہ جفائے صبر کرہ عبدالقادرہ!
پہ جهان کښے کښلے نشتہ نیک سلوکے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۳۸)

ماه مرکز په درست جهان کښې نور ے ستر کے
لکه ستا لیدلی نهٔ دی تور ے ستر ے کے

بیهوده په غزاله وُ پیبے کېږ ے ځے — زما یار لره راځه کهٔ کور ے ستر کے
چه فائده ئے دبنهٔ مخ لید ے نهٔ وی — دمغو سرپو ښے دی کور ے ستر کے
نهٔ دِ شرم شی له پیره نهٔ له میره — ستا په دود به دچا نهٔ وی سپورے ستر کے
ثوابت ئے تر نظره سیاره شی — چه ئے سر وی کرځیدلے تور ے ستر کے
چه جهان مے ئے په ستر کولیده، لاړ شو — نوز مے خدائے کاله عالمه پور ستر کے

په دیو ستر کو به ئے حُیر عبد القادره!
نهٔ کړے نور ے په خپل مخ کړه پور ے ستر کے

## (۲۳۹)

اے په حُسن ترهمه کښلیو اَو ے — بیا دِ واخستے ناسازے په لاس و ے
په وار وار د دیرو زلفو دور تیر شو — ستا په مخ به تل پرتے نهٔ وی وَلو ے
دعشق سر دِ سلامت وی کښلی ډیر دی — چه سرٌ وی په جهان لږ ے نهٔ دی خو ے
دریوهینم په خبرو ے تیر با ے — چه ویٔلے شی دا صبے مطلو ے
داسبق چه تل له یار سره جفا کړ ے — راته ووایه له کومه مُلا لو ے
لا دعشق خامی لرے عبد القادره! — چه دیار له جفا زار کوے یا خو ے

---

ئے پښتو محاوره ده ۔ چه سر حیات وی ټوپئ ډیر ے ۔ (همیش خلیل)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## ۲۴۰

نن سحر صبا نارے وکړے بلبلے — د بهار زیرے کاوهٔ یوے په بلے
وے ئے "زیرے مے درباندے خزان تیر شو — بهار راغلے پاڼو ونیوے وُلے
وار د غم د محنت تیر شو خوشحالی کړه — د غمژنو غوندے څهٔ ننو وتلے
اوس را درومه چه ګلونو باندے ګشت کړو — لور په لور د ګل غوټئ دی غوړیدے"
دے وے "تا د بهار غم لیدلے نهٔ دے — هم بهار په ما لمبے وُلګولے
د خزان د بهار ورځے راته یو شوے — چه مے دواړه تیرید و نے وُکتلے
له دے پسه به بهار په ځان حرام کړم — د خزان خوشئ مے زیاتے وُلیدلے
خوشحالی به لکه زهر ورنیکاره کړم — کهٔ د غم پیالے ډیو ځله وُڅښلے"

نصیحت عبدالقادره ځنے وا خله
دا وینا بلبلو تا وته ویلے

## (۲۴۱)

خود کرده به ما نړے کاله نور و وے — دهٔ پخپله پخپل ځان کړے لمبے بلے
کهٔ مقصود ته رسیدهٔ په عنایت شی — وے نهٔ بویه سستی له سعی ځلے
یو زهٔ نهٔ یم چه فریاد کړم ستا له جوره — ستا له جوره د عالم سینے دی چلے
د عاشق کمال سوختن دے ډیر سنهٔ وشول — چه پتنګ د عشق په اور شو جلے بلے
په وصال ئے یا نصیب څوک مشرف شی — د وګړی پسے وُختلے ستلے
شیخه! نور زما توبه یاری به نهٔ کړم — په دُعا وُ کهٔ یار بیا مومم دا ځلے
د موندو وسواس ئے مهٔ کوه طالبه! — کهٔ ډپښے د طلب نهٔ دی دواړه شلے

په دوه کونه به سرخرو عبدالقادر شی
کهٔ ئے وینے شی د یار له لاسه تلے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٢٤٢)

چه بیرون کاله خاطره غیرے باتے — هم مغه به ئے په مخ کا سترگے لواتے
چه ئے نهٔ په نور خوری نهٔ ئے ځان خوری — عاقبت شی د مغو خونے میراتے
د به مرګ د خاکسارانو غونډے راکړے — چه وارث ته مے پیسے ایږ شی پاتے
تا بُانو بیا توبے کړے، چه دلبرے — تورے زلفے په سپین مخ کړے ماتے ماتے
د هر شخیز رجوع وخپل اصل ته کیږی — ځکه دږ دی و بد ذات لره بد ذاتے

مخے نهٔ شی په درګاه د دلبرانو
که ورځی عبدالقادر په ننواتے

## (٢٤٣)

کهٔ په ژبه دِ نوم نهٔ اخلم یعجرے — په تش نوم به دِ هم سود کوم دلبرے
اے له سترګو بیرته، هر زمان زړهٔ ته حاضرے — نهٔ له تازهٔ لرے یم، نهٔ زما نه لرے
د زاهد د سترګو آب عومره په ځائے دے — څوئے سترګے بانړے نهٔ دی برابرے
قرارے آرام ئے ورک شی تل تر تله — چه په زړهٔ ئے ستا د غم شتئ شی سرے
شونډے ستا لکه نبات همسے خوږے دی — تلخ ویئل ځنی نهٔ بنائی لب شکرے
کهٔ مے سیخ په سترګو نیخ کا خدائے دِ نهٔ کا — چه به سترګے کړم له تانه لرے برے
د بڼو سیورے دِ خار په پښو څرخیږی — له حیا چه کوز کوز ګورے ناز پرورے
د خطا د ملک نافے وارهٔ خجل شی — بار چه ستا ز لفے خورے کا معتبرے
کهٔ دِ چیرے د آشنا په کوُئے ګذر شی — د صبا بادهٔ! زما سلام پرے وَرے
زهٔ به څهٔ ځنے ما نږے کړم، یوزهٔ نهٔ یم — په غمزو ئے خلقے کړے دبرے

خټک وتر عبدالقادر د دُنیا پرینبول
ورته بس دی وُچے شونډے سترګے ترے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۴۴)

لا دې يو ماڼې زور نهٔ وي، نوې بيا کړې
چې ئې غم لره زما سره آشنا کړې

يو زمان راسره نهٔ ئې بې جفا سنه
په هر دَم راسره سل رنګه جفا کړې

نهٔ دې ويره شي له آه نهٔ شرمېږې
په سرخهٔ چې زهٔ پښېږم هغه لا کړې

له اغيارو سره ناست ئې په مجلس کښې
چې ما وويني روان شې راته شا کړې

وايم مهٔ ځانده بل چا سره زهٔ سوزم
ته زما له کسته لا زياته خندا کړې

هم مې خون په تېرهٔ تيغ د تغافل کړې
بيا وئيل کړې له نا خواله چې خون چا کړې؟

په ترخهٔ وئيل مې کله خاطر سنهٔ کړه
کهٔ په سنو خوږو خبرو عار لما کړې

چې په ژمنه د راتللو دې وغوږن ئې
دا د نهٔ راتلو وعده وې رښتيا کړې

بې تا نهٔ وينم په سترګو لا به کله
په ديدن زما ړندې سترګې بينا کړې

يو ځل راشه زما خوار کره ميلمه شه
چې په راغله مې د غم خونه رڼا کړې

چې د مينې دعوىٰ کړې عبدالقادره!
بويه دا چې ترکه خپله مُدعا کړې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۴۵)

زهٔ که په رنګ بدیم کښلیه! عار ولے نما کړے؟
چارے د قسمت [illegible]ی زهٔ ئے زښت تهٔ ئے زیبا کړے

یو ځلے بیا راشه په ګلونو ګلزار وکړه
اے د صبا باده! چه بیا نغښتے غنچه واکړے

ګل دِ په هجران کښے صد پاره خپله سینه کړه
سرے دِ له فراقه لاله سترګے په ژړا کړے

ولے له شیدا بلبلے مخ جار باسے ګړله!
تهٔ په دا خوبئ کښے هم د دهٔ نارو رسوا کړے

لا خوشبوئ ورکا عود چه واچوے وَ اور ته
زهٔ به وفا زیاته کړم که تهٔ زیاته جفا کړے

تهٔ د حُسن نمرے د انور کښلی لکه ستوری
ګُل به کالعدم شی، که ښکاره خپله بقا کړے

تل لباسی وائے، دروغژن عبدالقادر ستهٔ
کښلے بل تر دهٔ که مخلص یار چرے پیدا کړے

## (۲۴۶)

بیا دِ زلفے په فلیلو سره تَر کړے
کوم نیک بخت وی چه به غیر ئے معطر کړے

لږ نظر مے په حال کړه ذره مثال یم
په دا شکر چه ئے تهٔ د حسن نمر کړے

باده اګر دے د کوڅے را لره داوړه
چه محلت مے په عنبرو معنبر کړے

شکر خدائے له چه تهٔ سرے کړے د کښلیو
بیا له پسه ئے زما د زړګی سر کړے

بوڼیں به ستا د محبت ځنی روان شی
که پاره مے د نافے په دود ځګر کړے

په نازکو شونډو بار د پانو مهٔ بده
خدائے چه شونډے وتاسرے بے پانو دَر کړے

صنوبر غوندے پرے زړهٔ ته آویزان شول
په ښهٔ قد ئے په مثال د صنوبر کړے

سرهاله لرے سودمند عبدالقادر ستهٔ
که په تور د محبت ئے چرته ورکړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۴۷)

لا به کله باران وکړے چه به سوی بوټي شنهٔ کړے
ستا وَرحم وَته ګوری، به کړیا بو رحم وُکړے

په درګاه د رته پراتهٔ دی، هم له تا نه به غوښتهٔ دی
ستا وَ داد وَته ئے کاتهٔ دی بخیل دا دے زړهٔ نه بنهٔ کړے

نامرادکهٔ به مراد دی، کهٔ بنادمند دی کهٔ نابناد دی
وارهٔ تا ته به فریاد دی، دمه وُزیرمه تهٔ کړے

مسلمان کهٔ کافران دی، عاصیان کهٔ مطیعات دی
رزق خوړونی ستا دخوان دی، رزق له هیچا دریغ نهٔ کړے

زیږوے چه اوړ له خسه، ورځ پیدا د شپے له نسه
بنکارهٔ شهد له مګسه، به قدرت وینے شودهٔ کړے

چه په چانشی په تاشی، چه په تاکیږی به چاشی؟
به حیرت ورته دا ناشی، ربه هسے رنګه کړهٔ کړے

زهٔ عبدالقادر بدکاریم، معصیت کړم ګنهګار یم
بیا له تا نه اُمیدواریم، بخیل فضل ے زړهٔ بنهٔ کړے

## (۲۴۸)

تهٔ چه دوارهٔ سترګے تورے به کجل کړے
سیاهٔ چشمے دکشمیر وارهٔ خجل کړے

دڅوړا آوازِ دِلا عقل رُبائے دے
څهٔ حاجت چه به دا ریال کینے جلاجل کړے

خاوَرے شوی ګلرخان ے زړهٔ رایادکا
نن نارے دنوبهار به ګلو جل کړے

ګله! کشکے به دا باغ راغلے نهٔ وے
زمازړهٔ به دفراق په لمبو جل کړے

لکه څوک دلاله زار به سیل دړومی
وسرهٔ اورته به درحم کهٔ ئے بورجل کړے

دهوا لړے دِ بریوتے به سترګو
چه به عیسے سمه لار کینے ئے ارجل کړے

هرهٔ ورځ عبدالقادرهٔ نصیحت کا
کهٔ تهٔ غوږ به وعظ کړونیو داجل کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۴۹)

چه یو ځل ئې د غمزې په تیغ زخمي کړې — له احواله ئې بیا وې بې غمي کړې
ستا په داغله مې د خوږ خاطر صحت شي — په خالي را تلنه هسې بې رحمي کړې
یوه ورځ به دِ زړه تورکاندي لما نه — چه غماز سره دا هسې محرمي کړې
زما زړه لکه غمې وو د یاقوتو — د ازل نقاش ته ئې په داغمي کړې
شیخه! درغلم سرې شونډې سترګې تورې — راته ثو دیار ساقي ئې محکمي کړې
په هر دَم دِ منت باریم دیار غمه — چه له دم سره مې هسې همدمي کړې

ته ئې رشتینې ئې دهاله عبدالقادره!
که ئې په عشق کښې مې اختیاره بدنامي کړې

## (۲۵۰)

دا چه نور بنا ئې ستمه ما ته یاده وې — د رپوهېږم بیا ستم بنیاده وې
بې له دې چه مدعي یم ستا د مینې — نور به کوم ګناه ومانه زیاده وې
چرې نه وي چه ما هم ورسره خلاص کړې — چا وې تن چه خپل بندیان آزاده وې
انتظار ئې د بنادي انده دوتاکا — لا به کله الله وهکېږ دِلشاده وې
چه آخر ئې بیا هم ته په مزکه توئې کړې — باده! ګل د چمن ځله ئې کشاده وې
په خالي فریاد به هیڅوک فرهاد نه شي — تر ځان تیرشه که ئې خپل ځان فرهاده وې
ستا دا خوئ فلکه اوس نه دې ځائي دې — چه آبله د زمانې پرې مراده وې
چه خبر په حقیقت د علم نه ئې — په لږ علم ځکه ځان استاده وې

لږ حجاب عبدالقادر ته د مخ واخله
که بنیاد ئې د هستئ برباده وې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۵۱)

چه دا هسے رنګ په نغته دخپل نس شوے — ځکه بند د غافلئ ئے په قفس شوے
شهبازان په دغه بند کښیوتے نهٔ شي — تهٔ د غنړۍ په جال بند لکه مګس شوے
چه هوا دِ غورځوی هورے تهٔ دړوے — بے وقاره په ښوسپک تر خاروخس شوے
که په اوړ د محبت دِ ځیګر وسوے — له غه لسه به ژوندے لکه ققنس شوے
چه دِ وپوښتي څوک هاله څهٔ ووایه — بے هنګامَ دَیانه څهٔ لکه جرس شوے
کهٔ پیشي غوارے ځان کم کنړه تر بله — هم به هاله پیشي بیا موے کهٔ پس شوے

چه اَسره دِ ووکسان هاله دِ غم وو
هوس کړه عبد القادره چه بیکس شوے

## (۲۵۲)

ربه! ستا قدرت کمال دے که کرم کړے — وران کاړونه ے به سان په یوهٔ دَم کړے
څهٔ یم زهٔ، څهٔ ے مقصود، څهٔ زما کاړ دے — په زمان پورهٔ کارونه د عالم کړے
لکه نمر په سرے بڼ دے لکه خس اُخلے — سپک درانهٔ کاړونه واړه سره سم کړے
د همه چاړ و اسباب درسته موجود دي — شاه ګدا ئے، ګدا ئے بادشاه دلوئے حشم کړے
په قدرت هسے نوریوسے له آفتابه — ستوری وُبریښي عرمه جهان تورتم کړے
دیر بنادمند په عشرت درسته شپه کاروڼه — په صبائے د عشرت په ځائے ماتم کړے

شپه له ورځے پیدا کیږي ورځ له شپے نه
ومړده ته ورکړے دم ژوندے بے دم کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۵۳)

حال مے تاوته معلوم دے نتهٔ مے وینے
چه ژوندون مے دے دخپل مښن په مینے

عشق مے ځائے په رګ او پلو کښے زما ونیو — ترے به ووځی حاله چه ووځی وینے
دا زهوب زما د زړهٔ له داغه درو می — له مے سرے وښکے له سترګو ځی کهٔ پسینے
چه دننه زړه کۓ خوږ شی زړهٔ مے خوږ شی — چه خبر به شی زما له سینے خوږ سینے
چه صفت دکوثر کاندی زنځوړان دی — ستا دخلے لاړے ترهٔ خهٔ دی شیرینے
ملوکان ئے هیڅ له قدره خبر نهٔ شول — تر ململ دی غبارے جامے مهینے
په کوږ کوږ کاته ئے شیخه غلط مهٔ شه — سل فتنے لری لا سترګے شرمګینے

دنګاه په تیغ دِ غڅ عبدالقادر کړ
پرے ملهم دشونډو وکیږده دِل سنګینے

## (۲۵۴)

چه په واړه کښلیو بَر دے — هم هغه زما دِلبر دے
برخوردار به ځنی ډیر شی — سر تر پایه واړه بر دے
مخ ئے نمر شونډے ئے لعل — قد ئے سروه سمنبر دے
چه قانع په خشک و تر شی — هغه شاه د بحر و بَر دے
چه په بدو باندے بنهٔ کا — هغه وګړه چه بر دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (٢٥٥)

اشتیاق د لیدو ډیر دے
د بیان تر حده تیر دے

داګمان کړه له زړهٔ لرے — چه ے یار له دله هیر دے
زړهٔ ے غوځ کا صورت روغ دے — د هجران عجب شمشیر دے
کهٔ ژوندون تر هر څهٔ خوږ دے — بے تا زهر یا ګندیر دے
هوس نهٔ پرین دی چه ورشی — د غم کوټ تر زړهٔ چاپیر دے
کشمیر هم په مهجورانو — زنځیر او کوالیر دے
د زړهٔ سوے دے چه بے یاره — کهٔ په سوات کهٔ په بونیر دے

ستړے سرے عبدالقادر کا
د هجران په غم ګیر دے

## (٢٥٦)

خزانه دِ ده د کور دننه پشے
ځکه مار غوندے تاو پرے ځړه وش ئے

همنشین دِ نفع نهٔ سومی بے زیانه — په بد فعل بدخصلت دکان ویش ئے
په تنش کش لکه لوسے راځی تر پلے — له یارئ ے دِ توبه شه چه دکش ئے

★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۵۷)

دخاطرے له اندوه څخهٔ اسنده دے
په سیلئ جنبش دکاه شی نهٔ دکوه دے

لاس خالی دننه زړهٔ ډک د مینے — بے پیوند ه آزاده عجب گروه دے
دفقیر له غمه څهٔ چه غمگین وُ سی — په خاطر دډُنیا دارو غم انبوه دے
چه خبرے شی له مکره حُسنی تبنتی — دډُنیا یاری یاری مهٔ گنڼه دروه دے
مال و ملک حشمت ئے هیڅ پکار نهٔ دی — هر بادشاه له ډُنیا ولاړ په آه او ه دے
مُراد بخشؔ[1] مُراد بیانهٔ مُوند نامراد شو — سینه داغ حُنی جدا دارا شکوه[2] دے

نور می دشاه جهان ، جهان پرے نهٔ خوه
اورنگزیب په څهٔ خوشی کاندی کهٔ پوه دے

---

[1] دشاه جهان بادشاه دکشر زوئے نوم چه اورنگزیب قتل کړے وو۔

[2] دشاه جهان پادشاه مشر زوئے چه داورنگزیب او مراد بخش سره ئے دسموگړه په مقام مقابله شوے وه۔ شکست ئے وخوړو او په کال سنه ۱۰۶۹ھ کښے قتل کړے شو۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۵۸)

په ورځ لاف وهي دسولو ځان پتنګ کړي
په ماښام چه چراغ بل شي ځان په ځنګ کړي

په راحت کښې تل زما په غيږ کښې پروت وي
په نکبت کښې اوس زما له يارئ ننګ کړي

د يارئ اول قدم موافقت دي
د منګ يار ه ځان بويه چه منګ کړي

دنظر صيقل بنهٔ مخ وته کښل دي
له نظره مي به کله لري زنګ کړي

آشنا ستاله بې رحمئ ئي زړهٔ چوي
زهٔ حاضر، له بيګانه وُسره جنګ دي

خفتګان به د قالين په رقص کړه شي
کهٔ ترغوږ وئ د پايلو نرې شرنګ دي

ستا په لاس د غمزې توره، زهٔ تسليم يم
بيا په کوم ګناه زما له وژلو ننګ کړي

نور به يار ليې جامې په خاوړو رنګ کا
ما په تا ليې په ځېلو وينو رنګ کړي

هاله لاف د عشق کوه عبدالقادره
کهٔ په يار پسې جوړ کور د دُنيا رنګ کړي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۵۹)

داخهٔ نوی دے بناسته وُ عادت ستا سے
چه همیش وی له عاشقه شدت ستا سے

سرومال بنندل زینت د عاشقانو — عنایت، مهر، نمځنه زینت ستا سے
نتیجه دے نورخهٔ هیڅ نهٔ وی بے سوزه — په معنیٰ کښے لکه اور دے قربت ستا سے
چه پتنګ غوندے ځان وسیزی ایرے شی — هم مغو ته میسر شی وصلت ستا سے
د حرفو نو لو بنے تنګ معنی دے دیرے — په بیان نهٔ ادا کیږی صفت ستا سے
ګل خهٔ، خار وخس به هم واړه خوشبو شی — که نسیم په چمن راوړی نکهت ستا سے
چه شاعر دے له خهٔ خیز سره تشبیه کا — هومره نهٔ وی نزاکت لطافت ستا سے
ترحم دے په احوال خهٔ خوباشده دی — چه ولاړ وی شپه او ورځ په خدمت ستا سے

کله توان عبدالقادر لری د شعر
دیوی دے هومره دیر محبت ستا سے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۲۶۰)

دلبر مخ راته ښائي په هر آئين کښې
که په تور کښې جلوه ګر شي که په سپين کښې

ګهه په سترګو کښې ځائې وکړه زړه راکاږي
ګهه په سترګو په رخسار او په جبين کښې

کله کله په ترسا کښې مخ څرګند کا
د صنعان په دود ئې وران کاندي په دين کښې

په چراغ کښې تجلا وکا پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نسرين کښې

نور او نار ئې د جمال جلال اثر دے
قهر مهر ئې په تلخ او په شيرين کښې

که اثر ئې د لبانو پکښې نه وے
نه به وو دومره خوږه په انګبين کښې

يوه خدايا! عشق يو څرنګه لوئے شے دے
چه ئې ځائې نشي په چرخ او په زمين کښې

ګنج هميش په ويرانه کښې ښخاوه شي
امانت ئې ځکه کښېښو په کمين کښې

په هر څه کښې ګوره يار عبدالقادره!
که دِ نشته شک ګمان په خپل يقين کښې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۶۱)

د رحمت دریاب هغو وته په جوش دے
چه دایم ژړا زګیرِ وے کا په خروش دے

لا تخفؔ و لا تحزن د هغو بحره — چه له ډېره غمه نیش پرې باندې نوش دے
له پېشوې ډېره شي له مزرې نه شي — چه بې خدایا ډېره کا په معنیٰ موش دے
دُنیا په سرائے کښېنه ځه وآخرت ته — کاروانونه ملي لیږدي پوشاپوش دے
چه په پروت وو لب په لب له لب شکرو — نن په څو له تورو خاوړو هم آغوش دے
په بهائے دواړه کونه ورکول شي — که پیاله د څوک اخلي مے فروش دے
بیا به نه مومي ذخیس دیار د زلفو — چه په سر کښېنے لا پاتو عقل و هوش دے
د سکوت هنر له ګل واخله بلبله! — چه په سل ژبې آواز نه کا خاموش دے

اوس ښکاره د عبدالقادره مے نوشي کا
چه صاحب د ګناه بخش و خطا پوش دے

---

ؔ لا تخف و لا تحزن ان اللّٰه معنا -
یعنی مه ویرېږه او غم مه کوه - یقیناً اللّٰه تعالیٰ زمونږ دواړو سره دے - د غارِ حرا هغه
واقعے ته اشاره ده - کوم وخت چه غنیم په سر ور رسیدلے وو -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۲۶۲)

کهٔ ښکاره شی درویشانو عزت ستاسے
ګدایان به شی شاهان په دولت ستاسے

ددُنیا نوبت، نوبت په نوبت دړومی
همیشه وی بے زواله نوبت ستاسے

څهٔ شون کهٔ موڅوک نهٔ پرېږدی وَدَرته
خبردار دی ډیر په قدرو قیمت ستاسے

صبا ورځ چه اجتماع د خلائق وی
په هرځا به شی ظاهر منزلت ستاسے

هم هغه به د نجات په لوړ روان کا
چه پرے شی مهربانی عنایت ستاسے

غم اندوه شهٔ په نصیب ددُنیا دارو
فراغت د زړهٔ خوښی په قسمت ستاسے

ستاسے هومره ډیر حُرمت پخپل صاحب دے
چه به نور شی په عزت په حرمت ستاسے

په نصیب به د هغو شی چه نیک بخت وی
د دوُو کونو سعادت دے خدمت ستاسے

د راحت امید کوئ اهلِ محنتو!
خدائے به نهٔ کاندی ضائع مشقت ستاسے

مددګار د ګنهګار عبدالقادر شئ
ګوندے بیا مومی خلاصے په همت ستاسے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۲۶۳)

مرغلرہ ولیدۂ شوہ پہ پیزوان کښے
کۀ غوټئ وہ د شبنم پہ ارغوان کښے

د خطا د ملک کبیلی ئے دوارہ ستر کے
چہ تل خرکا پہ سُنبل او پہ ریحان کښے

ستا د وروځو تشبیہ نۀ مومم پہ دوی
لړو ډیرے دے مونږلے پہ آسمان کښے

څۀ نسبت دیاږ د غابښو پہ گوهرو
دا پہ نس کښے د صدف غابښ پہ دهان کښے

چہ لہ شونډو وئے نسبت کړۀ سخندانو
شرمندہ شۀ، لعل نتوت پہ کان کښے

د لذت بیان ئے څوک کولے نۀ شی
د جنت د خوږو خوند ستا پہ لبان کښے

ستا رخسار وتہ حیران د خدائے وکړۀ تہ
چہ ویښتۀ ساتی لہ اوږہ پہ امان کښے

تماشے دے د جہان د کښلیو وُکړے
نشتہ تا غوندے یو گل پہ گلستان کښے

پہ دا شکر چہ ونډے زلفے ئے ددکړے
پرے وکاږہ ډوب پہ چاهِ زنخندان کښے

حاضران د حیرت گټہ پہ خلۀ لال دی
غائبان دِ تمثیل راوړی پہ بیان کښے

سترگے غوږ عبدالقادرہ! دوارہ بند کړہ
دا ھغہ پہ دوارہ ووینے پہ ځان کښے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۶۴)

چه وصلے د صنم کړ دا خبر نهٔ شوے
ستا له غمه درسته شپه ژړا چغارے

راشه ګوره ننداره کړه څرنګ لګ دے
ستا د غم غشے دِ ما په زړهٔ نګارے

چه وکا د دے د صنم سهیدے نهٔ شم
د غمزے توره په میان کښے کړه خونخوارے

تاچه راکړه، زهٔ پرے بے حسابه مست شوم
سینه خلهٔ په دوارو شونډو شکر بارے

په منځ منځ به دے وهم پرے به دے شن دم
زهٔ به ستا په غلیم وکړم هسے چارے

چه دے واز دکړے هرګوره بنا لسته شی
په خندا کښے سینه خلهٔ پری رخسارے

کلک دے ونیسه په لاس کښے چه خلاص نهٔ شی
زما زړهٔ، که د دلداری کوے نګارے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۶۵)

پښې بربنډې، سر بربنډ ګرېوان پارە وې
په طلب کې په ملکونو آوارە وې

په سته شوې د دُنیا له کاروبارە
تا ګنړلے ناشمارلے، هیڅ کارە وې
له دې عقله هیڅ فائدە حاصله نهٔ شوه
لایعقل د لیونو په شمارە وې
د آشنا د غم په سیند کښې ے آشنا کړے
د جهان له هوسونو کنارە وې
د عالم په نیک و بد غرضي نهٔ وې
بے جوابه، بے حجته، بےچارە وې

په هر ځائے چه کښلي وې عبدالقادرە!
په حیرت کې د جمال په ننداره وې

## (۲۶۶)

تا یاری له مانه پریکړه، کهٔ پښیمان ئے
بیا راداروره، هغه زړه، هغه ځان ئے

همیشه زما د باغ زرغون طوطا وې
اوس خبر نهٔ یم، طوطا د کوم بوستان ئے
کهٔ طامع په سرېر پاس کښېنې ګدائے دے
کهٔ آرزو وته د شاکره نور سلطان ئے
غم الم په درته نهٔ رسي اے یارە!
کهٔ د خېلے ژبے هر کله پاسبان ئے

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# قصائد

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# قصیده (۱)

کهٔ په تن دِ هر ویښته ژبې هزار کا | بیا د ژبې ئې هزار هزار گفتار کا
کهٔ سیندونه دجهان واړه سیاهي شي | قلمونه دجهان واړه اشجار کا
فرښتې، سړي، پیریان وبله ټول شي | په بیان په کښنو هزار ځله تکرار کا
دخپل خدائے د نعمتونو په حساب شي | گمان نهٔ کړه چرې یو نعمت په شمار کا
د نور چا څهٔ زور قوت چې اولوالعزم | په خپل عجز کښې له دے بابه اقرار کا
هغه خدائے چې برکمال دے په قدرت کښې | چې په خوا په خاطر نهٔ وي هسې چار کا
په اوبو باندے یوه کرښه محال ده | چې ئې وکا، ګمان کهٔ هر څو استکار کا
حکیمان که واړه جمع د عالم شي | په هوا به یو ورق کله قرار کا
دهٔ اساس د درست عالم په اوبو کښیښې | د نور چا کله قدرت چې هسې کار کا
هم ئې بې ستنو آسمان دے ودرولے | حیرانیږي چې نظر ورته هوښیار کا
گران آسان دده قدرت ورته یکسان دي | نهٔ خلقت د چا آسان د چا دشوار کا
ورته یو خلقت د ماشي د آسمان دے | کاه او کوه په یوه آن کښې پیدا ار کا
باد او خاورے اور او به کهٔ هر څو ضد دي | په یوه مکان کښې جمع هر څهار کا
کهٔ بخیله اور غالب وو په لړکیو | تړوے وے په لړکیو کښې ایسار کا
کهٔ غلوړ دي که نخه کهٔ شین اُوو ه دي | همګی په حکم کار د کردګار کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


حرکات د هیڅ اشیا نهٔ شی بے حکمه — سکنات کله په خپل حکم اختیار کا
جهان پُر کاندی په ورځ د نمر له نوره — بیا په شپه ددهٔ نابود واړه انوار کا
بناُسته کاندی آسمان په شپه په ستوریو — په ورځ مزکه بناُسته په لاله زار کا
دخزان په وخت زینت له مزکے یوسی — بناُسته ئے بیا په وخت د نوبهار کا
داوبو تفاوت هیڅ وبله نهٔ وی — ترے پیدا رنګا رنګ کل الوان اثمار کا
نهٔ د کلو رنګ وبوئی په یوه شان وی — نهٔ لذت د سیبو ونه د انار کا
له یوه باغه میوے له یوے مزے — تفاوت ئے د لذت ترمینځ بسیار کا
په همه کانړو تابش د نمر یکسان دے — ځنی کانړی، ځنی لعل یاقوت آبدار کا
له یوهٔ ځاځکی پیدا کا مرغیچے — له یوهٔ ځاځکیه پیدا دُرّ شهوار کا
له یوه اصله نطفه پیدا انسان شی — ځنی ځنی مسلمان ځنی کفار کا
ځوک بد رنګ چه له لیدوئے نفرت موی — ځنی ځنی بناُسته بنکلی نګار کا
ځوک توانګر د قناعت په خزانو کا — ځوک د طمع د حرص په خواری خوار کا
ځوک توفیق دطاعت بیا موی له دهٔ نه — شپه او ورځ ئے خپل طاعت وته بیدار کا
چه توفیق د عبادت ورځنی واخلی — مخ ئے تل په میخواری لا په قمار کا
له ازله چه طالع د چا ترخه وی — له حلالو ورته لا خوانهٔ مردار کا
خزانے ئے لا یعد او لا یحصٰی دی — و لے ورکړهٔ وهر چا پخپل مقدار کا
نیک وبد له دهٔ هر چا وته دسیری — خوار هغه شهٔ چه په دا بانے انکار کا
په طلب ئے ځوک په دو ځوک په تلوار ځی — ځوک په ځوک په سینه پسے رفتار کا
د میږی د پښو آواز آروی بے غوږه — چه په تورهٔ شپه په تورکانړی ګذر کا
نږدے لرے ئے لیدو ته برابر دی — د نظر حجاب ئے غر نهٔ ئے دیوار کا
د نفس ځبنتن همه واړه هوهو کا — نهٔ یواځے ذاکران ددهٔ اذکار کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



تسبیحات ئې نهٔ یواځې فرښتې وائي ‏‏ تقدیسات همه اشیاء دخپل داداږ کا
د دنیا عمارتونه چه لیدل شي ‏‏ د دوران په زلزلو به ئې مسماږ کا
همیشه به ئې ‎پېچي پرې به هرانه وي ‏‏ په بخیل به د بخیل خزانه مار کا
چه د ظلم اور ئې بل کړي په عالم کښې ‏‏ ظالمان به ځان سوخته په دغه نار کا
په خپل ځان باندې ستم کانهٔ پوهیږي ‏‏ چه ستم په زیردستانو ستمګار کا
مکافات به یو په سله ځني واخلي ‏‏ چه بې شرعې لږ دچا خاطر آزار کا
عاقبت به ورنې تېږې ځني دږوي ‏‏ کهٔ هر څو لشیم په کور کښې زر انبار کا
چه بې ځایه ظلم کا په مظلوما نو ‏‏ ځان ظالم په طوق د لعن ګرفتار کا
حسنات به ځني وارهٔ خصمان یوسي ‏‏ پرې انبار به د خصمانو بدکردار کا
دا دنیا لکه مزرع دآخرت ده ‏‏ پکښې کرځنې د ګلو، څوک دخار کا
داخستو ورځې ورځ د قیامت ده ‏‏ هم هغه به وریبي چه کښت و کار کا
د جهان ورکول کل په عاریت دي ‏‏ تعلق به دانا څهٔ په مستعار کا
چه ئې بس له دهٔ نور تاپېرتار ولجه وږي ‏‏ مرد هغه چه بخل لاس ئې تاپېرتار کا
چه پرې تلهٔ تریلي لا د سپارهٔ سخت دي ‏‏ بړائي په پلي و سې شهسوار کا
چه په خدائې باندې غني، غني هغه دې ‏‏ د سبب په غنا څهٔ څوک اعتبار کا
لایزال دې سلطنت د کبریا نو ‏‏ د زوال ویرهٔ ئې نشته، نهٔ ئې داږ کا
دا دفقر لوئي څو ده نهٔ پوهیږم ‏‏ چه بهتر د موجودات پرې افتخار کا
ستا په درکښې ګدا پروت به تورو خاورو ‏‏ کهٔ د درست جهان بادشاه شي ځني عار کا
چه ئې ذرهٔ په معدوم تینګ دې تر موجود ه ‏‏ ما د خدائې تر هسې رنګ ځوانانو ځار کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ورکول په طمع ورکړه درشوت ده ابلهان به ورته وائی چه ایثار کا

کهٔ گنج غواړے رنځ[1] شکوه عبدالقادره!

مزدوری به هم هغه مومی چه کار کا

---

[1] نابرده رنج گنج میسر نمی شود
مُزد آں گرفت جان برادر که کار کرد
(شیخ سعدیؒ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# قصیده (۲)

شگفته په باغ و راغ شول د بهار گل
هم په بام هم په کوټه هم په دیوار گل

نهٔ یواځې گل د گلو بوټي وُنیو
بادام گل شفتالو گل وُنیو انار گل

هر اَشیا د مزکے گل پروردگار کړهٔ
جمادات گل، نباتات گل، گل اشجار گل

کانړي بوټي خاروخس په گلو پټ شول
د همه وارو عیبونو شو ستار گل

تو د سترگو نظر لگي وار په وار گل دی
وړاندے گل وروستو گل، یمین یسار گل

هیڅ یو ځائے خالي له گلو پاتو نهٔ شو
په بازار گل، په صحرا گل، په کهسار گل

کهٔ آسمان په شپه په ستورو بناسته وی
لا ترے مزکه بناسته کړه په بهار گل

عندلیب نارے وهي چه سیل ئے کا نړئ
بهار درو وهي دیڅیدون کا په وار وار گل

لا ترکوره کودید پروت په کور کښے بندهٔ دے
چه په نهٔ گوري سر کال د دے گلزار گل

د بهار په سیل ځونه زلمي کښیني دي
په وربل گل، په پټکي گل، په دستار گل

د دلبر صورت تمام لکه گل روغ دے
پښے ئے گل، لاسونه گل، څهره رخسار گل

مے گلگون، ساغر گلگون، بنیبنه گلگونه
ساقي گل، حریفان وارهٔ گل نگار گل

د بهار په سیل وُځوځه له کوره
د راتلو د مرگوړ دیو کا انتظار گل

چه گلونه بوئیوے احتیاط بو یه
چه په شونډو د ونهٔ کاندي پرهار گل

چه د گلوهار په غاړه ستا زنین کا
په سینه باندے ئے څرخي لکه خار گل

خاص و عام ئے بهره مند په ننداره شول
سنتونه په هر چا باندے کړهٔ بار گل

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه د یار له وصله بناد وی ګل به ګوری — د مهجور به هرګز هیڅ نهٔ وی پکار ګل
چه بې یاره د بهار په سیل درومم — په خاطر باندې مې لګی لکه نار ګل
په هزار رنګه ګونه شګفته شول — ولید نهٔ شو یو پشان زما د یار ګل
چه دا هسې ئې په ډکه خلهٔ خندا کړه — مګر نهٔ وو له خزانه خبر دار ګل
په هوس په خوشحالئ ئې اموخته دې — کهل پروړه مهٔ کړه زړ د زړه خوار ګل
بلبل هیڅ نهٔ وو خبر د عشق له تاوه — په فریاد کړ، په ناروکړ، په چیغار ګل
چه د سرائې په مزکه وا د سپرلی ګهل شی — شرمنده کا د کشمیر د بل دیار ګل
د رنګ ګل چه په سن کال د غواص (۱۰۹۷ء) وا شول — د چا یار نشی پخوا هسې بسیار ګل
چه نشان د چپل آشنا ورځینې مومی — ځکه یاد عبدالقادر کړ په تکرار ګل

په بیاض کښې د شعر دول دول
شګفته دی تروا بنهٔ هزار هزار ګل

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۳)
# قصیده

چه دے نهٔ شوے په شرعه مستقیم — د صراط په لار دِ وینم هورے بیم

کهٔ په اور د ریاضت خپسر وُ سوزے — لا له زاره به درته اور شی د جحیم

د ګناه توری د سترګو په اوبو څی — له ژړا دِ قراری نهٔ کا اَثیم

چه هیڅ زیرمه د عقبا د سفر نهٔ کړی — د دنیا په سرائے کښے څان ګڼړی مقیم

عاقبت به د ارمان ورغوے ژوی — د مغو چه شیطان یار شو، نَس ندیم

د غلیم په وشیل وے کړے کار ونه — کهٔ ته نهٔ ئے د خپل څان سره غلیم

د دانا صحبت صحت د رنځور ذرهٔ دے — د نادان صحبت عذاب ګڼړه الیم

چه راضی په خپل قسمت نهٔ ئے حرص کړے — سکه پیدا کا بے قدیمه بل قسیم

مګر سترګے ئے د ګور خاورے مړے کا — موږ به نهٔ شی حرصناک په زر وسیم

غاښی مات شوی په خوړل د کاړیو سبنهٔ دی — نهٔ یوه نمړئ خوړے د لئیم

د الله الف عصا ده پرے تکیه کا — په ملا خم مهٔ شه مخلوق ته لکه جیم

کهٔ په خلهٔ کلمه لولی نو نیځ روښ ره کا — د روغژن دے منافق سره سهیم

د دنیا کار ونه وهم خواب وخیال دی — تعلق به پورے څهٔ کاندی فهیم

چه بے حقه نور باطل ورته ښکاریږی — هم هغه سړے دانا بوله حکیم

چه موجود ئے موجودات کړهٔ له عدمه — څهٔ مشکل کهٔ ژوند وی عظام رمیم

خوشحال کړے ئے هر څوک په خپل خپل کار دے — په هر چا باندے ئے لطف دے عمیم

نا امید ئے له درګاهه هیڅوک نهٔ څی — تفاوت د نیک او بد نهٔ کا کریم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه به چا ورسره بد کړۀ دۀ به سینۀ کړه
مصطفیٰ ته ورکړ خدائے خلقِ عظیم

چه په خوئ د خدائے په خوئ و وصفت شوے
ځکه سیے رنګ زغونے وو حلیم

د نمرود آتش ئے ځکه بانده باغ کړو
چه خلیل شو وقفا وَته تسلیم

په صفت د کمینئ آدم صفی شو
په صفت د تکبر شیطان رجیم

د ارشاد صابون اثر وربانده نهٔ کا
سیه دِل دی ازلی سیه گلیم

په آزارئے آسمانونه په لرزه شی
هر ظالم چه په ژړا کاندی یتیم

چه دائم د مظلومانو وینے شومی
ظالمان به په پیالے وڅښی د حمیم

چه په حال د مسکینانو ترحم کا
په عفو بانده به رحم کا رحیم

چه لاړ نهٔ شے په غفلت عبدالقادره!
کهٔ پوهیږے غنیمت دے دا ل و میم

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۴) قصيده

حاکمان او عالمان د دے زمين ــ چه ليدل شي په دوران د محي الدين

هيڅ حاجت د عيان نشته وبيان ته ــ خود ئے حال دے وړاندے وته مبين

همگي واړه مذموم په خوئي خصلت دي ــ يکښے يو نشته بادشاه ته د تحسين

زهٔ به هم يو څو خبرے له دوئي وايم ــ چه نن عقل زما زړهٔ ته کړي تلقين

علماء فضلاؤ نه ئے نفرت دے ــ په مجلس کښے ئے ارذال کښيني کمين

وبله واړ نهٔ ورکوي په پوچ ويلو ــ غوږ کا نړهٔ کا چه مذکور کيږي د دين

د راجپوت د رافضي په استقبال ځي ــ عالمانو ته مسک نهٔ کا ندي سرين

د مسجد په لوري شل شي نهٔ ورږدي وي ــ تل ئے اس په پوچو چارو وي زين

کله کله چه سر وُوهي په مزکه ــ سل منته بږدي په رَب العالمين

تو د خلقو آزار ديړ کا د دهٔ خپل وي ــ په نيک خواه د عالم تل وائي نفرين

د رشتيا خبره زهر، ځنے مرينه ــ توش آمد د روغ تر شهدو ړے شيرين

هم هغه چه خوشامد کا مصاحب وي ــ لا ترے وي په بد ويلو ځنے خوړين

په ميدان ئے شغالان په بريتو ميتړي ــ د قالين مزري مزري وي د قالين

تل ئے هجو د سخي د مړني وي ــ د ممسک د بيد لانو کا تحسين

هميشه د ځان صفت د بل غندنه ــ خود پسند وي، خود نمائے وي، خويشتن بين

د محنت په ساعت ځي تحت الثرٰي ته ــ د راحت په وخت قدم بږدي په پروين

کهٔ دولت ئے لکه بحر بے پايان شي ــ بيا سائل وته چين راوړي په جبين

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه فقیر ئے په دروشی ورکړه پرېنده
په شیرین ویئل ئے نهٔ کازرهٔ شیرین

یو دِرم ئے په ځائے نهٔ دړمی له کوره
تل بیځایه ورکول دده آئین

خرڅ ئے واړه په بباس او په زیور وی
لکه ښځے آرائش کاندی تزئین

دیوے روپئی ځائے چه لس اخلی
هم هغه په رعایا کاندی آمین

دد هقان په خوارول ئے ستر کے سرشی
په پټي چه زراعت وویني شین

پیشکاران ئے په آبروا شارت وکا
چه څوک وویني اغوستی نمری پین

رعیّت چه دادخواصئے لره ورځینه
کهین واغوندی کوربدی نمری مهین

ځان او مال ئے له کفارو په امان وی
دیو بدبختو تاخت تاراج کړهٔ مؤمنین

د مجرم جُرم لا نهٔ وی ثابت شوے
برائیان ئے په کوربانده تعین

رعیت د دوئی دښمن وی دوئی د دیو
دوی ودهٔ وته، دے دوئی ته کا لمین

هر ظالم چه تعدی په رعیت کا
په قیامت به ئے مقام کاندی سجین

که باور دِ په دا نهٔ شی ورشه گوره
په قرآن کښے بِشی مثوی الظّالمین

---

۱؎ ظالمانو زیاره د استوگنے بدترین ځائے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

# (۵) قصیده

## (مرثیه دخوشحال خان خټک اوورارهٔ معظم)

یا ره ستا د هجر غم راته دریاب شو        تر نظره د دُنیا هوس سراب شو
ستا په تلوسه دخوښئ نے بساط وُنغښت        مُهیّا راته دغم واړه اسباب شو
کهٔ ښخوا مے ډیر غمونه وو لیدلی        لا مے ستا په جدائی کښے زړهٔ کباب شو
په معنیٰ کښے خټک تیغ وو، تهٔ ئے آب وے        غوڅوُل به اوس په څهٔ کا چه بے آب شو
خدائے له موږ ه لا په تا باندے مئین وو        چه رحلت دِ له دُنیا په دا شتاب شو
د مخ آب ئے هرګوره ډیر وو بے حسابه        مستسقی به ئے په تش دیدن سیراب شو
زر ریزی ئے لکه ګل په واجبین وَه        نهٔ تر یو په وخت د داد لکه سحاب شو
دوست دښمن ئے له جماله بهره ور وو        دهر چا د زړهٔ ارمان د دهٔ شباب شو
دُر ګوهر به ئے له لعلو ریژوین ن کړو        چه ګویا به په کلام با صواب شو
سپک ویئل ئے هرګز نهٔ و تل له خُلے نه        چه به چا وته په قهرو په عتاب شو
دارمان د دانو ډک لکه انار لاړ        د ژوندون له باغه کله مزه یاب شو
له اندوه د نړا ورځ لکه تیارهٔ شوه        چه غروب د دهٔ دکبنلی مخ آفتاب شو
چه ئے خوب په پالنګ نهٔ کیدو بے ګلو        په بستر د خاوړو څرنګه په خواب شو
په هغو رخسارو پریوتلے خاوړے        شماتت ئے چه په ګلو د ګلاب شو
چه دا مسے رنګ ځوانان پکښے پراتهٔ دی        په آسمان باندے ډیر فخر د تراب شو
د رستم د اسفندیار دجواب ځوان وو        د قضا حکم پرے راغے لا جواب شو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


عطارد ئے په آسمان مرثیه واتی
د زهرا له لاسه مات چنگ ورباب شو

په بهانه د بارانهٔ چه دهٔ وفات کړهٔ
فلک هم د نوحه کړو په حساب شو

غواصی کوم د وښکو په دریاب کښے
نهٔ ئے موم معظّم دُرِّ نایاب شو

په ژړا په واویلا له مونږه بیل شو
هجران هیڅ ذرهٔ سوزی نه وُکړه قصاب شو

کهٔ د خپلو په ژړا جنت موند هٔ شی
سکه بیشکه وایه دهٔ د جنت باب شو

درویشت کاله د دهٔ عمر زړاته نوی
۱۰۹۸ھ
دَ هجرت حساب په حکم د کتاب شو

چه د ښهر ودانئ وحُسنی وُوست
سرائے تهٔ خهٔ عبدالقادر دړوی خراب شو

---

ے د شاعر ورارهٔ ۔ د تاخلف بهرام زوئے ۔

بنهٔ تاریخ ئے راغے "بے بدل معظم" (خوشحال خان خټک)
۱۰۹۸

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# قصیده (۶)

## مرثیه د خوشحال خان ختک

---

همیشه مې ستا له غمه مشغولا ده ... ستا له پسته راته پاتې بنا دی دا ده

خپل پردی راځنې واړه کناړه شول ... چه تل مله ده، راسره اندېښنه ستا ده

په بهانه د آه چپل دم راځنې ډړوی ... له همه مو بېهوده ګیله زما ده

وُبښکې هم د وُڅېدو له ویرې لاړې ... له تو دې تیغنې مې ګرمه سینه لا ده

ناآشنا همیشه خوښي کرځي هوس کا ... په جهان کښې د غم بخره د آشنا ده

د غم تخم آشنائي ده که ئې کورې ... معتبره وړ چا ته دا وینا ده

د هجران غشې په مړه سینه لګ دې ... چه وړ لوری ته غوږ باسم زګیروا ده

ثوک چه وائي تر بلا، بلا وی سخته ... کله سخته تر بیلتون بله بلا ده

جدائي په نابودی سړې راضی کا ... له ژوندونه په مرګ مینه د جُدا ده

دا چه وائي بد ژوندون تر مرګ بد تر دې ... اوس پرې وُپوهېږم دا وینا رشتیا ده

مرثیه به دِ په هسې مضمون وایم ... چه هېڅوک پرې نهٔ پوهېږي چه دچا ده

د تا دردې په بېدردو پېرزو نهٔ شي ... ستا د درد د درست جهان خوښي بها ده

د فراق په اوړ دِ وسوُم نوې وُچ شو ... اوس مې تل په وچو سترګو ستا ژړا ده

چه هر څېن دیادوُم په زړهٔ ورتېږم ... لا چه هېرې ژړوی دِ تا خندا ده

زهٔ چه ستا په تلنې ژغ سره تیر نهٔ شوم ... که خوارېږم پس له تا دا مې سزا ده

په ارمان د ملاقات له مونږه لاړې ... زمونږ ستا دلیدو ژمته په عقبا ده

خپل پردی دربان بې هېڅوک حاضر نهٔ شول ... نهٔ دِ یا تو مال او ملک نهٔ دِ دنیا ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

چه پیسه دِ یا تے نۀ شوه وکفن ته
هم دا نخښنه ستا دجُود او د سخا ده

له اهلوکۀ دِ خپل وو کۀ پردی وو
څنی تالیدے څو رنګه جفا ده

خپل شامت به تۀ دے څورے خراب کا
چه بدی کا د هغو بدی جزا ده

په وطن کښے مسافر غوندے وفات شو
خپلخانه ورځنی واړه پس شا ده

خپل دِ نۀ وو چه دِ حال ورته بیان کړے
له فانی دُنیا دِ وُړے دکه خوا ده

دُنیا خلقو خو واړو درته شا کړه
ستا تکیه په خپل خښتن په خپل پښتو ده

یے له صبره له تسلیمه چاره نشته
مونږ وروړے په قضا د حق رضا ده

په حرمت د پاک رسول چه په قرآن کښے
خدائے تعالی په څو رنګه دده کړے ثنا ده

د دوزخ له عذابونو په امان شے
بهشتی شے شپه او ورځ مے دا دُعا ده

تر دے به څورے خوښ وے فال دِ ښۀ دے
خدائے تعالی چه ایښے د خوشحال نامه په تا ده

نۀ یوا ځے هجران لوټ عبدالقادر کړ
په هر ملک په هر دیار کښے دا غوغا ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۷)
# قصیده

دبقا بهبود ئے هیڅ نشته فانی ده — په دُنیا چه مینه کاندی نادانی ده

ددُنیا د خلقو کار راته ښکاره شو — د سیلاب په مخ ئے کړے ودانی ده

داچه ته ئے ودانی گڼړے نادانه — د عاقل تر فهم عین ویرانی ده

تارکان به ئے دے هورے خوشحال وی — تر حاصل د راغبانو پښیمانی ده

جمعیت د زړهٔ په بخره دیک بین شو — د دوبین په بخره شوے پریشانی ده

د محنت په لارے ځکه مُراد غواړے — ستا د مراد تر منځ پرده تن آسانی ده

هندو هم په خلهٔ وئیل کا چه خدائے یو دے — د قضا ته ځان سپارل مسلمانی ده

نفسانی کار و نه کفر ور ښکاره دینړی — چه ئے بخره له ازله روحانی ده

په پرېښنبول به د مراد، مُراد حاصل کړے — گام په گام د پاسه کیږده کامرانی ده

چه په لهو په لعب ئے ضائع نهٔ کړے — داڅو ورځے غنیمت زندگانی ده

نورانی ئے په طاعت په عبادت کا — که شپه د بیدارانو ظلمانی ده

چه ماذون له حقه نهٔ وی شیخی کاندی — باور وکړه شیخی نهٔ ده شیطانی ده

چه ئے صرفه د پیرانو په خدمت کړه — هم هغو بهره مونده له ځوانی ده

خود پرست د عاشقیٔ ته هوس نهٔ کا — مرتبه د عشق اول جانفشانی ده

تحیّر په موافق د معرفت دے — څو ئے شناخت هومره ئے زیاته حیرانی ده

په یوه دانه اووه سو دانے اخلی — په داشان د نیکو کارو دهقانی ده

پاسی د زړهٔ په اَسی قدم، پاسی د نفس کړه — پاسی په تخت کښینه شاهی ده خاقانی ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د مزري غونډے سر کوز نۀ ځے په لار ے — په هر لور د لکه شوے سرګراني ده

پوښتیده به هر یو شي له رعیته — هر سړي ته ئے ورکړے سلطاني ده

حکومت ناستے په پُل د جهنم دے — سهله ګڼله د عالم حکمراني ده

رعیت لکه رمه له پسوۀ ژغوري — بادشاهي په حقیقت کښے شپاني ده

په ستم ئے تمامي جهان خراب کړو — څۀ عجیب داورنګزیب جهانباني ده

کۀ د ستم غونډے ځوان لاندے کړے دا څۀ شي — د زیردستو جفا وړه پهلواني ده

دا به واړه ستا په ځان باندے تاوان شي — کۀ د ملک کۀ د دولت، کۀ د خاني ده

عالیشان به په نخوت په کبر نۀ شے — کمیني کړه، کمیني عالیشاني ده

په دا قول متفق دی هوښیار واړه — چه بلا ترهر څۀ سخته لساني ده

کۀ خبر په حقیقت ئے د خبر و — خاموشي کړه، خاموشي سخنداني ده

خپله ژبه ئے په ځان باندے بلا شوه — چه بلبله په قفس کښے زنداني ده

ځان ترهر چا کم ګڼړه عبدالقادره!
کۀ پوهیږے هم په دا کښے کلاني ده

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۸)
# قصيده

په خاطر باندې مې غم انبار انبار شي
په راتلهٔ دِ همه وارهٔ تار په تار شي

هميشه راڅخه ناست وُسه په څنګ کښې
ستا په ناست مې زړهٔ آرام نيسي قرار شي

بناشته دچين ماچين کهٔ دبل ملک دي
همګي دِ ستا ترکښليه مخه خوار شي

ستا له حاله به وتاوَته څهٔ وايم
پټ احوال به مُو په مُودرته آشکار شي

دا رشتيا وئل ترخهٔ په سړي لګي
څوک نهٔ وي چه خاطر دِ پرې آزار شي

په ترخو کښې نفع زياته ترخوږ و ده
باندې ځکه رغيدنه دبيمار شي

چه وئل دنيکخواه نغوږي پرې عمل کا
هم هغه به په خپل عمر برخوردار شي

د زړهٔ غوږ باسه وماته چه وُ وايم
څو خيرې چه کوې دِ ترې نثار شي

دصورت خوبي همه په عاريت ده
څهٔ خوښي به د دا په مستعار شي

ستا ځوا بناشته هم وو، وارې تير شو
په خپل حسن به ستا څهٔ رنګ اعتبار شي

دبناشت نو دِ يو څو ورځې باقي دي
پژمُرده به دِ دمخ تازه بهار شي

صباحت به دِ بدل په قباحت کا
چه دِ تور ويښتهٔ بنګاړهٔ په سپين عذار شي

دغه مخ چه دِ ترګل بناشته روغ دے
د ويښتو په تهوکيدل به لکه خار شي

دا چه اوس دړ پيې ګرځي دے دے
همګي به لتا بيارته په وار وار شي

دغه ناز به دِ بدل واړه په نياز شي
څوک به نهٔ وي چه د ناز دِ خريدار شي

هم هغه چه اوس بلا دِ ستا اخلي
تر بلا به ورته بد دِ ستا ديدار شي

ستا ويښتهٔ به لکه خار ورباندې ځرخي
چه په تا مئين له تابوس وکنار شي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دننه په ځائے به ناست ئے په مجلس کښے — اوس دِ ناسته که په غیر کښے دخیل یار شی
داچه اوس دِ په لیدلو نهٔ سړی ی — هم هغه چه تا ته ګوری به ئے عار شی
ګهه ګهے چه تیر ساعت درته ذرهٔ یاد کا — ستا به سرے وښکے روانے په رخسار شی
کهٔ دِ خوی خصلت دښو وی خوښ به وسے — کهٔ خصلت دِ د بدئ وی ستا به زار شی
دسیرت خوبی پیدا کړه چه باقی ده — په دُنیا په آخرت به دِ پکار شی
مېړه په علم په ادب په ښهٔ خلقت کړه — چه د ے هورے دِ جوړ برے کاروبار شی
خود به علم خوئ ادب درته بیان کا — څو خویونه به زما وتاته شمار شی
نیک اندیش، نیک ګفتار، نیک کردار شه — چه محمد دِ په هر کار پرور دګار شی
کمینی کړه چه هر چاوته عزیز وے — کبر مهٔ کوه آخر کبرژن خوار شی
همیشه خلهٔ پټه وسه په مجلس کښے — په ضرور دِ ستا دَ خلے ویئل اظهار شی
کهٔ دِ سر دړ و می دروغ مهٔ کړه رښتیا کړه — دروغژن سړے بے قدره بے وقار شی
له هیچا نه غیبت مهٔ کوه چه اوړ دے — کل طاعت به دِ سوځته په دغه نار شی
سخن چین مهٔ شه، نمام چه په قیامت به — دا دوه ګروهه په دوزخ کښے ګرفتار شی
چه وعده وکړے له چا نوره ئے مهٔ کړه — فرق به دا د مسلمان او د کفار شی
قناعت په خپل قسمت کړه حریص مهٔ شه — د ازل ویش به نهٔ لږ نهٔ به بسیار شی
سخاوت کړه که په لږ وی که په ډیر وی — په دا خوئ سړے هر چاوته رویدار شی
شجاعت په موافق د شریعت کا — بے له شرعے به له تا که څوک آزار شی
بے قضا دِ نشته مرګ په غلیم مېړ کړه — کهٔ په لاس دِ همه وار و ذوالفقار شی
فخر مهٔ کړه په دُنیا، د هندو هم وی — د مومن په ښو خویونو افتخار شی
له هغه مجلسه تښته په ګروهونو — چه ویئل پکښے د شر یا د اشرار شی
ناست ولاړ دِ هغه ذمیانو ستا وی — چه په تا کښے ئے ښکاره د ښو آثار شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه ئې مینه په شریر وی، د شریر شی — هر چه مینه په اخیار وکا اخیار شی

چرې نه چه وزنا وته زړهٔ هسک کړې — ځوانی مرګ به په دُنیا کښې زناکار شی

د دوزخ د عذابونو به لا سخت وی — په قیامت چه بوځیږ روان دده مردار شی

بنګ شراب مٔفوره چه ورځې د قیامت شی — خمرخور دبت پرستو په قطار شی

یو ذره خلاف دشرع قدم مهٔ بږده — دکتاب په موافق دستا رفتار شی

کهٔ په داویئل عامل شې زما جانه — ستا مکان به د جنت تحت الانهار شی

ستا په شعر آفرین عبدالقادره!

په پښتو خو به هم هسې رنګ ګفتار شی

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# قصیده (۹)

کهٔ دِ نشته په یقین کښې درغلي          دکوڅې دسپي ئې تل څښته ستلي

په مزریوئې شرف دے د سکانو          چه انکار کا د غالي دے وغلي

کهٔ ئې سپے په شور دریاب کا ثبه ستره          هغه دَم به ئې اوبهٔ شي عسلي

دکمال ویره ئې هیڅ د زوال نشته          لایزال ئې دے کمال لم یزلي

تمامي عالم دُرود وربانه دے داني          حُسني حُسني په خفیه حُسني جلي

موجودات واړه لښکر دے ئې بادشاه دے          نمرسپوږمۍ ستوري ئې واړه مشعلي

انبیاء ئې د لښکر جماعت داړ دي          سپاه نهٔ پرېږدي چه کا بد عملي

نقیبان دي نقباء چه اهتمام کا          دا دِ تا دوئ خدمت سزا دلي

هم په دا امید ادریسؑ درزي گري کا          کهٔ ئې ساز د براق حُل کا مخملي

د صالحؑ ناقه تل سروهي له کا نږیه          چه ئې نهٔ شوم په لښکر کښې پرتلي

دخلیلؑ غوندې به خلاص شے له نړ انه          کهٔ ددهٔ په عشق کښې نهٔ ئې خللي

عرش ئې تخت چه باندے ناست دِ عدالت کا          چه اودس پرے کا کرسي ئې صندلي

جبرائیلؑ ئې جلودار زین پوش پغاړه          په رفتار نهٔ کا یو دم معطلي

میکائیلؑ میکال په لاس خدمت ئې دادے          چه غلے ئې ولښکرو ته ستلي

اسرافیلؑ ئې نے نواز حکم ته گوري          بې دے کاره په بل نهٔ دے مشغلي

عزرائیلؑ ئې دے شحنه دوزخ ئې حبس          د دین غلهٔ ئې بې عزته ور ولي

وصدِّیق ته ئې په وخت د رحلت وُوے          نائب ئې زما په حکم ازلي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه انکار کا څوک دِ تا له خلافته    د مغو په دین کښې پرېوځي ارجلي
چه رانجه کا د صدّیقؓ د قدم خاورے    هاله کشف عطا شي د هر ولي
څو وئيل د توکل په قوت کېږي    د عمرؓ غوندے بل څوک توکّلي
که حيا د عثمانؓ پرېوځي په خلق    په ايمان به درست جهان شي ممتلي
حق د چا دے چه عليؓ سره سيالي کا    ورته خدائے وے "لَافَتٰى اِلَّا عَلِیْ"
څلور واړه، څلور رُکنه د اسلام دي    د اسلام کوټه بے دُوِی ده خللي
محبت د هر اصحاب په زړهٔ کښې ځائے کړه    چه حاصل دِ شي د خدائے پېژندګلي
د اصحابو محبت قلبِ سليم کا    نهٔ نفغه کا چه ئے زړهٔ وي عللي
که په چا دِ محبت په چا دِ نهٔ وي    رافضي شوے، خارجي، معتزلي
په حرمت د کربلا د شهيدانو    هم ے لرے کړه له زړهٔ طول املي

يا الله عبدالقادر ورځني خلاص کړے
په حصار کښې د هوا دے قبلي

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# (۱۰)
# قصیده

مرد هغه چه په بخشش لکه دریاب وی — په ننه بد بانده مشفق لکه آفتاب وی
لکه ځمکه هسے پست په تواضع وی — د همه واړه عالم مرجع مآب وی
په ثبات کښے تر غرو لا ثابت قدم وی — په صفا او په نرمئ کښے لکه آب وی
تل ئے ځوځولے د میاشتے غوندے ویل وی — دوست دښمن ئے له دیدار کامیاب وی
قناعت لکه همائے په استخوان کا — نۀ ظالم نۀ حرص ناک لکه غراب وی
چه د ظلم لمبے بلے په عالم شی — پرے بریان د دۀ خاطر لکه کباب وی
په نعمت کښے شکر کا په محنت صبر — زړۀ ئے ټینګ په مسبب نۀ په اسباب وی
په قضا د حق راضی خرم خورسند وی — ورته یو جنت دوزخ ثواب عقاب وی
یو زمان ئے زړۀ خالی نۀ وی له یاد و — کۀ په ناسته کۀ په تللو کۀ په خواب وی
اوامر لکه سنت ادا کوینه — پټ څرګند له نواهی په اجتناب وی
کۀ اشیا و ورته ښکاره کما هیه شی — مناجات ئے "زدنی علما" یا وهاب وی
عام عالم ته ناست ښکاری په رفتار کښے — د وصال تر شپے لا تلۀ د دۀ شتاب وی
له تاثیره ئے بد ښۀ لکه مس زر شی — په لمبو د عشق سوخته لکه سیماب وی
تو چه ګرځی د دنیا په خرابات کښے — په باطن کښے آبادان ظاهر خراب وی
د ډک سیند غوندے آواز نۀ کا بهیږی — نۀ پر شور پر غوغا لکه سیلاب وی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د دانا د سوال جواب په ادب ورکا — و احمق ته ئې په پیته خلهٔ جواب وی

د ښو بوټیں ښۀ ئې په همه دیار پریشان وی — دُرست وجود ئې په معنیٰ د مشکناب وی

په ظاهر جامه له خلقه سره خلق — په باطن کښې تابعین وی یا اصحاب وی

هغه مرد وَلی ګڼړه عبدالقادره!

چه عمل ئې په سُنت او په کتاب وی

★ ★ ★

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۱۱)
# قصیده

داکارونه چه نن کاندہ عیانی دی  هیڅ په خوا په خاطر نهٔ وو آسمانی دی
چه په وهم فهم نهٔ هغه ښکاریږی  هوښیار ځکه همیشه په حیرانی دی
کله هسے کار ښکاره شی چه غمژن شی  کاه کارونه په سبب د شادمانی دی
ساقی راوړه پیاله چه راته یو شی  غم بنادی، ثبات هیڅ نهٔ لری آنی دی
نن نسیم د پیښور له لوریه راغے  څو ویناے راته کړی زبانی دی
چه نن شپه مومندو ووهلے تور ے  چه وهلی نهٔ افغان نهٔ تورانی دی
لیندوغن په غشیو وکړه کشاد کانړیٔ  په سرتور تورے وهی جمال خانی دی
کوزے له میانه د جمال سپایانو یوړې  چه په ننګ توره وهی جانفشانی دی

---

۱ دغه شعر کښے یوے مشهورے تاریخی المیے ته اشاره دہ۔ چه رحمان بابا او حمید بابا ورته هم پخپلو خپلو اشعارو کښے اشارے کړے دی ۔ ناصرخان چه د کابل صوبیدار وو ۔ جمال خان ته ئے په طور د انعام دولاندہ روپئی ورکړے ۔ هم دغه جمال خان پخپله ارباب ئے کښے د عیسی کلے لوټ او وران کړو ۔ خوځهٔ موده پس چه بیا د جمال خان د زوے جلال خان وادهٔ تیار شو ۔ نو بیا هم د وادهٔ په دغه شپه عیسی د جمال نه د بدل اخستو په غرض د جمال خان په کور اوکلی حمله وکړه ۔ جمال خان ئے مقابله وکړه ۔ و لے پاتے راغلو او په زخمی حالت کښے په خپل کور ورننو تو ۔ عیسی ئے په کور اور وتکولو ۔ چه د وادهٔ اتیا تنه ښځے او ماشومان پکښے وسوزیدل ۔ جمال خان او د هغهٔ یو دوست کل خان هم په دغه اور کښے اوسوزیدل او مړه شول ۔ دا واقعه د کال ۱۱۲۲ ھ دہ ۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چه لښکرے د مظلومو اعانت کا — خدائے ئے مل شه دا لښکرے رحمانی دی
لاله زار ئے شگفته په سره اهار کړی — هر چه دا بهار نهٔ گوری زندانی دی
د بارے اوبهٔ ئے سرے لکه شراب کړے — د سربند کانړی همه ارغوانی دی
یگانه زلمیو غښ و بله وکړ — چه وَهَه فلانی وهه هندوستانی دی
توره شپه په توره وورځ لکه صبا شوه — ځلیدل ئے لکه برق نیسانی دی
همیشه پښتون موند و دے د ړوند کړے — که سبب ئے د خفت میر افغانی دی
چه په طمع د دُنیا کا ستری جنگونه — ننگ ئے ورک شه که رستم دستانی دی
یوسفزی چه زرُوینی ننگ پریږدی — حریصان دی، طامعان دی، نفسانی دی
په خلهٔ هر پښتون د ننگ خبرے کاندی — ننگ هغه کا چه نانی نهٔ دی جانی دی
زرنانی شه صدقه ترجانی ځوانه — پښتون ډیر دے، اماځهٔ یکاړ نانی دی
دا متل دے تیغ په اصل غوځول کا — د موندو توره اوس نهٔ دی کانی دی
آفریدی شینواری جنگ په غروبو کاندی — غوریاخیل په میدان جنگ کا میدانی دی
مخ ئے نهٔ دے دکتو د نجه ډیرے ښائی — چه نفاق کا همیشه په پښیمانی دی
فریفته ئے په ویل مهٔ شه نفاق دی — هغه خوک چه د لښکر په ویرانی دی
د مغل له دے لښکرو پروا مهٔ کړه — اتفاق ئے سره نشته ځان ځانی دی
په قسم ئے مبادا چه باور وکړے — سوگندونه ئے د امونه شیطانی دی
له بادشاه له شهزادگانو چه وسواس وی — اخته شوی دوئ په جنگ سلطانی دی
د سرونو نردبان ساز کړه باندے خیژه — مرتبے ته ختل نهٔ په آسانی دی
نهٔ له چا ئے طمع شی، نهٔ له چا ویره — خو خبرے رشتیا کړی کرلانړی[1] دی

---

[1] مطلب ترے د شاعرخیل ځان دے۔ دختکو نه علاوه وزیر، محسود، شیتک، بنگښ، اورکزی، آفریدی، اتمانخیل او دلزاک هم کرلانړی یادیږی۔

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# رباعیات

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱)

ذرې ئے له رشکه مرګوره درد کا — چه کړې ئے چارې فلک کې ګرد کا
ځوانمردان تاست دی آهونه سړد کا — ذوق وهوس د دنیا نامردکا

(۲)

په ډېر هوس ئے سره آشنا کا — په درد او دوک ئے جُبله جُدا کا
چه دا احوال دے په دا دنیا کښے — څوک به څهٔ سینه د زړهٔ په چاکا

(۳)

سرے هرګوره طمع درازه کا — چه ورته نهٔ رسی هسے آغازه کا
چه څلویښت کاله کم وزیات چینی شی — پلار ئے خمیر کا نمسے ئے سازه کا

(۴)

ساقی را پاسه ګل غوړېدنه کا — لغزه وُنه به بهار زړه کنړه کا
که رو که نهٔ وی چه شراب راوړے — صوفی به خپله خرقه کهنړه کا

(۵)

چه په نابوده دنیا اتبار کا — د پښیمانئ زړا بار بار کا
چه لږ غبار دِ په خندا نهٔ پسندی — هغه به خاوړے په تا انبار کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(٦)

که مزکه خپله کیږه پاره کا — حال د نغریو ورته ښکاره کا
خوب او خوراک به له خلقه لاړ شي — تمام جهان به یوه ناره کا

(٧)

ذکر هغه دے چه ذاکر فرد کا — دننه زړهٔ ئے ذکر په ورد کا
که ئے د ذکر باندے غالب شي — دواړه جهانه ور باندے سرد کا

(٨)

ټنګانده چرخ عجب ښانګونه کا — چرګان ککړے چرګے بانګونه کا
له مستئ وازدے تروړي ګیدړے نهٔ خوري — لوبے په غار کښے مزري پړانګونه کا

(٩)

ناراسته ښځه غنم اوړبشے کا — لا تر پختانړۍ اوړبشے تشے کا
پیشو ترے پټ خپې داور ته ګوري — هومره برے نهٔ شي چه پیشو پښے کا

(١٠)

هوښیار چه ناست وي ناپوه خبرے کا — سپي دي تمبنی څوک دے کورے کا
چه څوک ئے نهٔ پوښتي خاموش ووسي — که هر څو تو ئے د خلے شکرے کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(١١)

ډېر شو غمونه ډېر شو آشوب — زړگی په غم کښې سترگې بې خوب
کهٔ داخل وشي په عشق کښې سوبه — هغې توبه توبه له سینتو ب

(١٢)

مهٔ کړه هیڅ پاته گیله له بخت — مراد نهٔ مومي هیڅوک بې وخت
شکر وکاږه په هر احوال کښې — بلا ئې لا ده تر بلا سخت

(١٣)

ستا په دوران کښې اې بې بنیاده — نامراد بهتر دې تر بامراده
په خندا ورکړې په ژړا واخلې — زمونږ توبه شه له هسې داده

(١٤)

اې د بې زادو د لارې زاده — د نامرادو د زړونو مراده
محتاج ئې مهٔ کړه د یل ودرته — راکړه وما ته د خپله داده

(١٥)

اې چې په مخ ورې خوې له ور ده — خالي یو دم نهٔ یم دِ تا له درده
ته بې آسیه بهي سیب وُ سې — کهٔ تر نارنج مخ ځهره ده زرده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۶)

چې بې تا پائم بېل شوې یارهٔ! ژوندون هر ګړی دې پما دشوارهٔ
ډېر به په غم کښې د آشنا مړ وو که سړے مړے بې خپله وارهٔ

(۱۷)

څهٔ زده بې یانو د تا په قدر سپی لا غپا کا چه میاشت شی بدر[۱]
که ښکلی واړه سکه ګلونه دی ته د ګلاب ئے، نور ګل دِ بېدر

(۱۸)

په چاچه مهر کړے په چاچه قهر زهر[۲] پازهر کړے، پازهر زهر
بحر و بر دواړه دِ تا په حکم دی په بت ئے لار کړے، په بط ئے نهر

(۱۹)

په زړهٔ مزریه په سترګو باز له نازه ډکه خالی له نیاز
ترتا لا کینلی فلک بدرنګ کړهٔ زنهار پخپله خوبِ مهٔ ناز

---

۱ په پښتو کښې وچار ته وائی (حبیبی)

۲ زهر نا زهر کړے، زهر زهر (خ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۰)

درد دِ مۀ وینم ساقی مهٔوشَ　　پہ شونډو میٔه پہ مخ آتشَ
لہ خاصہ خُمہ صاف مۓ رانوش کا　　زړګے مے خلاص کړه له غل وغشَ

## (۲۱)

ځوانمرد هغه دے چہ لکه شمع　　دځان پہ سوالو مجلس کا جمع
د بل د پاره کهٔ پہ خندا وی　　پہ مخ ئے دړوی باران د دمع

## (۲۲)

پسین مے د دیرے پہ تورو زور شول　　زړونه دکښلیو راځنے تورشول
چہ پہ ځوانئ کښے زما پرے فخر شه　　هغه کارونه مے اوس پیغور شول

## (۲۳)

هرچہ له ځانه سره مے بنهٔ لیدل　　زویه کهٔ وړونږه وارو مے ولیدل
بنهٔ پہ یعیا نشی نفسا نفسی ده　　ما خپل بے خدایه هیڅوک ونهٔ لیدل

## (۲۴)

ځکه لهٔ درده ځبله بیسورم　　یاران دو ینو له سترګو وورم
وار مے دکښلیو دلیدو تیرشو　　چہ خال و خط ئے پہ لیمو کورم

## (۲۵)

زړۀ په خپل ملک کښې خو یو خیل زړۀ لرم — هم دغه مات دے چه روغ ئے نۀ لرم
کۀ دِ پکار وی درته پیشکش دے — دریغ بے ئے خدائے مۀ کړه چه لتا زړۀ لرم

## (۲۶)

دیار له غمه خالی یو دَم نۀ یم — هیڅ ساعت نۀ دے چه په ماتم نۀ یم
په زړۀ مے زخم په زخم کښین دی — کۀ آه و فریاد کړم وګریه کړم نۀ یم

## (۲۷)

اللّٰه مے رب دے زۀ ئے مربوب یم — بنده د دۀ یم کۀ خوب ناخوب یم
غرق په اوبو کښې کله اوبۀ وینی — نعمت ئے نۀ وینم په نعمت دوب یم

## (۲۸)

ترڅو به یاره لتا نه صبر کړم — یا مے به یار شے یا به ځائے قبر کړم
عشق مے په شان دخونی ښین دے — زړۀ ! تا په خله کښې دخونی ښیر کړم

## (۲۹)

زوړ کړم غمونو د آشنا زوړ کړم — له کُل هوسه ئے له دُنیا سوړ کړم
څو څو تا وُونه د اباندے تیر شول — نو مے ئے وَچ کړم، هجران نچوړ کړم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۳۰)

زۀ هسے نۀ وایم چه نیکو کار یم — شیخ یم، عالم یم یا پرهیزګار یم
ته په وئیلو زما ځان پاک کړه — زۀ که ناپاک یم، ګنده مردار یم

(۳۱)

بد یم دانۀ وایم چه زۀ بناغلے یم — په قرئ والی دِ ستا دا غلے یم
مرګ مے قبول دے شرل دِ نۀ دی — تښتے بنده یم درته راغلے یم

(۳۲)

کۀ نور څۀ نۀ دی چه مرے ستا نوم — بس دے دما ته چرته لتادر وم
ته به زما غونډے مریونه ډیر موے — کله به تا غونډے صاحب زۀ بیامومم

(۳۳)

کۀ هر څو خوڼ یم درمند په زړۀ یم — قوّت مے کم دے دجواب نۀ یم
چه یار مے وپوښتی وایه څۀ حال لرے — بواب ئے ورکړم وایم چه "ښۀ یم"

(۳۴)

دیار له غمه په زړۀ افګار یم — له غمه څۀ وایم درمند یم خوار یم
په زړۀ دردمند یم هرګوره بیمار یم — افګار یم، خوار یم، بیمار یم، زار یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۳۵)

خلقو کرم نهٔ یم، کهٔ وینې وُورم — پهٔ شپه او ورځ[1] له درده بنسودم
محروم د کښېنديو له ننداره و شوم — چه چشمې کيږدم خال وخط کودم

## (۳٦)

که سېنګول کړم عالم نهٔ پيژنم — بيا تر عالمه آشنا بنهٔ پيژنم
دا آشنانهٔ دے د آشنا رنګ لري — کهٔ آشنا راشي آشنا زهٔ پيژنم

## (۳۷)

خندا[2] لهٔ ستانه تل په ژړا غوارم — ورکړه د خوی دے زهٔ ئې په دا غوارم
له ديو مصرعو نه حرف د سروا خله — همه کړه جمع معنه له تا غوارم

## (۳۸)

د جدائي مدت د ډير شو — زيات تر حسابه تر شماره تير شو
هېرشي له دِله چه لاړله ستر کو شي — نوم مے دِ ياد دے رنګ مے دِ هير شو

---

[1] شپه ورځ له درده وبلا شودم (غ)

[2] د دے رباعي جواب رباعي ۲۳۳ دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۳۹)

چه باوجود د پیرئ مُرید شو　　صدّیق تر نوره حکه مزید شو
عمرئے تیر کړ په عبادت کښے　　په لژکی کبر ابلیس مرید شو

(۴۰)

دغم لښکر ے تر زړهٔ چاپیر شو　　خلاص مے نشی اوس په کښے گیر شو
سرائے د غمونو دے څهٔ سوکهٔ یو ځل　　د خوشحالئی تے کاروان پرے تیر شو

(۴۱)

چه تنگئ لښته وے وخت د ځمائے وو　　هر حرکت د زما په رائے وو
چه بناخ شوے شوخ شوے بر تر بنځ غواړے　　محنت مے وارہ ضائع بے ځائے وو

(۴۲)

په اُوړادونو د خلوړ قُلو　　غوارم له خدایه فُرصت د گلو
صحت د ځان د یارانو وارو　　کښتلے دِ دلبره بښینه د ملو

(۴۳)

مهٔ دِ وینم په سترګو تورو　　په خلهٔ زمائے په زړهٔ د نورو
غوږ دِ په نورو یارانو وُخوړل　　زهٔ دِ غلط کړم په کیسو سپورو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۴۴)

حسد په زړهٔ کښے دبے حسدو | اوس دے ترے بویه حذر بخردو
چه له مقبولو سره دښمنی کا | هغه سړے دے په شمار د دَردو

(۴۵)

فخرلوئی کا خلق په بدو | په بدخصلت شول بتر تر دَدو
دَ د شول رسمونه کاشرع ئے پریښوده | دبه ما مهٔ کړے په شمار د دُدو

(۴۶)

بندی په تار یم د دوؤ زلفینو | مست ئے په جام یم د دوؤ عینیو
د طهور مئے به یا ئے ترخهٔ لګی | نوش ئے چه مئے کړل د شفتینو

(۴۷)

لا[1] یم و باغ ته په نیت د ګلو | د پریکولو، آوازِ بلبلو
وکړې، دستے مے له لاسه پریوتے | هسے رنګ مست شوم لکه په ملو

---

[1] بناغلے همیش خلیل لیکی چه په یوه بله قلمی نسخه کښے دا رباعی داسے هم درج ده -

لا یم و باغ ته په نیت د ګلو | د پریکولو د تهولولو
په بوئیں ئے مست شوم بیخوده پریوتم | توان مے هیڅ نهٔ وو لکه په ملو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۴۸)

ژبه عادت کړه په ښو خبرو　　　خبرې ښې دي ښه تر شکرو
د خوند مثال ئې شکرې وایم　　　قدر ئې ډېر دے تر مزغلرو

(۴۹)

نسیم چه راوړې د باغ په ګلو　　　بوئ ئې د دلبرو د ښو کاکلو
له هغه بوئیه ګل هم بودار شو　　　هم بانډې وکړه مینه بلبلو

(۵۰)

ډک مې د ننه لړمون په اور شو　　　زړۀ سمندر دے پکښې ئې کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دے　　　له بخته خوښ یم چه بخت مې تور شو

(۵۱)

مۀ کړه تۀ وکړه سامان د تللو　　　پښوا تر هغه چه د بللو
استوا ځې راشي چه اوس رادرومه　　　وخت د حساب دے وخت د تللو

(۵۲)

د خپله بخته وچاته زار کړو　　　د چرخ ناسازے وچاته شمار کړو
ړک دے د کښلیو د کابل ښهر　　　هو مره څۀ نشته چه یو ترے یار کړو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۵۳)

څۀ زده په قدر د لعلو کوږو — زۀ دِ قربان شم ترسترګو توږو
که کینلی جمع د درست جهان شی — تۀ دِ زمانے نور دِ دَ نسوږو

(۵۴)

کۀ عقل پوهه، کۀ تیغ، کۀ دیګ وو — په پښتانۀ کښے د خوشحال بیګ وو
زړۀ همت وته په شمار دسلو وو — زړۀ سخا ته د صحرا ریګ وو

(۵۵)

کۀ بنۀ خوراک وو، خوراک هم ډیرُو شو — کۀ بنۀ پوشاک وو، پوشاک هم ډیرُو شو
ربه اوس راکړے د دین خوبئی — کۀ ډیر ژواک بنۀ وو، ډیر ژواک هم ډیرُو شو

(۵۶)

بل مے په زړۀ کښے د مینے اوږ شو — ځکه فریاد کړم روزګار مے شور شو
د یار د سترګو سیاسی پریوته — د صبر صاد مے په سترګو ګور شو

(۵۷)

عمرے تیر شو واړه په لهو — بدی په قصد کړم نیکی په سهو
تفل په دا عقل لکه زما دے — جنون بهتر دے تر هسے صحو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۵۸)

غم پرے هرګوره دجهان زور شـــو      دننه زړهٔ ـے را څخه خور شو
راغلم ناګاهه په اشـــنا ګلیـــو      ګلی هغه دی عالم پرے نورشو

## (۵۹)

له ګبنیه وُچا وُدهٔ وخت دصبا شـو      په هر مسجد کښے اذان ادا شـــو
راشه چه ګبنل دِ کرم اوس به بیلیږو      په ګمان زمونږه صبا بـلا شـــو

## (۶۰)

ځوانی چه لاړه بیانهٔ ځوانـیږ و      ویجاړ شو بویه چه ودانـیږو
په مخ استواځی د طلب را غـلهٔ      تا سو خدائے بښهٔ ساته مونږ روانیږو

## (۶۱)

اے چه برترئے د وهـــم وخیـالله      ستا له صفته ژبـه شی لا له
مجلس تمام شهٔ عمر آخر شـــه      آغاز د مدحے دے ستا له جماله

## (۶۲)

د پـسـدله مانه په زړهٔ کښے یاد کړه      څو دِ لاس رَسی مروت داد کـــړه
زړونه د هر چا په احسان ښاد کړه      آزاد بنده کړه ، بنده آزاد کړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(٦٣)

دبه پکار مې د نیکو کارو کړه      په روی مې عفوه د پرهیزګارو کړه
عمل د نیکو راځنی ونهٔ شو      ځوانی مې تیره په خوشچارو کړه

(٦٤)

په مجالس کښې بیرون له همه      دا آواز وخوت دخم له فمه
چه زهٔ هم ستا غوندې میخوزیږوم      زما له حاله مهٔ شې بې غمه

(٦٥)

شاباس شاباس محبوبه تالره      راغلې پخپله د عاشق خوا لره
د عاشقانو ممنځنه بنهٔ کوه      خدائې دې تر ډیره په دا دنیا لره

(٦٦)

وارو که د اپښدونه د هوښیار وړوره      تل ئې دزړهٔ په غوږو ژغوره
دهر کار وخت شته خبره ځائې لري      وار خطا مهٔ کړه، و وار ته ګوره

(٦٧)

د میر و میره! د خانو خانه!      د جهانیانو جان او جهانه!
دا رنګ لوئې به هله روزی کړې      کهٔ وې نیک نیته او نیک زبانه

(۶۸)

دریغه دریغه واژګونه ګردونه — د ښني له مرد کړې چیلوی له دونه
په نا اهلانو باندې عنبر لوړې — لوړې په اهلو باندې ګردونه

(۶۹)

په وخت د ګلو او د ګلو سره — ځائے ئے کاوهٔ شي د زړهٔ دننه
چه بهار تیر شي خزان پرې راشي — هسې رنګ سوهٔ شي لکه څوک غنه

(۷۰)

راشه راشه ښائسته راشه — زما د غم د جونګړې دنړا شه
په هغې لارې چه ته راتللې — د هغې لارې بلا په ما شه

(۷۱)

پیرے چه حل ئے واړه اشکال وُسه — په دواړه کونه خرّم خوشحال وُسه
دا نصیحت ئے راته همیش وایهٔ — چه خوښ له خدایا په هر احوال وُسه

(۷۲)

چه حاضر نهٔ وی ورځنی ښهٔ وایه — کهٔ هر څو بد وی ورته لیمهٔ وایه
کهٔ لن ډیر عیب په یار کښې ووینې — چه مخامخ شي ورته ئے ووایه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۳)

مېن دا یار د شو دِ تا له زنګه — کۀ یو درنګ کښېنې زما تر څنګه
کۀ آشنا نۀ ئې د آشنا شان لرے — ځار شم قربان شم تر تا ملنګه

## (۷۴)

مۀ شه چه جاه ئې په افزونی شۀ — سفله فرعون یا قارونی شۀ
د مردکانو په غوښو مست وی — ورځنی ځان ساتئ ګیدړ خونی شۀ

## (۷۵)

ارمان ارمان دے کږ رو فلکه! — عین په زړۀ ده دړ چیا لکه
ستا له ګردشه خُونه دِ ورانه شه — د جدائیی تیرۀ ګزن لکه

## (۷۶)

فریاد فریاد دے له هغه دَمه — چه رابنکاره شی اجل له همه
ما به یوا ځے روان کا کور لره — په ډیر ارمان په ډیر المه

## (۷۷)

بیلتون دِ سخت دے په ما ترناره — پکښې ورتیږم دخدا ئے دپاره
یو دَم لمانه مۀ جُدا کیږه — تر تا قربان شم مئینه یاره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۷۸)

ثَنا د گُل شی له کښلیه بُویه          صفت د مرد شی له نیکه خُویه
اهل به نهٔ کا ستائنه هیچرے          د گُل له رنگه، د مرد له رُویه

## (۷۹)

خواره حیرانه بنی آدمه          صورت دِ دروغ دے تمام له غمه
ژوندے غمژن ئے، مړه غمژن ئے          راغلے مهٔ وے کاش له عدمه

## (۸۰)

هر څوک چه یو کا ذرهٔ خله خیل دواړه          دویم په نیت شی ثابت له واړه
کهٔ کمے ورځے په دین دُنیا کښے          تاوان ئے واړه زما په غاړه

## (۸۱)

نادان به وائی مینه آسانه ده          چه مینه کاندی مینه[ل] ئے ورانه ده
په نام و ننگ کښے د سربښند نه شی          د نام و ننگه وتنه گرانه ده

---

ل کور - کالهٔ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(۸۲)

چه دانا سانړے د چرخ زغمونه    لړمون مو درست شو سره کړمونه
یو دِ جدا کړو له خپله ملکه    بل دِ راپیش کړهٔ د عشق غمونه

(۸۳)

چه ے به طمع دُنیا چاته شوه    له همه واړو په وار وار ماته شوه
اسرے د خپلو پردیو پاتو شوے    اوس ے یوائے اسره وتا ته شوه

(۸۴)

مینه څو رنګه مزه لرینه    خوږ به پوهیږی چه ئے کوینه
کله تروا ږو ترخو ترخه شی    کله تروا ږو خوږ و شیرینه

(۸۵)

که ډیر څهٔ درکا ورباندِ مهٔ ویاړه    له خدایا نور څهٔ بے خدایه مهٔ غواړه
ژړا د قرب ژړا د بعد ده    وخدائے ته ژاړه، له خدایه مهٔ ژاړه

(۸۶)

کهٔ هر څو خوږے د کښنیلو نا نه !    تریخ شے چه تیر شے زیات تر اندازه
کهٔ په لذّت کښے شکرے ښے دی    په ډیر خوراک کا بلا درسازه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۸۷)

پہ لارے تللم پہ مخہ راغلہ　　　پہ مخ ترکلہ بناسُتہ آغلہ
داغ ئے بیانوے راباندے کښینی　　　زما خاطرہ! پیدا ئے داغلہ

## (۸۸)

هیڅ نۀ پوهیږم داڅۀ بلا دہ　　　چہ لګیا شوے پہ زړۀ زما دہ
لړمون مے سوزی قرار مے نۀ شی　　　اوس دے کۀ مینہ دِ دلربا دہ؟

## (۸۹)

ربہ! د لطف کرم وَماتہ کړہ　　　بے تا مے مینہ د هرڅۀ ماتہ کړہ
چہ صورتونہ ځنی پیدا شی　　　نظر د مهر پہ ښاخلکی ماتہ کړہ

## (۹۰)

لکہ اَرواح ځی د چا لہ ځانہ　　　چہ جُدا کیږی یاران لمانہ
هسے ساعت خو بلکہ تر دانہ　　　پہ ما لا سخت دے لرے لتانہ

---

ئے یعنی بناسُتہ او مرغوبہ او ښکلے
(حبیبی)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (۹۱)

دبه ! له غیرو چاړ و ے وړ غور ده　　باران دفضل را باندے ووړ ده
زۀ که بدکار یم لائق د نار یم　　تۀ خانته ګوره ومانته مۀ ګوره

## (۹۲)

واه واه سړیه! د تا کار ونه　　په خپل همت کړے څۀ کوپار ونه
په دام له سینده ماهی ووکاږے　　په دَم له سوړے اژدر ماروته

## (۹۳)

لږ ے په خوب کښے د دلبرۀ ولیدۀ　　ډېر ے تر لعل وتر یاقوت سرۀ ولیدۀ
چه ویښ له خوبه شوم سترګے مے ومښے　　ډک مے له وینو دواړه ولیمۀ ولیدۀ

## (۹۴)

اے همه شاهه چه د وړیر نشته　　ستا له درګاهه د چا ګزیر نشته
ستا له کماله ، فضله اُمید لرم　　کۀ په تقصیر کښے زما تقصیر نشته

## (۹۵)

یار مے په خوب کښے ډیر سخت زګوړ ولیدۀ　　مخ مے په وښیو د فراق سوړ ولیدۀ
چه خواب نامه مے د تعبیر وکتله　　د دۀ صحت مے د زړۀ سرور ولیدۀ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۹۶)

په هیڅ نوښه په هیڅ دلکیږه      داوینا وار وه لا په ځیږه
هیڅ خبر نه ئې چه څه ئې څه به شي      وي غافل ئې د ځان له ویره

## (۹۷)

چه زړه دا یاد کا تېر ساعتونه      وښکي را توي کړم په رخسارونه
وار د دلبر د دیدن تېر شو      اوس مې نصیب شه سارړه آهونه

## (۹۸)

دا چه ښکاریږي، که دا هم داده      دا په ظاهره باطن کښې داده
دې هورې ئې خلاصې نصیب شي      چه خوار شي خلاص شي دی له داده

## (۹۹)

په ورځ توبه کړم په شپه ئې ماته      لا مې شي مینه په بدو زیاته
سکه نور بایده دي چه توبه گار شم      له دې توبې نه څه زیان وماته

## (۱۰۰)

د دُنیا ناوې که هر څو ښکلې ده      په اُووه رنګه زیور پسللې ده
نور دِ اخلي بهره له وصله      مُومِن په وَجاړه مینه نیولې ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(۱۰۱)

نن په دا ملک کښې عجب جن دہ — په رنګ د حورو په خوئ د جن دہ
په سوال کښې هوکې بے آيه نهٔ کا — هيڅ نهٔ خبرېږی د چا له چنده

(۱۰۲)

ځار شم قربان شم د پلار ترېنده — راته ئې ووے "زما فرزنده!
لِذت دُور کړے تر ساتل ډېر دے — خوئے خبر نهٔ دے ممسک له خونده"

(۱۰۳)

ځوانی عاقل ته لکه دُنيا ده — پيری په مثل لکه عقبیٰ ده
چه څهٔ عمل ئې په ځوانئ کړے وی — د هر عمل ئې پيری جزا ده

(۱۰۴)

هيڅ نهٔ پوهيږم چه لا به کله — بنديان آزاد کړے څښتن خپله
حاجت دخلے د عرضونو نشته — نهٔ خو د خبرے زما له دِله

(۱۰۵)

شيخه په ما باندے د خدائے د پاره — نظر د مهر څهٔ خو کماره
عاجز يم توان د غمونو نهٔ لرم — کوره غمونو وته مهٔ سپاره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۰۶)

مونږ ړانده یو، زمونږ فعلونه — همسا ځکونی دی وړ پسې ځونه
که فعل ښه لرے انده وه میځ مه کوره — که لار کوهی لری یا کړنګونه

## (۱۰۷)

راشه که ګورے سرے بے پښه ده — بندی په لاسو په پښو بے بنده ده
په دوه سترګو ړانده نه وینی — شنوا غوږونه کاڼه ده له پښه ده

## (۱۰۸)

په ذره مے ستانه اندیښنه ډیره ده — واړه خوښی مے له دله هیره ده
هر چا ته تیره ده دنیا بود نه لری — اوس پرے ښه پوه شوم په تحقیق تیره ده

## (۱۰۹)

نه ما خه کړی دی نه به خه کړمه — چه دا کوے ته هغه کومه
نوم د ژوندون مے نوم د علم دے — مړیم عالمه مړیمه مړیمه

## (۱۱۰)

چه ښه وی خلق ورته ښه نه وائی — ښه دی چه بد وی ورته ښه وائی
نظر په خدائے که خلق ته مه ګوره — که ورته بد وائی که ورته ښه وائی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۱)

وخت د سحر شو پریوته ستلے　　له کښنیه لور په ړا وُختلے
دیار درا غلو وعده شوه تیره　　په ډیر کتل مے سترګے وتلے

## (۱۱۲)

چه به ترے نهٔ وو ګلونه لاندے　　خوب به ئے نهٔ شو په پالنګ باندے
اوس په لحد کښے پراتهٔ په خاوړو وی　　پرے زرغونهٔ شول ګنډیری پاندے

## (۱۱۳)

د عارفانو د خلے کلام دے　　چه ترے عبرت واخلی پرے سلام دے
عیش و عشرت د دُنیا کُل واړه　　بُنیاد هیڅ نهٔ لری تش احتلام دے

## (۱۱۴)

دوئ په کور کښے اوچ ټوک به ژوئ　　زوئے ئے له لوبے کویلی کوئ
دښتیا متل دے هوښیار ویلے　　دُنیا خوبه ده تر ځان تر زوئ

---

له دا رباعی د "ب" په چاپی نسخه کښے نشته - د "خ" نه مونقل کړه -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۱۵)

یاره که هر څو ورته بس لوري    قهر و ستم کا همیش مې زوري
لا تر دا زیاتې مې واړه قبول دي    خو یو دِ نوړو وَته نهٔ ګوري

## (۱۱۶)

غافله وُخوړې د استرګې توري    زهٔ تاته ګورم، ته بل ته ګوري
زما د مینې لا فې هاله وَهه    که زړهٔ له غیرو مینو وژغوري

## (۱۱۷)

کهٔ هغه یار مې ظالم په یارته دې    خیال یې راغلې زما کنار ته دې
ځائې به دِ پاسه په خپل تندي کوم    ګله! چه رنګ دِ زما ویارته دې

## (۱۱۸)

څو شکر خوارې خاوړې خورې شوې    ډیرې پګړۍ یې دخیال خورې شوې
چه تل سورلي یې په عراقیانو وه    اوس تورې خاوړې پرې پاس سورې شوې

## (۱۱۹)

چه پکښې الیني بنهٔ صورتونه دي    ځکه له مزکې بنکاره ګلونه دي
قدم پرې وړو وړو په احتیاط ږده    دا تورې خاوړې کښلي مخونه دي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۲۰)

تقدیر د دریاب دے موتی ورخسنړی      په حال هیڅ نۀ یو چا خبر کړی
چه دا دریاب به موجړته بیا ئ      هم ئے له کومه ځایه راوړی

(۱۲۱)

د غم ښکرے په زړۀ هر دم راځی      یو بنبلے نۀ وی، بل پرے پسے هم راځی
په خوب کښے کله ښۀ ساعت لید شی      اندیښنے ډیرے شوے مغهم کم راځی

(۱۲۲)

هرچه امیر د ښکر بیدل وی      یا پرے خبرے د داد مشکل وی
تل به رټلے شرے کرځی      په هر محفل کښے به منفعل وی

(۱۲۳)

ځنی هوس کا مینه په باغ لری      څوک ئے پرسته جب د ایاغ لری
دا دواړه گروهه بوالهوسان دی      عاشقان مینه د زړۀ په داغ لری

(۱۲۴)

په ونه سروه، په مخ گلزار ئے      په دواړه زلفو عنبر نثار ئے
خوبی د حسن زیاته تر حده لرے      عیب خو دِ دادے د ډیرو یار ئے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۲۵)

دیار غمونه چه هومره ښنهٔ دی      چه ئې ډُوایم خوهم پټ ښنهٔ دی
ناحق به نور کړم اخته په زړهٔ کښې      غم به ئې زهٔ ساتم د نور وڅهٔ دی

## (۱۲۶)

په زړهٔ مړ زړے په سترګو بیاز ئے      ستر ګے منګلے خونریز ته وازے
سازے ناسازے چارے په ما کوه      په ما دِ واړه ناسازے سازے

## (۱۲۷)

په زړهٔ مړزے په سترګو باز ئے      سر تر قدمه له خوبئ ساز ئے
هر څهٔ دِ ښهٔ دی عیب دِ دادے      چه له نیاز منو هرګور بے نیاز ئے

## (۱۲۸)

یارے کهٔ هر څو راته ناساز واۍ      پرے خوشحالیږم چه ئے له ناز واۍ
چه راته ډُوکا بنیرے بنکنځلے      وائم که تل ئے راته باز با زواۍ

## (۱۲۹)

باران وریږی څڅواکی څاڅی      نسیم راوالوت سُنبل پرے ناڅی
اسباب د عیش واړه موجود دے      ساقی ته ګوره، کهٔ دے راپاسی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۳۰)

دانا په مثل د شهسوار دے — پروت که په مزکه وي هم قدردار دے
نادان سرے په مثل غبار دے — لاړ که آسمان ته شي هوړ هم خوار دے

## (۱۳۱)

د ګل له غمه بلبل فغان لري — ګل له خزانه خاطر پریشان لري
دا ګناه ستا دے د صبا باده — نه ئے ګلونه نه ئے خزان لري

## (۱۳۲)

پسین چه بدخوئي وي ترنیکخوئے تور بنه دے — چه ستا په راتلو ځي، پردے ورور بنه دے
بنه هم هغه دے چه ستا په ځان بنه وي — تر سرو ګلونو په ژمي اوربنه دے

## (۱۳۳)

بناشت د لاړشو په خوئي بنه نه ئے — یا خوغوځکے ئے یا پړانګ لیوه ئے
اوس لما لرے په ټنګ ټنګ ګرځه — نه هغه زه یم، نه هغه ته ئے

## (۱۳۴)

مخ چه د حسن له غوړو سپور شي — عاشق کرم نه دے که زړه ئے تور شي
ګل چه تازه وي ځائے په سرکیږي — خزان وهلے لائق د اور شي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۳۵)

غم دِ کله هر څو په خاطر ډیر شی	نه وی چه زړه دِ پکښے تیر بیر شی
لکه چه وار د بنادئ لاړ شه	هسے په وار د غمونو تیر شی

(۱۳۶)

عام وړ چا ته ښتن د ساه واځ	په تخت چه کښینی ورته بادشاه وائی
ژوندے هغه دے، بادشاه هغه دے	چه تل په زړه کښے الله الله وائی

(۱۳۷)

د عشق په کار کښے چه څوک صادق شی	دیار د مهر هاله لائق شی
دوئ د دواړو ترمینځه وو ځی	عاشق معشوق شی، معشوق عاشق شی

(۱۳۸)

ن مے په زړه کښے د کښلیو خیال راغے	په خله وایه نشی، یو عجیب حال راغے
مگر یار راشی چه مے ترے خلاص کا	کنړه پرهین مې چه لوئے جنجال راغے

(۱۳۹)

ن چه په حسن د کښلیو سر دے	هم هغه کښلے زما دلبر دے
څه بے ترمخه بناسته تر دے	خدائے ئے را بریندہ عجب بشر دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## (١٤٠)

که هر څو خوئ او خصلت یوشان لرے — همیش فتنے کا عاشق پریشان لرے
راشه چه دواړه سترګے دِ کښل کړم — زما دپاره څهٔ خو نشان لرے

## (١٤١)

مخ کهٔ تر نمرهٔ هرڅو درخشان لرے — شونډے سرهٔ لعل د بدخشان لرے
ستا له یارئ زمونږ توبه شه — چه خوئ خصلت د ځاروی پشان لرے

## (١٤٢)

که ښے ښے ښځے کهٔ ښهٔ پوشاک وی — کهٔ ښهٔ اَسونه کهٔ نور املاک وی
چندان نقصان ئے سړي ته نهٔ رسی — ځانته او دین ته بد ډیر خوراک وی

## (١٤٣)

اِشاره؛ وے دا صبے ژاړے ؟ — له چا فریاد کړے څوک پسے غواړے
کهٔ تل فریاد کړے له کاږی سرو هے — بیا به رانشی او بهٔ چه ولاړے

## (١٤٤)

ذرهٔ ئے تر هومرهٔ غمو پائمال شی — ګمان ئے نشی چه بیا خوشحال شی
وَ نامحرم ته احوال وایهٔ نهٔ شی — محرم ته نهٔ وایم چیرے ملال شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۴۵)

کارکوه کار، پکار هم کار دے   تاوان په ځان باندے خالی گفتار دے
عقل څۀ بل دے، خبرے نورځۀ دی   کوتره کوڼګه طوطا طرار دے

(۱۴۶)

کۀ زر دوستان لرے یو غلیم شوم لرے   زړۀ ئے له غمه عاقل مغموم لرے
کۀ نور ځان روغ وی یو غابښ دخوږ شی   په فراغت کښے به اندام کوم لرے

(۱۴۷)

بحر خاموش دے بیلاب غرغر لری   سیلاب تش لاسے سینه لمن پُر لری
د سیلاب ګیډه له کاڼیو ډکه ده   بحر په ګیډه کښے قیمتی دُر لری

(۱۴۸)

کۀ یاس له حقه تحقیق حرام دے   یاس له مخلوقه دحق انعام دے
اصیل بنده کا، خلاص شوے بند کا   طمع له خلقه دخلقو دام دے

(۱۴۹)

سحر سحر چه نوبت غږیږی   دا رنګ آواز کا کۀ څوک پوهیږی
چه زۀ دیل وُم، بیا به دیل شم   په ما ناحقه څوک هوَسیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


## (۱۵۰)

آروے؟ بلبل د بهار څه وائی ؟ — چه همیش نهٔ پاتی مینه پرنهٔ بنائی
نن نو د گلو بنائست کمال دے — دریغه ترکانده پورے کهٔ وُپائی

## (۱۵۱)

غمژن کهٔ کړی، که کښینتی سپاسی — آه و فریاد کا وُښکے ئے څاڅی
ورته بنکارینږی سکه ویرونه — کهٔ نور وکړے نموس کا ناڅی

## (۱۵۲)

یارے په مثل لکه آفتاب دے — هم بے حجابه هم په حجاب دے
د مخ شعلے ئے د مخ پرده وی — نور د آفتاب، د آفتاب نقاب دے

## (۱۵۳)

چه کښنة پورته قطار قطار ډُرروی — نارے فریاد کا په اضطراب دړوی
راځنی بیل شوی یاران را یاد کا — په مخ مے وُښکے لکه رودبار دړومی

## (۱۵۴)

تهٔ چه د اضبے لما کنار کړے — ځان ناآشنا کړے بیگانه وار کړے
زهٔ بنائسته یم مشتاق مے ډیر دی — تهٔ بے یاره همیشه خوار کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۵۵)

اے چه عیبونه د بل اکثر وینے  —  خپل ځان ترنورو خلقو بهتر وینے
سر د همه وُ عیبونو داد ے  —  چه د بل عیب د ځان هُنر وینے

## (۱۵۶)

د کړلو نهٔ دی دا دوه خبر ے  —  دواړه هرګوره له عقله لرے
په نامرد زویه چه نقارے وهی  —  بل په بد رنګے ناوے سندرے

## (۱۵۷)

چه عاقبت به له دنیا لین دے  —  ولے دا هومره طولانی بلین دے
چه وخورے وخورے، چه ورکا یوسے  —  نور به ئے یوسی چه زړه دلین دے

## (۱۵۸)

خندا هوس شی له جاهلئے  —  حُزن اندوه شی له عاقلئے
کهٔ لر بیدار شی خونه به وُرانه کا  —  جهان ودان دے په غافلئے

---

ئے یعنی دے یه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(۱۵۹)

چه شجاعت کا دنیا په کف لری — نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا دواړه خوبیه — هغه میراث د شاهٔ نجف لری

(۱۶۰)

چه نور وګوری لهٔ تا ویزار شی — نیلوی د خپلو حاله بېکار شی
کنه په ورځ د راحت ترخپلو — بېشکا نه هم ترسری ځار ځار شی

(۱۶۱)

هر څوک چه عقل دانائی هوش لری — راز به په زړهٔ کښې همیش سرپوش لری
تنها به هم نهٔ کا د راز خبرے — کهٔ هیڅوک نهٔ وی دیوال هم ګوش لری

(۱۶۲)

روژے شوے تیرے صبا به عید وی — هوس به کاندی هر چه سعید وی
سعید هغه دے چه یار ترخنګ لری — شقی هغه دے چه ترے بعید وی

---

؎ مطلب حضرت علی کرم الله وجهه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۶۳)

خبر د تللو دکوم آشنا راغے — چه قاصد هسے دګیره بیا راغے
په وار وار واړه یاران روان شول — اوس به زهٔ دروړم چه وار زما راغے

(۱۶۴)

کهٔ د عجم دی کهٔ د عرب دی — هم بے ادب دی چه رد د رب دی
سیل مے وکړو دَ کتابونو — مقبول هغه دی چه په ادب دی

(۱۶۵)

ادب په تلهٔ کښے دے ادب په ناست کښے دے — هم په ولاړ کښے دے ادب په ملاست کښے دے
ادب په هیڅ کښے له سرړی نهٔ دړومی — نور څهٔ لا پریږده ادب په زغاست کښے دے

(۱۶۶)

کهٔ په دولت کښے پشان دجم دړومی — لا مے ترجمه افزون حشم دړومی
هیڅ به بنګاړیږی ودانا یانو ته — چه له سړیه په تلهٔ درم دړومی

(۱۶۷)

دمنی وخت وو، وُ مے لیده — یو څو بلبلے چه ژړیدلے
خوارے خسته وے، وے مے سزائے — چه بے ګلونو وُ پیائیدلے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۶۸)

ثوک چه بې خدايا غير محبوب کاسندی — باطل اختيار کا واړه ناخوب کاسندی
غير به پرېږدی کله دَ زړهٔ فهم وُکا — په ضعف[۱] الطالب والمطلوب کاسندی

## (۱۶۹)

لږ دَه لهٔ نيکو نيکی چه څوک کيږی — نيکی له بدو، بدی له بنو کيږی
دَ اميد تخم پرې باندې مهٔ کره — له بدې مزې به گل په څو کيږی

## (۱۷۰)

يو دوه وينائ ورته ساتلی دی — چه پير وماته له خُلې ويستلی دی
مينه بې خدايا په هيچا مهٔ کوه — بې خدايا مينې واړه باطلې دی

## (۱۷۱)

چه ئې دستر کو مشرم رقيب شی — خلاص له اغياره هله حبيب شی
دَ گل لمن به ککره نهٔ کا — گل ته که څوک اغزی قريب شی

---

۱ دې آيت شريف ته اشاره ده - يا ايها النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فاستمعُوا لَهٗ ط اِنَّ الَّذِيْنَ تَدعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَاباً وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ط وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئاً لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ط ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ہ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۷۲)

کۀ د دنیا دی کۀ د عقبیٰ دی — وما راکړی نعمت مولا دی
شماره ئې څوک کولے نۀ شم — چه لا یعدّ او لا یحصیٰ دی

(۱۷۳)

چه بنګله پورته زمونږ نفس درومی — هر څۀ ئې هیر دی په یاد د نس درومی
حاصل د دین د چارے هیڅ نشته — حیف صد حیف اوقات عبث درومی

(۱۷۴)

دا دوه خبرے زما په ځائے دی — پرے به پوهیږی چه روښن رائے دی
مقبول د خلق مردود د حق کېږه — مردود د خلقو مقبول د خدائے دی

(۱۷۵)

کۀ دښمنان دی کۀ ئې دوستان دی — وارۀ آفت د سړی د ځان دی
دښمنی خپلوی چه له هیچا نۀ کا — په دین دنیا کښے هغه کامران دی

(۱۷۶)

زما شوے وچے د غمه لاړے — هم مے په زړۀ کښے چړیکے لاړے
زۀ دِ په هسے احوال کښے پریښودم — تا راته شا کړه راځنی لاړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۷۷)

چه په دا لارے صبا بیګاه کړے — تلنه، آهونه، فریاد ژړا کړے
کلی محلت به وارہ خبر شی — ما به خرابه ځان به رُسوا کړے

(۱۷۸)

که سرۂ او سپین دے په کور کښے تل وی — چه نهٔ دے علم نهٔ دے عمل وی
بُنیاد دے نشته آخر به خوار شی — بخت به ترکومه ورسره مل وی

(۱۷۹)

تر هر څهٔ بد د کجئ خطر دے — کجی به نهٔ کا چه دانشور دے
الف چه سم شی کجی دے نشته — ځکه تر نورو حرفونو بر دے

(۱۸۰)

وړو میے مینه په مخ دیار شی — بیا دے په طمع دښنهٔ ګفتار شی
فکر دے بیا د بوس وکنار شی — په عشق کښے کله صبر و قرار شی

---

[1] د دا رُباعی د "پ" په چاپی نسخه کښے نهٔ وه۔ د "خ" نه مو دلته راوړے ده -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۱۸۱)

ازبسچه تل جاری په خلهٔ ئے ... یاد ے دلبره حسے په زړهٔ ئے
چه څوک له ورایه راته ښکاره شی ... خوشحال خوشحال شم وایم چه ته ئے

## (۱۸۲)

چه نوم ئے وُشی د محرومئ ... خوب به په څو کا د بےغمئ
په یوه تکی محرم مجرم شی ... ویره دِ کاندی د مجرمئ

## (۱۸۳)

د وُښکو دِ ے ستر ے نظر کوے ... د خپلو تللو راته خبر کوے
چه د جوګیانو جا ے دِ واغوستے ... پوهیږم لرے ملک ته سفر کوے

## (۱۸۴)

په دیرعالم کښے که زړهٔ ے چوی ... هم به ے وُښکے دسترګو نهٔ وی
زهٔ به تاثارم په هسے ځائے کښے ... چه یو دِ غم وی دویم ے زړهٔ وی

## (۱۸۵)

چه خوبی له ګله دګیر لهٔ خارهٔ دے ... عشق له دوبینه بےاعتباره دے
نهٔ شکایت کړم له چا نهٔ شکر ... درد ے له یاره درمان له یاره دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(۱۸۶)

مست یم دُ عاکرم کۀ تۀ هم مست شې — راسره ګښېنې باده پرست شې
پیاله د مېو په لاس ګښې واخلې — د نام ونګ د ښېښې په شکست شې

(۱۸۷)

ډېرخۀ مې وکړۀ دې چې آشنا شوې — لکه زۀ ستا یم، تۀ هم زما شوې
یا تۀ بدخوئ يې یا مې بد بخت دے — لا تر غلیمه په هغه خوا شوې

(۱۸۸)

بادشاه چه عدل انصاف تمیز لری — خدائے به یې د لے هور عزیز لری
چه داخوېونه ورځنه نۀ وی — آخر به خوار شی کۀ نور هر څیز لری

(۱۸۹)

چه هنرمند دے هغه حاسد لری — اعزی ګلونه د قیب شاهد لری
کله به بنۀ شی د بومو زاغو — باز چه مسکن د بادشاه ساعد لری

(۱۹۰)

څوله پرهاره زوے بهیږی — پرے مې صحت شی رنځور بنۀ کیږی
همدرد مې نشته چه ورسره وژاړم — له ډېره غمه مې حلق خوږیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (١٩١)

هرچه د هجر مزری داړلی دی     که ساه پکښې وی په مړو شمارلی دی
لارے یے د تللو راتللو بندے شوے     غائب د سترگو په خدائے سپارلی دی

## (١٩٢)

څۀ شو که سپین وی د دواړو سپۓ     دعوا دعوا دی د سپۓ د سپۓ
پاک ښاڅکے بویه له پاکه ځا یه     چه واخلی حمل ځنے سپیۓ

## (١٩٣)

په درد مے نور څوک بیمار دردمند نۀ دی     بے ما په غم کښے زما غمژن نۀ دی
کۀ پلار که زوئے دے که ورور کۀ یار دے     تر ما نه هیڅوک په ما مئین نۀ دی

## (١٩٤)

زړۀ که خو په کوړ آسمان وی     چه ورکړه نۀ کا په خرۀ زربار وی
چه پکښے نۀ وی اوبۀ د رحم     وریځه نۀ وی یو تش غبار وی

## (١٩٥)

اے چه په فکر د میچا نۀ وی، کړے     زاړۀ به کله د خوارو نوی کړے
باران د رحم وربانده ورۀ     چه بیا له مڑکے زرغونه سوی کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۹۶)

زاهده! ولې راپورې خاندې؟ مخلوق پخپله کله څه کاندې
چه ئې راميل چا ميل پيدا کړه هغه پيدا کړه ګنهګاري سپاندې

(۱۹۷)

چه په ظاهر غوړ وي په باطن تور وي په ژبه خوږ وي په زړه کښې شور وي
ورسره مه کښينه تا به تباه کا سپين زړه که سپين وي اصل ئې تور وي

(۱۹۸)

ګوره ناکانده دوزګار په څوکيږي نيکي له بدو، بدي له ښو کيږي
هر چه بدخويه بدفعل کم ذات وي د خلقو مينه هم په هغو کيږي

(۱۹۹)

اې چه وئيل کړې ما ته "ښه نه ئې" ښه چه زه بد يم، ښه چه ته ښه ئې
زه به هغه کړمه نکه چه زه يم ته هم هغه کړه نکه چه ته ئې

(۲۰۰)

که اشتها د سړي د سير وي خوراک ئې بويه چه کم نيم سير وي
چه ډير خوري کله هغه تر ډيره خوري هر څوک چه لږ خوري خوراک ئې ډير وي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲۰۱)

خوبئے په فقرِ معنوی حلق شی　　ځکه اطلس ئے بدل په دلق شی
نظر د عامو پرے بانده بند وی　　بنده د مینے، بادشاه د خلق شی

(۲۰۲)

د عاشقانو د خلے یو بول دے　　چه خال و خط د بناګُسته وُپسول دے
خدائے دِ دنګیر مهٔ کړه چه دنګیر نهٔ شے　　د مخ ویښتهٔ دِ د میاشتے شپول دے

(۲۰۳)

بوره به ترکومه زیبا صورت وی　　آخر به خاوړ و سره لت پت وی
کهٔ ن مات نهٔ شو صبائے ګوره　　د خاوړین لوښی بنکاره مدت وی

(۲۰۴)

دا سُنبل نهٔ دی ویښتهٔ مشکبار دی　　دا لاله نهٔ دی کښلی رُخسار دی
دا نرګس نهٔ دی سترګے د کښلیو دی　　چه خاوړے شوی پخپل وار دی

(۲۰۵)

کهٔ لب دِ لعل کړم، لعل خوشیرین نهٔ دی　　کهٔ غاښ دِ دُر کړم، دُر دومره سپین نهٔ دی
کهٔ مخ دِ نمر کړم، د نمر کړهٔ ورهٔ نشته　　کهٔ دِ سنبل کړم زلفے مشکین نهٔ دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲۰۶)

د باد فروشو په پوکو ړد شے        کښینې د خان په ستائنه ګډ شے
خود به دِ مړ څوک ثنا صفت کا        که د هُمائے غونډے قانع په هډ شے

(۲۰۷)

په خوشحالۍ کښې هوښیار غمژن وُسی        چه صبا ګیږی بویه چه نن وُسی
دردے دمه وینم که دردے نهٔ وینم        چه د درد مندو په درد دردمن وُسی

(۲۰۸)

ښکر په مثل لکه ښنهٔ اَس دے        سردارئے سور دے چه سوړ ئے پاس دے
که هر څو جلد وی چست و چالاک وی        چه سورئے تښتی د اَس څخهٔ لاس دے

(۲۰۹)

چه فرمائیلی د خدائے رسول صلی الله علیه وسلم دی        واړه په سترګو زما قبول دی
په بل څخهٔ اړه، زمونږ څخهٔ کار دے        چه باندے کارلری ظلوم جهول دی

(۲۱۰)

د به خاطر مے له غیرو سوړ کړے        هر دَم مے خپلے بندګئ ته جوړ کړے
زړهٔ مے څخهٔ لاس مے دواړه خالی دی        د قناعت په خزانو مے موړ کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(٢١١)

چه محبت کاله چا چه تل نهٔ وی — تر هغه هېڅوک کم عقل بل نهٔ وی
زما څهٔ کار دے د خوشحالیو — خوښي هغه کا چه څوک ئے خپل نهٔ وی

(٢١٢)

د غم امان وُشه چه په چا زور شی — روښان جهان ئے په سترګو تور شی
په ورځ غم په یارانو ویشم — په شپه یوا ځے پما تنور شی

(٢١٣)

راسته کهٔ کوږے د عقل وُبنے — وُچ ئے له تندے د ننه سنے
کړه په دریاب شو اوبهٔ ئے نهٔ ځښے — ورځنے راغے هم هسے تښے

(٢١٤)

هغه چه ستا دی چه ئے ساتل نهٔ کړے — ویره مے کیږی چه ئے د بل نهٔ کړے
که دا دِ خوئ دے، دارِ خصلت دے — خپل به پردی کړے، پردی به خپل نهٔ کړے

(٢١٥)

مخ چه په یار پیے د چا بد رنګ نهٔ وی — مخ ئے وُنهٔ وینم چه هیڅ ئے ننګ نهٔ وی
بالنبت په ډېرو ژړلو لوند کړم — چه وینی له خوبه شم یار مے تر څنګ نهٔ وی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۱۶)

مردان په سوال کښې د سائل نعم لري — چه لَنْ لَمّا وَ لَا وَما لَمْ لري
لکه په لَنْ کښې الف محذوف شو — هسې به ورک شي کهٔ ډېر نعم لري

## (۲۱۷)

چه دروغژن وي له حقه لرے وي — هغوته زهر رښتيا خبرے وي
مشک نجاست وي وکناسانو ته — خاوړے خوږ وته خاوړے شکرے وي

## (۲۱۸)

چه يار مې لاړ شو په لويه لاره — رابانده راغلې ورځې دُشوارے
لړمون مې سوزي روغه عالمه! — څهٔ کړم چه نهٔ کړم نارے چيغارے

## (۲۱۹)

عشق مې خاطر دے ځکه پسند دے — چه عشق کښې سور وُم بے عشقه يلے
په عشق بادشاه وُم پروا د چا نهٔ کړم — بے عشقه کمرحم سکه نتلے

## (۲۲۰)

چه ډېرے کړے بانده ګناه دے — هر هر مقام مې په ګناه ګواه دے
تور مې د ډېرے وږهٔ ته پريواتهٔ — بډېره مې سينه زړهٔ مې سياه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## (۲۲۱)

پهٔ زړهٔ مې هومره غمونه ډېر دي          چې مې وختونه د خوشئ هېر دي
درد منه! روغ ته له دردونو مهٔ وایه          وایه وَمانه را باندې ښتیر دي

## (۲۲۲)

چې پیدا شوې ظلوم جهول دے          هوس ئې سود دے اندوه ئې تول دے
چې عاقلان دي پرې به پوهیږي          نا معقول نهٔ دے، دا قال معقول دے

## (۲۲۳)

کهٔ ډېر سعي کوشش کړې څهٔ شی          پهٔ وخت چې نهٔ کړې بې وخته نهٔ شي
کهٔ دم ترومت پهٔ بېړئ ملاح لا          پهٔ تانک چې کښیوځي پورې هالهٔ شي

## (۲۲۴)

صورت مې هر څو کهٔ ډېر زبون دے          کهٔ مې د مزکې د لاندې یون دے
زهٔ به پهٔ لور د آشنا دوان شم          یون مې کهٔ هر څو پهٔ شوا خون دے

## (۲۲۵)

بهار خزان کړي، خزان بهار کړي          مالدار نیستګار کړي، نیستګار مالدار کړي
دچا دار وکړي، دچا تیر وار کړي          څهٔ څهٔ کارونه پروردګار کړي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲۲۶)

کهٔ ورکړه خیر دے، چه هیرشی ګُل شی
کهٔ هرڅو لږ وی چه یادشی ګُل شی
چه باغوان تخم په خاوړو پټ کا
پیدا ترے هاله بناګُسته ګُل شی

(۲۲۷)

چه ګُل همت ئے خوراک لباس دے
په تحقیق هغه ارزل الناس دے
شرف په خوی دے په دیانت دے
کهٔ څوک شریف دے یاخوک کناس دے

(۲۲۸)

دا ګمان مهٔ کړه چه ستا دی تل به وی
دبل دی ستاشی، ستا دی دبل به وی
د زړو کالو سری مړګ پرینښول
تهٔ که ډیرپاتے نهایت سل به وی

(۲۲۹)

لکه عامل شول ترخاوړو لاندے
عمل هم ورک شو په مزکه باندے
اوس په خبرو پروُل وُړوُل دی
دا بیت بازئ دی عالم ئے کاندے

(۲۳۰)

بیګاه نزدے شو د غرونو سیورے
په سم راپریوتے له پیینے تورے
ډیر ډیر ویرېږم یاره نزدے شه
چه څیں ډکورم هم ے څیں کورے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲۳۱)

کۀ په حکمت کښې تر هر چا پاس وی — اصیل نجیب وی چه خالی لاس وی
پروت به په خاوړو لکه الماس وی — سپک په نظر د عوام الناس وی

(۲۳۲)

داچه ترفهمه زما عزیز دی — سنۀ بدتمیز نۀ کا بد بے تمیز دی
اے تۀ هغوته چه خوک د خدائے دی — چه په شیرنۀ ارزی کم تر پشیز دی

(۲۳۳)

اے چه لمانه تل په ژړا غواړے — خود به ئے بیا موے کۀ تل داشان ژاړے
له مصرو واخله د سر حرفونه — هغه جواب دے چه بانده تۀ ویاړے

(۲۳۴)

تۀ چه دا هسے لما کنار کړے
کښینې هر چا ته، لمانه زار کړے
یا دروغژن وے منزل دِ لنډ وو
لا دِ نیت بد شو، بد یو به یار کړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲۳۵)

داچه ښکارېږی تا ته په سخ کښے ... څو څو بنا وے لرے په مخ کښے
په کاڼړی وکا اثر خبره ... تاثیر هیڅ نهٔ کا په ساړهٔ سمخ کښے

(۲۳۶)

تل مے ناستے وو له خلقه گوښے
خپل پردی واړه راځنی تښے
دم مے همدم وو کتاب محرم وو
سر مے به تل وو په زانو یښے

* * *

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# متفرقات

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# ترکیب بند

سنځ دهغه زړهٔ چه کا اشغال د محمدؐ
بخت دهغه خلے چه لری قال دِ محمدؐ

بے له یوه خدایا چه کمال دے ددهٔ علم    نورچا ته ښکاره نهٔ دے کمال د محمدؐ
وُخوت موسیٰ په طور "فاخلع نعلیک" حکم پروشو    عرش هم مفخر شو په نعال د محمدؐ
سر به ئے د فخر تر اووهٔ اسمانه تیر شی    هر چه له اخلاصه شی پائمال د محمدؐ
خدائے چه څهٔ دخدائے دی، همګی واړه ددهٔ وو    څهٔ شو به ظاهر که نهٔ وو مال د محمدؐ
نورنیانؐ به واړه دزړه په دود څرګند شی    وُ برېښی چه نمر غوندے جمال د محمدؐ
خال چه په مخ کښ دی یو به سله حسن زیات شی    ځکه خال دحوړو شو بلال د محمدؐ
په ورځ دقیامت چه خلائق واړه حاضر وی    هاله به ښکاره شی جاه جلال د محمدؐ
واقٔ چه که حُب دِ دخپل خدائے پر یوځی په زړهٔ کښے    حُب په محمد کوه په آل د محمدؐ

خدائے دده له رویه تمامی خلق پیدا کړهٔ
دهٔ هم بے له خدایا همګی واړه ترشا کړه

---

۱ فَلَمَّا اَتٰهَا نُوْدِیَ یٰمُوْسٰی اِنِّیْ اَنَا رَبُّکَ فَاخْلَعْ نَعْلَیْکَ اِنَّکَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًی ہ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خدائے دِ صفت کړے په قرآن دابوبکرؓ
فرضه ده ثنا په انس و جان دابوبکرؓ

بے له دے چه مال او ځان ئے ځار تر محمدؐ کړے — نهٔ وو په خاطر کښے بل ارمان دابوبکرؓ
یونس به ئے دخلے دورِیتو غوښتو همیش تلنه — تل دعشق په اور وو زړهٔ بریان دابوبکرؓ
استاد دانبیاءُ شو عالم دده له رُخه — ادب ئے درهمیش په دل وجان دابوبکرؓ
ځکه انبیاءُ ارزوی دده امت کړه — چه ځیس ئے کړ په لوح محفوظ شان دابوبکرؓ
تل ئے په دوستانو باندے رحم درحیم وی — یا دئے وی په لعن دښمنان دابوبکرؓ
نور عالم مشتاق وی دجنت، جنت دهغو — هر چه دی له صدقه مشتاقان دابوبکرؓ
فقر ئے موندلے وو دپاک نبی له فقره — ځکه پادشاهان شول کډ ایان دابوبکرؓ
خلاصه ئے په رُوی د محمدؐ لما نه مهٔ کړه — لاس مے نګولی په داما ن دابوبکرؓ

هیڅ حاجت ئے نهٔ غوښت دهٔ په خدائے راوړو تصدیق
ځکه سر دفتر داولیاءَ شو صدیقؓ

پس چه له صدیقؓ په صفت ددُره دار شهٔ — هغه مسلمان سرے سُنیانو سره شمار شهٔ
حُب ئے په سړیو په پیریو باندے فرض دے — هر څوک چه ئے حُب نهٔ لری دے هُورے خوار شهٔ
دین د اسلام بیا مُوندهٔ قوت دده له دینه — دا رنګه قُوت به په قوت دکرد کهار شهٔ
سخت په کافرانو وو تر زړهٔ دکافرانو — نازل په با بئے ځکه "اشدآء علی الکفار" شهٔ

---

۱ محمدٌ رسولُ اللهِ ط والّذینَ معهٗ اشدّآءُ علی الکفّارِ رُحَمآءُ بینھُم تریٰھُم رُکّعًا سُجّدًا یبتغونَ فضلًا منَ اللهِ ورضوانًا سیماھم فی وجوھِھِم مِن اثرِ السّجود ط

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



له غشیه ئے له ورایه لکه سیل د کارغانو — د بنکر د کافرانو په لیدلو تار په تار شهٔ
هسے رنګ آیت پرے جبرائیل له خدایا راوړو — هر چه به په وخت د مشورت د دهٔ ګفتار شهٔ
کله چه به دے د خدائے د پاره په غضب شو — شیطان به په کروهونو له هغه ځایه فرار شهٔ
صِدق د صادِق کهٔ له صدیقهٔ څخه ښکاره کړو — عدل د عادل د دهٔ په عدل کښے اظهار شهٔ
عدل چه د دهٔ لکه آفتاب په جهان ؤخوت — پټ په سوراخونو کښے ظالم شب پرک وار شهٔ

پاک نبیؐ ویل چه پس لما کهٔ پیغمبر وے
روح د دهٔ چه هغه هم د خطاب زویه عمرؓ وے

فرض لکه په خلق باندے تفضیل دے د شیخین — هسے رنګ واجب دے محبت د ختنین
دوه ځله چه نور د نبوت باندے تابان شهٔ — ځکه مخاطب شهٔ په خطاب د ذِی النورین
بحر د سخا وو، غر د حِلم، کان د شـــــرم — ایښے ئے قدم وو د همت په فرقدین
تخمیر ئے د طینت وو د جنت په شهدو شوے — تلخ ئے چا ته نهٔ و تل هرګز له شفتین
څیر به ئے له شرمه وهیچا ته کړے نهٔ شو — تل به ئے بخیل کنار نظر وو د عینین
عمر ئے تمام په خوشنودئ له خلقو تیر شهٔ — کر به ئے په هر ساعت طاعت د ثقلین
خدائے چه "رُحَمَاءُ بینهُمۡ" وَدهٔ ته ؤوے — ځکه ئے په خوئ د رحمت بیامونډ زیب و زین
یو ئے له دُنیا نه واخست بل ئے له عقبیٰ نه — بیا ئے مونډ وصال د خپل مطلوب په قدمین
لاړ کهٔ له دُنیا نه په سرو وینو رنګوُ ے — ګرځی په ګلزار کښے د جنت په شِین شِین

جمع د ضدین کهٔ هرچا ته وی محال
دین او دنیا جمع کړه وَدهٔ ته ذوالجلال

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



رفض نۀ دے خلقو محبت د مُرتضیٰؓ
خدائے دِ وَما راکړه په حُرمت د مُرتضیٰؓ

لا به تردۀ مینه په بوبکرؓ په عمرؓ کا
وی ئے چه په زړۀ کښے مؤدت د مُرتضیٰؓ

هرچه ئے په زړۀ کښے بغض پروت وی دشیخینو
تل وی په هغو باندِ لعنت د مُرتضیٰؓ

نشته هسے رنګه یل یوځوان سکه علیؓ
دا رنګه خدائے کړے دے صفت د مُرتضیٰؓ

خدائے چه پرے خطاب اسدالله له لطفه کیښو
تم په دا کتاب شو شجاعت د مُرتضیٰؓ

ځان ئے دهجرت په شپه ایثار تر محمدؐ کړ
خدائے ستایۀ فرښتو ته فتوحات د مُرتضیٰؓ

کوټ ئے دخیبر په تنها ځان کړ دړے وړے
زیات دے تربیانه زور قوت د مُرتضیٰؓ

نبیؐ د علم ښهر دے، دے ور د هغه ښهر
ګوره چرته لاړ شو فضیلت د مُرتضیٰؓ

وُ بخښه چِل خدائے عبدالقادر له دیره فضله
په رُوئ د مرتضیٰؓ په ذریت د مُرتضیٰؓ
ستوری د هدیٰ دی د رسُول واړه اصحابؓ
راضی دے خدائے له دیوه رحمت ئے په احباب

---

لہ اَنَامَدِینَةُ العِلمِ وَعَلیٌ بابُھَا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# ترجیع بند

دریغه دریغه دُنیا خونه تالا کړے — په ژوندونی ځان بدتر ترخا وړولا کړے
دعزځه غونډے له خلق تښتیدلے — ځان له وارو آشنایانو ناآشنا کړے
چه په مرګ سره له ځانه جدا کیږی — هغه واړه لا تر مرګ پخوا جدا کړے
یو ساعت مهٔ وے فارغ د ځان له غمه — په هوس ے دهمه خلقو خندا کړے
لیونے شوے چه چانهٔ پریښوے وَدَر ته — ودانی د جهان واړه پس شا کړے

مخ په بیدے بیدیا وُنیوے ژړے
د صحرا دوُنو پاڼړے پټ خوړے

چه آخر دِ له فانی جهانه تلهٔ شته — ځهٔ بیکار که دِ په کوړ کښے پین اوسرهٔ شته
که په تخت دپاسه کښینے بادشاهی کړے — عاقبت دِ بیا له تخته پریواتهٔ شته
که لښکر دِ ترحسابه تریشماره تیر شی — کمان مهٔ کړه چه دِ بے عمله ملهٔ شته
جمادات دجدائے له غمه ژاړی — ستا لا هیڅکله نرمی دخاطر نهٔ شته
ورځ په ورځ شیرین یاران درځنی دروی — وُچوے دِله! چه لا ستا خواب وخوارهٔ شته

مخ په بیدے بیدیا وُنیوے ژړے
د صحرادونو پاڼړے پټ خوړے

که هر څووی بنائسته په رنګ رنګینه — لاله رُویه، سُنبل مویه، تن سیمینه
ترینهٔ مخ بورے دِ نورد سپوږمئ هیڅ شی — په سپوږمئ چه پلو واخلے وُدِرینه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لطافت ئې زیات دګل تر لطافت دے — په عالم ئې د خوبئ خبرے شینه
کینلے مځ به ئې دکور خاوړے بد رنګ کا — نازک تن به ئې دکور چیچي وُخورینه
چه دا هسے احوال دے په دا دُنیا کښے — په خپل حُسن به څوک څهٔ دِماغ کوینه

مځ په بید ے بید یا ونیوے ژړے
دصحرا د وُنو پاڼے پټ خوړے

کشکے نهٔ په دا جهان راغلے نهٔ وے — چه په داغ دبیلتانهٔ داغلے نهٔ وے
یا مے مرګ دهلکوالی په ساعت وے — چه مے خپل پردی څوک پېژندلے نهٔ وے
یا زووُلے ژوند په سترګو وے له ځایه — چه مے مځ دهیڅ آشنا لیدلے نهٔ وے
یا خبر په بنهٔ بد مهٔ وے لیونے وے — چه د روغو په شماره شمیرلے نهٔ وے
یا هوښیار شوے تل دځان فکر کوُلے — په فکرونو د جهان نیولے نهٔ وے

مځ په بید ے بید یا وُنیوے ژړے
دصحرا دَ ونو پاڼے پټ خوړے

په زړګی مے دبیلتون لمبے بلیږی — ځکه وُښکے مے له سترګو راتلیږی
دا آسمان چه لکه ژرنده هسے څرخي — ددا نو ځائے یاران پکښے دلیږی
دُنیا په سرائے کښے ځائے د مقام نشته — کاروانونه په هر دَم خَنی چلیږی
غافلان به په دُنیا کښے خوشحالی کا — عاقلان به همیشه کښیني نوُ لیږی
هرګز نوږ کاږ ونه مهٔ کړه په دُنیا کښے — چه دا هسے دنګ شیرین یاران بیلیږی

مځ په بید ے بید یا ونیوے ژړے
دصحرا د وُنو پاڼے پټ خوړے

په ارمان به یک تنها وُوځے له کوره — خپل پردی به درسره دږ ومی تر کوره
په لحد کښے به دِ واچوی یوا ځے — غورځوی به درته خاوړے لور له لوره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



تا به پرین دی دوئی به وجاروځی کورته — په بیلتون به ئے نارے وهے په زوره
کیر نکیں به په هیبت درلـــره راشي — چه ئے دواړه سترګے ډکے وی له اوره
نورخه مهٔ کړه په ژوندون عبدالقادره — چه دا حال دِ اے دزړهٔ په سترګو ګوره

مخ په بیدے بیدیا ونیوے ژړے
د صحرا د ونو پاڼے پټ خوړے

چه له ډره دښمنه ورته بل در ته — سکه سپے په کاڼو لوټو ئے شړے
دجهان دخوږو هیڅ غرضی مهٔ وے — ګل ترخهٔ ے دخوږو غونډ نغرے
دحرص دسپی غابنی مات په قناعت شوے — په زنځیر ے بیا دصبر وتړے
عاقبت به په ارمان ورځنی درومی — کهٔ ملنګ وی په بیسرو ایرو لړے
په مانوم دبادشاهئ مهٔ وے پورے — خوشامد ے مهٔ کړے چاتل ئے ربړے
هرکاره به بهادرشاه چیرے خبرکا — حال عبدالقادره! مهٔ وایه سپړے

مخ په بیدے بیدیا ونیوے ژړے
د صحرا د ونو پاڼے پټ خوړے

---

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# مخمس

رڼړا ورځ په ما بې تا ده توره تمه　　راته یو شو د غمونو غرونه ، سمه
وښکې وینې تویوم د زړهٔ له نمه　　یو زمان مې خلاصې نهٔ وی له المه
زهٔ دِ وینمه دخوږ زړونو مرهمه

فراق دې پر را باندِې زور شو نهٔ سهیږم　　شپه او ورځ لکه باران هسې ورېږم
تود لوګې مې له خلې په زړهٔ ورتیږم　　په راتلو دِ لکه ګل شګفته کیږم
بې بې راشه آشنا صبا قدمه

چه خوراک ئې همیشه خون دځیګر وی　　تل فریاد، تل په ژړا په نا روسر وی
تر مجنون او تر فرهاد ئې حال بد تر وی　　د مهجور تر زندګئ ئې مرګ بهتر وی
که سینه ئې ستي کیږي نهٔ ده کهرمه

که هر څو د خوښئ دکې پیالې شومی　　عاقبت به ئې له غمه وچ شي کومی
له دنیا به هوښیار څرنګ خوښي مومی　　چه دستر کو په ځمبل له سرې درومی
دل بستګی پرې پورې مهٔ کوه آدمه

د دنیا د مینې سخت زبون بنیا د دے　　په دنیا مئین بنده دے، نهٔ آزاد دے
د دنیا دولت په مثل لکه باد دے　　په دنیا چه ئې زړهٔ ښاد هغه ناښاد دے
کله مخ کا کله شپ کا سندی له همه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ستا مئین به همیش خوار خسته په زړه وي — تل په غم تل په آشوب کښې وي خوږ وي
خوار خسته حیران پریشان به لکه زړه وي — ترمخه به بل نادان په جهان نه وي
چه به تا وته لري د وفا طمعه

څو عاشق دیار په مینه کښې خوارېږي — خپل پردي ورځنې عار کا وېزارېږي
لا ئے عشق و معشوقې ته اظهارېږي — په خپل یار چه ستم نه کړي آزارېږي
چرې نه وي لاس کوتاه کړې له ستمه

که هر څو په جهان ډېر دي نګارې — آهو چشمې، مو کمرې، پرېوارې
مه جبینې، تن سیمینې، ګل رخسارې — مخ نسرینې، سرو قدې، خوش رفتارې
د بنا الست وینا په تا باندې شوه تمه

شرمنده د تربنه مخه ګلزار وینم — چه بې ستا له مخه ګل د بهار وینم
د هر ګل پاڼې په زړه لکه خار وینم — د زلفینو تر حلقو د عذار وینم
که سمن دې ستا په زلفو کښې صنمه

راشه څه وائې چه ویره د ځان مه کړه — د خپل یار په محبت کښې نقصان مه کړه
هیڅ و ما ته له دې بابه بیان مه کړه — که دې سر ځي که دې مال ځي ګمان مه کړه
چه به مینه شي زما له یاره کمه

که له عشقه شې سنسار عبدالقادره — د منصور غوندې په دار عبدالقادره
په نارو سوزې په نار عبدالقادره — مه کړه بې عشقه بل کار عبدالقادره
د عشق چار په لاس کښې ونیسه محکمه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# مخمسۀ ۲

دا زما خاطر زبون دے — دے له عقل ډیر بیرون دے
په دنیا پسے مجنون دے — څهٔ اُمید په دا ژوندون دے
نن دیدن کهٔ انده بیلتون دے

خبر شه د نوحٔ له حاله — چه ئے عمر وو زر کاله
نهٔ شو خلاص د مرګ له جاله — په ارمان لاړ له عیاله
نن دیدن کهٔ انده بیلتون دے

کهٔ څوک سیل د ګلزار کا — ننداره د نوبهار کا
کهٔ پرے غوږ د زړهٔ بیدار کا — عندلیب هسے چغار کا
نن دیدن کهٔ انده بیلتون دے

په پسرلی ګلونه وا شی — په څورنګ ئے تماشا شی
چه خزان وربانده راشی — تورے خاورے د صحرا شی
نن دیدن کهٔ انده بیلتون دے

کهٔ په حُسن لکه نمر شی — تهٔ یوسف بناُسته تر شی
څو چه قبر له ورشی — تورے خاورے ئے بسر شی
نن دیدن کهٔ انده بیلتون دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


که د مرګ خواري تر زړهٔ کړے　　کور به وران د دُنیا ته کړے
خوشحالي به نوره نهٔ کړے　　تل به دا ذکر په خله کړے
نن دیدن کهانده بیلتون دے

چه جدا یاران تر زړهٔ کړم　　په ژړلو لیمهٔ سرهٔ کړم
څو ژوندون په دنیا زړهٔ کړم　　آشنائي به نوره نهٔ کړم
نن دیدن کهانده بیلتون دے

که هر څو نازک بدن شي　　لکه ګل هسے به تن شي
چه لحد د دهٔ وطن شي　　د چنجیو به خوردن شي
نن دیدن کهانده بیلتون دے

که څوک جوړ لوړے عمارت کا　　تر کسرٰي ئے لا زینت کا
په مثال ئے د جنّت کا　　د مرګ سیند به ئے لت پت کا
نن دیدن کهانده بیلتون دے

اے چه خان او ملک نوے　　په دماغ به کبر ډړوے
تل به دا خوښي نهٔ موے　　بند به شے د مرګ په لوے
نن دیدن کهانده بیلتون دے

په دُنیا کښے که قارون شي　　لا تر دهٔ نه هم افزون شي
چه وقبر ته ئے یون شي　　خالي لاس به ترے بیرون شي
نن دیدن کهانده بیلتون دے

که ته توے کړے نګارے　　بنائسته پري رُخسارے
پس له تا به شي دوي خوارے　　یا به شي د نورو یارے
نن دیدن کهانده بیلتون دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



که سل زر دِ فرزندان شی — لا به دوی په مرګ طوفان شی
ستا خاطر به پرے بریان شی — لا به پاتو یتیمان شی
ن دیدن کهانده بیلتون دے

اے زما ناپوهه دِله — نصیحت له مرو اخله
ثو دُنیا ے بتولوُله — لا رل دوئی داے پریښبوله
ن دیدن کهانده بیلتون دے

کهٔ دوراندے ئے ماتیان ځی — پسے دوئی په تخت روان ځی
لور په لورے سپایان ځی — خو به کوینے له جهان ځی
ن دیدن کهانده بیلتون دے

کهٔ بادشاه د درست جهان شی — سلطنت ے د سلیمانؑ شی
چه په حکم ئے دیوان شی — ترے جُدا به په ارمان شی
ن دیدن کهانده بیلتون دے

که هر ثو ئے دولت ډیر شی — ذ حساب تر شماره تیر شی
چه دمرګ استاځے ویر شی — پرے به زهر یا ګنهیر شی
ن دیدن کهانده بیلتون دے

هر چه نغوته دخپل نس کا — دُنیا هوا هوس کا
بیهوده چارے عبث کا — فریاد هسے رنګ جرس کا
ن دیدن کهانده بیلتون دے

چه به خوا ناخوا ترے ځینه — نهٔ دِ کا په دُنیا مینه
ځان دِ تلونے وُکهنړینه — د قیامت په غم دِ شینه
ن دیدن کهانده بیلتون دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شپه او ورځ د عبادت کا — ترک دِ واړه معصیت کا
ځان دِ جوړ په شریعت کا — تل دِ زړۀ ته نصیحت کا
تن دیدن کهانده بیلتون دے

اے خوب وړیه زړۀ بیدار شه — دخپل ځان په غم گرفتار شه
له گناهه توبه کار شه — تل په ذکر د قهّار شه
تن دیدن کهانده بیلتون دے

ځله مۀ تار په تار دیږئ — یاران یو تر بل ځاریږئ
هیچرے مۀ ویزاریږئ — ویزار څۀ مۀ آزاریږئ
تن دیدن کهانده بیلتون دے

چه تۀ وائے چاسته یاره — نور دُنیا کا تر دۀ ځاره
سرشنده دیار دیاره — زړۀ ساتل غنیمت شماره
تن دیدن کهانده بیلتون دے

سترگے وُخورے دواړه توره — چه باقی په فانی پلورے
په دُنیا پسے تل بنورے — دے دُنیا وته نۀ گورے
تن دیدن کهانده بیلتون دے

اے چه ناست ئے په تخت بانده — په شاځے په قهقهه خاندے
ځائے دِ دے ترخاوړو لاندے — مرگ تل دادنیوره کاندے
تن دیدن کهانده بیلتون دے

چه جُدا له ماحرم شو — یو په سله ے الم شو
زما زړۀ جونکړے دغم شو — چه قائل په دا قلم شو
تن دیدن کهانده بیلتون دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اے زما دِلبره راشه — ما نړے مۀ کوه په خلاشه
وُموسېږه په خندا شه — خو په خوا راسره بیا شه
نن دیدن کهانده بیلتون دے

ځی مے وُښکے لهر لهر — وران مے شو دخاطر ښهر
ناست په غاړه وُم دنهر — دا آواز ئے کړو په جهر
نن دیدن کهانده بیلتون دے

ټوک چه غوږ په دا بیان کا — څۀ اُمید به په جهان کا
کور به دے دُنیا وران کا — داویل په هر زمان کا
نن دیدن کهانده بیلتون دے

کۀ په حسن سکه نمر شی — تر یوسفؑ بناښته تر شی
خو چه قبر لره ورشی — تورے خاورے ئے په سر شی
نن دیدن کهانده بیلتون دے

زۀ عبدالقادر نۀ بنا یُم — چه خپل شعر چاته نما یُم
خو میئن په دا وینا یُم — هر زمان ئے ځکه ستا یُم
نن دیدن کهانده بیلتون دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# مُربع

## (د خوشحال خان ختک په ستاینه او دُعاکښې)

خدائے دِ تل لکه چِل نوم لره خوشحاله — خوشحالی ئے په نصیب کړه لایزاله
خودمند، نیکوسیرت، نیکو مقاله — خود په ځېر ئے، ځېر پښتون ئے نۀ دے بیاله

ورکول ئے بے سنته د حاتم وو — ورته یو سفال و سنګ دینار دِرم وو
واڼی پټان د مغه چاچه په دۀ کرم وو — ورځ و شپه به ئے کاوۀ بانده ازغاله

شرم ننګ لکه دۀ وو د چا نۀ وو — شجاعت لکه رستم هسے دۀ وو
شور و شر ئے تل د سینے پروت په زړۀ وو — شان د دۀ دے دربنکاره د دۀ تر قاله

حال د هر سری بنکاره دے تر مقاله — حل د هر مشکل کاوۀ شی له امواله
حد د چا چه ئے ځواب کاوۀ له قاله — حقیقت په مجال نقل دے محاله

خار دسترګو د دُښمن پخپل بهار وو — خاموشی حِلم ئے ډېر درلۀ بُردبار وُو
چِل پردی له دۀ همه شکر ګزار وو — ختک درست د دۀ په دور وو نهاله

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اندیښنه ئې وه هرګوره ډېره لویه
افغان دۀ غوندې چه وُزیږی بل بویه
اجنبی به ئې کم نۀ کا نږۀ تر زویه
آزاده وو هیڅ ئې نۀ وړه مال منا له

نوم ئې لاړ وو تر دکن تر قندهاره
نیم دِرم ئې هم کورنهٔ ساتۀ له عاره
نۀ وو بل هسې نامی له زمینداره
نور ئې هیڅ نۀ وو ددۀ، بې توره ډاله

خیل خانه ورځنی واړه وه خوشنود ه
خاص و عام وو تل سُودمند ددۀ له سُوده
خوش خرم وو همګی ددۀ له جُوده
خوش کلام وو، خوش معاش وو، خوش خصاله

تواضع ئې دهرچا کړه بې مقدار
تل به دۀ کړ کبر ژن په کبر خوار
تر اندازه کم زیات نۀ وو ددۀ کار
تکبر په کبر ژنو دې ملاله

کلام ډېر ددۀ شیرین وو ترنباته
کارئې داوو، ترحیاته ترمماته
کم ددۀ ترخُلې ترخۀ وتل وچاته
کرم وُکړه په دۀ بانډې ذوالجلاله

اوردننه دعاشق په زړۀ بلیږی
ارمان دادې چه څوک کم په دا پوهیږی
او رنګین شعر لمبې ځنې بښکاریږی
اوس نور څۀ وایم د هسې حال احواله

لام او بې ئې ددلبرو دی ستائیلی
لږ و ډېره ما ددۀ له حال وئیلی
لعل او دُرې ئې دګفتار په تار پئیلی
لکه څوک چه دیار مخ کا نمر مثال

———

# قطعه

زۀ چه هسې په خپل ځان باندې مئین یم
دجانان دِ په جانان باندې مئین یم
دخزان میوه بهار ، دبهار دے
تر بهاره په خزان باندې مئین یم

مۀ دِ وینم لباسي په سترګو تورو
زۀ په تا باندې مئین یم تۀ په نورو
هیڅ حُرمت ئې لکه حق وو په ځائې نۀ کړه
میلمه شوې وو یوسفؑ په کور دکورو
په بنۀ خوئ په څۀ پروا کرم له بد خویو
قیمت لږ نۀ شو دُر په اوبو شورو

دمجنون په مخه سپے په کوڅه راغے
چه په رنځ دیمن والی مبتلا وو
هغه دم ئې تر پښو پریوت مخ ئې کښل کړه
چه په کوڅې کښې ئې لیدلے دلیلا وو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شیخ سعدی قدوۂ اهلِ یقین
چوں منور گشت ازو زیرِ زمین
از خرد جستم حساب رحلتش
در جوابم گفت "شیخِ مومنین"
۱۱۰۶ھ

په هر کاله کښې د مرګ ماتم دے
وبا نیولے اکثر عالم دے
بنده بنده یاران ئے جُمله جدا کړل
تاریخ ئے راغلے چه کال د غم دے
۱۰۹۵ھ

بنده هغه بهتر دے چه له خپلو تقصیرونو
عذر رونه په درګاه د خپل څښتن همیش راوړی ینه
کله څوک توانیږی لکه حق ئے د صفت دے
نبی دے که ولی دے چه ثنا ادا کوینه

په ظاهر د آدم زوئے په معنی پلار وو د آدم
ظهور ئے په آخر په حقیقت کښې مقدم
محمد رسول الله چه تل لماپنه دهٔ هر دم
صلی الله تعالی علی النبی وسلم

---

ئے د شیخ سعدی لاهوریؒ خلیفه حضرت بنوریؒ د وفات تاریخ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د اُمت دیوال دِ غم د پرتل سنهٔ کا
چه دِ تاغوندے رسول ئے پښتیبان وی
دعوی بیړئ به څرنګه ډوبېږی
چه خود نوحؑ نبی الله ئے کښتیبان وی

اے د سحر چرګه! عشق حاصل کړه له پتنګه
وُسوزی په اور کښے هیڅ آواز نهٔ کا له ننګه
هر چه لاف د عشق کا بیا له عشقه ګفتګو ئے کا
تشے دعوے کاندی په سالوس ئے جامه رنګه
ګفت په شریعت دے سکوت په حقیقت کښے
کله وئیل کاندی مقرب د شاه له څنګه

نمر سپوږمئ باد وُرېځے     چه تل ښکته پورته ښوری
همګی ستا په خدمت دی     شپه و ورځ دِ تا غم خوری
رزق روزی د رته موجود کا     د رحمت باران ئے وُ وَوری
دا ئے ستا دپاره هست کړهٔ     تهٔ غافل د حق له لوری
چه په دا نعمت راندهٔ شی     په قیامت به وی مخ توری

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د آشنا صفت به څو پوښتې له مانه
څۀ به واىٔ بې دِلان له بې نشانه
عاشقان په تيغ وژلي معشوقې دي
له وژليو آواز کله خيژي جانانه

خوشحال خان دشهباز خان وو، شهباز خاںن ديحيٰی خان
يحيٰی خان داکوړي وو، سرائے اول کړ دۀ وران
سخاوت د دوارو خوئ وو، شجاعت ئے لا تر ے تير
د ختکو سرداران وو خدائے پرے رحم وکړه ډير

# مثنوی

چه ګزرې هر دَم عمر لکه باد کا
په دُنیا کښې به عاقل کله زړهٔ بناد کا

دوهٔ شپیتهٔ کاله دِلا ر عمر په لهو
عبادت دِ په عادت نیکی په سهو

هر ګناه ور څخه شوې په اخلاص وی
چه دا خوئې لری بې فضل کله خلاص وی

نجل څوک، چه تښی ویل کاندی کار نهٔ کا
وقت د کوچ راشی دَ زیرمه د بار نهٔ کا

نوب کهٔ خوب دے د سحر ابن السبیل
لاچار پرېږدی چه وقت راشی د رحیل

هر څوک راغلهٔ سازے نوے عمارت کړی
د مرګ سیند ئے عمارت واړه لتپت کړی

دوئی ته هم کړه د اچار نفس و شیطان غوږ
هیڅ یوهٔ د اعمارت نهٔ کړی تر سره

بے وفا سره یاری مهٔ کړه هوښیار ره
محبت وته نهٔ بنائی دا مکاره

چه بنهٔ بد ته ضرور تلهٔ دی له جهانه
مر د هغه چه د ښو نوم پوسی له ځانه

دسرې د خوشحالئ اصل شکم دے
خو چه د روټی په وار وار هومړه بے غم دے

کهٔ د تللو لارے بند کا چه نهٔ درومی
هغه دَم به د اَجل پیاله وا شومی

کهٔ روان شی چه هرګز نهٔ شی تړے
هم به ومری له اجناسه درست لړے

څلور طبع مخالفې دی سرکښې
یو څو ورځے روزګار کا جُمله خوښې

کهٔ یوهٔ شی په څلورو کښې غالبه
هغه دم شیرین ځان ووزی له قالبه

څلور واړه ضد به څوی سره جمع
چه روښنه به وی ستا د حیات شمع

ځکه هر څوک چه عارف دانا په زړهٔ وی
تعلق ئے په ژوندون باندې هیڅ نهٔ وی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وړاندې استوی د کور توښه چه پوه وی — بې توښې مسافر لاندې تر اندوه وی
کله تا هم مور و پلار په خیرات یاد کړه — په دُعا سره دِ زړونه د دوئ ښاد کړه؟
چه د خپلو فرزندانو طمع دا کړې — بویه دا چه د ځان غم تر تلو پخوا کړې
عمر واوړے په معنیٰ د نمر د هاړ دے — لږ وتا ته پاتې شوے دے ډیر لاړ دے
خالی لاس چه روان شوے وی بازار ته — څه به راوړی چه راځی و کور ته بیا رته

چه د خپل پیتی ئې وخوړه خویسدونه
ګرځوی هغه خولئ په درسندو نه

# مثنوی

هومره نه دے منقبت د شیخ رحمکارؒ — چه ادا شی یا په کښل یا په ګفتار
د نبی صاحب په فقر معزز وو — د خپل عصر په فقرائ کښې اعز وو
که اقوال که ئې افعال که ئې احوال وو — د سنت په موافق د ده کل چال وو
د ډک سیند غوندې بې شور و شر خاموش وو — نه سیلاب غوندې پُرجوش پُرخروش وو
په قضئ د حق راضی ورته تسلیم وو — هر کور ډیر متحمل وو ډیر حلیم وو
له هستئ خپلې فانی په حق باقی وو — ډیر مست د عشق په میو کړه ساقی وو
مِس وجود د ډیرو شوے له ده زر وو — په تحقیق د شیخ نظر کیمیا اثر وو
لکه نمر په تمامی جهان ښکاره دے — زه به څه وایم نه میاشت نه ستاره دے
د آفتاب صفت نو نور د آفتاب کاندی — که اوصاف ئې ژبه کاندی تر غاس لاندی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پس له دهٔ ددهٔ پښتان بل ظاهر نهٔ شـهٔ ... په دے ملک په درست افغان بل ظاهر نهٔ شهٔ

ودُنیا وَته ئے شا په عقبا مخ وو ... چه مُرید به شهٔ ددهٔ دمغهٔ سخ وو

بنه خُلفاء ئے ښکاره پیچل پیچل وار شهٔ ... دچل وخت په مُریدانو فیض نثار شهٔ

په خلفاءُ کښے ئے مست فقیر جمیل[۱] وو ... صاحب حال وومستانه ئے قیل وقال وو

ابراهیم[۲] غونے خانی میری ئے پریښوه ... په اختیار ئے فقیری ته غاړه کیښوه

هر یو یار ته ئے دُنیا ښکاره وه خوارهٔ ... هیچا نهٔ پریښوه په کور کښے دا مُردارهٔ

په همه وُبا ندے رحم کردګار کړه
مونږ هم د دوئ په روئے عفوه غفار کړه

---

۱ فقیر جمیل بیګ چه د شاعر تره وو

۲ حضرت ابراهیم اودهمؒ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# مثنوی

په قیامت به وی دعرش تر سیوری لاندے
بادشاهان چه عادلان شی عدل کاندے

په هر قوم چه کرم د کردګار شی
سرداران به ئے دیندار ه نیکوکار شی

بنهٔ حاکم رحمت په خلقو د سُبحان دے
بد صورت کهٔ د انسان لری شیطان دے

نشانه د خدائے د قهر بد حاکم وی
چه هیڅ عدل انصاف نهٔ لری ظالم وی

په هر لوری کا د ظلم لمبے بلے
په کښے زړونه د عالم کا جلے بلے

کهٔ هر څو وطن شیرین وی خوئے پریږدی
چه ئے چرته آرام شی هورے ته لیږدی

ظالمان جان وجهان لره بلا دی
هغه خوار شول چه په ظلم مبتلا دی

# مثنوی

پلار چه هومره ډیر مشفق دے په فرزند
که عصیان ددهٔ له زویه شی څرګند

البته ددهٔ د بخرے نقصان وُکا
د بل زوئے په دے زویه رجحان وُکا

هسے رنګ له یار له یاره لږ آزار شی
وَهرچا وته ښکینی څنے ئے زار شی

هسے ورور چه ئے زوُلے وی له مسوره
په لږ څهٔ ئے په زړهٔ بد شی نورئے ګوره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


په خدمت کښې کهٔ سستي خدمتګار وکا
خپل صاحب ئے کرامت دِ ادرار وکا

امّا خدائے ز موږ هسې مهربان دے
چه کرم ئے په ښهٔ بد بانده یکسان دے

رزق روزي ورښو وبدو ورکوينه
په ګناه د هيڅا رزق نهٔ وره کوينه

بهره مند دده له خوانه کل عالم دے
که سړے دے که پیرے که کرم نا کرم دے

# مثنوی

له اوله سخن سنج اندیښنه وکا
له غه پسه رابیرون آواز ترخلهٔ کا

هرګز نهٔ وهي هنبیار تر فکره دم
پاخهٔ وایه کهٔ لا رغهٔ وائے څهٔ غم

اول فکر کړه بیا پس وهه نفس
ښخوا لیس کړه چه څوک ووائی چه بس

په خیرو سري ښهٔ وي له دوابه
دواب ښهٔ تر تا کهٔ وائے بے صوابه

اول فکر بویه پس وایه ګفتار
بنیاد کیږدي بیا پرے ساز کاندي دیوار

چه بے فکره څوک آواز ترخلے بیرون کا
دا رنګ خوئی یائے احمق یائے مجنون کا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# فرهنګ

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |

## و

اعتمید :- اعتماد - یقین - باور

استغنا :- بے پرواۍ - بے نیازی

اندوه :- غم - رنج

اُورکه :- وریځ

اشتغال :- مشغولا

آبق :- غلام - مریے

اهاله :- (۱) ایسار (۲) ګوابن - حمله

اثمار :- جمع د ثمر - میوے

اُجلاف :- جمع د جلف - رذیل - نه سړے -

ارذل النّاس :- په خلقو کښے د ټولو نه لوئے رذیل -

ارغال :- یرغل - حمله

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |

استه دار :- محتاج - پاسدار - طامع

اګر :- عُود - یو خوشبودار لرګے

انند :- خوشحالی - آرام - عیش

امل :- اُمید - طمع - آرزو

اشوب :- فساد - خوف - غم

الست :- ازل - قدیم

اَندرول :- کنډول

اَنشاء :- تحریر - لیکل

آهو :- هوسۍ

افزونی :- زیاتیدل - زیات

افګاران :- د افګار جمع - زخمیان

اَخ :- دا کلمه د افسوس او تعجب په وخت بے اختیاره د خلے نه ووځی -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| اخیار | :- جمع دخیر - بنهٔ خلق - |
| ابلیسک | :- د ابلیس اسم تصغیر |
| اختر | :- ستورے |
| انفعال | :- شرمندگی - ندامت |
| اتصال | :- یوځائے کیدل |
| آز | :- طمع - هوس |
| ایاغ | :- پیاله |
| اعتکاف | :- گوشه نشینی |
| آهنگ | :- قصد - تیارے - توجه |
| اورنگ | :- تخت |
| اخلاف | :- ناخلف - نالائق |
| اشکال | :- (۱) مشکل - سخت (۲) د شکل جمع |
| اسرار | :- جمع د سِر - رازونه |
| الصبوح | :- د سحر شراب |
| الوے | :- سوے - وریت |
| الیم | :- درد رسَوَنکے - دردناک |
| الم | :- غم رنځ تکلیف |
| اهرمن | :- د آتش پرستو د عقیدے مطابق دوه خدایان دی - خالق خیر یعنی یزدان او خالق شر یعنی اهرمن - |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| اِمساک | :- شومتیا - بخیلی - |
| انواع انواع | :- قسما قسم - رنگارنگ |
| احداد | :- په جُرم حد لگول - سزا ورکول - تعزیر |
| ایمن | :- مبارک |
| احزان | :- جمع د حُزن - غمونه |
| اندوهگین | :- غمگین |
| انیس | :- دوست ، غمخوار |
| اوجاړ | :- ورانه - غیرآباده |
| ایستاد | :- قیام - تکاوُنړه |
| امتناع | :- منع |
| استعداد | :- وَس - طاقت - توان - |
| اَنبوه | :- گڼه گوڼه - هجوم |
| اثیم | :- گنهگار |
| آئین | :- رسم - عادت |
| اشرار | :- د شریر جمع - بدخلق |
| اَمر | :- حکم |
| اجتناب | :- تیښته - پرهیز کول - |
| امانت | :- مدد کول - مرسته کول - |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| آسیب | :- درد - تکلیف - بلا - معیبت |
| | پیریان - دپیریانو سیورے - |
| اُوښار | :- څرګند - ښکاره |
| اهلِ سعیر | :- دوزخیان |
| آهومن | :- دهوسئ په شان |
| اِساس | :- بنیاد |
| اماس | :- پاړسوب |
| امیخته | :- یوځائے - مرکب |
| اوسپرین | :- داوسپنے |
| ایذا | :- ازار - تکلیف |
| افسر | :- تاج |
| ارجل | :- ماتل - ایسار |
| اشجار | :- دشجر جمع - وُنے |
| الوان الوان | :- رنګارنګ - قسماقسم |
| ارجلی | :- تزلزل - بےچینی - فساد - رخنه |
| استخوان | :- هډوکی |
| استواځے | :- استاځے - دیبار - قاصد |
| احلام | :- خوب کښے انزال کیده |
| اعز | :- ډیرخوب - عزیزترین |

## ب

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| بدنهاد | :- بدطینته - بداصله |
| بړی | :- (۱) رشوت (۲) دپرتوګ پورته حصّه |
| بغتتهً | :- ناڅاپه - ناګهانه |
| بلوسیدل | :- تعرض کول - چیړل |
| بلیندل | :- تاوول - تغبتل - تنبلیدل - |
| بعید | :- لرے |
| بریان | :- سوے - وریت |
| بهیمه | :- دنګر - څاروے |
| بےزاد | :- بےتوښے |
| بیم | :- ویره - خوف |
| بساط | :- فرش - پوزے - دسترخوان |
| برلست | :- رسم - دستور - قاعده |
| | روش - انتظام |
| بدر | :- (۱) مکمله سپوږمئ |
| | (۲) وچنار یا چنار |
| بیس | :- (۱) مطلب شیر ببر دے - |
| | (۲) ځیین - دیږ |
| بنده | :- غلام - مریئے |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| بُعد | :- فاصله - فرق |
| بوالهوس | :- حرصناک - لالچي - هوسناک |
| بندۀ زاده | :- د غلام زوئے یا غلام بچه |
| بید | :- وُله - بیدِ مجنون |
| بورجل | :- کوټه - دُرشله |
| بال | :- وزر |
| بوریا | :- بوریٔ - بوجیٔ |
| بصر | :- سترگے |
| بے محابا | :- بے دریغه - بے صرفے |
| برجنه | :- د میوے ډکه - باردارہ |
| بوتراب | :- حضرت علیؓ |
| بلادت | :- کُند ذهن - غبي |
| بادہ | :- شراب |
| برد | :- ترے - یخنئ موسم |
| باد پیمل | :- عبث کارکول - یوس باد وُل |
| برایه | :- تیرہ شپه - اورمه شپه |
| بہ بہ | :- هر کله - مرحبا |
| بور | :- پړانگ |
| بہواتی | :- لوئے والے - فخر - غرور |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| بلهاری | :- ځار - قربان |
| بیدل | :- عاشق |
| بیلک | :- غشے |
| بازی | :- لوبے |
| باز بان | :- بازساتونکے |
| برے | :- ډیرکم مقدار |
| بتول | :- باعصمته - پاکه - د حضرت بی بی فاطمهؓ اعزازی نوم - |
| بیامز | :- کتاب |
| بخمن | :- خوږ - شیرین - |

## پ

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| پرتل | :- مال واسباب - د سفر سامان |
| پرتلی | :- بارکیر - هغه خاروے چه سامان پرے بار کړے ورے شی - |
| پوشاپوش | :- شورماشور |
| پخشو | :- په آرام - په مزه |
| پھوتی | :- یو بے خوندہ شان څټکے دے - |
| پیچونے | :- کږ لیچ - موړ - د غره د پاسه کږہ وږه لار - |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| پُول | :- پیسه |
| پری وَش | :- ښکلے - حسین |
| پرو | :- وزرے - پرونه |
| پھُوړه | :- پُوزے - چتاقئ |
| پلنګ | :- پړانګ |
| پسخاک | :- غم - نوُل - فِکر |
| پُرتګالی | :- یو قسم شراب چه اُووَه ځله کشید کیږی - شراب هفت آتشه |
| پوښل | :- پټول |
| پورول | :- پورکوُل - قرض اخستل - |
| پرویز | :- د ایران د مشهور باد شاه خسرو پرویز نوُم چه د هرمز زوئے او نوشیروان نمسے وو - د فرهاد معشوقه ئے ملکه وه - |
| پیرل | :- اخستل |
| پور | :- قرض |
| پدیدار | :- ښکاره - څرګند - ظاهر |
| پیلے | :- پیاده |
| پسلئے | :- کالی یا زیورئے چه پغاره وی |
| پسول | :- کالی - زیور - |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| پلورل | :- خرڅول - فروخت کوُل - |
| پروین | :- (۱) دیو ستورئ نوم (۲) د سپوږمئ په اتهٔ ویشتو منزلونو کښے دیو منزل نوم - |
| پیرونه | :- تلے پیرونه یا اُووهٔ خویندے - |

## ت

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تاب | :- تاوُ - وَل |
| تانده | :- شنه - بنیرازه - |
| تجنیس | :- هم جنس کیدل - یو شان کیدل - د علم بدیع دیو صنعت نوم - |
| تخمیر | :- خمیره کیدل - |
| ترب سین | :- یعنی ټول قرآن شریف د بسم الله د "ب" نه واخله د آخری سورة "والناس" تر "س" پورے - |
| تفرّج | :- تفریح - سیل |
| تفضیل | :- فضیلت - شرف |
| تلیدل | :- تو یئدل - غورځیدل - |
| توامان | :- غبرګ یا جوړه پیدا شوی ماشومان - |
| تیره دل | :- ظالم - ناترسه |
| تجمل | :- دبزا |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
|---|---|---|---|
| توانگر | مال دار ۔ غنی | تَوَلّا تبرّا | تولا یعنی دوستی ۔ تبرّا ۔ دپانہ ځان بری کول ۔ |
| تسبیح | پاکی بیانول ۔ سبحان اللہ ویل | تزئین | زیب و زینت ورکول ۔ آرائش زیبائش ۔ ښکلا ۔ |
| تجرید | آراستہ کول ۔ | تراب | خاورے |
| تاتار | ترکستان | توروئ | لومبړ |
| تعجیل | جلدی | تاړ | دکجورے په شان دیوے ونے میوه چه داوبو نه دکه وی او په څښلو ئے سرے معمولی نشه کیږی ۔ |
| ترسا | (۱) نصاریٰ (۲) عابد ۔ زاهد (۳) راهب ۔ | | |
| تجلّا | رڼا | **ټ** | |
| تلف | ضائع | تندور | یوځائے ۔ انبار ۔ ډیرے |
| تړو | نو | تپکے | کمزورے ۔ هنګر ۔ |
| تفرج | خوشحالی ۔ عیش | تمیدل | دسپونیمیدل ۔ |
| توبړے | دغشی څوکه | تانک | وخت ۔ موقع ۔ |
| تلافی | بدله ۔ احسان | **ث** | |
| تروته | نقصانی ۔ تاوانی | ثوابت | هغه ستوری چه په ځائے ولاړ وی او حرکت نهٔ کوی ۔ |
| تورانی | ترک او مغل | ثقلین | (۱) اهل بیت (۲) بنیادم او پیریان |
| تهی | دتل شراب ۔ وروستی شراب ۔ | | |
| تول | کوکوونډ | | |
| تصدیع | دسر درد ۔ تکلیف ۔ | | |
| تحت الثریٰ | دمزکے تل ۔ بیخ | | |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|

# ج

جوکه :- (۱) بوُره (۲) تول - وزن

جاوید :- تل ، همیشه ، دریم

جسر :- پُل

جکی جکی :- دخواست او التجا کلمه

جند :- تن ، وجود ، ځان

جهر :- ښکاره - په جار

جبین :- تندے - وچولے

جمل :- اوښ

جهنده :- محرک - حرکت کوونکے

جرۓ :- مارجړئ - تریاق

جُرعه :- گوټ

جُرعه چشان :- گوټ څښونکی

جلاجل :- تمبل یا داریال کښے دغړ ولو په وخت دکنگروکانو ساز

جل :- (۱) یوخوش آوازه مارغهٔ (۲) سوے (۳) پیغله جینکۍ

جحیم :- دوزخ

جلی :- ښکاره - څرگند .

جهول :- سخت بیوقوف

جمر :- سخاوت - بخشش - جوانمردی .

# ځ

ځبله :- یوتربله

ځغستا :- ځغاښت - ځغل - دَو - منډه -

ځور :- جور - ظلم ، ستم - جبر

ځیر :- په غور او فِکر کتل

ځله :- کوشش

ځل :- زین

# چ

چر :- (۱) څر - څرېدل (۲) دچار مخفف یعنی کار

چوُمی :- ښکلوُل - بوسه اخستل .

چشت :- چشتیه طریقه .

چوب :- لرگے - مطلب دار دے

چنگ :- پنجه

چم :- کوُڅه - محلت

چرکینه :- خیرنه - گنده

چوړا :- بنگړی

چین :- دتندی گونجے .

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



الفاظ — معنی

## ث

ثربنت :- غټوالے ۔ څوربوالے

ثرےبرے :- باقي پاتے

ثکول :- ترل ۔ کیږوال ۔ بندول ۔

ثره :- (۱) ټول ۔ همه ۔ سراسر

(۲) خالي لاس ۔ بے وسلے

ثخواکي :- ثاشکي

ثلورقل :- څلور آخري سورتونه

## ح

حاقاف :- ح+ق = حق

حذر :- (۱) خوف ۔ ویره (۲) احتیاط

حلیم :- بُردبار ۔ برداشت کوونکے

حِنا :- نکریزے

حمات :- ملګري ۔ حامیان

حجت :- بحث

حظ :- خوند ۔ لذّت ۔ مزه ۔

حریر :- ریښم

حبطه :- ضائع

حلاوت :- خوږوالے

حسنات :- د حسنه جمع نیکئ

حمیم :- تود ۔ ګرم ۔ شدت

حبس :- زندان

حزن :- غم ۔ اندوه

## خ

خائف :- خوف ۔ ویره ۔ ترهه

خپسر :- سراپا ۔ پښو نه ترسره

خت :- قمیص ۔ کُرته ۔

خفي :- پټ ۔ پنهان

خضرؑ :- د یو مشهور پیغمبر یا ولي نوم دے ۔ د چا متعلق چه دا مشهوره ده چه ګمراهانو ته لار ښائي ۔

خیِر :- ممتاز ۔ تیار ۔ اماده

خروار :- اووه دړئ

خرابات :- میخانه

خیرالانام :- په نبیانو کښے غوره ۔ مطلب رسول صلی الله علیه وسلم دے ۔

ختنین :- زُومان

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| خرخښې | :- لانجې |
| خفت | :- سپکوالے - سپکاوے |
| خاشع | :- عاجزي کوونکے |
| خروش | :- شور - جوش |
| خاتم | :- مُهر |
| خورماخور | :- پریشان |
| خارجي | :- د رافضیانو خلاف یوه فرقه چه اصحاب ثلثه ښهٔ گڼړي او حضرت علی رض ته ښهٔ نهٔ وائي - دوئ په حضرت علیؓ خروج کړے وو - ځکه ورته خوارج یا خارجیان وئیلے شي - د دے فرقے یو سړي ته خارجي وائي - |
| خوٌلے | :- ټوپئ |
| خصمان | :- د خصم جمع دښمنان |
| خُرم خورسند | :- خوشحاله |
| خرخاري | :- دوهٔ خرهٔ لکه چه یو بل له خښوته یا ملاګانے کړوي - یعني د یو بل حاجت روائي هم کوي - خو ورسره ورسره د یو بل احسان هم کوزوي - |

## د

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| دُوک | :- درد - تکلیف |
| دارا | :- د ایران د یو پخواني بادشاه نوم - چه د سکندر یوناني نسے ماتے کړے وهٔ - او وُوژلے شو - |
| دون همت | :- کم همت |
| دُرد | :- د شرابو فُضله - ریشتلے - (تلچهٹ اردو) |
| درمانده | :- پښیمان |
| دانده | :- کاوز - غُټکے |
| دسترس | :- قابو |
| دسماله | :- سترے دسماله - پیتئ - پهه |
| دَدُ | :- خونخوار ځناور لکه پړانګ لیوهٔ وغیره - |
| درهم | :- پریشان |
| دامان | :- لمن |
| درمان | :- علاج - دارو |
| دُښمني | :- دشمني |
| دَهر | :- دنیا |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
|---|---|---|---|

داد :- ورکړه - بخښنه
داریا :- تمبل
دربیشت :- خوانږه - شیرینی
دُرد آشام :- شراب څښونکے
درهم :- کړوړه
دروه :- درغلي - دغا - فریب
دلق :- ګودړئ
دُودن :- خره - غبار
دمع :- اوښکے
دون :- کمینه - رذیل
داړل :- وهل - ژوبله کول -
دُره دار :- دُرے خاوند - مطلب حضرت علیؓ دے
دواب :- دسورلئ او باربردارئ څناور - لکه اُس
ټټو او اوښ وغیره -

ډ

ډمه :- نائی ګنړه - نائیړه -

ذ

ذم :- بدویل -
ذیب :- شرمخ
ذریت :- اولاد - نسل - کوُل -
ذکا :- ذهین
ذهب :- سرۂ زر
ذقن :- زنه
ذی النورین :- امیرالمومنین حضرت عثمانؓ چه د
دوو نورونو یعنی د رسول اکرم صلی اللہ
علیه وسلم د دوه لونړو حضرت رقیہؓ
او ام کلثومؓ خښتن -

ر

رنتهبور :- د راجستهان (بهارت) د جےپور ریاست
په یو غر هغه قلا چه اورنګزیب پیکښے
خوشحال خان خټک قید کړے وو -
ریش :- زخم - برهر -
روکه :- نغده اوکره (روپئ)
رکشائل :- پرانستل -
ریشخند :- ټوقے - خندا - پیچوزے
رستګاری :- خلاصے
رمق :- باقی ځان
رقم :- لیکل -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| راغ | ورشو - سبزه زار |
| رسن | رسئ - پړے |
| رَدے رډے | غصه ناکے |
| زمیم | زاړهٔ - وراستهٔ |
| رافضی | شیعه |
| درخشان | روشن - روښانه |
| رفض | درافضیانو عقیده - پریښول . توک کول ـ |
| رستم | دایران دمشهور پالوان زال بن سام زوئے ـ |

## ز

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| زاد | دلارے دسفر خرچ - خوراک توښه ـ |
| زنخ | زنه |
| زیار | افسوس - ارمان (۲) کوشش |
| زار | شکوه - شکایت |
| زشتی | بدرنګی - بدی - خزانے |
| زانی | زناکار |
| زوز | منع - حرام |
| زاغ | قارغهٔ |
| زیرمه | علاج |
| زموب | نو - وینے زوے . |
| زباد | ښکاره - ثابت |
| زیبا | حسین - ښکلے |
| زګروا | زویرګے - زبیرګے |
| زِنّار | هغه تارچه هندوان ئے غاړه کښے اچوی . |
| زبادهٔول | دوباره کول - یادهٔول |
| زدنی عِلمًا | ډیرے کړه علم |
| زیب وزین | زیب اوزینت . |

## ژ

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ژواک | ژوند |
| ژمنه | لوظ - قول - وعده |
| ژوی | ژوندے - زنده سر |
| ژغورل | په امان ساتل - محفوظ ساتل - |

## س

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| سامعان | اوریدونکی |
| سپهر | آسمان |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| سجین | :- اووُم دوزخ |
| سحاب | :- وریځ |
| سرزده | :- سروَهلے |
| سمخ | :- سوړ - یخ<br>لکه سوړ سمخ |
| سمن | :- چامبیل |
| سمند | :- آس |
| سیال | :- اصیل - همسر |
| سیلی | :- بنګړے - کړه |
| سمین | :- غټ - څورب |
| سوبه | :- تسلی - آبرو - ناموس - فتح<br>کامیابي. |
| سیادت | :سرداری - بزرګی |
| سعادت | :- نیک بختی |
| سرشت | :- فطرت - خټه |
| سرنوشت | :- قسمت - نصیب |
| سکه | :- دا لفظ په معنی د "نو" او په<br>کلام د زور اچولو دپاره هم راځي. |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| سخ | :- خوشحالی |
| سمور | :- دلومبړے غونډے دیو ځناور پوستکے<br>چه پوستین ترے جوړیږی. |
| سیماب | :- پاره |
| سعید | :- بختور |
| سپانده | :- سپلنے |
| سیاره | :- ساه لرونکے - دمه |
| سر | :- سخکال |
| سستیٔ | :- دهندوانو یو زوړ رسم وو. چه<br>که دکوم هندوے خاوند به مړشو. نو<br>ښځې به ورسره ژوندے ځان سیزلو.<br>دغه رسم ته به ئے "رسم ستی" ویل<br>کوے ښځې به چه دخپل مړخاوند سره<br>ژوندے ځان وسیزه. هغې ته به ئے<br>"ستی" ویل |
| سعیر | :- داورشعله - ددوزخ دخلورمے طبقے<br>نوم. |
| سپر | :- ډال |
| سفالی | :- دټیکری یا پیکری. |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| سمندر | :- یو جنبے چه اور کښے ژوند کا |
| سمر | :- قیصه |
| سروش | :- فرشته - پیغام - خوشخبری - |
| سکنات | :- د سکنه جمع - ځائے د وسیدلو - یعنی کور - |
| سالوس | :- فریبی - دروغژن |
| ساعد | :- لاس میروند |
| سفال | :- خاورین لوښے |

## ش

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| شرالانام | :- خلقو کښے د ټولو نه زیات شری - |
| شنا | :- لامبو - تاری |
| شب پرک | - بناپیرک |
| شوپرک وار | :- د بناپیرک پشان |
| شب چراغ | :- اور اوړکے |
| شیخین | :- د شیخ جمع - مقصد حضرت ابوبکرؓ او حضرت عثمانؓ دے - |
| شین شین | :- په نازغرو |
| شید | :- مکر - فریب - دروغ |
| شیوه | :- خیال - طریقه - ناز وانداز |
| شیب | :- زوړ - بوډا |
| شبگیر | :- شب خیز - شپے روڼ وونکے - |
| شبان | :- شپون |
| شلا نړے | :- سمسرے - خادمے |
| شمال | :- باد - بادِ شمال |
| شنوا | :- اوریدونکے |
| شاطر | :- چالاک |
| شکیب | :- صبر |
| شومل | :- ځنبل |
| شماتت | :- د چا په تباهئ او شکست خوشحالی کول - |
| شحنه | :- کوتوال |
| شفتین | :- شونډے - لبان |
| شقی | :- بدبخت - سنګدل - |

## ص

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| صهبا | :- شراب |
| صنم | :- بت - معشوق |
| صباحت | :- سپینوالے - ښائست - |
| صومعه | :- خانقاه - د نصاریٰ و عبادت خانه - |
| صنعان | :- دیو صوفی نوم دے چه دیوے کافرے |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
|---|---|---|---|
| | بنجے پہ عشق کینے د اسلام نہ وگرځیدو خو بیائے ھدایت ومونداو ۔ بنحه او خاوند دواړه مسلمانان شول ۔ | | **ع** |
| صمصام | :۔ توره | عُرعُر | :۔ یو خوشبو دار بوټے |
| صفی | :۔ خالص دوست ۔ برګزیده ۔ صاف | عسلی | :۔ ګبین ۔ عسل ۔ شهد |
| صحو | :۔ هوشمندی ، هوښیاری ۔ عقلمندی ۔ | عِللی | :۔ د علتونو او شک شوبهو نه ډک |
| طالع | :۔ نصیب ۔ قسمت | عمّال | :۔ د عامل جمع حاکمان |
| طهور | :۔ پاک ۔ صاف | عاریت | :۔ قرض |
| طول امل | :۔ وږده آرزو | عنب | :۔ انګور |
| طوبیٰ | :۔ خوشخبری ۔ بشارت ۔ | عذار | :۔ اننګی ۔ بارخو |
| | ډیرپاک ۔ جنت کینے د یوے ونے نوم ۔ | عیادت | :۔ پوښتنه ۔ بیمارپرسی |
| طرب | :۔ خوشحالی | عصیان | :۔ نافرمانی |
| طیور | :۔ مارغان | عرفان | :۔ پیژندل ۔ شناخت |
| طاق | :۔ مجازاً ختم | عَلف | :۔ واښه ۔ چاره |
| طنّازئے | :۔ نازونه ۔ اشاروکینے خبرے کول ۔ | علائق | :۔ د علاقه جمع تعلقات |
| | **ظ** | عاق | :۔ د مور پلار نافرمانی اولاد |
| ظلمانی | :۔ توره تیارهٔ | عسس | :۔ کوتوال ۔ محافظ د ښهر |
| ظلوم | :۔ ظلم | عارض | :۔ اننګی ۔ بارخو |
| | | عینین | :۔ سترګے ۔ د عین جمع |
| | | عظام | :۔ د عظم جمع ۔ هډوکی ۔ |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



الفاظ — معنی

عمیم :- عام

عامل :- عمل کونکے - حاکم

عبیر :- یوه خشکه خوشبو چه د صندل او گلاب نه جوړیږی .

عقد :- نکاح

## غ

غل وغش :- حیران والے - کینه - خیانت

غم دُبا :- غم وړونکے

غاؤ :- غوغا - شور

غضنفر :- زمرے

غمزه :- ناز وادا

غواص :- مرجُوڼیا

غره :- مغرور

غول :- فوځ

غریو :- (۱) فریاد - شور - غوغا
(۲) ژړا ته تیار .

غلیم :- دښمن

غزاله :- هوسئ

غنرے :- عنکبوت - جولاگے

غندنه :- مُذمّت

غراب :- قارغه

غُنځے :- غوائے - غوے

## ف

فتوحات :- خوانمردی - سخاوت - مروّت

فم :- خله

فرسخ :- کروه - دوه دریو میلو مسافت

فر :- شان - شوکت .

فائق :- برتر - وچت

فِکرت :- فکر

فرهنگ :- علم - پوهه .

فراغ :- فراغت

فهیم :- هوښیار - دانا

فقر :- فقیری - افلاس

فرقدین :- د قطب شمالی مخه دوه ستوری چه قطب سره دی او گیرچاپیره ترے نه تاویږی .

## ق

قسیم :- ویشونکے - تقسیم کننده .

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| قبلی | دوړوبے نه داول نه ۔ |
| قُوت | رزق ۔ روزی |
| قضا | شا |
| قطعیت | پریکړه ۔ پریکُول |
| قراضے | دسرو یا سپینو زرو ذرے |
| قباحت | بدرنګی |
| قرب | نزدیکت |
| قال | قول ۔ خبره |

## ک

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| کافی | پخوانی ۔ لرغونی ۔ قدیمی |
| کاګ | واښهٔ |
| کروړی | کروړپتی |
| کوټ | قلا |
| کارزار | جنګ ۔ معرکه |
| کړ | کانړهٔ |
| کوټے | کوڅه |
| کوکب | ستورے |
| کنشت | کرجه |
| کور | ړوند |
| کیش | مذهب |
| کوثر | جنت کښے دیوے چینے نوم |
| کف | تلے |
| کسی | (۱) کتل (۲) کاتی ۔ |
| کام | صبا ۔ کانده ۔ مراد |
| کمامت | کمے |
| کناس | خاکروب |
| کشاکش | خوشحالی ۔ عیش ۔ سیل ۔ تماشا |
| کرباس | زیګه جامه ۔ غټه جامه |
| کرمونه | دکرم جمع چنجی |
| کجل | رانجهٔ ۔ توتیا |
| کودکی | وړوکوالے ۔ صلکوالے |
| کانړئ | یعنی وُکړئ |
| کهین | زاړهٔ ۔ کم قیمته |
| کلانی | لوئے والے |
| کاکل | زُلفے |
| کبنیه | یعنی له کبنیه ۔ له بنکته ۔ نرخاتهٔ ۔ |
| کوپارونه | عجائبات ، عجیبه کاروته ۔ |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| کاږ | :- درنګ - کان - غر - |

## ک

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ګردباد | :- دپیریانو دولئ - سائیکلون |
| ګریستین | :- ژړا |
| ګهنړه | :- زیور - لاے |
| ګل ولاړے | :- خټے او اوبهٔ |
| ګیلان | :- بغداد کښے دیوکلی نوم |
| ګهه ګهے | :- کله کله |
| ګلګونے | :- دګل په رنګ |
| ګانده | :- سبا |
| ګرت | :- دکتو منځ . |
| ګوګل | :- سینه |
| ګوے | :- غونډسکه - پنډوسی |
| | مقصد سبقت وړل |
| ګری | :- منګی |
| ګوشمالی | :- سزا |
| ګالل | :- ساتل |
| ګلیم | :- کنډ - ګودړئ |
| ګول | :- ناپوهه - نادان |
| ګزلک | :- غشے |
| ګزیں | :- علاج - تدبیر |
| ګوش | :- غوږ |

## ل

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| لبنل | :- کوچ کول - کډه کول |
| لبنلې | :- تللی - چه لاړ وی |
| لل | :- ګوتے |
| لهو لعب | :- عیش وعشرت |
| لاړے | :- خټے - چقړے |
| لواتے | :- فراخے - پرانستے |
| لوړل | :- ځاړیدل - قسم خوړل - |
| لاغ | :- دروغ |
| لیږ دی | :- دړومی - روان دی - |
| لئیم | :- شوم - کنجوس - تیټنګ |
| لعن | :- لعنت - نفرین |
| لایزال | :- بے زواله |
| لړلړ | :- پیچے پیچے - په سوجونو |
| لارغه | :- دوستو - پس - دیل - خنده |
| لیل | :- شپه |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
|---|---|---|---|
| **م** | | مشرب | :- پیاله - کوزه . |
| مأوطن | :- اوبۂ او خاورے | معبّر | :- تعبیر پیش کوونکے |
| متِن | :- لاس - زور - قوت | ممات | :- مرګ |
| مآب | :- د واپس کیدلو ځائے - ځائیں ے داد ب لفظ . | مفطور | :- پیدا |
| محصِّل | :- حاصلات او محصول وصولوونکے | محسود | :- هغه سړے چه څوک ورسره حسد نهٔ کا |
| مبین | :- څرګند - ښکاره | مراجعت | :- واپس کیدهٔ - جار وتل . |
| مربوب | :- پالنه او پرورش | مُل | :- شراب |
| مستجاب | :- قبول شوے | مُزین | :- آراسته کړے شوے . |
| مُقر | :- اقرار کوونکے | مُو | :- ویښتهٔ |
| مقدم | :- راتلل - راغله - راتلنه | مُستغنی | :- بے پروا |
| ممتلی | :- ډک - پُر | مُصفا | :- پاک - صاف |
| منال | :- مال دولت | میور | :- طاؤس |
| منی | :- کبر - غرور | مخ | :- مثال - نظیر |
| مفتخر | :- فخر کوونکے | ممازی | :- ټګی بړګی - دوکه - چل ول . |
| مشاطه | :- نائی ګنړه | منغض | :- ناراض - دلګیر |
| مکدر | :- خیرن - ناپاک | میشت | :- استوګن - وېره |
| مجیب | :- قبلوونکے | مصاف | :- جنګ جګړه |
| مسبب | :- سبب جوړوونکے | مملوک | :- غلام - مریے |
| | | ملال | :- خفه - غمګین |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|

مستعد :- تیار - موجود

مجمله :- لنډه - مختصره

مثقال :- ډیرلږ مقدار

مهجور :- هجران زپلے - بیلتون وهلے

محتسب :- کوتوال

مجهود :- کوشش

مکافات :- بدله

محو :- ورک

مونس :- غمخور - ملګرے - همدم

میثاق :- ازلی تړون

ماوا :- دپناه ځائے - کور - مسکن

موش :- مږه

مرصع :- منقش - جړاؤ -

مطول :- اُوږد

ملل :- راتلل

مضطر :- خفه - دلګیر - ملول

میزر :- نقاب - پرده

مقالی :- خبرے

محزون :- خفه دلګیر

| الفاظ | معنی |
|---|---|

مانړے :- خفګان

معنبر :- خوشبویه

معصیت :- ګناه

محال :- ګران - مشکل

مرغیچے :- کم قیمته مرئ - مشکنړے

مودت :- محبت - دوستی کول

مُستعار :- قرض - پور

ممسک :- بخیل - شوم -

مستسقی :- د استسقاء مریض

ماذون :- اِذن کړے شوے

مکیال :- میزان - تله - پیمانه

منقبت :- تعریف

معتزلی :- د معتزله فرقے رُکن - دا فرقه نیکی دخدائے له طرفه او بدی دخپله طرفه خیال کوی - د کبائر ګناهونو مرتکب نهٔ مومن ګنړی او نهٔ کافر -

مرجع :- ځائے د رجوع

مهوش :- د سپوږمئ غوندے - ښکلے - ښائسته -

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| مربوب | :- مخلوق - ساتلے شوے |
| مُرتد | :- نافرمان - ملعون |
| منفعل | :- شرمنده |
| مقرب | :- نزدے کرے شوے |
| ممد | :- مددگار |
| محذوف | :- حذف کرے شوے - لرے کرے شوے - |
| **(ن)** | |
| ناسره | :- کوټه - ناکره |
| نعال | :- بیزار - پنړے |
| نکال | :- عذاب - درد - تکلیف |
| نهار | :- ورځ |
| نیران | :- اور - دوزخ |
| نوید | :- خوشخبری |
| نجیب | :- شریف - اصیل |
| نقشبند | :- نقاش - مصور - خالق - صانع |
| نبرد | :- جنګ |
| ناوک | :- غشے |
| نورالابصار | :- دسترګو نور - مقصد محبوب دے |
| نمری | :- جاے - لتے |
| ندِم | :- شرمنده کیدل |
| نائی | :- شپیلئ نوازن |
| نیه | :- نے - شپیلئ |
| نعم | :- نعمتونه |
| نانیر | :- دسرو زرو یوه سکه |
| نقیب | :- ډنډورچی |
| نخا | :- ګډا |
| نتل | :- زورل - دټل - ټوټل |
| نولیدل | :- خفګان کول - |
| نفس | :- ساه |
| نافع | :- نفع ورکوونکے |
| نایه | :- شپیلئ |
| نمائیل | :- ښکاره کول |
| ناسره | :- قلب - کوټه - خراب |
| نغته | :- نغوته - لمسه |
| نغرل | :- تخنبل - خورل |
| نهالی | :- برستن - کانجنړ - ځیرک |
| نخول | :- درد - تکلیف |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| نرناحقه | برناحقه ـ خواه مخواه |
| نیش | لشه |
| نغرے | نغرډے ـ پټ کړے |
| ندیم | دوست ـ ملګرے |
| نفرین | لعنت ـ ملامت |
| نخوت | کبر ـ غرور |
| نغوړی | اَوری |
| نقیبان | شاهی دربانان |
| نانی | منافق |
| نردبان | پوړئ ـ اندرپایه ـ زینه |
| نمستُمنه | قدرافزائی ـ عزت |
| نهال | زرغن ـ کړے ـ بښخ |

## و

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| والا | لوئے ـ وچت ـ اعلیٰ ـ بلند |
| وزله | وسیله ـ ذریعه |
| وُره | یعنی ورینه |
| وزان | په اَلوَتَه |
| وګړی | خلق ـ قوم ـ سړی |
| وُچوُلے | تندے ـ جبین |
| وُحُوش | د وحش جمع ځنګلی ځناور |
| وژګونه | اپوټه ـ اړوُلے |
| ولجه | غنیمت |
| وبله | توتربله |
| وُلے | جرړے ـ بیخ |
| واصف | تعریف کوُنکے |
| وبال | ګناه |
| وړانهٔ | زنګون |
| ورغوے | دلاس تلے |
| ویانډ | غبرېدونکے ـ وپُونکے ـ |
| وَښ | زهر |
| ویل | صفا ـ روښ ـ روښانه |
| وَرد | دګلاب ګل |

## ه

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| هرآئین | هرشان ـ په هر دستور |
| هم بالین | هم بستر |
| هوډیالے | دهوډ خاوند ـ ضدی |
| هیداد | زورنه |
| هواد | هیواد ـ ملک ـ وطن |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



| الفاظ | معنی |
|---|---|
| هراندہ | :- غالبه - لګیا - |
| هدف | :- نشانه - تخمینه - مقصد |
| هم | :- مونږ - غم - اندوه |
| | قصد - اراده |
| همدم | :- ملګرے - دوست |
| هوا | :- خواهش |
| هود | :- عزم - استقلال |
| | ثبات - ضد |
| **ی** | |
| یوحا | :- نمر - آفتاب |
| یابُو | :- ټټُو |
| یَم | :- دریاب |
| یاس | :- ناامیدی - |
| | مایوسی - |
| یمن | :- ښے - راست |
| یسار | :- ګس |
| | چپ |
| یګانه | :- بے مثله |
| | لاثانی |
| یُون | :- تګ - رفتار |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ISBN 969-418-013-9